## ټول حقوق د طبع محفوظ دی

**نوم د کتاب**: د زندانی ډالۍ

**تالیف**: علامه مولانا مفتی مجتبیٰ عامر حفظه اللّٰه .

**کمپوزنګ**: عبدالمقید بن سرتاج الحق محله شمشه خیل صوابی .

**طبع اول**: ١٤٤٣ هجـ ٢٠٢١ ء

**تعداد**: ١١٠٠

**ناشر**: مکتبه جواهر القرآن سلیم خان صوابی .

**د ملاویدو پته**

مکتبه جواهر القرآن سلیم خان صوابی .

۰۳۱۱۹۳۸۴۰۰۶ ،۰۳۱۲۷۳۴۸۸۰۲

سلمان UBLبینک جهانګیره

تاج کتب خانه ۰۳۱۲۹۲۱۶۸۸۷

مکتبه انوارالعلوم نزد حافظ صاحب مدرسه خار باجوړ ۰۳۰۴۹۶۹۶۸۰۰

مکتبه اسلامیه قیصر خان پلازه کالج چوک سواړۍ بونیر ۰۳۳۲۹۶۰۱۶۰۰

مکتبه الحسن محله عسیٰ خیل نیو روډ منګوره سوات ۰۳۴۶۹۴۱۵۱۸۱

مکتبه حسینیه اینډ خوشبو محل شیوه اډه مولوی محمد آصف ۰۳۱۴۹۹۹۶۲۸۰

مکتبه دارالکتب الاسلامية لوند خوړ بازار مولوی عبدالحنان: ۰۳۴۴۹۱۰۷۸۲۹

مکتبه جواهرالقران مټه چوک خوازه خیله سوات : ۰۳٤۷٤۲۱٤۰۲۹

نمبر شمار مضون صفحه

۱. د زندانی ډالی خلاصه په نظم کښې........................ ۲
۲. تقریظ و کلمات الواد........................................ ۲
۳. تقریظ............................................................ ۲
٤. تقریظ............................................................ ۲
٥. تقریظ............................................................ ۲
٦. تقریظ............................................................ ۲
۷. تقریظ............................................................ ۲
۸. ډالـــئ............................................................ ۲
۹. سر لیک.......................................................... ۲
۱۰. ایمان او امتحان.............................................. ۲
۱۱. زندان او امتحان.............................................. ۲
۱۲. د زندان فائدې................................................ ۲
۱۳. د زندان قسمونه.............................................. ۲
۱٤. اوله فائده د الله جیلی کیدل................................ ۲
۱٥. دویمه فائده د الله تعالی خصوصی مهربانی.................. ۲
۱٦. دریمه فائده د الله تعالی سره تعلق.......................... ۲
۱۷. څلورمه فائده د عبادت خوند او روح........................ ۲

۱۸. پنځمه فائده روحاني معراج ........................ ۲
۱۹. شپږمه فائده خلوت او یو ځی یوالي ........................ ۲
۲۰. اوومه فائده د الله تعالی سره مناجات او جرګه ........................ ۲
۲۱. اتمه فائده پروګرام ، طریقه کار ملاویدل ........................ ۲
۲۲. نهمه فائده په خپل پروګرام مئېنول ........................ ۲
۲۳. لسمه فائده قرباني ورکول ........................ ۲
۲٤. یولسمه فائده صبر کول ........................ ۲
۲۵. دولسمه فائده یقین ........................ ۲
۲٦. دیارلسمه فائده مقتدا کیدل ........................ ۲
۲۷. څوارلسمه فائده د انبیاء کرامو سنت او د اسلافو تاریخ ........................ ۲
۲۸. پنځلسمه فائده انقلابي رجل تیاریدل ........................ ۲
۲۹. شپاړسمه فائده ساتل د رجالو ........................ ۲
۳۰. اوولسمه فائده بچ کیدل د ګناهونو نه ........................ ۲
۳۱. اتلسمه فائده د نفس پاکیدل ........................ ۲
۳۲. نولسمه فائده د ګناهونو معاف کیدل کیدل ........................ ۲
۳۳. شلمه فائده استغفار ........................ ۲
۳٤. یویشتمه فائده د نیک عملونو موقع ملاویدل ........................ ۲
۳۵. دوه ویشتمه فائده په مونځ سره مدد غوښتل ........................ ۲

٣٦. دریشتمه فائده تهجد ........................................ ٢
٣٧. څلیرشتمه فائده ددعاء قبلیدل ........................................ ٢
٣٨. پنځویشتمه فائده مشغولتیا د علم نافع ........................................ ٢
٣٩. شپږیشتمه فائده قرآن کریم ........................................ ٢
٤٠. اویشتمه فائده ځان سپارل (توکل) په الله تعالی ........................................ ٢
٤١. اتۀ ویشتمه فائده په تقدیر ایمان ........................................ ٢
٤٢. یوکم دیرشمه فائده د الله په فیصله رضا کیدل ........................................ ٢
٤٣. دیرشمه فائده التزهید من الدنیا ........................................ ٢
٤٤. یو دیرشمه فائده آخرت ته شوق او فکر ........................................ ٢
٤٥. دوه دیرشمه فائده ځان سره حساب اوکړه ........................................ ٢
٤٦. درې دیرشمه فائده دمرګ یادول ........................................ ٢
٤٧. څلوردیرشمه فائده انتظار د راحت ........................................ ٢
٤٨. پنځۀ دیرشمه فائده بعد عسریسر ........................................ ٢
٤٩. شپږ دیرشمه فائده ورځې اوړی رااوړی ........................................ ٢
٥٠. اووه دیرشمه فائده د هرڅیز نیته ده ........................................ ٢
٥١. ا تۀ دیرشمه فائده ګلونه رنګ په رنګ ........................................ ٢
٥٢. یوکم څلویښتمه فائده بندګی پوره کیدل ........................................ ٢
٥٣. څلویښتمه فائده نیک بخت ........................................ ٢

٥٤. يو څلويښتمه فائده د ځان نه ښکته ته ګوره ........................... ٢
٥٥. دوه څلويښتمه فائده فکر د دين او د آخرت ........................... ٢
٥٦. درې څلويښتمه فائده لوئ همت ........................... ٢
٥٧. څلور څلويښتمه فائده مضبوط عزم ........................... ٢
٥٨. پنځه څلويښتمه فائده التفكر فى آيات الله ........................... ٢
٥٩. شپږ څلويښتمه فائده ښائسته اخلاق ........................... ٢
٦٠. اووۀ څلويښتمه فائده العدل ........................... ٢
٦١. اتۀ څلوښتمه فائده الحلم ناکام او زغم ........................... ٢
٦٢. يوکم پنځوستمه فائده غصه کيږه مه ........................... ٢
٦٣. پنځوستمه فائده قناعت ........................... ٢
٦٤. يوپنځوستمه فائده الله تعالى ته راګرځيدل ........................... ٢
٦٥. دوه پنځوستمه فائده د حسد ګر پروا مۀ کوه ........................... ٢
٦٦. درې پنځوستمه فائده د مدح او صفت شو ق مۀ کوه ........................... ٢
٦٧. څلور پنځوستمه فائده لږ مسکې شه ........................... ٢
٦٨. پينځه پنځوستمه فائده لږ اوژاړه ........................... ٢
٦٩. شپږ پنځوستمه فائده د فقهى مسئلو فکر ........................... ٢
٧٠. اووۀ پنځوستمه فائده تجربة الاصدقاء ........................... ٢
٧١. اتۀ پنځوستمه فائده احساس د نعمتونو ........................... ٢

٧٢. یوکم شپیتمه فائده د بل دغم احساس کول ........................ ٢
٧٣. شپیتمه فائده خپل د رد مۀ ښکاره کوه ........................ ٢
٧٤. یو شپیتمه فائده د فکر پخیدل ........................ ٢
٧٥. دوه شپیتمه فائده د راحت امتحان ........................ ٢
٧٦. درې شپیتمه فائده خاتمه خه کیدل ........................ ٢
٧٧. خاتمه ........................ ٢
٧٨. د دعاء مقام ........................ ٢
٧٩. د دعاء شرطونه ........................ ٢
٨٠. د دعاء شرطونه ........................ ٢
٨١. اداب د دعاء ........................ ٢
٨٢. یوقیمتی خبره ........................ ٢
٨٣. د ذکر او دعاء ګانو قسمونه ........................ ٢
٨٤. د جیل نه د خلاصیدو ځنې عملونه ........................ ٢
٨٥. (١) دعاء ........................ ٢
٨٦. (٢)یوه نبوی نسخه ........................ ٢
٨٧. (٣)دعاء الکرب ........................ ٢
٨٨. (٤)دعاء یونس علیه السلام ........................ ٢
٨٩. (٥)دعاء حسب وکفایت ........................ ٢

٩٠. (٦)نسخهٔ یوسفی.......... ٢

٩١. (٧)تلاوت .......... ٢

٩٢. (٨)اسمآء حسنی .......... ٢

٩٣. (٩)درود شریف .......... ٢

٩٤. (١٠) استغفار.......... ٢

٩٥. نظم.......... ٢

## نظم

**ځما د اول ځل قید ملګرې د جواهر القران د طالب العلم محمد ادریس (عرف کاکا) کبل سوات د زندانی ډالۍ خلاصه په نظم**

**رباعی**

امامـــــان د انقـــــلاب راتـــــه یـــــادیږی
حـــق مـــې جـــوش وهی پـــه زړهٔ نـــهٔ هیڅـــاریږی

چـــې یوســـف غونـــدې راتـــه پـــه زړهٔ شی
خپـل امـام صـاحب راتـه مخـې مخـې تـه کیږیـږی

چې شروع شمه تـاریخ د ابـن تمیـه ځـان تـه یـاد کـړم
نـــو احمـــد بـــن حنبـــل مـــې نـــهٔ هیریـــږی

چـــې امـــام محمـــد طـــاهر ځـــان تـــه رایـــاد کـــړم
نیلـــوی شـــاه مـــې یـــادونو کښـــې اوســـیږی

چرتـــــه لاړ ولی الله کابلګـــــرامی مـــــې
جنـــازه ئـــې د زنـــدان نـــه رخصـــتیږی

پـــه سرو وینـــو ئـــې لتـــاړ کړلـــو عارف شـــیخ
بـــه ســـړ کونو ئـــې سرې غوښـــې پـــاتې کیـــږی

لــــوئ عالـــم مصـــباح الديـــن د دنيـــا لاړو
فضـــل حـــق شـــيخ رانـــه روک دې زړۀ ژړيــــږی

زندانونـــــــه دی ســــــــنت د انبيــــــاء
دا د عشــــق د مظهـــــر نـــــه حســـــابيږی

زنـــدانی ډالـــۍ پـــه يـــاد د حـــق پرســـتو
پـــه قلـــم د مجتـــبی عامـــر څليـــږی

خدايـــه اه د مجـــروحی د زړۀ قبـــول کـــړه
چـــه څـــۀ ګـــورم مجتـــبٰی مـــې ازاديـــږی

❀❀❀

## د زندانی ډالی خلاصه په نظم

چې ایمان وی امتحان به خامخا وی
عاشقان وی نو زندان به خامخا وی
امتی د محمد چې بولی ځان
تکلیفونه او هجران به خامخا وی
قرآن وګوره یوسف وی بندی شو
د شیطان په جال حصیر نشو قیدی شو
عنکبوت اول ایت څنګه ځلیږی
چې حق وائی بیا د نوح غوندې ترپیږی
چې حق پریږدی د دنیا په مال جلال شی
د بلعم پشان سپې شی په بد حال شی
چې رب غواړی لوګو تندو ته بیا تنګ شه
اې یوسفه دا کویان به خامخا وی
دوه صفات ځان کښې راوله حسین
رب حاکم دې هم حکیم دې کړه یقین
ته بندی په محبت د خپل الله ئې
تکلیفونو ته مضبوط شه ښهٔ دانا ئې
رب خو ستا شو ته د رب شه باکمال
روح دی پاک کړه په خلوت لکه بلال
خپل الله ته په جرګه لکه موسی شه
صبر اوکړه فرغونیان به خامخا وی
عزم اوکړه مینه وینه تویول وی

په طائف کښې به بیا کانړی وریدل وی
ملغلرې د یقین صبر په لاس کړه
چه امام شې عزتمند شې نو اخلاص کړه
سر اوچت کړه په کم صف کښې شولې شمار
انبیاؤ او اسلافو په کردار
اوس آواز د انقلاب ته لګ بیدار شه
ګناه پریده شیطانان به خامخا وی
نفس جوتی کړه شه دشمن د خواهشاتو
عملونه شی تباه په فاحشاتو
په تکلیف به رب معاف درته ګناه کړی
استغفار وایه توبه به در عطا کړی
امداد اوغواړه په صبر او صلوة
توه شپه کښې عاجزی کړه مناجات
عفلت پریده او د علم په طلب شه
مجتبٰی شان عالمان به خامخا وی
توکل په الله اوکړه بهادر شه
په تقدیر ایمان محکم کړه بهرور شه
ددنیا نه زړۀ راتول کړه د الله شه
بس مئین په لااله الله شه
سفر لوئ د آخرت دې که پوهیږی
توخه یوسه چې بیا ورستو نۀ ژړیږې
جنتونو کښې اوسیږه په آرام
دیدارونه د سبحان به خامخا وی

مرګ رایاد کړه حساب اوکړه په ګریوان
د الله نه رهائی غواړه په هر ان
د سختی نه پس خو خامخا راحت وی
تسلی الله ورکړۍ دا محبت وی
هر یو وخت لره نیته وی دا قانون دې
رنګ په رنګ وختونه دا د رب بدلون دې
بندګی لکه خلیل د یو مولی کړه
خیر نمرود غوندی نیران به خامخا وی
دا زندان خوشحالی ده سعادت دې
دې ځان نه لاندې ته کتل لوئ دولت
کر اوکړه خو د خوږ دین او آخرت
لوړ کړه عزم او مرام او خپل همت
سوچ کوه د پاک الله په ایتونو
ځان خائسته کړه د نبی په پاک خویونو
انصافی شه ناکامی او زعم پیدا کړه
چې غصه شی نو حیران به خامخا وی
عاجزی اوکړه الله ته په فریاد شه
پروا مهٔ کړه حاسد ګرو نه آزاد شه
شوق مهٔ لره چې ثوک دې صفت خوان شی
تندې روڼ کړه چې زړګې دې هم روحان شی
کړه احساس د نعمتونو چې کامیاب شې
د بل درد ته هم لګ ګوره چې آفتاب شې
خپل دردونه دې لګ پټ کړه دا نیکی ده

افسوسونه او ارمان به خامخا وی
د راحت امتحان رابشي په تا
خاتمه کښې چرته نشي بیا خطا
د الله نه کوه سوال د استقامت
رهائی به دې نصیب شی په قسمت
زندانی ډالۍ تحفه ده د هرچا
قلم بند کړه په زندان کښې مفتی مجتبیٰ
مجروح وائی بې قراره زړۀ مې پرې یخ شو
خیر زندان دې نو خفګان به خامخا وی

❀ ❀ ❀

## نظم

یـــو انګـــار بـــل شـــو مظلومـــان ســـوزیګی
بوراګـــــان ژاړی سرۀ ګـــــلان ژړیـــــبږی

مدرســـــــــي شـــــــاړی عالمـــــــــان لاړل
پــــــه ډلـــــــو ډلـــــــو طالبــــــان لاړل

د چـــــا اولی کښـــــي کتابونـــــه شـــــو مـــــات
د چانــــه پــــاتي شــــو اصــــول او مرقــــات

د چـــــا د صرفـــــو ګردانونـــــه شـــــو مـــــات
د چـــــــا د نحـــــــو ارمانونـــــــه پـــــــاتي

څــــــو پــــــه مشـــــکواة او ترمـــــذی ژاړی
څـــــوک پــــه مســــلم او بخـــــاری جـــــاړی

ډیــــــر غــــــم زیــــــلی اســــــتاذان لاړل
پـــــــه ډلـــــــو ډلـــــــو طالبـــــــان لاړل

ډیــــــر غــــــم زیــــــلی اســــــتاذان لاړل
پـــــــه ډلـــــــو ډلـــــــو طالبـــــــان لاړل

❀❀❀

## تقریظ وکلمات الواد

محترم العالم النبیل الفاضل الجلیل الادیب الاریب ماهر علوم الأٰلیه والعالیة فضیلة الشیخ مولانا ضیاء الرحمن الکوثری المعروف بکوثر صاحب حق صاحب بارك الله فی عمره وصحته وعلمه.

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله رب العالمین والصلٰوة والسلام علی خیر البریة محمد وّ اله الطیبین الطاهرین وبعد

فقد طالعت تحفة الاسیر (زندانی ډالئ ) للاخ البصیر (المجتبٰی عامر جعل الله المرتضیٰ الصابر) فنعم الاسم وحبذ المسمّٰی وکل واناء یترشح بما فیه وبعد سرحی النظر فیه تذکرت السرخسیّ حیث املٰی المبسوط من قعر البیر علی تلامیذه حول البیر.

ولو لم یتیسر لاحد مطالعة جمیع هذاالکتاب الا المضامین المجموعة فی الفهرسة لکفی وشفی فالکتاب حری بان تکتب بالتبر کلماته والمؤلف جری بان تستخلص للنفس عاداته

جعل الله هذا الکتاب سُنَّة لکل اسیرٍ وماخذا لکل کما ان ابن الاثیر اباالسعادات صنف النهایة حین کان مریضا وظفر احمد عثمانی صنف اعلاء السنن حین مرضه ، فالله یظهر اعجب العجائب من عباده المخلصین لا سیمًا اهل القران والحدیث والفقه فانهم (یموتون) لکن علمَهم لا یموتون ونعم مال قال عبدالحی المدراسی فی مرثیة مولانا عبدالحی لکهنوی

مات عبدالحی لکن لم یمت فیضانه
انما مات المسمّٰی واسمه ما لایموت

فالمرجو من اللّٰه تبارك وتقدس ان یجعل هذه التحفة السجنیة مقبولة للخواص والعوام و وسیلة مستجابة للمجتی ولمن اٰمن خصوصا لاساتذته واقرباته الکبار والصغار.

وصلی اللّٰه علی خیر خلقه محمد واله واله وصحبه اجمعین

ها وانا عبد ربه الضیاء الکوثری الباجوری الباکستانی **k-p-k**

محرم الحرام ١٤٤٣ هجری

ستمبر ٢٠٢١

❀ ❀ ❀

## تقریظ

### د عقیدت ډکلونه مفتی اشتیاق احمد مهتمم حدیقة القران شیره غنډ صوابی

الحمد لله الذی لایرجی لکشف الشدائد الا هو ، ولا یدعی لدفع المکائد الا هو وما قرار المحبین الا هو والناس کلهم فقراء ولاغنی الا هو لاواجد ولا ماجد الاهو غافر الذنب وقابل التوب شدید العقاب ذی الطول لا اله الاهو ، وهل من خالق غیرالله یرزقکم من السمآء والارض لا اله الاهو ، وما یملك السمع والابصار الاهو ویعلم الجهر والاسرار الا هو وموسی علی الطور حین ناداه الاهو وابراهیم فی نارٍ حریق حین ناجاه الاهو و یونس فی بطن الحوت حین ناداه قال لااله الاهو ویوسف فی قعرالبیر حین دعاه قال لااله الاهو

اما بعد

زنجیر جنہوں کا تحفہ ہو زنجیروں سے کیا گبھرانا ہے
ہم ہاتھ بڑھائے ہیں جسے پہنانا ہے

یہ بات عیاں ہے دنیا پر ہم پھول بھی ہے تلوار بھی ہے
یا بزم جہاں مہکائینگے یاخون میں نہا کر دم لینگے
ہر سمت مچھلتی کرنوں نے افسون شب غم توڑ دیا
اب جاگ اٹھے ہے دیوانے دنیا کو بتا کر دم لینگے
سوچھا ہے کفیل اب کچھ بھی ہو ہر حال میں اپنا حق لینگے
عزت سے جیئے تو جی لینگے

یا جام شهادت پی لینگے

آگ ہے اولاد ابراھیم ہے نمرود ہے
پھر کسی پھر کسی کا امتحان مقصود ہے

د الله رب العزت قانون دې چې څیزونه ئې جوړې جوړې پیدا کړی دی که آسمان ئې پیدا کړې دې نو ورسره ئې زمکه پیدا کړی ده . نمر ئې پیدا کړې دې نو ورسره ئې سپوږمۍ هم پیدا کړی ده . تور ئې پیدا کړې دې نو ورسره ئې سپین هم پیدا کړې دې . سور ئې پیدا کړې دې نو ورسره ئې شین هم پیدا کړې دې . شپه ئې پیدا کړی ده نو ورځ ئې هم پیدا کړی ده . دغه شان ئې مصیبت پیدا کړې دې نو ورسره ئې راحت هم پیدا کړې دې . ان مع العسر یسرا ټول عمر شپه نۀ وی ورپسې ورځ راځی دغه شان ټول عمر مصیبت نۀ وی ورپسې راحت راځی . تعرف الاشیاء باضدادها چې کله مصیبت نۀ وی راغلې نو انسان د راحت نعمت نشی معلوملې خو چې کله مصیبت راشی نو انسان سره د نعمت احساس پیدا شی خو د مصیبت ځانله یوه مزه ده چې هغه الله هر چاته نۀ نصیب کوی بلکه هغه چاته ئې نصیب کوی چې کوم ئې خوښ وي یو شاعر وائی

خــــومره لذت چـــــې د ګلونـــــو د ازغـــــو سره وی
دومـــــره لذت د ژونـــــد د ډیــــرو هنګـــامو سره وي
ژوند چې بې غمه شی استاد محترمه هغه ژوند بـه څـۀ وی
خونـــد د دریـــاب خـــو د موجونـــو او چپـــو سره وی

د خپل کړیدلی او دردیلی او د جیل چپو وهلی استاذ محترم د زندانی

ډالۍ مې اوکتله چې په ډیرو فائدو باندې مشتمل ده او یوائې د جیل والو دپاره نه بلکه د بهر خلقو دپاره ډیر مفید دې یقینًا چې دا جیلونه د نورو جیلونو نه سخت او مختلف وی ددې خلقو سزاګانی د نورو خلقو نه مختلفې وی خو د هغې با وجود هم د استاذ محترم حوصله د غر پشان مضبوطه ده او یوائې خپله نه بلکه مونږ لره ئې هم وخت په وخت ډاډګیرنه راکړې ده الله دِ د دوی دا کوشش په خپل دربار کښې مقبول کړی او الله دِ د دوی او د دوی د نسل حفاظت اوکړی او الله دِ د دوی یو اندام د بل اندام د محتاجۍ نه اوساتی الله دِ د داسې سرپرستو سورې زمونږه د سرنه نهٔ لرې کوی . الله دِ مونږ د غلامۍ د زندګۍ نه ازاد کړی . چې د مفتی صاحب محترم پشان انقلابی خلق موجود وی نو الله تعالی به انشآء الله یو ورځ سبا کړی .

چې مشران ئې د غفلت پهٔ بسترو اودهٔ شی
هغه قومونه غلامۍ کښې په مودو اودهٔ شی
داسې اودهٔ شی چې نور اودهٔ ئې تماشوله راځی
چې بې ضمیره د لالچ په اشارو اودهٔ شی
د قافلې نه ورستو پاتې شی منزل نهٔ مومی
څوک چې د نفس د خواهشاتو په دهوکو اودهٔ شی
د آزادۍ د شوګیرو د ژوند نه نهٔ وی
لکه طوطی چې په چورو او په مورو اودهٔ شی
اشتیاقَ ژوند د غلامۍ په ژوند کښې نهٔ دې حساب
لکه شادو د مداری په اشارو اودهٔ شی

**محمد اشتیاق بن جان محمد آف شیره غنډ حالا اسیر**

**تاریخ : ۲۰۱۹ / ۱۱/ ۱۹**

**بمطابق : ۲۱ ربیع الاول ۱٤٤۱ هج**

**بروز منګل وخت : ۳۰: ۱۰**

❀❀❀

## تقریظ

**د مینی ټکی له طرفه د مفتی شفیق الرحمن صاحب مدرس مدرسه تعلیم القران جلبئ صوابی**

الحمد لله رب العالمين والصلوة والسلام على سيدالمرسلين وعلى اله واصحابه الطيبن الطاهرين .

د رب کائنات چې څومره ستائنه اوکړم نو کمه ده چې پدې انتهائی پر فتن دور کښې ئې هم نران حق ګویه ځوانان پیدا کړی دی . ماته د خپل ځان نه ډیر خوږ ځما محب او محبوب استاد د وخت امام حضرت العلامة الفهامة العارف بالله مفتی مجتبیٰ عامر صاحب الله تبارك وتعالی دِ د هر قسمه شر او مصیبت نه په امان کړی (امین) هغوی ماته خپل مایه ناز کتاب "د زندانی ډالۍ "راکړو او حکم ئې راته اوکړو چې پدې څه لیکل اوکړه نو د امتثال بالامر د وجې څو خبرې د قلم په لیک بندوم ګنې "*چہ نسبت خاک بہ عالم پاک*" یقینی خبره ده خوږ استاد سلمه الله د الله تعالی په عشق او محبت کښې خپل دردیدلې زړۀ ټولو مسلمانانو ته او خصوصا علماء کرام او طلباء عظام ته د کتاب په شکل ډالۍ کړې دې او دومره خوند او لذت دې پکښې چې ما د ماسخوتن د مانځه نه پس مطالعه شروع کړه نو هله رانه بیل شو چې تقریبا بالاستیعاب مې په فضل د الله مطالعه کړو . چې هر عنوان او معنون ئې درد مندو ته تسلی او د آزادۍ په یو لوی نعمت کښې مالامال علماؤ ته تشجیع او بهادری ده چې زندان هم د دینداره ژوند یوه حصه ده چا څه خۀ وئیلی دی .

د آزادۍ د ژونـــــد ســــبق ورکـــــوی
ملګـــرو خـــهٔ وی زنـــدان کلـــه کلـــه

محبوب استاد د زندان مفصلی او مدلّلی فائدې ذکر کړی چې د زندان د یرې د وجې نه علماؤ نه لویه فریضه چې د حق بیان دې چرته پاتې نشی ځکه د علماؤ نه الله په بیان د حق وعده اغستې ده ګنې د آخرت زندان ډیر سخت دې . د دنیا زندانونه که ډیر هم سخت وی خو اخر یوه ورځ وتل دی که په ژوند نهٔ وی نو په مرګ به وی خو هلته بیا وتل نشته . وخت د چا انتظار نهٔ کوی وخت خو هسې هم تیریږی او ختمیږی د خوږ استاد والد محترم " الله تعالی دِ ورته جنت الفردوس نصیب کړی " فرمائی

هـــر ذی روح له شـــته فنـــا پـــاتې بـــه خـــدای وی
متــــــین وائی راغلی تللـــــــو له پیـــــــدا دی

دا زمری د یوې ورځې ژوند د ګیدړ د ټول عمر نه بهتر دې . د محبوب استاد غوندی حق ګویه او نرانو په شان کښې اقبال هم وئیلی دی

*آئین جواں مرداں حق گوئی و بے باکی*
*اللہ کے شیروں کو آتی نہیں روباہی*

زما د دینی او روحانی تربیت ډیره برخه په جامعه جواهر القرآن سلیم خان کښې د حضرت په نګرانۍ کښې تیره شوې ده او پدې فخر کوم چې د اول کال په شاګردانو کښې زهٔ عاجز هم ووم او څو کلونه هلته د محبوب استاد په نګرانۍ کښې ووم "والحمد لله علی ذالك " د محبوب استاد زندګی ما په آزادۍ او راحت کښې هم د سلفو صالحینو یوه

نمونه موندلی وه او په سخته او زندان کښې هم د صبر ، حلم ، او د همت یو لوی غر اومندلو هم داسې خلقو باره کښې څه خۀ چا وئیلی دی

که شادی داد سامانے نه غم آورد نقصانے
به پیش همت ما هر بود بود مهمانے

په راحت کښې چې کوم فکر وو نو سختو او تکلیفونو د زندان هغوی د خپل فکر نه وانۀ ړؤل بلکه نوره پکښې هم ترقی راغله

"دعاة الحق کالجبال لاتزعزعهم الرياح النكدات"

رسول الله ﷺ فرمائی

العلماء ورثة الانبياء

یقینی خبره ده چې صحیح معنو کښې وارثان د محبوب استاد غوندې وی . څنو خلقو وراثت صرف په حلوه کښې منلي دې د خوږ څیز نه ئې حلوه جوړه کړه ټیک ده د نبی عليه السلام خوږ څیز خوښ وو خو غاښونه مبارک ئې شهیدان شوی وو . ګوته مبارکه ئې زخمی شوه نو ورته ئې وئیل

ان انت الا اصبع دميت وفی سبيل الله مالقيت

نبی عليه السلام فرمائیلی

ما أُذی فی الله احد مثل ما أوذيت

لنډه دا چې د الله په دین په تکلیف کیدل دا هم سنت دی .

د نبی عليه السلام باره کښې وئیلی شوی وو

له همـــــــــم لامنـــــــــتهی لکبارهــــــــا

وهمتـــــه الصـــــغری اجـــــل مـــــن الدهـــــری

زندان میراث د امام السجناء سیدنا یوسف علیه السلام هم دې أئمه اربعه رحمهم الله امامان شوی وو زندانونو له تلی دی .حافظ ابن تمیة رحمه الله فرمائی ''بالصبر والیقین تنال الامامة فی الدین'' یقنی خبره ده چې د استاد محترم تکلیفونه هم د دغې قبیلې نه دی اقبال رحمه الله هم وئیلی دی د داسې ځوانانو باره کښې

تندی باد مخالف سے نہ گھبرا اے عقاب
یہ تو چلتی ہے تجھے اونچا اڑانے کیلئے

هم دغسی ده چې کله هم د خوړ او محبوب استاد خدمت کښې حاضر شم نو په مخ مبارک ئې تبسم او عجیبه نورانیت او مسکا وی .

چاروں طرف سے کانٹوں میں گرا ہے یہ پھول
پھر بھی ہنستا ہے عجب خوش مزاج ہے

د الله تبارک وتعالی په دربار کښې لاس په دعا یم د تهجدو او د قبلیدو وخت دې ۳:۳۶ چې دا مسکا او اطمینان ، سکون د ډیرو خوشحالو د آزادئ سره همیشه د محبوب استاد په مخ باندې لری او د هغوی وجود ، صحت زمونږ دپاره رحمت دې الله تعالی دِ دا رحمتونه په مسلمانانو تادیر لری او تر ډیروخته دِ الله تعالی دا چینه د رحمت هم دغه شان جاری او ساری لری . او ترمرګه دِ الله مونږه ددې چینی نه سیراب کړی ، او الله تعالی دِ دا سعی او کوشش په خپل دربارلایزال کښې قبول او منظور کړی او الله تعالی دِ دا ذریعه د نجات په دارینو کښې او د زندان نه د خلاصون وسیله اوګرځوی او د استاد محترم او

د هغوی والدینو ته د هغوی کورواله ، بچو ، رونړو ، خویندو ، خپلوانو ، د هغوی استاذانو او شاګردانو ته صدقه جاریه اوګرځوی . او الله تعالی دِ د محبوب استاد په عمر ، علم ، حلم ، عمل ، مال ، حال ، اولاد کښې برکت واچوی ، او کوم کتابونه چې زیر طبع دی الله پاک دِ هغې ته اسباب مهیا کړی او د مکمل تفسیر لیکلو دی الله پاک توفیق ورکړی چې زما د زړهٔ ارمان پوره شی ...... آمین ثم آمین یا ارحم الرحمین . فیرحم الله عبدا قال امینا

زهٔ بندیوانه لیکونکې عاجز او د الله بخنې ته محتاج بنده شفیق الرحمن بن شیخ امدادالله علیه الرحمة الله تور دهیری .

❀❀❀

## تقریظ

**کلمات حوصله افزاء له طرفه مولانا قاری محمد شعیب صاحب کوټه بری کوټ سوات**

بسم الله الرحمن الرحیم

حمداً لمن لا مثل له و صلواةً علی من لا نبی بعده وعلی اله واصحابه اجمعین .

امابعد

ماته خپل مشفق استاد محترم جناب مفتی مجتبٰی عامر صاحب حفظه الله د کتاب د زندانی ډالۍ اکثره حصه د کتلو سعادت نصیب شو . یقینًا دې کتاب کښې ډیر فوائد او قیمتی نصائح موجود دی . او خصوصًا د هغه ملګرو چې د هغوی په جیل کښې د ډیرو وختونو د وجې نه حوصلې کمزورې شوی . او همتونه ئې ناست دی . د زړهٔ ټکور او یو نوې ژوند او روح موجود دې . او د هغوی تعلق دارانو او کورونو والا دپاره یو بهترین ډالۍ او تحفه ده . او ددې سره سره د هغه علماؤ دپاره پکښې لمحه فکریه ده چې هغوی د دنیا د چین او سکون د وجې نه یا د بزدلۍ او د جیل د یرې د وجې نه مسئله پټه کړې ده او یا ئې واضحه نهٔ بیانوی . ددې نه علاوه د عام او خاص دپاره ډیر فوائد او عملی نقطی پکښې موجود دی او زهٔ د الله رب العزت په دربار کښې دعاګو یم چې الله دِ د مفتی صاحب دا سعی او کوشش په خپل دربار کښې قبول او منظور اوګرځوی او خصوصا دا د هغوی دپاره د جیل نه د خلاصی ذریعه اوګرځوی سره د ټولو ملګرو

قیدیانو والسلام.

۲۰۱۹/ ۱۱/ ۱۸

بمطابق ۲۰ ربیع الاول ۱٤٤۱هج

رات ۸ بجې

قاری محمد شیعب بن محمد رفیق آف (کوټه) سوات بری کوټ

❀❀❀

## تقریظ

### تقریظ مولانا محمد رحیم صاحب الافغانی حیات اباد پشاور

الحمد لله وحده والصلوة والسلام علی من لانبی بعده

اما بعد

د محترم رور مفتی صاحب مجتبیٰ عامر حفظه الله ورعاه د کتاب " د زندانی ډالۍ " په اړه څهٔ لیکل به ځهٔ د خپل ځان دپاره اول د الله جلّ جلاله له طرفه احسان اوګنړم او بیا د مفتی صاحب پدې خبره مشکور یم چې زما غوندې کمزوری ملګری ته ئې خپل قیمتی کتاب د لیکلو دپاره رااولیږهٔ چې حقیقتًا دا د مفتی صاحب یو حسن ظن دې اګر چې ځهٔ ئې اهل نهٔ یم د کتاب عناوین مې اوکتل ډیر په زړهٔ پورې د حقیقت نه ډک وو.

زندان که یو طرفته د وحشتونو، ظلمونو کور دې یا د قبر د زندګۍ د نکیر منکر د سوال جواب یو مجازی فوټو کاپی ده خو بل طرفته پدې کښې شک نشته چې مخزن الفوائد دې د هغو فائدو پرسیره چې مفتی صاحب محترم په کتاب کښې لیکلی دی ځهٔ د خپلی تجربې مطابق یو څو اضافی کول غواړم الله جل جلاله دِ اوکړی چې د دردولی اسلامی امت ځوانان ترینه فائده واخلی

په زندان کښې طاغوت په حقیقی معنی سره پیژندلې کیږی او د طاغوت او د هغهٔ د لښکرو د اسلام سره کرکه او نفرت، عداوت مسلمانانو ته چې څومره په زندان کښې معلومیږی په بل ځائ کښې نهٔ معلومیږی.

طاغوت ته د مذهب ، قوم ، ژبې ، ملک فرق نشته لکه څه رنګه چې طاغوت مونږ ټولو ته په یو نظر ګوری نو مونږ هم باید داسې متفق او متحد شو او خپل فروعی اختلافات شاته اوغوزو تر څو د الله د دین د هلې کولو دپاره صف واحد د کفر مقابل کښې جوړ کړو.

د طاغوت لښکر د دنیوی مفادو په خاطر چې څومره اطاعت کوی باید مجاهدین رونړه د الله جل جلاله د رضا دپاره د خپلو امراء اطاعت اوکړی.

د اسلامی امت ځوانانو ته دا زیری ورکوم هغه زندانونه چې د مجاهدینو د تعذیب دپاره دوئ جوړ کړی وو نن الحمدللّٰه د هغې نه مدرسی ، دارالحفّاظونه جوړ شوی دی . په اخر کښې الله جل جلاله دِ محترم مفتی صاحب مجتبٰی عامر نه دغه عمل قبول کړی او ددهٔ دپاره دِ الله جل جلاله صدقه جاریه او د اسلامی امت رویدهٔ ځوانانو د رابیداریدو سبب اوګرځوی امین یا رب العالمین

۲۰ /۱۱ /۲۰۱۹

سحر ۱۰: ۷ بجې

الکاتب مولانا محمد رحیم ابو تراب الافغانی حالاً اسیر .

❀❀❀

## تقریظ

### د ملغلرو هار له طرفه د مفتی هارون الرشید صاحب کالوخان صوابی

الحمد لله وکفی وسلام علی عباده الذین اصطفی

اما بعد !

ما د خپل معزز استاذ او د زندان د ملګری مفتی مجتبٰی عامر صاحب جفظه الله کتاب د زندانی ډالۍ اوکتلو د خوشحالۍ نه مې په سترګو کښې اوښکی راغلی چې الله رب العٰلمین مفتی صاحب ته دومره لویه حوصله ورکړی ده چې د هغې اندازه به کتونکو د کتاب ته په کلام کتلو سره اوشی . ځکه د متکلم رنګ د هغهٔ په کلام کښې وی او زمونږه خو د سترګو د وړاندی ده . خو ماته ډیره خوشحالی پدې اوشوه چې حکومت پاکستان به وائی چې مفتی صاحب به په جیل باندې د حق د بیان نه منع شی او معامله برعکس ده . اول ئې بیان تش په ژبه وو اوس ورسره قلم هم شو "*یک نه شد دو شد*" . او حکومت وقت د مفتی صاحب په زړهٔ کښې د زندان یره اچوله او مفتی صاحب سالم کتاب په دې موضوع اولیکلو چې د نورو خلقو د زړونو نه د زندان یره اوباسی "*مرض بڑھتا رہا جوں جوں دوا کی*" فالحمد لله علی ذٰلك . ددې کتاب په ذریعه مفتی صاحب ټول عالم اسلام ته او خصوصا علماؤ ته دا پیغام ورکوی چې څنګه په ژبه وائی چې مرګ ، ژوند ، عزت ، ذلت د الله تعالی په اختیار کښې دې نو عملا هم دا ظاهره کړئ . دغه مطلب د قول د حضرت عائشه رضی الله عنها دې چې " کان خلقه

القران “ چې قرآن څه وائی دا په خپل ژوند کښې الله ته اوښایه . چې اې الله تا په قرآن کښې وئیلی وو چې ” وتعز من تشآء وتذل من تشآء “ نو زما دا ایمان دې چې ستا د کتاب بیان کوم تهٔ به ما نهٔ بې عزته کوی اګر چې ظاهری حالات او شکل د بې عزتۍ او د ذلت راشی خو عاقبةً دا عزت دې . زهٔ په پوره یقین او وعدی سره دا خبره کوم که چرته هغه علماؤ د مفتی صاحب عزت په زندان کښې اولیدو کوم چې د زندان د یرې نه د حکمت په برستن کښې پټ دی او په هیڅ قیمت دا برستن نهٔ لرې کوی . نو په خلهٔ کښې به ئې ورته اوبهٔ راشی . چې دومره عزت خو زمونږه په کور کښې هم نشته ذٰلك فضل الله یؤتیه من یشاء او ان شآء الله دا عزت به نور هم زیاتیږی او الله تعالی په خپل کتاب کښې فرمائیلی دی . ” وما یستوی البحران هذا عذب فرات سائغ شرابه وهذا ملح اوجاج ( الایة) دې ایت کریمه کښې اشاره ده چې څنګه دوه دریابونه یو شان ندی په خوند او فائدو کښې دغه شان مشرک او موحد او د دنیا په لذاتو او خوړو کښې مشغول انسان او د الله دپاره سختۍ او یرې ترهې برداشت کونکې انسان یو شان نشی کیدې . ځکه یو د دنیا د لذاتو په دریاب کښې ډوب دې او بل د الله د دین په سر د مصیبتونو غمونو او دردونو دریاب کښې ډوب دې دا چرته هم نشی برابریدې . تفاسیر او مشاهده پدې خبره ګواه ده چې لؤلؤ او مرجان ملغلری او قیمتی کانړی په تریخ دریاب کښې ملاویږی په خوږ کښې نه . نو که یو سړې دا غواړی چې قیمتی دِ شم په شان د ملغلری نو حق ښهٔ په لوړه بیان کړه لکه د مجتبیٰ مفتی

صاحب چې ملغلره درنه جوړه شی . نن ډیرو علماؤ او مجاهدینو هم د زندان د یرې خلې ته تالۀ (ژرنده ) وهلی ده . رد د شرک فی القانون او د شرک فی الاطاعة او د شرک فی الحاکمیت په صفاتو پښتو کښې نۀ کوی . او بزدلۍ له ئې نوم د حکمت عملی ورکړې دې لکه سود له د منافع. ژوند هسې هم تیریږی که په جیل کښې تیر شو نو قیمتی به شی شیخ الاسلام ابن تمیة رح فرمائیلی دی " ماذا يَبْتَغِي العَدُوُّ منّی ونفيي سياحة وسجن خِلوةٌ " وی دښمن زما نه څه غواړی ؟ څه نقصان به مې اوکړی قتل مې د الله لار کښې شهادت دې زخم مې سعادت او جلاوطنی مې سیاحت دې او جیل مې خلوت دې "

کۀ په دین مئین ئې نو ښۀ صفا صفا دین بیانوه که جیل ته لاړی نو خپل محبوب ته به اوزګار شی . څۀ د اکوړه خټک جامعه کښې وم مونږ مې کوو کمره کښې یواځې وم مونځ ډیره مزه راکړه زړۀ کښې مې خیال راغې چې جیل کښې به څومره خلوت ښائسته خلوت وی هفته لا نۀ وه تیره چې ګرفتار شوم او د خپل محبوب سره د خلوت ارمان مې پوره شو . فالحمدلله علی ذٰلك

نو زندان د محبوب سره په تنهایۍ کښې د ملاقات ځائ دې په دې سلسله کښې زما استاذ خاص حضرت العلامه مفتی مجتبٰی عامر صاحب چې د اسلافو نمونه ده دا مایه ناز کتاب لیکلې دې هر داعی دِ دا کتاب خامخا مطالعه کړی چې د زړۀ نه د زندان یره ختمه شی او شوق پیدا شی د حق ګویۍ . نن د الله تعالی کتاب د مخلوق د عقوبت خانو د یری صفا صفا نۀ بیانوی نو صبا به الله تعالی له څه جواب

ورکوی . بس کړه د حکمت دا شنړۍ ارتاؤ کړه او بهادر شه کم ازکم په ژبه حق بیان که .

عجب ہے تیری محفل میں یہ دستور زباں بندی
یہاں تو بات کرنے کو ترستی ہے زباں میری

الحمد لله چې مفتی صاحب په دې کتاب کښې د جیل د شپیتو نه زیاتی فائدې بیان کړی دی . د هغې فوائدو نه یوه نقده فائده ددې کتاب په شکل کښې ستاسو په وړاندې ده . الله رب العالمین دِ دا کتاب د داعیانو د حق د ضمیر بیدارولو ذریعه اوګرځوی . او مفتی صاحب او د هغهٔ د استاذانو او مشائخو او والدینو کور والا ، بچو ، رشته دارو ټولو له دې الله دا کتاب د سعادت د دارینو اوګرځوی . او چې چا ددې په لیکلو او جمع کولو کښې څومره تعاون کړې دې الله دِ هغه په خپل دربار کښې د قرب ذریعه اوګرځوی . الله تعالی دِ د مفتی صاحب د والد صاحب مغفرت نصیب کړی او والدی ته دِ ورله روغ صحت نصیب کړی . الله د مفتی صاحب بچی حماس ، صارم د خپل دین داعیان کړی الله د مفتی صاحب د رونړو په عمرونو کښې برکت واچوه خصوصا د هارون د زړهٔ ارمانونه پوره که او ماله او مفتی صاحب له او ټولو قیدیانو له د عزت سره رهائی راکه آمین برحمتك یا ارحم الراحمین : وصلی الله علی النّبی الامّی

آزادی د ګیـــــــدړانو مبـــــــارک شـــــــه
د زمـــــرو غاړو کښـــــې تـــــل وی نځیرونـــــه

محتاج دعا اسیر الذنوب ابو حفص محمد هارون الرشید بن فضل

غفورخان کالوخان صوابی.

بمطابق ٢٠ ربیع الاول ١٤٤١

١٨ نومبر ٢٠١٩

وقت د شپې ١٥: ١٢

❀❀❀

# ډالۍ

د همت غرونو ، د صبرستنو ،په زولنو او بیړو کښې لبیدونکو،د هجر او فراق په درد دردمندو، د ابۍاو دادا په ارمانونو ، د وړو وړو تنکو تنکو بچو په امیدونو ، د رونړو خویندو یارانو دوستانو په غمونو ، داغیدلي د بدخواهانو شین سترګو سور سترګو او تور سترګو په داغونو، د الله تعالی او درسول الله ﷺ د مینې په لار کښې د بلال رضي الله عنه سنت ژوندی کونکو د وخت د فرعون او طاغوت مقابله کښې امام السجناء یوسف علیه السلام په لاره تلونکو د امام د ابوحنیفهرح ، شیخ الاسلام امام ابن تیمیه رح ، امام احمد بن حنبلرح ، او د امام محمد طاهررح ، علامه محمد حسین نیلویرح ، شیخ الاسلام مولانا ولی الله کابلګرامیرح ، شیخ الحدیث والتفسیر مولانا فضل حق صاحب ، علامه سلطان غنی عارفرح او مولانا مصباح الدینرح ، مولانا تاجبر خانرح ، شیخ الحدیث مولانا نورالهدی صاحب غوندې خلقو د قدم په قدم کیخودنکو مظلومانو قیدیانو ژوندو او مړو یارانو دوستانو ، استاذانو مشرانو کشرانو په خدمت کښې ډیر په مینه او خلوص "ډالۍ" کوم....

بسم الله الرحمن الرحيم

## سرلیک

الحمد لله الذی خلق العباد فهدهم، وخصّ من شآء منهم لرفع لواء التوحید فرفعهم واعلاهم ، ومن امتازمنهم بالامامة فبانواع البلاء ابتلاهم ،

والصلوة والسلام علی من اوذی فی الله اشدّ الایذاء ، وعلی اله واصحابه الذین اقتدوا بسنته ففازوا بالاقتداء ، وعلی من اهتدی بهدیهم بالاشارة والایماء ، فصلّ اللّٰهُمَّ صلوة تکون بلا انتهاء .

اما بعد

الله تعالی څه عجیبه دي او عجیبه ئې کارونه دی ، علی رضي الله عنه فرمائی "چې الله مِ د ارادو په بدلولو او پیژندلو"د بنده یوه اراده وی او اوشی بل څۀ بنده عاجز فقیر (لیکونکي) هم ماسخوتن د معمول مطابق مطالعه کوله د سحر د سبقونو په اراده او د معمول مطابق اودۀ شو خو شپه ئې وه په سفر او په لاسونو زولنۍ او په سترګو ئې پټۍ او سحر ئې په داسې جیل کښې وو چې بنده ته څه معلومات نه وو چې دا کوم ځائ دې .

قصد ظالم سوئے کشتن ما — دل مظلوم ما سوئے خدا
آن درین فکرے کہ باما چہ کند — ما درین فکرے کہ خدا چہ کند

بیا څه مهربانه رب چې ما او ځما په ټولو متعلّقینو خصوصاً په مور او

خويندو رونړو او بچو دومره مهرباني اوکړه چې د سترګو په رپ کښې ئې آسانتيا راوستله او د جيلونو په چکر کښې ئې د مهمندو پوليټکل حوالات غلنئ ته راوستلم.

تير جيلونه او د هغې وخت د پابندۍ وو په هغې کښې کاغذ قلم نه وو او په ليک سخته پابندي وه د غلنئ جيل ته د راتلو سره الله تعالی ډير سهولت راوستلو زړۀ کښې د مختلفو ليکلو نقشې تلې او راتللې. دا يو مضمون د ډير مخکښې نه ذهن ته راتلو چې نن خلق او خاص کر علماء کرام د جيل د يرې نه ځنې اهمې مسئلې نه بيانوی او نورو ته هم د نه بيانولو ترغيب ورکوی کچرته حق پرستو عالمانو د حق په لار کښې او د الله د مينې په سفر کښې د جيلونو او تکليفونو پرواه کولې نو نن به مونږ ته حق نه وو رارسيدلې حقيقت دا دې چې

عشق راه پرخون ميکند
قصائ ليلی و مجنون ے کند

"عشق لاره د وينې نه ډکوی او د ليلی او د مجنون قصی راتازه کوی"

او چا داسې هم وئيلی دی

دستور د محبت دې ګذارونه به منې
سکروټو سره لوبې دې داغونه به منې

اوګوره لږ يوسف امام السجناء عليه السلام د يو ګناه نه د ځان د بچ کولو دپاره څه وائی

قَالَ رَبِّ ٱلسِّجۡنُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا يَدۡعُونَنِيٓ إِلَيۡهِۖ وَإِلَّا تَصۡرِفۡ عَنِّي

كَيۡدَهُنَّ أَصۡبُ إِلَيۡهِنَّ وَأَكُن مِّنَ ٱلۡجَٰهِلِينَ ﴿٣٣﴾ [١]

''وې وئيل چې اې ربه م جيل ډير خوښ دې ماته د هغه څۀ نه چې رابلې دوی ما هغې ته او که ته وانړوې ځمانه د دوئ چل نو ځۀ به واوړم دوئ ته او شم به د ناپوهو نه''

نن اجتماعی ګناهونه اوګوره خصوصا د الله د قانون مقابله کښې قانون د الله تعالی ددين مقابله کښې دين جوړول نور فحشاء او مالی جرمونه خو لا پريږده خو اجتماعی شرک کيږی او د جيل د وجې د توحيد لويه برخه چې توحيد فی الحاکميت ، فی الحکم دې هغه معطله پريخودلی شوې ده . حالانکه جيل هم د الله تعالی لويه مهربانی ده او پکښې ډيرې فائدې دي نو الله عاجز له زړۀ داسې ليکلو طرفته واړولو چې هغه د جيل فوائد او د هغې متعلق څه نور فوائد مخې ته کړې شي دا د جيلی او غير جيلی دواړو دپاره سود منې خبرې دي جيلي او کوم سړي چې قيد تير کړې وی نو هغه له به هم رهبری اوکړی او لار به ورته اوخائی او په خپل جيل تيرولو به مطمئن شی او د اجر طالب به شی او کوم چې غير جيلی عالم او داعي دې نو هغۀ له به بهادری او تشجيع شي او د حق بيان ته په ترغيب او داعي شي الله دِ اوکړي .

د الله تعالی محض کرم او احسان دې چې بنده عاجز له ئې د خپل دين سره تعلق پيدا کړې دی او د خپل کتاب نوکري ورته نصيب کړی ده او د خپل ديندارو سره ئې ورله تعلق پيدا کړې دې . ګنی

---

(١) يوسف: ٣٣

چرته ځۀ ګناهګار او چرته دا لوئ نعمت د رب العزت بيا راباندې الله ددې ليک احسان اوکړو د ليک ملګرو او خصوصا زندانيانو ته ئې ډالۍ کوم او ددې نوم هم د الله تعالی په فضل وکرم دا کيخودلې کيږې . " د زندانی ډالۍ "

آخر کښې کتونکو رونړو ته درخواست کوم چې د ليک په وخت کښې ځه په جيل کښې يم د کتابونو د سهولت نه محروم يم ددې ليکلو اکثره حصه د استاذانو د درسونو ملغلرې د نيکانو د صحبت راغونډې شوې خبرې دي . او بل راله يو خوږ ملګرې د احمد بن الکوری العلوی الشنقيطی کتاب من فوائد السجن ډالۍ کړې وو د هغه کتاب نه مِ اغستل کړی دي . ځنې قيمتی ملغلرې ځما د استاذانو محترمو تربيتی جواهرات ضبط کړې شوې دي . نو محترمو رونړو پدې کتاب کښې به ډيرې غلطۍ او کمۍ او کوتاهۍ موجود وی نو د غلطۍ د خوږولو په ځائ د اصلاح کوشش اوکړۍ او ما عاجز پرې خبر کړۍ .

د ټولو هغه ملګرو چې هغوئ ماسره ددې کتاب په ليکلو کښې مرسته او مدد کړې دې که هغه قيديان ملګری دي او که آزاد ملګری دي . د ټولو نه دِ الله تعالی رضا شي او ددې بدلې دِ ورله الله تعالی په دنيا او آخرت ورکړی او دا کتاب دې الله تعالی د خپلې رضا سبب اوګرځوی او الله تعالی دِ ځما د داجی او بې بې ، خوئندو رونړو او استاذانو دپاره صدقه جاريه کړی او کومې سترګی چې ځما په نيوو ژړيدلی دی الله تعالی دی ځما په خلاصۍ او آزادۍ روښانا کړي

او کوم خلق خصوصا ځما ملګری او ځما رونړه ځما د خلاصی دپاره ځان کړوی الله تعالی دِ د هغوئ نسلونه په قران او سنت آباد کړی امین .

امین و یرحم الله عبدا قال امینا.

لیکونکي العبد مجتبی عامربن عبدالمتین کان الله له سلیم خان صوابی

تاریخ : ۲۰ جمادی الاولی ۱٤٤۰هجری

۲۷ جنوری ۲۰۱۹ یوم الاحد

بمقام : جیل غلنئ مهمند

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله نحمده و نستغينه و نستغفره و نعود بالله من شرور انفسنا ومن سيئات اعمالنا من يهده الله فلا مضلّ له ومن يضلله فلا هادى له واشهد ان لااله الا الله وحده لا شريك له واشهد ان محمّدا عبده ورسوله امابعد

أَعُوذُ بِٱللَّهِ مِنَ ٱلشَّيْطَٰنِ ٱلرَّجِيمِ بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ الٓمٓ ﴿١﴾ أَحَسِبَ ٱلنَّاسُ أَن يُتْرَكُوٓاْ أَن يَقُولُوٓاْ ءَامَنَّا وَهُمْ لَا يُفْتَنُونَ ﴿٢﴾ (١)

الله تعالى چې انسان پيدا کړې دې نو د اول نه د حق او د باطل مقابله راروانه ده يو طرفته د الله تعالى دوستان وى او بل طرفته د شيطان دوستان وى لکه څنګه چې په عالم ظاهرى کښې د رنړا او د (ظلمت) تيارې جنګ دې کله تيارهٔ او کله رنړا شى دغه شان په عالم معنوى کښې هم دا جنګ روان دې شيطان د الله تعالې په دربار عالى کښې دا قسم کړې وو چې

قَالَ فَبِمَآ أَغْوَيْتَنِي لَأَقْعُدَنَّ لَهُمْ صِرَٰطَكَ ٱلْمُسْتَقِيمَ ﴿١٦﴾ (٢)

"وئيلى وو شيطان چې پدې وجه چې ځهٔ دې بې لارې کړم نو خامخواه به ځه دوئ ستا په نيغه لار کښې کښينم"

الله تعالى ورته وئيلى وو چې

إِنَّ عِبَادِى لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَٰنٌ ﴿٤٢﴾ (٣)

---

(١) العنکبوت: ١ – ٢

(٢) الاعراف : ١٦

(٣) الروم: ١٧ – ١٩

"بې شکه ځما بندیان نشته تالره په دوئ باندې څۀ قسمه زور"

که یو طرفته د الله تعالی بنده د الله تعالی ددین شمع بلوی نو بل طرفته د شیطان پرګنه پوکي وهل شروع کړی او د هغې د مړۀ کولو کوشش کوی . که چرته د ابراهیم علیه السلام نمسې د ربّی الذی یحیی ویمیت (چې ځما پالونکې او مالک هغه دې چې ژوندي کول او مړۀ کول کوی ) آواز پورته کړی نو بل طرفته د نمرود بچي د "انا احی وامیت" (چې ځۀ ژوندی کول او مړۀ کول کوم) د شرک او د همسرئ د الله تعالی نعره پورته کړی . کچرته د موسی علیه السلام حلالي بچې آواز پورته کړی چې "ربنا الذی اعطی کل شئ خلقه ثمّ هدی" (زمونږه تربیت کونکې هغه ذات دې چې هر څیزله ئې د هغه مناسب پیدائش ورکړې دې او بیا ئې ورته د ژوند تیرولو طریقه خودلې ده ) نو بل طرفته فرعونی آوازونه رااوچت شي چې "انا ربکم الاعلی" (ځه ستاسو د تربیت ذمه دار یم) که چرته محمدی غګ پورته شی چې "قولوا لااله الاالله تفلحوا "(چې لااله الاالله اووایئ چې کامیاب شئ نو بل طرفته ابولهبی غګونه پورته شی چې "اجعل الالهة الهاً واحدًا" (آیا دې د ګنړو ذمه وارانو نه یو ذموار جوړوی ) غرض د حق او د باطل کشمکش د پخوانه راروان دې

ستیزہ کار رہا ہے ازل سے تاامروز
چراغ مصطفوی سے شرار بولہبی

(اقبال)

خو د الله تعالی په مدد او توفیق د حق داعیانو ددې پرواه نده کړي او

خپله فریضه د حق دعوت ، امربالمعروف نهی عن المنکر، اشاعت حق ، اقامت دین او د باطل سرکوبي دا ئې سرته رسولې ده . باطل او باطل پرستو د حق پرستو راړولو دپاره قسما قسم حربې استعمال کړی دی کله ئې د مال دولت او د منصبونو لالچونه ورکړي دي چې ددنیا په جال کښې ګیر شی او په خواهشاتو کښې اخته شی نو د حق آواز به پست شی خو د حق داعیانو ته نصوص د امر بالمعروف او د دعوت مخې ته وو چې دا څمونږ فریضه ده او وعیدونه او یرې عذابونه د ترک د دعوت ورته ښکاریدل او د بلعم بن باعور واقعه ورته مخې ته وه چې ددنیا د وجې نه ئې د حق مقابله اوکړه نو حال ئې څۀ شو .

فَمَثَلُهُۥ كَمَثَلِ ٱلْكَلْبِ ﴿١٧٦﴾ (١)

"د هغۀ حال پشان د حال د سپی شو"

سپې اخسّ الحیوانات دې په ځناورو کښې ډیر ذلیله او سپک ځناور دې چې کوم عالم ددنیا د محبت د وجې خپله فریضه پریږدی نو دغه حال ئې شی دغه شان جناب رسول الله ﷺ فرمائی

العلماء اُمناء الرسل مالم یخالطوا السلطان ویداخلواالدینا فاذا خالطواالسلطان و داخلواالدنیا فقد خانواالرسل فاحذروهم(٢)

"علماء د پیغمبرانو د مشن امانت پورته کونکي دی خو ترسو چې دوئ د بادشاه سره تګ راتګ نۀ کوي او په دنیا کښې نه ورننوځی نو چې کله دوئ د بادشاه سره تګ راتګ شروع کړی او

(١) الأعراف: ١٧٦

(٢) كنز العمال ، الباب الثاني في آفات العلم ووعيد من لم يعمل بعلم ١٠/١٨٣

په دنیا کښې ورننوځی نو دوئ د انبیاء کرامو سره خیانت اوکړو نو د دوئ نه بچ شئ "

مجدد الف ثانی رح ددې حدیث ترجمانی کوی نو فرمائی

عالمان هست اندامین دین حق — با امیران گرندارد سبق
خالطوهم پس لصوص دین شدند — فاحذروهم درحق ایشان زدند

" عالمان د حق دین امانت پورته کونکی دي خو چې کله د بادشاهانو سره تلۀ راتلۀ نکوی چې کله د دبادشاهانو او مالدارو سره ئې تلۀ راتلۀ شروع کړل نو ددین غلۀ او ډاکوان ترې جوړ شو نو پیغمبر د دوئ باره کښې دا وئیلی چې د دوئ نه ځان بچ کړئ "

وَإِذْ أَخَذَ ٱللَّهُ مِيثَٰقَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ لَتُبَيِّنُنَّهُۥ لِلنَّاسِ وَلَا تَكْتُمُونَهُۥ ﴿١٨٧﴾ (١)

"او په هغه وخت کښې چې الله تعالې وعده اغستې وه د هغه کسانو نه چې ورکړې شوې وو هغوئ له کتاب چې خامخوا بیانوئ به دې له خلقو ته او پټوئ به ئې نه "

ما اعطى الله العالم علما الا وقد اخذ عليه الميثاق لتبيننه ولا تكتمونه(٢)

"الله تعالى هیڅ عالم له علم ندې ورکړې خو دهغۀ نه ئې دا وعده اغستلې ده چې بیانوئ به ئې او پټوئ به ئې نه "

اذا رأيت العالم يخالط السلطن مخالطة كثيرة فاعلم انه

---

(١) آل عمران: ١٨٧

(٢) الجامع الصغير للسيوطى : ٣٣٧/٢

لِصٌّ(١)

"کله چې اووینی یو عالم چې هغه د بادشاه دربار ته ډیر ځی راځی نو پوهه شه چې دا غل دې"

داسې نور ډیر نصوص د حق پرستو عالمانو مخې ته وو نو هغوئ د هیڅ څه پروا نده کړې د لالچونو د وجې نه ئې د حق بیان ندې پریخودلې بلکه په بهادرئ سره ئې د حق مسئله رسولې ده.

آئین جوانمردان حق گوئی و بے باکی
اللہ کے شیروں کو آتی نہیں روباہی

(اقبال)

یو طرفته باطل پرست د لالچ او مال چالونه چلوی او په هغې سره حق پرست د خپل مشن نه اړوی نو بل طرفته د دباؤنو او دهمکیانو او د یرولو حربه هم استعمالوی چې حق پرست په رعب او یره کبنې راشی او د الله تعالی د حق اواز اوچتول پریږدي دا دهمکیانې او دباونه په مختلف شکلونو سره وی کله دهمکي ددې خبرې ورکوي چې کلې نه به دِ اوباسو .... لکه

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِرُسُلِهِمۡ لَنُخۡرِجَنَّكُم مِّنۡ أَرۡضِنَآ أَوۡ لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَاۖ .... ﴿١٣﴾ (٢)

" او وئیلي وو هغه کسانو چې انکار ئې کړې وو د خپلو پیغمبرانو نه چې خامخواه اوبه شړو مونږ تاسو د خپل ملکه او یا

(١) الجامع الصغير للسيوطي: ٩٨/١

(٢) إبراهيم: ١٣

به شئ تاسو څمونږ په دین او دستور باندې "

قَالَ ٱلْمَلَأُ ٱلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوا۟ مِن قَوْمِهِۦ لَنُخْرِجَنَّكَ يَٰشُعَيْبُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مَعَكَ مِن قَرْيَتِنَآ ﴿٨٨﴾ (١)

"او اووې هغه معتبرو چې ځان ئې غټ ګڼړلې وود قوم د شعیب نه چې خامخوا اوبه شړو مونږه تالره او هغه کسانولره چې ایمان ئې راوړې دې تاسره د خپله ملکه "

قَالُوا۟ لَئِن لَّمْ تَنتَهِ يَٰلُوطُ لَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمُخْرَجِينَ ﴿١٦٧﴾ (٢)

" دوئ اووئيل چې كه منع نه شوې تهٔ اې لوطه نو خامخواه شې به د یستلو شوونه "

كله دا دهمكى او دباؤنه د كنځلو بدوردو او وهلواو كانړو ويشتلو په شكل كښې وى .

قَالَ أَرَاغِبٌ أَنتَ عَنْ ءَالِهَتِى يَٰٓإِبْرَٰهِيمُ ۖ لَئِن لَّمْ تَنتَهِ لَأَرْجُمَنَّكَ ۖ وَٱهْجُرْنِى مَلِيًّا ﴿٤٦﴾ (٣)

" نو اووئيل پلار د ابراهيم عليه السلام چې ايا تهٔ مخ اړونكې ئې څما د خدايانو نه نو كه بند نشوې د خپل مشن نه نو په كانړو به دِ اولم ( بدې ردې به درته اوايم كنځل به درته اوكړم او جدا شه څمانه ډيره موده "

رجم ويشتلو ته وائى نو ويشتل يو په كانړو وى او بل په ژبه نو دواړه معنې دى .

---

(١) الأعراف: ٨٨

(٢) الشعراء: ١٦٧

(٣) مريم: ٤٦

قَالُوا۟ لَئِن لَّمْ تَنتَهِ يَٰنُوحُ لَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمَرْجُومِينَ (١)

" نو دوئ وئیل که بند نشوې اې نوحه! نو خامخوا به شې د ویشتلو شوو نه او بدو ردو وئیلو شوونه "

قَالُوٓا۟ إِنَّا تَطَيَّرْنَا بِكُمْ ۖ لَئِن لَّمْ تَنتَهُوا۟ لَنَرْجُمَنَّكُمْ ﴿١٨﴾ (٢)

" دوی اوئیل چې مونږ تاسو سپیرۀ ګنړو او که بند نشوئ نو په کانړو به مو اوولو ( بدې ردې به درته اووایو) "

او کله دا دهمکیاني او دباؤنه د جیل او قید ته د اچولو په شکل کښې وي لکه

وَلَئِن لَّمْ يَفْعَلْ مَآ ءَامُرُهُۥ لَيُسْجَنَنَّ وَلَيَكُونًا مِّنَ ٱلصَّٰغِرِينَ ﴿٣٢﴾ (٣)

"او که دا یوسف اونکړي هغه کار چې څۀ ورته حکم کوم نو خامخواه به جیل ته کړې شي او شی به د ذلیلونه "

قَالَ لَئِنِ ٱتَّخَذْتَ إِلَٰهًا غَيْرِى لَأَجْعَلَنَّكَ مِنَ ٱلْمَسْجُونِينَ ﴿٢٩﴾ (٤)

" فرعون اووئیل که دِ زما نه علاوه بل اله جوړ کړو نو جیل کښې د اچولو شوو نه به شې"[١]

مختلف چالونه حربې باطل پرست استعمالوی خو حق پرست ئې د خپل مشن نه ندي اړولې .

---

(١) الشعراء: ١١٦

(٢) یس: ١٨

(٣) یوسف: ٣٢

(٤) الشعراء: ٢٩

وَقَدۡ مَكَرُواْ مَكۡرَهُمۡ وَعِندَ ٱللَّهِ مَكۡرُهُمۡ وَإِن كَانَ مَكۡرُهُمۡ لِتَزُولَ مِنۡهُ ٱلۡجِبَالُ ﴿٤٧﴾ (١)

" او دوئ چلونه کړی وو د خپل وس مطابق او نۀ وو دا چالونه د دوئ چې ړقیدلې وې ددې د وجې غرونه "

دومره غټ غټ فریبونه کړې وو چې نور د هغې نه زیات دوئ کولې نشو دا انتهائی زور وو خو د غرۀ غونتې حق پرست ئې نه وو ړقولی .

دعاة الحق کالجبال لاتزعزغهم الریاح النکدات

"د حق داعیان د غرونو غوندي وی بې کاره سیلۍ او هواګانې دوئ د خپل مشن نه اړولې نشي "

چاروں طرف سے کانٹوں میں گرا ہے یہ پھول
پھر بھی ہنستا ہے عجب خوش مزاج ہے

## ایمان او امتحان

د قران کریم او د احادیثو مبارکو نه دا معلومیږی چې چرته ایمان وی نو هلته امتحان وی او چې څومره ایمان او دین کښې اوچتوالي وی نو دومره په امتحان کښې غټوالي وی

أَحَسِبَ ٱلنَّاسُ أَن يُتۡرَكُوٓاْ أَن يَقُولُوٓاْ ءَامَنَّا وَهُمۡ لَا يُفۡتَنُونَ ﴿٢﴾ (٢)

" آیا دا خلق ګمان کوی چې صرف پدې وئیلو به پریخودلې شي چې دوئ دا اووائی چې مونږ ایمان راوړیدې او پدوئ به ازمیښت

(١) ابراهیم : ٤٦

(٢) العنکبوت: ٢

نه وى شوې "

يعنى امتحان به خامخواه راځى د څرګندلو او اوچتولو دپاره د امتحان لوئ حکمت دا ذکرکوى .

وَلَقَدۡ فَتَنَّا ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۖ فَلَيَعۡلَمَنَّ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ صَدَقُواْ وَلَيَعۡلَمَنَّ ٱلۡكَٰذِبِينَ ٣ (١)

" او بې شکه ازميښت مِ کړې وو د هغه کسانو چې ستاسو نه مخکښې وو نو خامخواه ښکاره کوي به (اوځلوى به ) هغه کسان چې هغوئ رشتيا وئيلى وو او خامخواه ښکاره کوى به دروغژن"

لَتُبۡلَوُنَّ فِيٓ أَمۡوَٰلِكُمۡ وَأَنفُسِكُمۡ ١٨٦ (٢)

"او خامخواه ازمائيلې به شئ تاسو ستاسو په مالونو او بدنونو کښې"

وَلَنَبۡلُوَنَّكُم بِشَيۡءٖ مِّنَ ٱلۡخَوۡفِ وَٱلۡجُوعِ وَنَقۡصٖ مِّنَ ٱلۡأَمۡوَٰلِ وَٱلۡأَنفُسِ وَٱلثَّمَرَٰتِۗ وَبَشِّرِ ٱلصَّٰبِرِينَ ١٥٥ (٣)

"او خامخوا ازميښت به کوم ستاسو په څه لږ غوندې د يرې او لوږې او د کمې د مالونو او بدنونو او د ميوو نه او زيرې ورکړه صبر کونکو ته "

اشدالناس بلاءً الانبياء ثم الامثل فالامثل(٤)

"ډير سخت د انسانانو په امتحان او ازميښت کښې انبياء کرام علهيم الصلوت والتسليمات دي او بيا کوم خلق چې د انبياء سره

---

(١) العنکبوت: ٣

(٢) آل عمران: ١٨٦

(٣) البقرة : ١٥٥

(٤) اخرجه ابن حبان فى المجروحين ٢٤٣/٢ مختصرا ، وابونعيم فى حلية الاليا‌ء ٣٣٣/٦

ډیر مناسبت لری یعنی په دین کښې هغوئ ته نزدې وی "

ما اوذی فی الله احد مثل ما اوذیت[۱]

"د الله تعالی ددین په باره کښې دومره تکلیف هیچاته ندې ورکړې شوې څومره چې ماته راکړې شوې دې"

د جناب رسول الله ﷺ درجه په ټولو انبیاء کرامو کښې اوچته وه نو امتحان او تکلیف پرې هم زیات وو.

فیبتلی الرجل علی حسب دینه فان کان دینه صلبا اشتد بلاءه وان کان فی دینه رقة ابتلی علی حسب دینه فما یبرح بالعبد حتی یمشی علی الارض ما علیه خطیئة[۲]

"د یو سړی ازمیښت د هغه ددین په حیثیت سره کولې شي کچرته په دین کښې مضبوط وی نو امتحان ئې سخت وی او که په دین کښې ئې سستیا وی نو امتحان ئې ددین مناسب وی نو همیشه وی امتحان په بنده نو پاتې شي چې گرځی په زمکه چې په دۀ باندې هیڅ گناه نه وي "

أَمۡ حَسِبۡتُمۡ أَن تَدۡخُلُواْ ٱلۡجَنَّةَ وَلَمَّا يَأۡتِكُم مَّثَلُ ٱلَّذِينَ خَلَوۡاْ مِن قَبۡلِكُمۖ مَّسَّتۡهُمُ ٱلۡبَأۡسَآءُ وَٱلضَّرَّآءُ وَزُلۡزِلُواْ حَتَّىٰ يَقُولَ ٱلرَّسُولُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ مَتَىٰ نَصۡرُ ٱللَّهِۗ أَلَآ إِنَّ نَصۡرَ ٱللَّهِ قَرِيبٞ ﴿٢١٤﴾ (۳)

"آیا گمان کوئ تاسو چې دننه به شئ جنت ته اولا به نه وی راغلی تاسو ته نمونې او حالات د هغه کسانو چې ستاسو نه

---

(۱) الترغیب والترهیب للمنذری ۲۲۱/٤

(۲) سنن ترمذی ،باب ماجاء فی الصبر علی البلاء ۱۷۹/٤

(۳) البقرة: ۲۱٤

مخکښې تیر شوی وو رسیدلی وو دوئ ته تاوانونه او تکلیفونه او
جړقولې شوي وو "

نو چې د جنت او د نجات امید ساتئ نو د هغې په لار به روانیږې د نجات او جنت لار په دین کښې امتحانات برداشت کول دی .

ترجـــوا النجـــاة ولـــم تســـلک مســـالکها
فـــان الســـفینة لاتجـــری علی الیـــبس

"چې د نجات امید ساتی او د هغې په لار نه روانیږې نو کشتۍ په
اوچې نه چلیږي "

نو د الله تعالې په دین کښې امتحانات ضروری دی او خامخواه راځی چې ایمان راوړی او د ایمان او د دین خدمت کوې نو امتحان به راځی . عالمان وائی چې

البلآء للولاء کاللهب للذهب

" چې مصیبتونه د ولایت د درجې دپاره داسې دی لکه د سرو د
پاره د اور لمبې "

چې په اور سرۀ ګرم کړې شي نو کالی او زیورات ترینه جوړ شي

یا مکن برچهره نیل عاشقی یا فرش و جامۀ تقوی به نیل

" یا خو په مخ د عاشقۍ داغ مهٔ لګوه یا لاندې باندې ټول متقی
شه "

یا مکن با پیل بانان دوستی یا بکن خانه به انداز پیل

"یا خو د هاتیانو والا سره دوستی مهٔ کوه یا کور او دروازه د هاتی
مطابق او برابر کړه "

لکه ښښتانهٔ وائی "چې اوښان ساتې نو دروازې به دنګې ساتې" په دغه امتحاناتو کښې یو امتحان هغه د زندان او د قید هم دې .

آگ ہے اولاد ابراہیم ہے نمرود ہے
پھر کسی کو پھر کسی کا امتحان مقصود ہے

## زندان او امتحان

کله چې حق پرستو د الله تعالیٰ ددین او د توحید آواز پورته کړې دې نو په مختلف قسمه ازمیښتونو ئې ازمیښت شوې دې خصوصا چې کله د توحید هغه تشریح او وضاحت اوکړی کوم چې د انبیاء کرامو په نهج توحید وو چې په هر قسمه شرک رد اوکړی چې څوک هم د الله تعالی د توحید مخې له راځي هغه په "لا" سره رد کړې شي چې هغې کښې بادشاهان هم راځی نو په هغې کښې جیل او قید وبند ناګزیراو ضروری دې لکه

قَالَ لَئِنِ اتَّخَذْتَ إِلَٰهًا غَيْرِي لَأَجْعَلَنَّكَ مِنَ الْمَسْجُونِينَ ﴿٢٩﴾ (١)

" نو فرعون اووئیل که دې جوړ کړو ځمانه علاوه بل حکم چلونکې او د اطاعت مستحق نو اوبه ګرځومه تالره د قید کړې شوونه "

کله چې یوسف علیه السلام د یو مصری جینۍ ارمان پوره نه کړو نو ورته

---

(١) الشعراء: ٢٩

اووئيلې شو

وَلَئِن لَّمْ يَفْعَلْ مَآ ءَامُرُهُۥ لَيُسْجَنَنَّ وَلَيَكُونًا مِّنَ ٱلصَّٰغِرِينَ ﴿٣٢﴾ (١)

"كه اونكړو دې يوسف هغه كار چې څۀ ورته حكم كوم نو خامخوا قيد به كړې شي او شي به د ذليلو نه"

خو آفرين په يوسف عليه السلام چې هغه زندان ته هركلې وائی او د ګناه نه ځان بچ كوي او وائی چې

قَالَ رَبِّ ٱلسِّجْنُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا يَدْعُونَنِيٓ إِلَيْهِ ۖ وَإِلَّا تَصْرِفْ عَنِّي كَيْدَهُنَّ أَصْبُ إِلَيْهِنَّ وَأَكُن مِّنَ ٱلْجَٰهِلِينَ ﴿٣٣﴾ (٢)

"نو اووئيل يوسف چې ربه م جيل راته ډير خوښ دې د هغې نه چې دا جينكۍ م ورته راغواړی او كه وانړوې تۀ ځمانه فريب ددې جينكو نو څۀ به ورته واوړم او شم به د ناپوهانونه"

يوه ورځ جناب رسول الله ﷺ په لاره روان وو چې يو جهانديده او هوښيار سړی ورته اووئيل چې تۀ خلق څه ته رابلې چې دوئ تاسره جنګ كوي او تكليف دررسوي جناب رسول الله ﷺ ورته اوفرمائيل چې لا اله الاالله ته خلق رابلم نو هغۀ ورته اووئيل

هذا امر تكرهه الملوك(٣)

"چې دا خو داسې خبره ده چې بادشاهان ئې نه خوښوی"

بل يو هوښيار سړی ورته اووئيل

---

(١) يوسف: ٣٢

(٢) يوسف: ٣٣

(٣) في ظلال القران، سورة النساء ٧٤٢/٩٥، مجموعة الفتاوی، ٢٥٦/١٣

اذاً تحاربك العرب والعجم[1]

چې ته کله دې ته خلق رابلې نو بیا به عرب او عجم ستا دشمنان شی . چې کله د انبیاء کرامو په طریقه ددین خدمت کیږی نو په هغې کښې قید وبند او زندان ته هرکلې وی خصوصا چې کله د توحید د قانون او د شرک فی القانون رد کولې کیږی نو دا خبره به په بادشاهانو خه نه لږي او د بادشاهانو سره د مختلف سزاګانو سره یوه سزا هغه جیل او قید هم دې .

د جناب رسول الله ﷺ ارشاد دې

الا ان رحى الاسلام دائرة فدوروا مع الكتاب حيث دار الا ان الكتاب والسلطان سيفترقان فلاتفارقوا الكتاب الا انه ستكون عليكم امراء يقضون لانفسهم مالا يقضون لكم ان عصيتموهم قتلوكم وان اطعتموهم اضلّوكم قالوا كيف نصنع قال كما اصحاب عيسى ابن مريم نشروا بالمناشير وحملوا على الخشب موت فى طاعة الله خير من حياة فى معصية الله[2]

"خبردار! د اسلام ژرنده ګرځیدونکې ده نو تاسو د قران کریم سره تاؤ شئ کوم طرفته چې تاویږی

خبردار! چې یقینی خبره ده چې بادشاه او قران به جدا شی یعنی بادشاه به یو خه وائی او قران به بل خه وائی نو د قران نه مه جدا کیږئ خبردار یقینی خبره ده چې په تاسو به داسې باشاهان راشی

(١) الدلائل للبيهقى

(٢) ابو نعيم فى حلية الاليا‌ء ١٦٦/٥

چې ځان له به فيصلې کوې هغه چې تاسو له به نۀ کوی که تاسو ئې نه منئ نو وژني مو او چې منئ ئې نو ګمراه کوی مو . نو دوئ اووئيل چې مونږه څنګه معامله اوکړو د دوئ سره نو نبی عليه السلام اووئيل چې لکه د عيسى ﷺ ملګرو کړي وو په ارو باندې اره شو او په سولۍ باندې پهانسی کړې شوې وو د الله تعالى په تابعدارئ کښې مرۀ کيدل دا غوره دی د هغه ژوند نه چې د الله تعالى په نافرمانئ کښې وی"

نن د روشن خيالئ په دنيا کښې د کافرو ملکونو انډيا ، امريکه وغيره کښې څه چې په اسلامی ملکونو کښې څوک د جهاد ، خلافت او د الله د قانون او نظام نوم اغستونکو له د مختلف نومونو سره سره مختلف جيلونه او اذيتونه تيار کړې شوې دې چې په هغې کښې د الله تعالى دوستان دردولې شی بې ګناه او مظلومه مسلمانان ، علماء ، طلباء حفاظ په کلونو باندې په داسې جيلونو کښې رواستۀ شو چې د هغې تصور هم په بنده باندې غونې زيګ زيګ کوی او په بدن باندې ويختۀ اودريږي . الله تعالى ټول قيديان سره ځما عاجز فقير نه د خپل دين د خدمت دپاره بهر کړی .

## د زندان فائدې

الله تعالی حکیم دې او حاکم دې چې کله د بنده پدې دوو صفتونو د باری تعالی مکمل یقین او اعتماد وی نو په دهٔ کښې به مستی په راحت او نا امیدی په مصیبت کښې رانشی . ځکه الله تعالی حاکم دې چې څه کوی نو څوک ئې بندولې نشی

إِنِ ٱلۡحُكۡمُ إِلَّا لِلَّهِۖ ﴿٥٧﴾ (١)

"نشته اختیار د هیڅ قسمه فیصلې مګر صرف د یو الله تعالی دی"

إِنَّ رَبَّكَ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيدُ ﴿١٠٧﴾ (٢)

"یقینا ستا رب ډیر په آسانه کونکې دې د هغه څه چې اراده کوی"

نو الله تعالی بادشاه دې او اختیار مند دې نو څه چې اوغواړی نو کوي ئې . نو که چرته مونږ ته داسې خبره او کار اورسی چې هغه ځمونږ خوښ نوی نو مونږ له په هغې داسې پریشانی نده پکار چې د نا امیدئ حد ته اورسی او هغه د ګیلو او شکایتونو شکل اختیار کړی ځکه دا خامخواه د کیدو وو د اختیار والا اختیار دې ځمونږ څهٔ اختیار دې .

دویمه داده چې الله تعالی حکیم دې د حکیم معنی ده د حکمت والا د حکمت مطلب دادې چې هر یو څیز په خپل ځائې کیښودل نو د الله تعالی کار هغه په صحیح ځائې وي نو په هغې کښې به څه

---

(١) الانعام :٥٧

(٢) هود: ١٠٧

حکمت ، خير او فائده وى ځکه چې "فعل الحكيم لا يخلو عن الحكمة " د حکيم ذات کار د حکمت او فائدې نه خالى نه وى نو کچرته داسې خبره او کار مخې ته راشى چې هغه ځمونږ په طبيعتونو دروند لګى نو مونږ له پريشانى نده پکار پدې کښې به ضرورځه خير پروت وى اګر چې ځمونږ ذهن ورته نه رسيږى .

وَعَسَىٰٓ أَن تَكۡرَهُواْ شَيۡـٔٗا وَهُوَ خَيۡرٞ لَّكُمۡۖ وَعَسَىٰٓ أَن تُحِبُّواْ شَيۡـٔٗا وَهُوَ شَرّٞ لَّكُمۡۚ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ وَأَنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ٢١٦ (١)

" کيديشى چې تاسو بد ګنړئ يو څيز او هغه ډير د فائدې وى ستاسو دپاره او کيديشى چې خوښوئ تاسو يو څيز او هغه ډير د نقصان وى ستاسو دپاره او الله تعالې پوهيږى (ستاسو په خير اوشر)او تاسو نه پوهيږئ (په حقيقت د خير اوشر)."

فَعَسَىٰٓ أَن تَكۡرَهُواْ شَيۡـٔٗا وَيَجۡعَلَ ٱللَّهُ فِيهِ خَيۡرٗا كَثِيرٗا ١٩ (٢)

"نو کيديشى چې ستاسو خوښ نه وى يو څيز او ګرځولې وى الله تعالى په هغې کښې خير ډير زيات "

نو مونږه په خپل خير او شر نه پوهيږو ځمونږ په خير او شر الله تعالى پوهيږى هغه په صورت د خير کښې په شر ورکولو او په صورت د شر کښې په خير ورکولو قادر دې د دِ وجې نه د الله تعالى په فيصله رضا

(١) البقرة: ٢١٦

(٢) النساء: ١٩

کیدل پکار دی اللّٰهُمَّ انا نسألك الرضا بالقضاء.
دغه شان د ازاد بنده بندیدل نه وی خوښ قید او بند زندان په طبیعت ډیر بد لګی انسان خو د عقل خاوند دې ځناور هم قید او بند نه خوښوی او په طبیعتونو د هغوئ ګران لګي . وئ چې کله انګریزانو جیل جوړ کړو نو یو سپې ئې پکښې بند کړو یو څو ورځې پس ئې د سپې د مخې ته غوښې او چرګان کیښودل اوبیا ئې ورته ور کهلاؤ کړو سپي هیڅ څیز ته نه کتل او بهر اوتختیدلونو هغوئ پوهه شو چې بندیدل سپې ته زور ورکوی نو انسان له به هم زور ورکوی خو ځمونږ دا ایمان دې چې پدیکښې به خیر زیات وی.

## د زندان قسمونه

بیا د قید او زندان غټ دوه قسمونه دی یو چې په څه شرعی جرم یا ددنیا په څۀ مسئله کښې سړې جیل ته لاړ شی لکه غلا ، قتل ، زنا وغیره ګناهونو کښې بنده جیل ته لاړ شی او هغه قید شی لکه په اوسني فرنګی نظام کښې د کلونو قید کول سزا ده شریعت کښې جرم او د جرم سزا مقرر ده د سزا په طور د شریعت په مقرر شوو سزاګانو کښې قید شته او کنه دا ځان له مسئله ده خو که یو سړې پدې کښې قید شي نو هم د فائدې نه خالي نده الله تربیت اوکړی د سوچ موقع ورته ملاؤ شی او د توبې سوچ ورسره پیدا شی دغه شان څه دنیوی معاملاتو کښې قید شی نو د خیر او فائدې نه خالی نده خپلې

زندګۍ او عمر ته دِ سوچ اوکړي او د خپلو غلطو نه دِ توبه اوباسي .

دويم قسم زندان او قيد وبند دې د الله تعالی ددين د وجې نه چې يو سړې د الله تعالی توحيد بيانوی په قانون د غيرالله رد کوی د آزاد خيالۍ او بې دينۍ رد کوی مسلمانانو ته د خپل اسلام او دين احساس ورکوی او د جهاد مسئله بيانوی او هغه په حاکمانو بده اولګی او هغه سړې جيل ته کړی نو دا سجن فی سبيل الله دې دۀ ته د الله تعالی د وجې نه تکليف اورسيدلو لکه څنګه چې وژلی شوي او مړی ډيروی څوک په قوميت مړوی څوک په مال ، ښځه ، زمکه مړشی او اوژلې شی او يو سړې د الله تعالی دپاره مړشی نو هغه څومره بختور سړې وي او الله تعالی د هغه باره کښې څۀ وائی چې

وَلَا تَقُولُوا۟ لِمَن يُقْتَلُ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمْوَٰتٌۢ ۚ بَلْ أَحْيَآءٌ وَلَٰكِن لَّا تَشْعُرُونَ ﴿١٥٤﴾ (١)

"او مۀ وايئ په باره دهغه چا کښې چې اووژلې شی په لار د الله تعالی کښې چې دوئ مړۀ دي (دعامو مړو پشان ، عبث او بيکاره) بلکه دوئ ژوندي دي خو داسې ژوندي چې تاسو د هغوئ په ژوند نه پوهيږئ (ځکه ددنيا د ژوند پشان ندې) "

گر خونت فدائی یار گردد | ازوہر قطرہ صد گلزار گردد
بمیدانی،اگر درخانہ مردی | مبارک خون تو بے کار گردد

"که ستا وينه د يار (د الله تعالی) نه قربان شوه نو د يو يو څاڅکی نه به باغونه رازرغون شی . پدې ځان پوهه کړه که په کور کښې

(١) البقرة: ١٥٤

مړ شوی نو برکتي وينه دې بيکاره لاړه"

نو دغه شان زندانی او قيدی هم څوک مال دولت د وجې نه څوک د څه جرم د وجې نه جيل شی نود هغه نسبت ته اوګوره او څوک د الله په وجه جيل ته لاړ شی نو څومره لوئې نسبت دې چې الله تعالی اووائی چې

وَأُوذُواْ فِي سَبِيلِي ﴿١٩٥﴾ (١)

"چې تنګ کړې شو او په تکليف کړيشو په لار ځما کښې"

نو د الله تعالی د وجې نه تنګ کړيشی او جيل ته کړيشی نو دا مسجون فی سبيل الله شی څومره لوئې بختور شی . نو ددې به څومره فائدې وی نو د آخرت اجرونه خو پريږده په دنيا کښې هم دهٔ ته الله تعالی ډير څهٔ ورکوی څه دينی فائدی وی او څهٔ دنياوی فائدې وی دلته د الله تعالی په توفيق او مدد او د هغهٔ په خصوصی فيضان څه مختصر فائدې ليکلې کيږی الله تعالی دې راته آسان کړي .

آمين يا ناصر االمظلومين .

## اوله فائده د الله جيلی کيدل

په نسبت سره قيمت معلوميږی او په نسبت سره درجې اوچتيږی هم او ښکته کيږی هم . يو د جامې ټوکره د هغې نه بنده خپلې يا د ماشوم جامې جوړې کړی او د بلې نه قرآن له قميص جوړ کړی نو فرق څومره شی د دويمی کپړې چې د کومې نه قران له قميص جوړ

(١) آل عمران: ١٩٥

کړې شي نو بې اودسه ورته لاس لګول ناجائزشی .

دغه شان يو سپې په عامو کوڅو کښې ګرځی او بل سپي د اولياء کرامو او اصحاب کهف خدمت کړې وو نو د هغه سپي تذکره د قرانکريم په مينځ کښې کيږی .

مجنون يوه ورځ د يو ګنده او پمن سپي خپې ښکلولې نو چاترې تپوس اوکړو چې دا څه کوې دا خو ګنده سپې دې نو مجنون ورته جواب اوکړو

گفت مجنون توهمہ نقش وتن بیا بنگر نو بریں چشمان من
این طلسم بستہ مولی است این پاسبان کو چہ لیلی است این
این سگے کوگشت در کوئش مقیم خاک پائش بہ ز شیران عظیم

''مجنون ورته اووئيل چې ته صرف ظاهری شکل او صورت ته ګورې تۀ راشه او دې سپي ته لږ څما په سترګو اوګوره دا سپې څما مولی يعنی الله پيدا کړيدې او بله دا چې دا د ليلی د کوڅو څوکيدار دې داسپې د ليلی په کوڅو کښې ګرځي او په هغې کښې اوسيږی ددې سپي د خپو خاورې د زمرو نه غوره دی ''

نو اې قيدي وروره ! لږ سوچ اوکړه چې تۀ کله د قيديانو په مينځ کښې ناست ئې نو لږ تپوس اوکړه چې څوک په څۀ کښې راغلی دی څوک په څۀ کښې او تۀ په څۀ کښې ستا نسبت څومره اوچت دې يو تلې خاورې خلې ته واچوه او په نستونړو اوګډيږه چې الله تعالی په خپل فضل خپل ځان ته حساب کړې .

او اې مسلمانه او عالمه روره ! د جيل د يرې نه د حق لار او بيان مهٔ پريږده خپل مشن سرته رسوه او روان اوسيږه .

چې د قيامت په ورځ شهيد کله الله تعالی ته دا اووائی چې

سل عبادك بای ذنب قتلونی

"چې لږ د خپلو بنديانو نه تپوس اوکړه چې څهٔ ئې په کوم جرم وژلې ووم "

نو چې کله قيديان الله تعالی ته دا اووائی چې لږ ددې خپلو بنديانو نه تپوس اوکړه چې څه دوئ په کوم جرم بندی کړې ووم او جيل ته ئې غورځولې ووم نو څومره لوئې نسبت دې دا د هرچا قسمت کښې نوی چې څومره شکر کولې شې نو اوکړه په نسبت سره څومره اوچت شوې .

## دويمه فائده د الله تعالی خصوصی مهربانی

ځنې مهربانۍ الله تعالی په ځنې خلقو باندې کوی ، د الله تعالې مهربانۍ دوه قسمه دی يو عامې مهربانۍ دي چې په هر چاباندې ئې کوی لکه پيدا کول ، خوراک ورکول ، اوبهٔ ورکول ، باران ورول ، نمر ، ورځ ، شپه ، مال دولت ، بنګله موټر دا داسې نعمتونه دی چې الله تعالی ئې په هرچاکوی په مسلمان څه چې په کافر باندې ئې هم کوي

وَرَحْمَتِي وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ ﴿١٥٦﴾ (١)

"او رسيدلې دې ځما رب هر يوشيز ته د مهربانۍ او د علم په

(١) الأعراف:١٥٦

اعتبار"

رَبَّنَا وَسِعۡتَ كُلَّ شَيۡءٖ رَّحۡمَةٗ وَعِلۡمٗا ۝٧ (١)

"اې څمونږه ربه رسيدلې يې ته هريو څيز ته د مهربانۍ او د علم
په اعتبار"

رحمتیں تیرے ہیں اغیار کے کاشانوں پر
برق گرتی ہے تو بے چاروں مسلمانوں پر

دويم قسم مهربانۍ هغه خصوصی مهربانۍ دی چې الله تعالی ئې په هرچا نه کوی بلکه په څنو خلقو باندې ئې کوي لکه ايمان ، علم د شريعت ، عمل په هغې باندې ، قران کريم او د قران کريم خدمت دا نعمت الله تعالی هر چاله نه ورکوي پدې خصوصی نعمتونو کښې يو قسم هغه نعمتونه دی چې د هغې شکل د نعمت نه وی بلکه شکل ئې د نقمت يعنی د سختۍ او د تکليف وی خو په حقيقت کښې هغه نعمت او احسان وي لکه د پلار او د استاذ څپيړه ورکول شکل ئې د سختۍ وی خو په حقيقت کښې احسان او مهربانۍ وی . په داسې قسم مهربانو کښې يو جيل او قيد هم دې چې په ظاهر کښې سخته او تکليف دې او په حقيقت کښې د الله تعالی يو خصوصی فضل دې لکه

ضرب الحبيب زبيب

چې د محبوب د لاس وهل چې وی نو هغه اوسکه وی . يعنی د مجبوب

---

(١) غافر: ٧

د لاس وهل خوارۀ وی دا د الله تعالی په لار کښې د الله د طرفنه راغلې سخته ډیره خوږه ده مثل ئې داسې دې چې لکه یو سړې په چا مئین وی او هغه محبوب د پردی نه اخوا ناست وی او دا عاشق چا راګیر کړې وی او پدې وجه باندې هغه له تکلیف ورکوی چې تۀ د فلانکی سره ولې کینې او پاسې او د هغه خدمت ولې کوې او هغه سره خبرې ولی کوې او دا محبوب دا هرڅه اوری او عاشق ته هم پته وی چې ځما محبوب د حال نه خبریږی نو ته اووایه چې مینه صحیح وی نودې عاشق ته به دې وهلو کښې لذت محسوسیږی او که نه ؟ خامخواه به محسوسیږی داسې قسم مهربانې الله تعالی په هغه چا کوی چې هغه صحیح عاشق او صحیح مئین وی په الله تعالی باندې .

وائی چې یوه ورځ لیلی په خپلو مجنونانو شودۀ تقسیمول نو مجنونان ډیر وو هغوئ په قطار ولاړ وو چې لوخې به ئې وروړل نو لیلی به پائی (شودۀ) ورکول چې کله د صحیح مجنون لوخې اورسیدلو نو لیلی د هغۀ هغه لوخې مات کړلو او پائۍ (شودۀ) ئې ورنکړل ، مجنونانو ورپورې خاندل چې ته هسې وائې چې ماسره د لیلی مینه ده لوخې ئې درله مات کړلو . نو مجنون اوخاندل او وې وئیل چې اې بې عقلو تاسو دومره نه پوهیږئ که لیلی داسې نوې کړې نو بیا ځما او ستاسو فرق نه معلومیدلو دې سره خو معلومه شوه چې څه خصوصی مجنون یم .

نو داسې قسم مهربانی الله تعالی په خپلو محبوبانو او خاصانو باندې کوی د هر مرغۍ په قسمت قید او پنجره نه وی .

*شهپر زاغے وزغن دربند وقید نیست*

*این سعادت قسمت شهباز و شاهین کرده اند*

"د کارغانو او ټپسانو دپاره قیدونه او بندونه نه وی دا سعادت او نیک بختی د باز او د شاهین په قسمت کښې ده "(اقبال)

ځما خوږ داجی (خدائې دې اوبخې ) وئیلی دی

د هـــرګل قســـمت کښـــې نـــوی د لیـــلی ســـنړې
ډیـــر ګلونـــه خـــوروی خلـــق قبرونـــو بانـــدې

اې قیدی او بندی روره ! لږ سوچ اوکړه چې ځان ته سوچ اوکړې او دې نعمت ته سوچ اوکړې نو د خوشحالۍ نه به دِ اوښکې بندې نشي .

## دریمه فائده د الله تعالی سره تعلق

په سخته او تکلیف کښې د الله تعالی سره یو ناشنا قسم تعلق جوړیږی چې هغه تعلق په راحت او خوشحالۍ کښې نهٔ جوړیږی . د درد او تکلیف په وخت کښې چې کومه دعا کیږی او کوم خصوصی رازباز د الله تعالی سره کیږی نو هغه د راحت وخت کښې نهٔ کیږی . د سختې په وخت زړهٔ مظلوم صرف الله سره په راز کښې وی بل چا طرف ته توجه نه وی . د سختۍ چې دا اجرشی چې سړی ته پرې د الله تعالی تعلق ملاؤ شی نو نرخ بالا کن هنوز ارزانی است

فَإِنَّ مَعَ ٱلْعُسْرِ يُسْرًا ۝٥ إِنَّ مَعَ ٱلْعُسْرِ يُسْرًا ۝٦ (١)

"نو یقینا د سختۍ سره ه آسانتیا وی یقینا د سختۍ سره آسانتیا وی"

(١) الشرح: ٥ – ٦

يو عالم ددې په وضاحت کښې فرمائيلي دی چې

اذا اشـتدّت بـك البلـوى ففكّـر فی الـم نشرـح
فعسرـــ بـــين يسرـــين اذافكرتـــه فـــافرح

''چې کله درباندې مصيبت او امتحان سخت شی نو سورة انشراح کښې سوچ اوکړه نو د يو سختې سره دوه آسانتياګانې او خوشحالۍ دی چې کله سوچ اوکړې نو خوشحاله شه ''

اوس دلته دې سورة کښې دوه خوشحالۍ او يو تکليف ځنګه دې ټکی خو دواړه دوه دوه ځله راغلی دی نو د اصولی قاعدې په نظر سره چې العسر معرفه ده نو په يو حساب ده او يسر نکره ده نو په دوو حساب شوې ده ځان ځانله شوې(١)

اوس هغه دوه خوشحالۍ کومې دی نو د سختۍ او تکليف سره يو خوشحالی چې برغه او يو ځائ ملاويږی هغه د الله تعالی تعلق دې .
دا د مع معنی ده بعد العسر چې کومه خوشحالي ده هغه په سورة الطلاق کښې ذکر ده چې

سَيَجۡعَلُ ٱللَّهُ بَعۡدَ عُسۡرٖ يُسۡرٗا ۝٧ (٢)

''زر ده چې الله تعالی به د تکليف نه روستو آسانتيا راولی''

دويمه خوشحالی هغه د آخرت اجر دې نو تکليف سره فورا د الله تعالی تعلق ملاويږی تکليف او مصيبت د الله د طرف نه قاصد دې چې ددې په ذريعه دِی الله تعالی ځان ته رابلي .
مولانا روم رح د عبرت يو لطيفه کړې ده چې يو سړې به د شپې

(١) المفرقة اذا اعيدت معرفة فالثانية عين الاولی والنکرة اذااعيدت نکرة فالثانية غير الاولی .. نورالانوار
(٢) الطلاق: ٧

الله سره راز باز کولو شیطان وسوسه اوغورځوله چې اوری دِ نه اومنی دِ نه نو څله آوازونه کوې .

آں یکے الله میگفتہ شبے تاکہ شیرین گردد از ذکرش لبے

" هغه یو به د شپې الله الله کول چې ددهٔ د یادولو د وجې مهٔ خلهٔ خوږه وی د شیطان د وسوسی د وجې هغه عبادت او ذکر بس کړو نو اواز ورته اوشو "

گفت آں الله تولبیک ماست آں نیاز وسوزو دردت پیک ماست

" نو ورته ئې اووئیل چې ستا د الله وئیل څما د طرفه قبولیت او جواب دې ستا دا درد او دا سوزی څما د طرفه په تاپسې استاذې او قاصد دې "

نو اې زندانی اشنا! پدې خوشحاله نه ئې چې تاته الله ملاؤ شی ددې غته بدله او فائده بله څه کیدېشي.

## څلورمه فائده د عبادت خوند او روح

د عبادت یو ظاهری شکل او صورت صحیح کول وی چې د ا د فقهاء کرامو ذمه داری ده او دویم د عبادت اصلی روح دې چې کله بنده ته هغه روح او حقیقت نصیب شی نو بیا عبادت خوند ورکوی صوفیاء کرام رحمهم الله تعالي پدې باندې محنت کوی لکه امام غزالی رح ، مولانا رومی رح وغیره نور صوفیاء هغوئ د عبادت په روح محنت کوی . دا ډیر په اذکارو اشغالو مراقبو او ریاضتونو سره حاصلوی . د امت لوئې فقیه مولانا رشید احمد گنگوهی رح چې د خپل پیر مولانا امدادالله مهاجر مکی رح سره بیعت اوکړو نو تقریبا څلور کاله پس ئې

ورته اولیکل چې د بیعت پدې فائده پوهه شوم چې د عبادت خوند راته ملاؤ شو. مولانه مهاجرمکی رحمه الله صاحب ورته اولیکل چې الله تعالی دا تاته ډیر زر نصیب کړو. ددې دپاره ډیر محنتونه کیږی او کوم سړی چې په قید کښې وی نو هغه ته الله تعالی دا ډیر زر نصیب کوی د مونځ او د دعاء په خوند باندې پوهه شی دۀ ته د الله تعالی مینه او تعلق نصیب شوې وی او بیا په هغې سره سجده کوی او رکوع کوی نو خوند ورله ورکوی لکه څما داجی وئیلی دی

زاهده وران به خلوت ګاه کړې مصلّی تسبیح به اوسیزی
که تا د عشق نشه کښې که یو ځلې دیدار اوکړو

په سخته او تکلیف کښې چې د عبادت کوم خوند وی نو هغه په خوشحالۍ او په راحت کښې نه وی که ددې تپوس کول غواړې نو لږ د بلال رضي الله عنه نه اوکړه کله چې مکه مکرمه فتحه شوه نو نبی عليه السلام آواز اوکړو چې این بلال ؟ بلال رضي الله عنه څه شو. بلال رضي الله عنه د خپل محبوب په آواز لبیک اووئیل جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته اوفرمائیل چې بیت الله ته اوخیژه او اذان اوکړه بلال رضي الله عنه د حکم تعمیل اوکړو او د بیت الله شریف د پاسه ئې الله اکبر آواز اوچت کړو، د ابوجهل لور چې دا آواز واوریدلو نو وې ئیل چې شکر دې چې څما پلار مړ دې ګني ددې آواز په آوریدلو به مړ شوې وې چې چرته د حبشو غلام او چرته د بیت الله د پاسه آذان کول. چې کله اذان اوشو نو یو سړی د بلال رضي الله عنه نه تپوس اوکړو چې بلاله! یو تپوس کوم چې ته د امیه غلام وې او

ایمان دې راوړلو نو هغه په تا ظلمونه کول او ستا په سینه باندې به غټې غټې ګټې کیښودلې او تا به د احد احد او الله اکبر آواز کولو او نن دې د بیت الله شریف د پاسه هم د تکبیر آواز اوکړو نو خوند په کومه کښې زیات وو نو بلال رضي الله عنه ورته اووئیل چې قسم په الله تعالی د امیه د ګټو د لاندې ئې خومره خوند او مزه وه نو دومره ئې د بیت الله شریف د پاسه نه وه.

حضرت شیخ القران رح د سورة النحل فلنحیینّه حیوة طیبة باندې درس کښې فرمائیلی دی چې یو کس راته اووئیل چې اوس خو به خوشحاله ئې ځکه چې ملګری هم ډیر شو درس کښې طالبان هم ډیر دی او پروګرامونه هم ډیر دی نو وې ما ورته اووئیل چې په هغه وخت کښې چې د صوابۍ په چوک کښې راته د هډوکو امبیل اچولو او په ګنده ډنډ کښې ئې راخکلم او ټانګې راباندې بندولې نو هغه وخت کښې چې کومه مزه وه نو هغه اوس چرته ده.

## پنځمه فائده روحانی معراج

په انسان کښې قیمتی څیز هغه روح دې د روح اعلی مقام ته رسولو دپاره د روح مربّی عالمان ډیر اعمال او اشغال کوی چې روح خپل اصل حیثیت ته اورسی د هغې دپاره ډیر ریاضتونه او مشقتونه کیږی یو بزرګ ذکر کوی چې

قد اعیانی الدواء وقدعزمت علی الکیّ[1]

---

(۱) ذم الهوی ص: ۲۸

"دوایانو کولو سترې کړم اوس مې اراده ده چې داغ اولګوم"

اې قیدی روره ! لږ خپل ژوند ته سوچ اوکړه مخکښې ستا ژوند څنګه وو او د قید نه روستو ستا ددین سره او د الله تعالی او جناب رسول الله ﷺ سره څومره محبت پیدا شوې دې په قید او بند سره روح یو اعلی مقام ته اورسږی .

## شپږمه فائده خلوت او یو ځی یوالې

امام ابن تیمیهؒ چې کله ظالمانو بادشاهانو جیل ته بوتلو نو اول چې کله ئې د جیل او د زندان دروازه اولیده نو وې وئیل

﴿فَضُرِبَ بَيْنَهُم بِسُورٍ لَّهُۥ بَابٌۢ بَاطِنُهُۥ فِيهِ ٱلرَّحْمَةُ وَظَٰهِرُهُۥ مِن قِبَلِهِ ٱلْعَذَابُ ۝١٣﴾ (١)

"نو اووهلې شو د دوئ په مینځ کښې یو دیوال چې د هغې یو ور وو دننه طرف د هغې مهربانی وه او ظاهر او خکاره د هغې سزا او عذاب دې"

او بیا ئې اووئیل

ماذا يفعل اعدائى بى ؟ انا جنتى وبستانى فى صدرى انّى سرت فهو معى ان قتلى شهادة واخراجى من بلدى سياحة وسجنى خلوة(٢)

"څما دشمنان په ما څه کوی؟ څما جنت او سپرلې څما په سینه کښې دې چې څه چرته څم نو هغه ماسره وی څما وژلې کیدل

---

(١) الحديد: ١٣

(٢) المستدرك علي مجموع الفتاوي باب الفرح بالله , ودخول جنته في الدنيا جنة ١٥٣/١

شهادة دې که د کلي نه مې شړی نو دا سياحت دې او ځما جيل ځما
خلوت او ځان له والې دې ‘‘

د الله تعالى په دين کښې جيل ته کيدل الله تعالى سره ځان له کيدل ټول سوچ او فکر به دِ راغونډ شی ، زړهٔ او خيالات به دِ په آرام شی اوس به ستا فکر او ذهن د حکمتونو په ملغلرو سخا کوی او نظر به دِ د الله تعالى د معرفت په باغونو کښې چکرې وهي . فکر او سوچ به دِ باردار شی . د الله تعالى يره او هغه طرفته منډه او انابت به دِ زيور او کالې شی .

يو به ته ئې او يو به الله تعالى وی عبادت به عبادت شی دعا به دعا شی او مناجات او جرګه به دِ الله تعالى سره داسې لکه چې ته الله تعالى وينی د محسنين په لړئ او قطار کښې به شمار شې.

ان تعبدالله کأنك تراه[1]

د احسان دا لويه درجه به درته ملاؤشی . کوم چې لوئ خلق وينې په تاريخ کښې چې هغئ څه نوم ګټلې دې او هغئ د محفلونو ستوری وو او د فضيلتونو سرداران وو نو هغئ د خپل فکر غشي په جيل کښې کرلی دی تردې چې په خپله تنه اودريدل نوغټه اونه ترينه جوړه شوه او د الله په حکم ميوی ورکوي .

د جيل مختلفی مرحلې وي کيديشی چرته يو وخت درته د ملګرو يو ځائې والې هم نصيب شی خو د خلوت او يواځی والی د خوند نه که خبر شوې ئې نو بيا به په هغه خلوت اوځانله کمری پسې ارمان کوی

(۱) صحيح البخاري ، باب سوال حبريل النبی صلی الله عليه وسلم : ۱۹/۱

د خلقو سره په ناسته کښې ډیر نقصانات دی د الله والا بزرګان چې وی نو هغۀ اختیاری خلوت خپلوی او تاله الله تعالی غیر اختیاری یو عجیبه خلوت درکړو.

امام حمیدی فرمائی

لقاء الناس لـیس یفیـد شـیئاً سوی الاکثـار مـن قیـل وقـال

فاقلــل مــن لقــاء النــاس الا لکسب العلم او اصلاح ..حال

"د خلقو سره ملاقاتونه هیڅ فائده نه کوی ، صرف داده چې فضول کړتې او خبرې تاوئیل او ماوئیل به زیات شی . نو د خلقو ملاقات چې څومره درنه کیږی نو کم کړه دومره که دینی فائده وی لکه علم زده کول یا اصلاح دپاره نو کوه بیا[۱] "

## اوومه فائده د الله تعالی سره مناجات او جرګه

چې کله بس قیدی روره تۀ او الله ځانله شوۀ نو لږه جرګه ورسره شروع کړه دا ستا د روح معراج دې او که ددې په لذت او خوند باندې پوهه شوې نو هم به ژاړی او هم به وائی چې هسې نه دجیل نه اووځم بیا به دا خوند چرته وی

نالم و ترسم که او باور کند

که از ترحم جور را کمتر کند

"ژاړمه هم او یریږمه هم چې هسې نه چې په ژړا مِ باور اوکړی او

---

(۱) سیر الاعلام النبلاء ۱۹/۱۲۰

مهربانۍ د وجې نه دا تکلیف کم نه کړی"

نو چې کله په جیل ځان له ناست ئ نو لږ دالله تعالی سره د مناجات او دجرګې خبرې کوه او کله کله منظوم کلام ډیر اثر کوی ځکه شعر کله کله په زړۀ کښې لکه د غشی اثر کوی نو د مناجات شعرونه وایه که د کومې ژبې درته یاد وې لک د ابراهیم بن ادهم مناجات چې

ترکت النـاس طـرّا فی هـواك — وایتمـت العیـال لـکی اراك

"ټول مخلوق مې ستا په مینه کښې پرېخودل او بچی مې ستا دیدار له یتیمان کړل"

بحقـك لانظـرت الی سـواك — بعـین مـودة حـتی اراك

"ستا د مینې حق ګواه کوم چې ستا نه علاوه به بل چاته د مینی په نظر اونه ګورم تر څو چې مې ته لیدلې نه ئې"

ولـو قطعتـنی فی الحـب اربـاً — لمـا حـنّ الفـؤاد الی سـواك

"که په مینه کښې ځما د ژوند نه لګ کټ کوی نو زړۀ به مې بل چا ته فریا د اونۀ کړی"

تجاوز عـن ضـعیف قـد اتـاك — وجـاء راجیـا یرجـوا لذٰك

"د کمزوری ګناهونه معاف کړه کوم چې په امید تاله راغلې دې"

وان یك یا مهیمن قد عصـاك — فمـا سـجد لمعبـود سـواك

"اګر چې اې نګهبانه ذاته دې بنده ستا نافرمانۍ ډیرې کړې دی خو ستا نه علاوه ئې بل چاته سجده نده کړې"

الـهی عبـدك العـاصی اتـاك — مقـرّا بـاالذنوب وقـد دعاك

"اې الله ستا ګناه ګار بنده تا خواله راغلې دی د خپلو غلطو اقرار

کوی او تاته رامدد شه وائی"

ان تغفـــر فانــت لذاك اهـــل      وان تطرد فمـن يـرحم سـواك

"که ته ئې بخښې نو دا تاسره مناسب ده اوکه ئې اوشړې نو ستا نه علاوه به پرې څوک رحم کوی"

دغه شان د امام سهیلی رح مناجات چې په حاضر زړۀ وائی نو زړۀ کښې لارې کوی او اوخکې دارې وهی

یامن یری ما فی الضمیر ویسمع      انت المعـد لـکل مـا یتوقـع

"اې هغه ذاته ! چې په زړۀ کښې څه وی نو ته هغه وینې او اورې او تۀ د بنده امیدونو لره اسباب تیارونکې ئې"

یامن یـرجّی فی الشـدائدکلها      یـامن الیـه المشـتکی والیـه

"اې هغه ذاته ! چې په ټولو سختو کښې د هغۀ نه امید لرلې شي او هم هغه د فریاد او د یرې ځائې دې"

یـامن خـزائن رزقـه فی قـول      امنن فان الخیر عنـدك اجمـع

"اې هغه ذاته ! چې د هغه د زرق او د ورکولو خزانې د کن په ټکی کښې پرتې دی احسان او کړه ټول خیرونه تاسره دی"

مـالی سـوی فقـری الیـك      فبافتقاری الیك فقری ادفع

"ماسره د خپلې فقیری محتاجۍ (ملنګۍ) نه علاوه بله وسیله او ذریعه ستانه د غوختلو نشته دې نو په خپله محتاجۍ او ملنګۍ خپله محتاجې او فقیری ملنګې ختموم"

مالی سوی قرعی لبابك حیلـة      وان تطـرد فـای بـاب اقــرع

"ماله ستا د ور د ټکولو نه علاوه بل چل نه راځی ، نو که تۀ مې اوشړې نو ځۀ به بیا کومه دروازه ټکوم"

فمـــن الذی ادعـــوا واهتـــف ان کان فضـــلك عـــن فقـــیرك

”نو بیا بل څوک دی چې د هغهٔ نوم سره به جرګه اوکړم او رامدد
به ئې کړم که ستا د در د ملنګ نه ستا فضل بند کړې شي “

حاشا لمجدك ان نقنط عاصیا الفضل اجزل والمواهـب اوسـع

”توبه توبه ! ستا بزرګۍ او لویۍ سره دا نه ښائیګی چې ته
ګناهګار نا امیده کړې ځکه چې فضل ډیر زیات او ورکړی او
ډالۍ بې دریغه بسیاره دی “

کله الله تعالی ته لږ داسې اواز اوکړه .

اک تجھ سے کیا محبت ہوگئی ساری دنیا سے وحشت ہوگئی

ہر تمنا دل سے رخصت ہوگئی اب توآجاب توآجاب توخلوت ہوگئی

کله ورته پښتو کښې شروع کړه نو ورته داسې فریاد اوکړه

ځـــــایٔ مِ تـــــهٔ ئـــــې د ژړا او د فریـــــــاد
نـــو ســـتا پـــه سر ځـــهٔ فریـــادی لاړ شـــمه چـــاله

اې قیدی جانانه ! که دا خوند دِ نصیب شو او الله تعالی دِ نصیب کړی نو بیا جیل به دِ جنت شی او وتل به درته دوزخ شی لکه چې وائی

دوزخ مجھے قبول ہے ہمراہ یار کے
جنت میں جاکے ہجر کے صدمے اٹھائے کون

دوزخ دا سخت جیل او زندان او جنت بهر دنیا ، یار الله تعالی دې او

هجر چې د الله نه تعلق کټ شی . دا د جیل او په جیل کښې د خلوت هغه فائده ده چې فائده ئې جیلي ورور ته ده او ددې فائدې برابر بل څه نشته دې .

## اتمه فائده پروګرام ، طریقه کارملاویدل

قیدی روره ! په ځانله والی کښې لږ سوچ اوکړه چې څه کول پکار دی او په کومه طریقه کول پکار دی دا سوچ د هغه چا ذمه داری ده چې عالم دین وی او د دین ، قران او مسلمانانو احساس ورسره وی . نو په تنهایې کښې دۀ ته دا موقع ملاؤ شی چې ځانله شی او سوچ اوکړی چې بې دینی شروع ده د الله تعالې د کتاب او قانون سره لوبې شروع دی مسلمان په کوم طرف روان دې د دۀ زړۀ درد مند وی چې سم ځان هلاکوی .

چې ددین داسې داعي وی چې درد مند او ناصح یعنی خیرخواه وی او د نبی عليه السلام صحیح وارث وی په علم او په درد دواړو کښې نو په هغه باندې څه دورونه راځی اولنې دور د نبی عليه السلام د زندګۍ او ژوندون اولنې د نبوت نه مخکښې چې دور د غار حرا وو خو د غار حراء دوه دوره دي يو د نبوت نه مخکښې بل د نبوت نه روستو ، دا اولنې دور په هر داعي نه راځی دا په هغه داعی راځی چې هغه د کارخانی او د ګاډی د انجن مرتبه لرې چې نور داعیان تیاروي او د دور مطابق یو تصور پیش کوی چې د اسلام او د اهل اسلام تقاضا پیژني هغه سره درد او احساس وي چې څه کول پکار دي او په څه طریقه کول پکار دي.

جناب نبی کریم ﷺ به د نبوت نه مخکښې چې د خلقو حالت ته کتل نو ډیر به پریشانه شو چې دا څه کیږی حرم د الله تعالی د بتانو نه ډک دې د ګټو بندګی کیږی سردارانو او د قبیلې مشرانو ته د خدائې (اله ، رب) درجه ورکړې شوې ده مخلوق خدا سره ظلم کیږی جینکۍ ژوندۍ خخولې شي ، عزتونه نیلام کیږی هر طرفته تیارې دي " ظلمت بعضها فوق بعض " د ژوند په هیڅ یو طرف کښې د رڼړا درک نشته ، نو کتلې ورته هم نشتو او چل ورله د ختمولو هم نه ورتلو چې په کومه طریقه دا خلق راوبلم دیته قران داسې اشاره کوي

وَوَجَدَكَ ضَآلًّا فَهَدَىٰ ۝٧ (١)

" او موندلې وی تالره الله تعالی حیران او پریشان په اصلاح د مخلوق کښې (لار درنه د اصلاح د مخلوق روکه وه ) نو هدایت ئې درته اوکړو نو طریقه ئې درته د اصلاح د مخلوق اوخودله "

مَا كُنتَ تَدۡرِي مَا ٱلۡكِتَٰبُ وَلَا ٱلۡإِيمَٰنُ وَلَٰكِن جَعَلۡنَٰهُ نُورًا نَّهۡدِي بِهِۦ مَن نَّشَآءُ مِنۡ عِبَادِنَاۚ ۝٥٢ (٢)

"او تاته پته نه وه چې کتاب څه دې او ایمان خو دا قران مِ رڼړا کړه هدایت کووم پدې سره هغه چاته چې اراده اوکړم د خپلو بندیانو نه"

نو نبی علیه السلام به ډیر پریشانه وو نو پدې پریشانی حالت کښې به ځانله شو چې دِ خلقو ته کتلې هم نشم او چل هم نه راځی نو غار حراء ته به لاړو او خلوت ځانله والې به ئې خوښولو . لکه روایت د بخاری

---

(١) الضحی: ٧

(٢) الشوری: ٥٢

دي.

ثم حبب اليه الخلاء وكان يخلوا بحراء فيتحنّث فيه الليالى ذوات العدد [۱]

" او بيا هغهٔ ځانله والي خوښ کړو نو نبی عليه السلام به غار حراء کښې يواځې شو او څو شپې به ئې هلته عبادت کولو"

دومره درد او احساس وو چې قران د هغې بيان کوی چې

يَكَادُ زَيۡتُهَا يُضِيٓءُ وَلَوۡ لَمۡ تَمۡسَسۡهُ نَارٞۚ نُّورٌ عَلَىٰ نُورٖۚ يَهۡدِي ﴿٣٥﴾ [۲]

" نزدی ده چې ددې تيل رڼړا اوکړی اګر که ورته اور اونه رسی. رڼړا ده بره د بلې رڼړا"

يعنی دهٔ احساس او درد د اصلاح د مخلوق دومره وو چې کچرته پروګرام الهی ملاؤ نشی نو کيديشی چې رڼړا اوکړی او ځانله څه پروګرام او لائحه عمل تيار کړی خو چې وحی الهی هم ملاؤ شوه او پروګرام راغې نو څه هغه درد او احساس او خپل فکر او څه وحی الهی نو " نور علی نور"

اتر کر حراء سے سوئے قوم آیا
اک نسخہ کیمیا ساتھ لایا

نو اې قيدی روره ! اې درد منده داعی ! اې د نبی عليه السلام د درد او احساس وارثه ! تهٔ نه ځانله کيدلې چې فکر اوکړی او سوچ اوکړی

---

(۱) الصحيح البخاری باب ما ودعك ربك وماقلى : ۱۷۳/٦

(۲) النور: ۳۵

نو اللّٰه تعالى اونيولې او ځانله ئې کړې نو اوس لږ احساس اوکړه او په انتظار خلقو له او دريدلى خلق له مشن او پروګرام يوسه .

شيخ الهند مولانا محمود الحسن صاحب رح جيل د مالټا کښې وخت تير کړو چې راغې نو دارالعلوم ديوبند کښې ترينه علماء چاپيره دى شيخ الهند اووئيل چې ما جيل کښې سبق زده کړو علماء حيران شو چې دومره معمر د حديثو استاذ څه سبق زده کړو نو هغه اووئيل چې مسلمان نن کمزورې دې نو ددې وجه څه ده نو يو قران پريخودل بل خپلو کښې اختلاف کول د نن نه پس به ځۀ د قران مکتبونه کلى په کلى جوړوم .

مولانا ابوالکلام آزاد صاحب ليکى چې ځما د عمر شپږ حصې په جيل کښې تيرې شوې او يوه حصه په بهر دنيا کښې يعنى په هفته کښې شپږ ورځې په جيل کښې او يوه ورځ بهر دنيا کښې نو بيا وائى چې پدې نۀ يم خفه چې دا شپږ ورځې په جيل کښې ولې دي بلکه پدې خفه يم چې دا يوه ورځ بهر ولې ده ځکه چې په دې دنيا کښې به درکښې يا احساس راځى نو جيل ته به ځې او يا به بې احساسه ژوند تيروې نو بهر به ئې نو ځما د احساس جيل د بې احساسۍ آزادۍ نه خوښ دې .

تۀ هم سوچ اوکړه . .. د باران څاڅکې چې سيپۍ (صدف ) کښې پاتې شى نو ملغلره شي او د هوسۍ د نوم وينه چې قيد اوخورى نو مشک وعنبر شى نو ملغلره به شې او مشک به شې نو عالم خوشبويه او معطر کړه .

ہے اسیری اعتبار افزا جو ہو فطرت بلند قطرۂ نیسان ہے زندان صدف سے
مشک ازفر چیز کیا ہے؟ اک لہو کی بوند ہے مشک بن جاتی ہے ہو کر نافہ آہو میں
ہر کسی کی تربیت کرتی نہیں قدرت مگر کم ہیں وہ طائر کہ ہیں دام و قفس سے
اقبال

## نهمه فائده په خپل پروګرام مئېنول

اې داعی او قيدی روره ! چې کله درته مشن ملاؤ شو او پروګرام دې ترلاسه کړو نو اوس په داعی يو دويم دور راځی دا هم دغار حراء دويم دور دې . چې کله بنده ته يو پړق ملاؤ شی او بيا ترينه واغستلې شې نو دې په هغه پسې ډير خفه وی او دردمند وی ورپسې چې اوس به دا بيا کله مخې له راځی هغه درد او شوق دومره زيات شی چې هغه د مينې حد ته اورسی او مينه دومره زياته شی چې دې بيا په هغې کښې هرې قربانۍ ته تيار شی .

چې کله جناب رسول الله ﷺ ته اوله وحی اوشوه نو د اولې وحې تر مينځه وقفه راغله د وخت او وقفه باره کښې روايتونه مختلف دی پدې دوران کښې به نبی عليه السلام په وحې پسې ډير مشتاق وو چې هغه به بيا کله راځی نو دومره به ورپسې دردمند شو چې د غارحراء غر انتهائی اوچت دې نو د هغې نه به ئې ځان غورځولو نو جبريل عليه السلام به ورته راخکاره شو او ورته به ئې اوونيل '' يامحمد انك لرسول چې تهٔ ګورې پيغمبر ئی . بيا به نه وو نو انتظاربه وو چې بيا به ئې اراده اوکړه چې ځان ارغړوم بيا به ورته جبرئيل عليه السلام راخکاره شو ''چې تهٔ

پیغمبرۍ" ځکه نبی ﷺ فرمائیلی دی چې

ادّبنی ربّی فاحسن تأدیبی[۱]

"ماله ځما رب ادب راکړې دې یعنی تربیت ئې راله کړې دې نو

ښۀ خکلې او ښائسته تربیت ئې راله کړې دې"

پدې پروګرام ئې انتهائی مشتاق او مئین کړو دومره ئې مئین کړو چې جناب رسول الله ﷺ په هیڅ صورت هغه مشن پرېخودلو ته تیار نۀ وو او هرې قربانۍ ورکولو ته تیار شو سر ئې په تلی کښې کېښودلو په شعب ابی طالب کښې نظر بند شو ، وهل ټکول کانړی ورول کلې پرېخودل هر څه ورته آسان شو تردې چې یوه ورځ د مکې د مشرانو جرګه ابوطالب له راغله چې تۀ دِ ورارۀ سره خبره اوکړه چې په څۀ صورت مونږ سره مذاکرات کوی نو مونږ تیار یو . ترۀ ئې هم خوشحاله شو چې څه خبره به اوشي نبی ﷺ ته ئې اووئیل چې دوئ څه وائی نبی ﷺ ورته اوئیل چې او دي وائی . نو هغوئ ورته اووې چې که ته لیونې ئې بیمارئې نو مونږ به درله علاج اوکړو او که هلک ئې او د ځوانۍ زور وی درباندې نو چې څومره او څنګه جینکئ ستا خوښې وی مونږ به درله درکړو او که د سردارۍ او د مال او مشرت شوقی ئې نو مونږ به ټول راجمع شو او تاج د مشرئ به ستا په سر کېږدو تۀ به ځمونږ مشر شې . نبی ﷺ اول په ژړا شو او بیا ئې اووئیل

والله لو وضعواالشمس علی یمینی والقمر علی یساری علی

ان ادع هذاالامر والله لاادعه حتّی اهلک فی طلبه او

(۱) الفتح الکبیر فی ضم الزیادة الی الجامع ۵۸/۱

ینفذنّ الله هذا الامرَ[1]

"قسم په الله تعالی چې که دوئ نمر ځما په خي لاس کښې او سپوږمۍ په ګس لاس کښې کیږدی پدې شرط چې ځۀ دا خپل کار پریږدم نو قسم په الله چې نۀ ئې پریږدم تردې چې ددې په طلب کښې مړ شم او یا الله تعالی دا کار سرته اورسوي "

مطلب د زمکې حکومت خو څه که ورسره د آسمان حکومت هم راکوی نو ځۀ خپل کار پریخودلو ته تیار نۀ یم دومره مئین شو.

**یوه فائده** : چې جناب رسول الله ﷺ ژړل ولې؟ ځنې خلق وائی چې ځکه چې نبی علیه السلام وئیل چې یو ترۀ مې وو هغه مې هم خلاف شو خو ځما محبوب استاذ او مرشد شیخ الاسلام علامه ولی الله کابلګرامی صاحب به فرمائیل چې خبره داسې نده ځکه نبی علیه السلام چې دې میدان ته رادانګلی وو نو هغۀ د ترۀ په اسره نۀ وو رادانګلی. خو ژړل ئې ځکه چې نبی علیه السلام د قریشو د مشرانو پیشکشونو ته اوکتل چې هسپتالونه ، جینکۍ ، او منصبونه مخې ته کوی نو نبی علیه السلام په ژړا شو چې دا څیزونه به د مشن مخې له راځی نو ځما ډیر امت به ګمراه شی نو ځکه ئې اوژړل.

کله چې داعی جیل ته لاړ شی او د خپل پروګرام درس ، دعوت نه څه وخت له جدا شی نو زړۀ کښې ورسره مینه انتهائی زیاته شی چې هر څه راځی او هره قربانې راځی نو ځۀ به قربانی ورکوم خو خپل مشن کښې به سستی نه راولم. نو په خپل مشن او پروګرام باندې دومره مئین شی چې قربانی ورکول ورته آسان شی.

(۱) السیرة النبویه لابن هشام باب مشی قریش لابن ابی طالب ثلثة : ۲٦٦/۱

متــین وائی رقیبــه تــه مــې اوښــکو پــورې خانــدې
پــه مینــه کښــې خــو وینــې تویــول مــزه کــوی

## لسمه فائده قربانی ورکول

ښتانهٔ وائی " مینه قربانی غواړی" مینه او وینه سره نزدې نزدې دی نو چې څوک په یو دینی پروګرام باندې مئن شی نو داسې نده چې په هغې کښې فائده راځی نو دې به وائی چې څهٔ به دا کار کوم او مشن به چلوم او که سختنه راځی نو بیا به روستو کیږی دا خو منافقت او مفاد پرستی ده.

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَقُولُ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ فَإِذَآ أُوذِيَ فِي ٱللَّهِ جَعَلَ فِتۡنَةَ ٱلنَّاسِ كَعَذَابِ ٱللَّهِۖ وَلَئِن جَآءَ نَصۡرٞ مِّن رَّبِّكَ لَيَقُولُنَّ إِنَّا كُنَّا مَعَكُمۡۚ أَوَلَيۡسَ ٱللَّهُ بِأَعۡلَمَ بِمَا فِي صُدُورِ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٠﴾ (١)

"او ځنې په خلقو کښې هغه څوک دی چې وائی جه مونږ ایمان راوړې دي په الله تعالی باندې نو چې کله دهٔ ته تکلیف ورکړې شی د الله تعالی باره کښې نو ګرځوی امتحان د خلقو د طرفه پشان د عذاب د الله او که راشی برې او مدد د طرفه د رب ستا نه نو خامخواه وائی دوئ چې مونږه تاسو سره یو . نو ولې ندې الله تعالی ښهٔ پوهه په هغه څه چې په سینو د مخلوقاتو کښې دي"

دا هغه خلق دی چې په ځان مئین دی او د خپلو مفاداتو غرضیان

(١) العنکبوت: ١٠

دی کوم چې په الله تعالی مئین دی نو د هغۍ حال اوګوره .

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَشْرِى نَفْسَهُ ٱبْتِغَآءَ مَرْضَاتِ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ رَءُوفٌۢ بِٱلْعِبَادِ ﴿٢٠٧﴾ (١)

" او ځنې د خلقو نه هغه دی چې خرڅ کړی (قربان کړی) خپل ځان دپاره د لټولو د رضامنتیا د الله تعالی . او الله تعالی ترس کونکې دې په بندیانو"

دا هغه عاشقان دی او په الله تعالی او د هغه ددین او رسول ﷺ مئین خلق دی چې ځان او جهان د هغې نه قربانوی .

دا جهان اوځان مې ستا په غم کښې هیر شی
نو نۀ پوهیږم چې ځان څه او جهان څه دې

لږ د مئینو تاریخ اوګوره چې هغوئ څومره قربانۍ ورکړی نوح ﷺ به ئې دومره اووهلو چې بې هوشه به شو او " ما به حراك" خو زیدلې به نۀ شو . د الله تعالی خلیل ابراهیم ﷺ د جیل نه روستو اور ته وردانګی زکریا او یحی علیهما السلام پلار ځوئ د الله د وجې نه حلالولې شی.

آسیه بی بی د قرعون ښځه په بدن میخونه برداشت کوی ، د جناب رسول الله ﷺ په بدن کانړی وریږی وینې ترې بهیږی کلې او وطن پریږدی په شعب ابی طالب کښې نظر بند کولې شی حبیب بن زید رضی الله عنه له اندامونه د مسیلمه مخې ته کټ کولې شی . د امام ابوحنیفه رحمه الله جنازه د جیل نه راوځی دا د الله تعالی د مینو یو

(١) البقرة: ٢٠٧

لوئ داستان دې دا عاشقان دی چې د الله تعالی په مینه کښې د هیڅ پرواه نه کوی او خپل مشن جاری ساتی د دوئ نه د مینې چل زده کړه او د دوئ په نقش قدم روان شه .

اے مرغ سحر باد عشق ز پروا نہ آموز — کہ آن سوختہ راجان شد وآواز نیآمد

این مدعیان در طلبش بے خبر اند — کہ آن راکہ خبر شد خبرش باز نیآمد

" اې د سحر بانګی د مینې چل د پروانه پتنګ نه زده کړه چې په شمع اوسوزی خو چغه ئې رااونه ځی . دا تش د مینې دعوه ګیر د الله په طلب او غوختلو کښې بې خبره دی چاته چې حقیقت نصیب شوې نو د هغې خبر بیا واپس ندې راغلی (هغوئ مینه کښې قربان شوی دی )"

نو اې قیدی روره ! چې الله تعالی د دین خدمت کوې نو قربانی به ورکوې ستا جیل هم قربانی ده آرام راحت دِ قربان کړو آزادی ، بال بچ ، اهل وعیال دِ قربان نو

په یارانــــه کښـــې زړۀ ســــندان کــــړه
پکښـــې پیښـــیږی د پلکونــــو ګذارونـــــه

## یولسمه فائده صبر کول

چې کله قربانی ورکوی او امتحانات راځی نو ددې کُنجی هغه صبر دې ځان په صبر ښائسته کول د هغه بختورو او لویو خلقو د اخلاقو نه دی چې هغوئ په رونړ تندی او په کهلاؤ سینه باندې مصیبتونه برداشت کوی .

لړ اوګوره.

﴿فَٱصۡبِرۡ كَمَا صَبَرَ أُوْلُواْ ٱلۡعَزۡمِ مِنَ ٱلرُّسُلِ ۝٣٥﴾ (١)

"نو صبر کوه لکه چې صبر کړی وو هغه د همت والو د پیغمبرانو نه"

﴿وَٱصۡبِرۡ وَمَا صَبۡرُكَ إِلَّا بِٱللَّهِۚ ۝١٢٧﴾ (٢)

"او صبر کوه او ستا د صبر اجر ندې مګر صرف په الله تعالی باندې"

﴿وَٱصۡبِرۡ عَلَىٰ مَآ أَصَابَكَۖ إِنَّ ذَٰلِكَ مِنۡ عَزۡمِ ٱلۡأُمُورِ ۝١٧﴾ (٣)

" او صبر کوه په هغه څه چې درته دررسیږی یقینا دا د هغه همت ناکو کارونو نه دې"

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱصۡبِرُواْ وَصَابِرُواْ وَرَابِطُواْ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ۝٢٠٠﴾ (٤)

" اې هغه کسانو چې ایمان لرئ صبر کوئ او نور هم کلکوئ او تیار اوسیږئ او اویریږئ د الله تعالی **نه** کیدیشی چې تاسو کامیاب شئ"

﴿إِنَّمَا يُوَفَّى ٱلصَّٰبِرُونَ أَجۡرَهُم بِغَيۡرِ حِسَابٖ ۝١٠﴾ (٥)

"یقینا خبره دا ده چې پوره به ورکړې شی کلکو خلقو ته اجر د دوئ بې حسابه"

---

(١) الأحقاف: ٣٥

(٢) النحل: ١٢٧

(٣) لقمان: ١٧

(٤) آل عمران: ٢٠٠

(٥) الزمر: ١٠

إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلصَّـٰبِرِينَ ﴿١٥٣﴾ (١)

" يقينا الله تعالی د صبرناکو او کلکو ملګرې دې"

وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلصَّـٰبِرِينَ ﴿١٤٦﴾ (٢)

" او الله تعالی مینه کوی د صبرناکو او کلکو سره "

نو اې قیدی روره چې کله په سختو باندې صبر کوې زغم کوې او برداشت کوې نو لږ اوګوره چې دچا قطار ته لاړې او څه درته ملاؤ شو. الله درته ملاؤ شو او د الله تعالی مینه درته ملاؤ شو.

صـــبر کـــوه صـــبر ډيـــر ښـــۀ دې
پـــه بـــې صـــبرۍ معشـــوقې چـــا مونـــدلې دینـــه

جناب رسول الله ﷺ فرمائی والصبر ضياء (٣)

"او صبر رڼړا ده"

ومن يتصبر يصبره الله وما اعطى احد عطاء خيراً ولا اوسع من الصبر(٤)

"او څوک چې صبر کوی نو الله تعالی به ورله د صبر توفيق ورکړی او هيڅا له بهتره ډيره ډالۍ بې د صبر نه نده ورکړې شوې"

عمر رضي الله عنه فرمائی

افضل العيش ادركناه بالصبر ولو ان الصبر كان من

---

(١) البقرة: ١٥٣

(٢) آل عمران: ١٤٦

(٣) مسلم : جزء ١، ١ باب فضل الوضوء، صفحه:٢٠٣

(٤) الصحيح البخاری , باب الصبر عن المحارم الله ٩٩/٨ ، مسلم ، باب فضل التعفف والصبر٧٢٩/٢

الرجال كان كريماً[۱].

"غوره او بهتر ژوند مونږ په صبر بيا موندلو كچرته صبر سړې وې نو ډير شريف سړي به وو"

**علی رضي الله عنه فرمائی**

**الا ان الصبر من الايمان بمنزلة الرأس من الجسد الا انه لا ايمان لمن لا صبر له .. وقال ايضا ان الصبر مطية لاتكبو[۲].**

"خبردار ! يقينا صبر په ايمان كښې داسې درجه لرى لكه په بدن كښې سر . خبردار ! يقينا د هغه چا ايمان نشته چې د چا صبر نه وى او دا ئې هم وئيلى دى چې صبر داسې سورلى ده چې سترې كيږى نه"

**حسن بصرى رح فرمائی**

**الصبر كنز من كنوز الخير لا يعطيه الله الا لعبد كريم عنده[۳]**

" صبر د خير د خزانو نه يو خزانه ده الله تعالى ئې هغه چاله وركوى چې هغه بنده د هغۀ په نيز عزتمند وى هرچاله ئې نه وركوى "

**عمر بن عبد العزيز رح فرمائی**

**ما انعم الله على عبد نعمة فانتزعها منه فعاضه مكانها**

(۱) حلية الاولياء ۷۵/۱

(۲) الصبر والثواب عليه لابن ابى الدنيا ۲٤

(۳) الصبر والثواب عليه لابن ابى الدنيا ۲۷

الصبر الا کان ماعوضه خیرا ممانتزعه[۱] .

" چې الله تعالی په یو بنده احسان اوکړی او بیا ترینه واخلی او د هغې په ځای ورته صبر ورکړی نو دا ورکړې شوې نعمت (صبر) د هغه اغستلي شوي نعمت نه ډیر ښهٔ دې "

قیدی روره ! صبر کوه داسې صبر چې د خوشحالۍ په انتظار ئې او پدې پوهه ئې او یقین کونکې ئې چې انجام مې ښهٔ دې او د اجر طلب ګار ئې . چې څومره تکلیفونه زیاتیږی دومره صبر کوه ځکه چې "ان النصر مع الصبر" مدد د الله تعالی د صبر سره دې .

لاتحسب المجد تمراً انت آکله
لن تبلغ المجد حتی تلعق الصبرا

" دا ګمان مهٔ کوه چې عزت او بزرګی دا کهجوره ده چې ته به ئې اوخورې عزت او بزرګی چې څو دی صبر څټلې نهٔ وی نو نهٔ حاصلیږی"

اې جیلی روره ! کله چې نبی علیه السلام د بند او قید د دشمنانو نه اووتو او د مدد په قید کښې داخل شو نو د الله په مدد ئې فوجونه په اطراف د عالم کښې اولیګل او د نبی علیه السلام چرچا او شهرت په عالم کښې خور شو نو خلق درې قسمه شو یو ایمان راوړنکی دویم صلح کونکی دریم یریدونکی د هغهٔ نه دا ځکه چې د صبر تخم ئې کله په پټې کښې اوکرلو " فاصبر کما صبر الوالعزم من الرسل " نو ناڅاپه کښې د بوټو څنګی په باغیچې کښې تازه رپیدلې " والحرمات قصاص"

(۱) الصبر والثواب علیه لابن ابی الدنیا ۳۰

یعنی عزتونه محفوظ شو نو مکې ته داسې دننه شو چې نه ورته داسې مخکښې څوک دننه شوې وو نه به بیا څوک دننه شی ، چار چاپیره ترې مهاجر او انصار وو فرشتې ئې په سر وې نو هغه ورځې ته سوچ اوکړه چې د مکې نه د وتلو وه " واذ یمکر بك الذین کفروا" او دیته سوچ اوکړه چې په اس ناست دې او سر دومره ښکته کړې دې چې د زین د لرګی سره لګی هغه ذات ورته دا د عزت جامه اغوستولې ده . بلال رضي الله عنه د کعبې د پاسه اذان اوکړو فتح مبین راغې او اذجاء نصر الله نازل شو نو د الله په نداء ئې داسې لبیک اووئیلواللّٰهُمَّ بالرفیق الاعلی .

دا هر څه په صبر اوشو ځکه"ان النصر مع الصبر"

| | | | |
|---|---|---|---|
| صبر | آرد | ارزوها | راشاب |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| صبر | کن | والله | اعلم | بالصواب |

"صبر سره مرادونه ملاویږی صبر کوه الله ښۀ پوهیږی"

## دولسمه فائده یقین

قیدی روره اول پدې خبره یقین ساته چې کوم مصیبت او تکلیف تاته د رسیدلو وو هغه نۀ خطا کیدلو.

وَكَانَ أَمْرُ ٱللَّهِ قَدَرًا مَّقْدُورًا ﴿٣٨﴾ (١)

"ده فیصله او کار د الله په اندازه اندازه کړې شوي "

واعلم ان ما اصابك لم یکن لیخطئك وما اخطئك لم

(١) الأحزاب: ٣٨

يكن ليصيبك(١)

"او پوهه شه يقينا هغه چې تاته اورسيدلو نو هغې تۀ نشوې خطا کولې او کومې چې خطا کړې نو هغه تاته د رسيدلو نه وو"

دويم يقين پدې باندې اولره چې ستا دا مصيبت د انتهائی اجر والا دې پدې به الله تعالی تاله ددنيا او آخرت اجر درکوی (تفصيل به ئې راشی)

دريم يقين ددې خبرې ضروری دې چې ستا مقصد او مشن د دين به الله نۀ خرابوی جيل ، قيد او بندی کيدل يا زخمی کيدل دا خو د مشن سرته د رسولو سره تړلې خبرې دی . اوګوره لږ صحابه کرامو ته چې د کورونو نه اوشړلې شو ، د ماشومانو او لويو نه محرومه کړې شو ښځې کونډې شوی ميندې بورې شوی ، هر قسمه تکليف پرې راغلو اقتصادی مالی بدنی سختئ پری راغلی خو هغوئ څه وائی

هَٰذَا مَا وَعَدَنَا ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَصَدَقَ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥۚ وَمَا زَادَهُمۡ إِلَّآ إِيمَٰنٗا وَتَسۡلِيمٗا ﴿٢٢﴾ (٢)

"دا هغه دی چې الله تعالی او د هغۀ رسول ئې زمونږ سره لوظ کړې دې او الله تعالی او د هغۀ پيغمبر رشتيا وئيلی دی او زيات ئې نۀ کړو دوئ لره لره مګر يقين او منل "

جناب رسول الله ﷺ کعبې شريفې ديوال ته ډډه لګولې ده صحابی راغې او ورته وائی چې تۀ مونږه له دعا نۀ غواړې او تۀ مونږ له مدد نۀ غواړې نبی عليه السلام ورته اوفرمائيل چې تاسو تلوار کوئ داسې وخت به

(١) سنن الترمذی , باب فی القدر ٤٤٥/١

(٢) الأحزاب: ٢٢

راشي چې د یمن نه به یوه جینئ د کالو ډکه راروانه وی بیت الله ته به راځی او نه به یرېږی . دا وو یقین په خپل مشن باندې .

د احزاب په موقع باندې د لوږې د وجې نه ئې ګېډې په ګیډو پورې تړلې وې او د پلک ګذار ګټ له راخلاصوی او وائی چې ماته د کسری او د قیصر ماڼۍ اوخودلې شوې منافقانو خندنې کولو . خو دا وو یقین د نبی ﷺ په خپل دین او د الله تعالی په وعدو باندې .

نو چې څومره یقین مضبوط وی نو دومره مدد زیات وی . عمر رضی الله عنه فرمائی

انما المعونات تأتی بحسب النیات

مددونه د نیت مطابق راځی "همت مردان مدد خدا " نو د الله تعالی په وعدو یقین کوه .

## دیارلسمه فائده مقتدا کیدل

اې قیدی جانانه ! چې درته الله تعالی دوه ملغلرې نصیب کړې یو د صبر او بله د یقین نواوس به درته الله تعالی تاج د امامت درپسر کړی الله تعالی به درله دومره عزت درکړی چې ددین امام به شې او مقتدا به شې بیا به تاپسې خلق درروان وی

وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا لَمَّا صَبَرُوا ۖ وَكَانُوا بِآيَاتِنَا يُوقِنُونَ ﴿٢٤﴾ (١)

" او جوړ مو کړل په دوئ کښې مشران ددین چې چلولو به ئې

---

(١) السجدة: ٢٤

(دعوت به وئې ورکولو) قانون او ددين ځمونږ کله چې دوئ صبر
اوکړو او دوئ په آيتونو ځمونږ يقين کولو "

**عزت رفعت بلندی به دِ نوره هم سيوا شی ځکه امام ابن تيميه فرمائی**

**بالصبر واليقين تنال الامامة فی الدين [1].**

"په کلکيدلو او په يقين سره په دين کښې مشرت او امامت حاصلولې شی"

**لږ تاريخ اوګوره يوسف عليه السلام جيل ته څنګه دننه شو او راووتلو څنګه . دننه شوې غلام وو او راوتلې عزيز مصر دې .**

**وَكَذَٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِي ٱلْأَرْضِ ﴿٥٦﴾ (٢)**

"دغه شان (دا ځمونږ کمال دې ) چې ځائ او قدرت مِ ورکړو
يوسف له مصر کښې "

**امام ابوحنيفه رح څو ځله جيل ته لاړو لږ د هغهٔ زندان اوګوره داسې شو چې امام اعظم رح شو او عزت او شرافت ئې په عالم کښې خور شو.**

**امام مالک بن انس رح خومره اودردولې شو اووهلې او اوټکولې شو او جيل ته کړې شو نو امام المدينة ترينه جوړ شو او خلقو به سفرې کولې او سبق له به تلل ..**

**امام احمد بن حنبل رح تقريبا د اتلسو کالونه زيات جيل تير کړې دې لکه د غر کلک وو او برداشت ئې کولو نو امام اهل السنة شو .**

**حافظ امام ابن تيميه رح ډير ځله جيل ته لاړو زغم او برداشت ئې کولو تر دې چې شيخ الاسلام او امام المسلمين اوګرځيدلو .**

---

(١) مدارج الساکين ٢/١٥٤ ، مجموعة الفتاوی ٨٠/١٢

(٢) يوسف: ٥٦

کوم لوئ خلق چې د تاریخ وینې لړ غونده دور حاضر کښې د حضرت شیخ القران پنج پیر تاریخ راواخله او د هغهٔ د ملګرو او شاګردانو ، شیخ التفسیر والحدیث علامه محمد حسین نیلوی‌ؒ چې جنازه ئې د جیل نه اوتله شیخ الاسلام علامه مولانا ولی الله کابلګرامیؒ چې جنازه ئې د جیل نه اووتله او علامه سلطان غنی عارف صاحب او نور لوئ لوئ علماء کرام .

اولئك ابائی فجئنی بمثلهم ...

" دا څما مشران دی نو داسې راوړه کنه .... "

اصبر اخی اذا نابتك نائبة ولاتقولنّ منّی الذرع قدضاقا

فبالنّوائب مع الصبر تجد کالبدر یزداد فی الظلماء

" صبر کوه اې روره چې کله دربانديې څه مصيبت راغې او دا مهٔ وايه چې سینه مې تنګه شوه ، د مصیبتونو سره په صبر به عزت او شراقت اوموميې . لکه د څوارلسمې سپوږمۍ چې په تیارو رڼړا نوره هم زیاتوی "

تندی باد مخالف سے نہ گھبرا اے عقاب
یہ تو چلتی ہے تجھے تیز اڑانے کیلئے

(اقبال)

داسې هم وئیلی شوی دی چې

حناء رنگ لاتی ہے پتھر کھانے کے بعد
انسان سرخرو ہوتا ہے ٹھوکریں کھانے کے بعد

## څوارلسمه فائده دا انبياء کرامو سنت او د اسلافو تاريخ

ځما ګرانه قيدی روره !لږ نظر اوکړه څه پوهيږې؟ لږ اوګوره چې نسبت دي د چاسره شو او د چا په صف کښې شمار شوې د الله تعالی په دين جيل ته تلل د انبياء کرامو سنت دی او د خپلو نيکو اسلافو تاريخ دې ژوندې کړو مختصر غوندې سفر اوکړه.

لږ اوګوره د الله تعالی خليل او دوست ابراهيم ﷺ ته د اورته د غورځولو نه مخکښې جيل ته وراچولې شوې وو (طبقات بن سعد)
لږ اوګوره هغه لوئ هستی ده چې يعقوب ﷺ ځوئ د اسحاق ﷺ نوسې او د ابراهيم ﷺ کړوسې دې چې نبی ﷺ د هغۀ باره کښې وائی

الکريم بن الکريم بن الکريم بن الکريم[1]

سيدنا يوسف ﷺ چې "فَلَبِثَ فِي ٱلسِّجْنِ بِضْعَ سِنِينَ "او هغه په خپله داسې وائی چې

قَالَ رَبِّ ٱلسِّجْنُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا يَدْعُونَنِيٓ.... ﴿٣٣﴾ (٢)

" ربه مې جيل مې ډير خوښ دې د هغه ګناه نه چې دا جينکۍ مې ورته راغواړی"

يوسف ﷺ د يو ګناه د وجې جيل خوښوی او تا سوچ اونکړو چې د ټول دين نه دی اړوی.

---

(١) صحيح البخاری باب قول الله تعالی لقد کان فی يوسف واخوته ١٤٩/٤

(٢) يوسف: ٣٣

د الله تعالی کلیم سیدنا موسی عليه السلام ته فرعون څه وائی چې

قَالَ لَئِنِ ٱتَّخَذْتَ إِلَٰهًا غَيْرِي لَأَجْعَلَنَّكَ مِنَ ٱلْمَسْجُونِينَ ﴿٢٩﴾ (١)

"که دي جوړ کړو ځما نه علاوه بل اله نو د جیلیانو نه به دي اوګرځوم"

اصحاب کهف اوګوره او رجل مومن اوګوره ددې نیکانو د جیلونو زندانونو نه تاریخ ډک دې . .. امام اعظم ابوحنیفه ، امام مالک ، امام احمد ، امام شافعی رحمهم الله تعالی دغه شان حافظ شیخ الاسلام ابن تیمیه ، امام بخاری ، ابن حجر ، حافظ ابن کثیر ، اما سرخسی ، عزبن عبدالسلام ، شیخ الهند محمودالحسن ، مولانا عزیرګل ، مولانا ابوالکلام ازاد ، ، شیخ القران مولانا غلام الله خان ، شیخ القران مولانا محمد طاهر ، شیخ التفسیر مولانا محمد حسین نیلوی ، علامه عطاء الله بندیالوی ، شیخ الاسلام مولانا ولی الله کابلګرامی ، ناقدالرجال علامه سلطان غنی عارف صاحب ، مولانا مصباح الدین صاحب ، فضله الشیخ مولانا فضل حق صاحب ، فضیلة الشیخ مولانا صوفی محمد صاحب ، شیخ القران مولانا عبدالسلام رستمی صاحب ، شیخ الحدیث مولانا نورالهدی صاحب ، شیخ الحدیث مولانا تاجبر خان صاحب ، فضیلة الشیخ مولانا اعظم طارق صاحب ، مولانا ضیاء الرحمن فاروقی رحمهم الله تعالی ددې نه علاوه نور ډیرزیات چې تهٔ د هغوئ په صف کښې ئې او د هغې پسې روان ئې بیا هم تهٔ خفه ئې .

(١) الشعراء: ٢٩

تطــرق اهــل الفضــل دون مصــائب الدنيــا وآفاتهــا
فالطير لا يسجن مـن بينهـا الا الــتى تطــرب اصــواتها

"په نيکانو او د فضيلت په خاوندانو تکليفونـه او آفتونـه ددنيـا راغلي دی او راځی . په مارغانو کښې هره مرغۍ نه قيد کيږی هغه قيد کيږی چې د هغې آواز خوږ او مزيدار وی"

نو اې قيدی روره ! پدې پوهه شه چې سرکشو او د طاغوت بنديګانو تهّ چې قيد کړې ئې نو ځکه چې دليل کښې عاجزه شو نو دا جواب ئې درکړو چې کله د ابراهيم عليه السلام د مقابلې نه عاجز شو نو وي وئيل

قَالُواْ حَرِّقُوهُ وَٱنصُرُوٓاْ ءَالِهَتَكُمۡ ﴿٦٨﴾ ... [1]

"نو وي وئيل چې اوسوزئ ده لره او مدد اوکړئ د خپلو خدايانو"

د موسى عليه السلام د مقابلې نه چې عاجزه شو نو وي وئيل .

قَالَ لَئِنِ ٱتَّخَذۡتَ إِلَٰهًا غَيۡرِي لَأَجۡعَلَنَّكَ مِنَ ٱلۡمَسۡجُونِينَ ﴿٢٩﴾ [2]

" که دِ جوړ کړه ځما نه علاوه بل اله نو د جيليانو نه به دِ اوګرځوم"

داسې ده چې "*تنګ آمد بجنګ آمد*" بله حربه نشته نو جيل ته اوغورځوه دا لويه حربه ده .

دا دِ اسلاف وو دا ئې طريقه وه نو قيدی روره پدې مهٔ خفه کيږه تش د اسلافو په نوم ګټل خو ندی چې د هغوئ نوم خرڅ کړه او شهوت او

---

(١) الانبياء : ١٠٨

(٢) الشعراء: ٢٩

دنیا پرېږي اوګټه او د هغوئ نوم اغستل خو ندي چې صرف نوم اخلي او خپله څه نۀ کوی .

لــــــیس الفـــــتى مـــــن یقـــــول ذاك ابی
بــــل الفـــــتي مـــــن یقـــــول هاانـــــا ذا

"ځوان هغه ندي چې دا وائی دا مې پلار او مشر دې بلکه ځوان هغه دې چې هغه وائی چې ځۀ دا یم"

چـــې کومـــه نـــاوې خپلـــه ښائسـتـه نـــۀ وی
څـــوک ئـــې کانـــدی صـــفت د مـــورا و نیـــا

نن د اسلافو په نوم چنده کوې او شهرت کوی او د اسلاف قبرونه خرڅوی په مړونې د هغوئ په نوم ګټه کوی او د هغۀ روح پکښې نشته د نیک اسلافو په قدم روان شه .

*بجلیاں جس میں ہوں آسودہ وہ خرمن، تم ہو — بیچ کھاتے ہیں جو اسلاف کے مدفن، تم ہو*
*ہو نکو نام جو قبروں کی تجارت کرکے — کیا نہ بیچو گے جو مل جائیں صنم پتھر کے*

## پنځلسمه فائده انقلابی رجل تیاریدل

وخت تیریدلو سره ، حالاتو راتللو سره ، ګرمو او یخو بدلیدلو سره ، د ظالمانو د ظلمونو سره د تیارې او د رڼړا د کشمکش سره کله داسې اوشی چې د کار افراد او کسان ختم شی . کوم خلق چې امت بیداروی او په هغۀ کښې روح اچوی مسلمانانو سره د مسلمانئ احساس او ددې احساس چې مونږ د نبی علیه السلام امتیان وو

ځمونږ مشن څه دې ځمونږ اسلاف څه وو او ځمونږ مشرانو په دنیا حکومت کړې وو او ټوله دنیا د هغوئ مخې ته رام وو.

| | |
|---|---|
| صفحه دہر سے باطل کو مٹایا کس نے | نوع انسانی کو غلامی سے چھڑایا کس نے |
| میرے کعبے کو سینوں سے بسایا کس نے | میرے قرآن کو سینوں سے لگایا کس |
| تھے تو وہ آباء تمھارے ہی مگر تم کیا ہو؟ | ہاتھ پر ہاتھ دھرے منتظر فردا ہو |

د اسلافو نقش ژوندی کول او هغه شان افراد کله د طوفانونو د وجې نه ختم شی . نو الله تعالی داسې افراد بیا پیدا کوی ځکه چې الله تعالی خپل دین نهٔ ضائع کوی لکه حدیث کښې راځی

ان الاسلام بدا غريبا وسيعود كما بدأ فطوبى للغرباء الذين يصلحون ما افسده الناس[1]

" یقینا اسلام چې شروع شوې وو نو ناشنا وو او زرده چې داسې حالت یعنی ناشنا والی ته به بیا واپس شی نو خوشحالی او مبارکی ده ناشنا خلقو له هغه خلق چې سموی او درستوی هغه چې روان کړی وی خلقو د دین نه"

نو الله تعالی افراد تیاروی نو د افرادو د تیارولو مختلفې طریقې وی کله په صحبت د انقلابی انقلابی اشخاص تیارشی دغه مختلفې طریقې شاه ولی الله صاحب رح ذکر کړی دی . یو طریقه داده چې په شخص یا په یوقام ظلم اوشی نو هغوئ راپاسې او روح پکښې بیدار شی هغه غریب اشخاص وی کمزوری وی خو په هغوئ کښې د هغه سختو د

(۱) والمسلم , باب ان الاسلام بدأ غريبا وسيعود ۱۳۰/۱

وجې نه انقلابی فکر پیدا شی لکه موسی ؈ چې د نبوت نه مخکښې د خپل قامی مدد کولو او قبطی له ئې ګذار ورکولو نو دا ځکه چې هغهٔ سره احساس وو چې ځما په قام ظلم ولې کیږی . نو کله الله تعالی دغه شان یو عالم جیل ته دننه کړی نو په هغهٔ ظلمونه اوشی او ظلمونه اووینی نو دهٔ سره د انقلاب او د مسئلې د مسلمانانو د ضرورت احساس اوشی نو هغه بیا د جیل نه ورستو د یو انقلاب محنت اوکړی . هغه بیا په نورو کښې انقلاب پیداکړی هغوئ کښې روح پیدا کړی نو اوسنې دور هم دهٔ قحط الرجال دور دې چې پکښې رجال د کار نشته دې او په حالاتو سره شهیدان شو . نو اوس رجال الله تعالی پیدا کوی بختور دې هغه څوک چې هغه احساس اوکړی او ددې جیل نه فائده واخلی.

## شپاړسمه فائده ساتل د رجالو

چې کله افراد او انقلابی اشخاص مفقود شی او ختم شی نو دیته عالمان د قحط الرحال دور وائی چې په هغې کښې دوه کاره کول ضروری دی یو "اعداد الرجال"یعنی افراد او اشخاص تیارول دویم "حفظ الرجال "چې افراد ساتل او محفوظ کول چې افراد ضائع نشې د جناب رسول الله ﷺ یو قیمتی پیشن ګوئی واوره چې هغه څنګه انقلابی خلقو ته هدایت فرمائی .

یأتی علی النّاس زمان یقتل فیه العلماء کقتل الکلاب لیت

للعلماء تحامقوا [۱]

"په خلقو به داسې يو دور راشی چې په هغې کښې به علماء داسې وژلې شي لکه چې سپې وژلې کيږي ارمان چې دغه وخت کښې عالمان ځان ساده کړی"

چې کوم انقلابی علماء دی هغوئ له ځان ساده کول پدې سره به حفاظت راشې او چې خپله فائده درس ته منتقل کړی چې "کمشکوة فيها مصباح" چې ډيوه ځومره بند ځائ کښې وی نو دومره رنړا زياته شی د جلسو جلوسونو په ځائ درد مندو طلباؤ ته توجه اوکړی. داسی نورهم د حفاظت طريقې دی.

خو الله تعالی ناشنا ذات دې او قدرتونه ئې هم عجيبه دی کارونه ئې ناشنا دی د قتل په صورت کښې د سړی حفاظت اوکړی او د حفاظت کوشش کونکې چې د ځان ساتلو کوشش کوی هغه خراب شی اسباب د حفاظت اسباب د قتل اوګرځوی او اسباب د قتل اسباب د حفاظت اوګرځوی موسی عليه السلام څنګه د فرعون په کور کښې ساتی د فرعون د حکومت دشمن د فرعون په کور کښې په فرعون ساتی.

| | | | |
|---|---|---|---|
| حيله | فرعون | ذی | فسانه بود |
| دربسته | دشمن | اندر | خانه بود |

" د فرعون سياست او چلونه هسې بې کاره افسانه وه ور ئې تړلې او بند کړې دې او دشمن ئې کور کښې دې"

پدې دور کښې الله تعالی خپل قدرتونه ښائی څوک چې د موسی

(۱) کنزالعمال و جامع الاحاديث, ياء النداء مع الياء ۲۳/٤٦٤

علیه السلام نوسې وی چې د وخت په فرعون پسې راپاسې نو الله تعالی ئې کله کله د داسې فرعونیانو په جیلونو کښې هم په دوئ اوساتی. پوهه الله دې کله د موسی علیه السلام نوسی ته بهر خطره وی چې څوک به ترې ډز پورته کړی نو دې بهر خپله حفاظت کولې نشی نو الله تعالی ئې جیل ته دننه کړی د څه وخت دپاره او محفوظ ئې کړی.

از سبب سازیست من حیرانیم
از سبب سوز یست سر گردانیم

"اې الله چې د یو کار دپاره یو شې سبب کوې ورته اوګورم نو حیران شم بل خوا که بنده څه ظاهری اسباب جوړ کړی او هغه بې کاره لاړشی کار ئې پرې اونشی نو سر راباندې اوچورلی"

(بنده عاجز چې په کومه ورځ نیولې کیدو نو په مثنوی د مولانا روم کښې دغه سبق وو)

قصد ظالم سوئے کشتن ما
دل مظلوم ما سوئے خدا

" ظالم څما د وژلو اراده لری او څما مظلوم زړهٔ د الله طرف ته دې"

نو اې قیدی روره ! پدې مهٔ خفه کیږه چې جیل ته راغلم کیدیشی الله تعالی دا ستا د حفاظت اسباب برابر کړی وی خو تهٔ به پرې پوهیږې نه بس الله تعالی ته ځان حواله کړه او دا خبره کوه چې

کارسازما بسازد کار ما
فکرما در کارما آزارما

"اې څمونږه کار جوړونکیه څما کار جوړ کړه ځهٔ چې د خپل کارونو فکر کومه نو دا څما خپل آزار او ګناه ده"

## اوولسمه فائده بچ کیدل د ګناهونو نه

اې جیلي روره ! لږ سوچ اوکړه بهر ددنیا ماحول نن صبا هر طرفته د ګناه دعوت ورکوی که موبائل دې که بازار دې نن په کور کښې نه بلکه په هر لاس کښې سنیما ده د الله تعالی لویه مهربانی ده په هغه بنده باندې چې هغه الله تعالی د ګناه نه بچ کړی شیطان لعنتی په انسان پسې لږیدلې دې انسان د الله تعالی تابعدارئ ته نۀ پریږدی او کوشش کوی چې انسان د الله تعالی په نافرمانئ کښې اخته کړی پدې سره د انسان زړۀ مړ کیږی .

رأيــــت الذنـــــوب تميـــــت القلـــــوب
خــــــير لنفســــــــك عصــــــيانها

" وینم چې ګناهونه زړونه مړۀ کوی ستا د نفس دپاره د ګناهونو نه انکار او خلاف کښې بهتری ده"

د ګناه نه بچ کیدل او د شیطان د ګرفت نه بچ کیدل د الله تعالی په مهربانئ باندې کیږی چې د الله تعالی مهربانی نۀ وی نو د شیطان د ګرفت نه بچ کیدل ګران دی .

گر عنایت بود باما مقیم
کے بود بیمے آن دز لئیم

"که ستا مهربانی څما سره وی نو د هغه رزیل چالونه هیڅ هم ندی . که په زرګونو داموونه راته کیږدی چې تۀ راسره ئې نو هیڅ غم نشته دې"

د الله تعالی د مهربانۍ مختلف شکلونه او صورتونه دی چې په هغې

سره الله تعالی بنده د ګناه نه بچ کوی یو په هغې کښې داده چې بنده ته د ګناه موقع ملاؤ نشی الله تعالی کله په بنده دا مهربانی داسې اوکړی چې انتهائی ددین په امورو یا د حلال رزق په طلب کښې مصروفه کړی چې بیا ورته د ګناه موقع نۀ ملاویږی یا داسې وی چې ماحول ئې د نیکئ وی لکه مدرسه وغیره کښې وی چې د ګناه موقع ورته نۀ ملاویږی .

قیدی روره ! جیل او قید هم یو داسې ماحول دې چې د ګناه نه او د فتنو نه به محفوظ ئې بهر دنیا کښې مختلف ګمراهئ دی او مختلف ګناهونه دی . او قیدی رور ددې ګناهونو او فتنونه الله تعالی محفوظ ساتلې دې. دننه ځان د ګناه غیبت چغلۍ نه بچ کول ضروری دی او دا عزم کول چې بهر لاړ شم نو بیا به ګناه نۀ کوم خو د الله نه غوښتل چې ما د ګناه نه بچ کړه .

نو جیل سره الله تعالی د ډیرو ګناهونو نه بچ کړې چې هغه په آزادئ سره ستا عمل نامه کښې لیکلې کیدل او ډیرو ګمراهو نه بچ شوی چې خدائی مۀ کړه چې تۀ بهر وې او داسې ګمراهۍ کښې اخته شوې وې چې په هغې سره د ایمان تاوانی شوې وې نو ددې آزادئ څه خوند او څه مزه چې سړې جهنم ته وردیکه کړی الله تعالی دِ ځمونږ د ټولو حفاظت اوکړی او په بهر دنیا کښې دِ ټول مسلمانان خصوصا قیدیان د هرې ګمراهئ نه محفوظ کړی او ما فقیر عاجز دِ هم الله تعالی معاف کړی او د هرې فتنې او ګمراهئ نه مې دې محفوظ کړی امین ویرحم الله عبدا قال امینا .

## اتلسمه فائده د نفس پاکیدل

د انسان په دینی دشمنانو کښې لوئ دشمن هغه نفس دې ، په نفس کښې د شیطان تڪبر ، د قابیل حسد ، دعادیانو ثمودیانو سرکشی ، د نمرود په الله تعالی بهادرکیدل ، د فرعون لوئی ، د قارون بغاوت ، د هامان نفرت د حق نه ، خواهشات د بلعام بن باعور ، د خالی د ورځی والو حیلې ، بې خیری د ولید، ناپوهی د ابوجهل ، دا ټکښې پراتۀ دی دغه شان پدیکښې د ځناورو خویونه هم پراتۀ دی د کارغۀ حرص د سپی حرص د طاووس حماقت او د ګنګوټ رزالت د سمسری نافرماني د اوښ کینه ، د پړانګ ټوپ ، د زمرې حمله ، دمنږک فساد او فسق ، د مار خباثت او زهر، د شادو (بیزو) عبث والې د میږی جمع کول ، د لومبړې چلونه د ګورګخ خوب غفلت دا ټولی ګندګۍ پکښې دی .

وَمَآ أُبَرِّئُ نَفْسِيٓۚ إِنَّ ٱلنَّفْسَ لَأَمَّارَةُۢ بِٱلسُّوٓءِ ﴿٥٣﴾ (١)

"یقینا نفس خامخواه وینا کونڪې د بدۍ دې"

اعدی عدوك نفسك بين جنبيك(٢)

"ستا په ټولو دشمنانو کښې خطرناک دشمن هغه هغه دې چې
ستا د دواړو اړخونو تر مینځه دې "

نفس سره دشمنی اوکړه او ددشمن په نظر ورته اوګوره صلح ورسره مۀ کوه . چې څوک د خپل نفس اهانت نۀ کوی نو هغۀ ئې هیڅ اکرام اونڪړو او څوک ئې چې نۀ ذلیله کوی نو دۀ د نفس هیڅ عزت

---

(١) يوسف: ٥٣

(٢) جامع العلوم والحكم لابن رجب حنبلی ، تنبيه الخواطر ٥٩/١

اونکړو چاچې مات نهٔ کړو نو روغ به ئې نهٔ کړی چا چې ستړې نه کړو نو ارام به ورله ورنکړی چاچې اونهٔ يرولو نو بچ ئې نهٔ کړو چا چې غمژن نهٔ کړو نو خوشحاله ئې نهٔ کړو دهٔ سره دشمنی کول دوستی ده سپکول ئې اکرام دې ذليله کول ئې عزت دې ماتول ئې روغول دې ستړی کول ئې آرام دې يرول ئې په امن کول دی غمژن کول ئې خوشحالول دی . ددهٔ التہ کار به کوی . نفس ماتول او جوتی کول د تصوف لوئې مقصد دې او ماتول ئې دا دی چې د رذائلو نه پاک شی .

قَدْ أَفْلَحَ مَن زَكَّىٰهَا ۝٩ وَقَدْ خَابَ مَن دَسَّىٰهَا ۝١٠ (١)

" يقينا کامياب شو هغه څوک چې چا پاک کړو دی نفس لره او يقينا ناکام شو هغه څوک چې دننه ئې کړو دا نفس په ګناهونو کښې "

چې کله د نفس نه خلاف کار کيږی نو پدې سره د نفس ډيره خه اصلاح کيږی ددې دپاره صوفياء کرام رياضتونه کوی چې نفس جوتی کړه شريعت کښې روژه د نفس د برابراولو يوه خه ذريعه ده ځکه دوه غټ شهوتونه دی د خلې او د شرمګاه او هغه روژه کښې بند شی .

اې قيدی روره ! لږ سوچ اوکړه کيديشی په قيد کښې په تا داسې حالات راغلی وی او راشی چې هغه ستا نفس او طبيعت نهٔ خوښوی ستا غوږونه به د داسې خلقو نه داسې خبرې واوری چې تهٔ به ئې نهٔ خوښوی لکه کنځل ، بدې ردی ، داسې اډرونه او حکمونه چې تهٔ د هغې عملی کول څه چې اوريدل به ئې هم نهٔ خوښوې . دا ستا د نفس

---

(١) الشمس: ٩ – ١٠

اصلاح ده که بهر درته څوک بیا د اصلاح خبره کوی نو بده به دربانديې نهٔ لګی . سترګی به ئې درله بندې کړی وی جائز کتلو ته به دې نهٔ پریږدی کیدیشی کله کله دې د قران او حدیث د کتلو نه هم بند کړی دا هم ستا امتحان دې او د نفس اصلاح ده چې بهر بیا ناجائزو او حرامو ته مهٔ ګوره. ستا لاس آزاد خوښ وی او خپې دې آزادې خوښې وی کیدیشی په هغې پابندی اولګی ژبه دې آزاده خوښه وی کیدیشی د خبرو پابندی وی حتی چې بشری څه چې حیوانی حقوقو کښې به هم درسره زیاتې شروع شی لکه قضاء حاجت چې بیت الخلاء ته به دِ هم نهٔ پریږدی او که دِ پریږدی هم نو کیدیشی چې یو منټ دوه وی او د وخت پابندی وی خوب او آرام ملاسته او ناسته هرڅه دې د غلامۍ وی او بس د بندیانو په بند کښې به بند ئې . دا مهٔ وایه چې دا ذلت دې یو خو دا هر څه فی سبیل الله دی نو هیڅ خبره نده د یار دپاره خلق څه نهٔ برداشت کوی دویم پدې کښې ستا د نفس اصلاح ده . نفس به دِ جوتی شی

ابراهیم بن ادهم رح یوه ورځې پولیس والا اونیولو د جماعت نه ئې بهر راخکلو او بیا ئې په سر سر په څپیړه اووهلو ، پولیس والا ته چا اووئیل چې دا خو فلانکې بزرګ دې هغه ډیر ملامته شو پولیس والا ورته اووې چې ما معاف کړه هغهٔ ورته اووی چې تا به ګذار راکولو نو ما د هغې سره معاف کړې ئې . بیا ترې چا تپوس اوکړو چې تاته په ورځو کښې کومه ورځ بختوره او د خوشحالۍ راغلې ده نو هغهٔ ورته وی په کومه ورځ چې هغه پولیس والا وهلم چې نفس ته

مِ اووئيل ته د عزت قابل نه ئې ستا اصل شکل او سلوک هم دادې تهٔ داسې بنهٔ ئې .

نو اې قيدی روره ! لږ دې کارونو ته د اصلاح په نظر ګوره چې داسې کارونه راشی چې ستا د ناخوښۍ وی نو هيڅ سُر پرې مهٔ خرابه وه کله چې مرض په دوايانو نهٔ ښهٔ کيږی نو بيا خلق داغ ورکوی نو دا هم نفس له داغونه دی

المجاهد من جاهد نفسه[1]

" مجاهد هغه څوک دې چې جهاد کوي د خپل نفس سره"

که دا خپل نفس دِ جوتی کړو او مجاهده دې اوکړه او رزائل او ګندګۍ دی ترې ختم کړی نو اوس ئې که الله تعالی ته حواله کوې نو مبيعه او سودا کوته نده قبوله به شی "إِنَّ ٱللَّهَ ٱشۡتَرَىٰ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ أَنفُسَهُمۡ وَأَمۡوَٰلَهُم ﴿١١١﴾" (۲)

## نولسمه فائده د ګناهونو معاف کيدل

قيدی روره ! لږ خپل قيد ته سوچ اوکړه چې پدې تاله څه درکوی اجرونه خو ځان له خو په سختو باندې او په تکليفونو الله تعالی ګناهونه معاف کوی

صبر کوه او دا جيل نيکی حسابوه په جيل سره او په نور تکليفونو سره الله تعالی ګناهونه معاف کوی او درجات پرې پورته کوی

---

(۱) المستدرك علي الصححين للحاكم , كتاب الايمان صفحه ٥٤

(۲) التوبة: ۱۱۱

فَٱلَّذِينَ هَاجَرُواْ وَأُخۡرِجُواْ مِن دِيَٰرِهِمۡ وَأُوذُواْ فِي سَبِيلِي وَقَٰتَلُواْ وَقُتِلُواْ لَأُكَفِّرَنَّ عَنۡهُمۡ سَيِّـَٔاتِهِمۡ ﴿١٩٥﴾ (١)

"نو هغه کسان چې هجرت ئې اوکړو او اوشړلې شو د کورونو خپلونه او تنګ کړې شو په لار ځما کښې او اوجنګیدل او اوژلې شو نو خامخواه لربه کړم د دوئ نه ګناهونه ددوئ"

ما يصيب المسلم من نصب ولا وصب ولا هم ولاحزن ولا اذى ولا غم حتى الشوک يشاکها الا کفّرالله عنه خطايا ه(٢)

" نۀ رسيږی يو مسلمان ته څه ستومانتيا نه بيماری نه پريشانی نه غمژنتيا او نه تکليف او خفګان تردې چې يو ازغې ئې په خپه کښې مات شی مګر الله تعالى په هغې سره د هغۀ ګناهونه ختموی"

مايزال البلاء بالمؤمن والمؤمنة فى نفسه ولده وماله حتى يلقى الله وما عليه خطيئة (٣)

"په مومن سړی او ښځه په بدن ، بچو او مال کښې تکليفونه راځی تردې چې الله تعالى سره ملاؤ شی او هيڅ ګناهونه هم پرې نۀ وی"

فما يبرح البلاء بالعبد حتى يترکه وما عليه خطيئة(٤)

"په بنده باندې امتحان هميشه وی تردې چې دې پاتې شی داسې

---

(١) آل عمران:١٩٥

(٢) صحيح البخاری , باب ما جاء فى کفارة المرض ١١٤/٧

(٣) سنن ترمذی ، باب ما جاء فى الصبر على البلاء ١٨٠/١

(٤) سنن ترمذی ، باب ماجاء فى الصبر على البلاء ١٧٩/٤

چې هیڅ ګناه پرې نهٔ وی پاتې"

نو اې قیدی رورہ !چې پدې قید راته الله تعالی ګناه معاف کړی نو یقینی خبره ده چې دا سودا ارزانه ده .

*نرخ بالا کن که هنوز ارزانی است*

دا هم په حدیثونو کښې راځی چې کله بنده ته مصیبت اورسیږی او دې انا لله وانا الیه راجعون نو الله پرې ګناهونه معاف کوی نو د قیدی کولو په وخت کښې په دِ زړهٔ ځومره دردیلې وی نو که هغه وخت درنه دا کلمه هیره وه نو چې څه وخت هغه مصیبت رایاد شی نو چې هغه وخت ئې وائی نو هم پرې الله تعالی ګناهونه معاف کوی . او د ریماندونو او تفتیشونو په دوران کښې درته څومره درد او تکلیف رسیدلې وی نو چې څه وخت د ژوند کښې درته دغه تکلیف رایاد شی نو انا لله وانا الیه راجعون وایه چې الله دِ ګناهونه معاف کړی . الله تعالی دِ ځما او د ټولو مسلمانانو او قیدیانو رونړو ګناهونه معاف کړی . امین

## شلمه فائده استغفار

قیدی روره ! لږ سوچ اوکړه مونږه نه انبیاء یو او نه اولیاء یو . د جهان ګناهګار یو کوم مصیبت چې راباندې راځی نو دا ځمونږ د ګناه اثر دې د ګناه او د مصیبت ډیر ربط او جوړ دې ، معصیت او مصیبت یو بل سره رشته دار دی.

وَمَآ أَصَٰبَكُم مِّن مُّصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتۡ أَيۡدِيكُمۡ وَيَعۡفُواْ عَن

كَثِيرٖ ۝٣٠ (١)

"او هغه چې رسيږی تاسوته يو مصيبت نو دا د وجې د هغه نه چې کړی دی لاسونو ستاسو او معافی کوی الله تعالی د ډيرونه "

چې کله څمونږ مصيبت څمونږ د لاسه دې نو علاج ئې هم مونږ سره دې چې هغه توبه او استغفار دې چې د خپل ګناه نه توبه اوباسو او الله مو معاف کړی نو مصيبت به هم ختم شی نو د الله تعالی په دربار کښې عاجزی اوکړه او په خپل ګناه باندې پښيمانتيا اوکړه . الله تعالی هغه بنده ډير خوښوی چې په خپل ګناه پښيمانه شی او الله تعالی ته اوژاړی .

كل بنى ادم خطاءون وخير الخطائين التوابون(٢)

"هر بنی آدم خطاکار دې او په خطا کونکو کښې غوره هغه دی چې هغه توبه کونکي وی "

إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلتَّوَّٰبِينَ وَيُحِبُّ ٱلْمُتَطَهِّرِينَ ۝٢٢٢ (٣)

"يقينا الله تعالی مينه کوی د توبې کونکو سره او مينه کوی د ځان پاکونکو سره "

طوبى لمن وجد فى صحيفته استغفار كثيرا(٤)

" خوشخبری او مبارکی ده هغه چالره چې د هغهٔ په عمل نامه کښې استغفار ډير اوموندلې شو"

قيدی روره ! الله تعالی درته ډيره خه موقع نصيب کړيده . په خپلو

(١) الشورى: ٣٠

(٢) سنن دارمی ، باب فى التوبة ١٧٩٣/٣

(٣) البقرة: ٢٢٢

(٤) سنن ابن ماجه ، ٥٧ باب الاستغفار ، ٢/ ١٢٥٤

عملونو سوچ اوکړه دا ضروری نده چې په کوم عمل کښې ئې ته قیدی کړې ئې نو هغه ګناه د ه. نه هغه به نیکې وی لکه دعوت ددین ورکول ، د الله د قانون مسئله بیانول جهاد کول وغیره نیک اعمال دی خو کیدیشی چې په ژوندون کښې دِ داسې ګناهونه کړی وی چې په هغې الله تعالی ناراضه شوې وی نو د الله تعالی د رضا کولو کوشش اوکړه په خپل ګناه نادم شه.

الله تعالی په تا دومره مهربانه دې چې په زوره باندې ئې ځان ته کښینولې تاسره هسې د خپلې غلطۍ او د ګناه احساس نۀ کیدلو نو الله تعالی درپسې کسان در اولیږل او د لاسونو ئې اوتړلې په زنځیرونو کښې ئې ځان ته کښینولې اوس ئې رضا کړه. داسې ورځ راروانه ده چې هغې کښې که څوک الله تعالی په خُلا کوی نو کولې نشی نن په دنیا کښې الله تعالی په دوو اوښکو رضا کیږی بیا که قیامت کښې د اوخکو په ځائ د سترګو نه وینې توئ کړې نو الله تعالی نۀ رضا کیږی څومره عمر او څومره موده مو ګناهونه کړې دی او الله تعالی راله رزق راکولو د خپل در نه ئې شړلی نۀ یو نن مونږ چې هغه راباندې فضل اوکړو او ځان ته ئې کښینولو او لاس ئې راله اوچت کړو نو مونږ زر وایو څمونږ نۀ اوری او څمونږ توبه نۀ قبلیږی الله تعالی ګنانونه معاف کوی توبه قبلوی.

قُلْ يَٰعِبَادِيَ ٱلَّذِينَ أَسْرَفُواْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُواْ
مِن رَّحْمَةِ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَغْفِرُ ٱلذُّنُوبَ جَمِيعًاۚ إِنَّهُۥ

هُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٥٣﴾ [1]

" اووایه ! چې اې ځما بندیانو هغه کسانو چې زیاتې ئې کړې دې په خپلو ځانونو د الله تعالی د مهربانئ نه مهٔ ناامیده کیږئ . یقینا الله تعالی معاف کوی ګناهونه ټول . بې شکه او یقینی خبره ده چې هم هغه دې بخښنه کونکې او مهربانه ."

چې کله الله رب العزت آدم عليه السلام پیدا کړو او شیطان د سجدې نه انکار اوکړو نو شیطان دا اووئیل چې تر څو پورې د دوئ روحونه په بدنونو کښې وی نو تر هغې پورې به څهٔ دوئ ګمراه کوم نو الله تعالی ورته اووئیل .

وعزتی وجلالی وارتفاع مکانی لاغفرن لهم ماداموا یستغفرونی[2]

"ځما دِ په خپل عزت جلال او په اوچته درجه قسم وی چې څهٔ به دوئ ته بخښنه کوم ترڅو چې دوئ ځما نه بخښنه غواړی "

نو د الله تعالی په دربار کښې نا امیدې نشته دې الله تعالی فرمائی .

وَمَن يَعۡمَلۡ سُوٓءًا أَوۡ يَظۡلِمۡ نَفۡسَهُۥ ثُمَّ يَسۡتَغۡفِرِ ٱللَّهَ يَجِدِ ٱللَّهَ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ﴿١١٠﴾ [3]

"څوک چې بد عمل اوکړی یا په ځان ظلم اوکړی بیا بخښنه اوغواړی د الله تعالی نه نو الله تعالی به بخښنه کونکې مهربانی کونکې بیا مومی "

دا نهٔ وائی چې الله به عزیز، جبار ، قهار ، ذوانتقام بیا مومې چې

---

(۱) الزمر: ۵۳

(۲) الاسماء والصفات للبیهقی ، باب ما جاء فی اثبات العزة لله عزوجل ۳۳۵/۱

(۳) النساء: ۱۱۰

بخښنه اوغواړی نو بخښنه کونکې به ئې اومومی .

سوئ نو امیدی مه رو امیدها است
سوئ تاریکی مه رو خورشید هاست

"د نا امیدۍ په طرف مۀ ځه امیدونه دی . د تیارې په طرف مۀ ځه رنړاګانې او نمرونه دې"

این درگه ما درگه نو امیدی نیست
صد بار اگر توبه شکستی بازآ

" دا د الله تعالی دربار دې نا امیدی پکښې نشته دې . که سل ځله دِ توبه ماته کړې وی نو بیا د الله تعالی دربارته راشه "

چې څۀ وخت توبه اوباسې نو دغه وخت د زړۀ نه په تیرګناه نادم او پښیمانه کیدل داسې چې سم په خپل روح تنګ شی او زمکه پرې تنګه شی . چې کله په ګناه داسې پښیمانه شی نو الله تعالی دۀ توبې توفیق ورکوی لکه قران کریم د کعب بن مالک رضي الله عنه او د هغۀ د ملګرو حال بیانوی .

وَعَلَى ٱلثَّلَٰثَةِ ٱلَّذِينَ خُلِّفُوا۟ حَتَّىٰٓ إِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ ٱلْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ أَنفُسُهُمْ وَظَنُّوٓا۟ أَن لَّا مَلْجَأَ مِنَ ٱللَّهِ إِلَّآ إِلَيْهِ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ لِيَتُوبُوٓا۟ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١١٨﴾ (١)

" او په هغه دریو کسانو چې د هغوئ د توبې د قبلیدو خبره

(١) التوبة: ١١٨

روستو کړېشوې وه . تردې چې په هغوئ زمکه تنګه شوه سره د فراخوالی نه او دوئ په خپلو روحونو او ساهونو تنګ شو (حاصل معنی) او یقین ئې اوکړو چې د الله تعالی د خلاصیدولو ځائ نشته دې مګر د هغه په خوا کښې دې . بیا پرې الله تعالی مهربانی اوکړه او توفیق د توبې ئې ورکړو دوئ لره چې توبه اوباسی . یقینی خبره ده چې صرف الله تعالی دې توبه قبلونکې مهربانه ''

د زړۀ داسې درد دا حقیقی توبه ده چې په ګناه باندې داسې پښیمانه شی چې ځما نه به ځما محبوب الله تعالی ډیر ناراضه شوې وی چې زمکه پرې تنګه شی په خپل ژوند ستومانه شی چې دا به څه ژوند وی چې په هغې کښې د بنده نه محبوب او الله ناراضه وی ، ځکه وائی چې ''الندم توبة '' پښیمانتیا توبه ده داسې خلقو له الله د توبې توفیق ورکوی او د داسې خلقو توبه قبلوی . ځکه وائی چې '' ثم تاب '' د توبې توفیق هم الله ورکړو چې ''لیتوبو'' او قبوله هم الله تعالی کړه ځکه وائی چې ''ان الله هو التواب'' دا معنی ده د الاول والآخر د نیک عمل توفیق ورکونکې هم الله او بیا قبلونکې هم الله تعالی دې . ورسره دا عزم کول چې اې الله تعالی آئنده کښې مې د ګناه نه اساته فی الحال بندیدل او آئنده اراده د عدم عود چې بیا به نۀ کوم خو په ځان اعتماد نه کول الله تعالی ته دا درخواست کول چې ځما نفس ډیر حریص دې شیطان لوئ دشمن دې که تۀ مو بچ نۀ کړی نو نشو بندیدلې

آں درویشے کوتاہ دست | کہ شب توبہ کرد وسحرگاہ شکست
اگر او توبہ بخشد بمانند درست | کہ پیمان ما بے ثبات است وسست

"هغه یو فقیر غریب لنډ لاسي د شرم نه لاس نشو اوړدولې چې د شپې به ئې توبه اوکړه او سحر به ئې ماته کړه نو وې وئیل که الله تعالی د صحیح توبې توفیق راکړی او توبه راته نصیب کړی نو ډیره صحیح به شی ګنی نو ځمونږ وعده او لوظ د ټینګې ندې"

یو ستومانه کیدل د ګناه په نحوست او سپیرۀ توب دی چې ذلیله شوم په قید کښې شوم خوراک مې ښۀ ندې د مخلوق غلام شوم دویم د الله تعالی په نافرمانۍ چې ځما نه د الله تعالی حکم پاتې شوې دې هغه رانه ناراضه شوې دې او ځۀ د هغۀ نه لرې شوې یم ، اصل توبه دا دویم نمبر ده اوله خو په ځان پریشانه کیدل او خفه کیدل دی چې د ځان په راحت مئین ئې نو دا چې تکلیف ختم شې نو بیا توبه نشته دا خو داسې ده چې " نۀ وی نو توبه د بدو او چې ملاؤ شی نو حمله په بدو"

نو اې قیدي روره ! د خلې د توبې نه د زړۀ توبه اوباسه دا قید او تکلیف دې د الله تعالی د طرفه قاصد او استاذی اوشمیره او الله تعالی ته توبه اوباسه مصیبت به هم ختم شی او آخرت به دې هم جوړ شی . چې صرف په خلې توبه وی او د زړۀ نه نۀ وی او په زړۀ کښې د ګناه جوش وی نو دا توبه توبه نده

معصیت را خنده ے آید زاستغفارما
توبہ برلب سبحہ بر کف دل پر از ذوقِ گناہ

"په شونډو توبه او تسبیح په لاس زړۀ د ګناه د جوشه ډک وی نو هغه ګناه ځمونږ په توبې پورې خاندې چې مړه توبه لا داسې وی"

او چې کله توبه توبه کوی او د ګناه نه بندیږی نه لکه د ږیره خریلی توبه یا د فلم کتونکی چې هم ږیره خروی او هم فلم ګوری ناست دې او وائی چې توبه خدایه توبه نو دا ټوقی دی.

التوبة بلا اقلاع توبة الکذّابین

"توبه بغیر د بندیدلو د ګناه نه توبه د دروغژنو خلقو ده "

التوبة بلا اقلاع کالمستهزئ بربّه

"توبه بغیر د ګناه د بندیدلو نه داسې ده چې لکه په الله تعالی پورې ټوقې کوی "

چې کومو خلقو سره احساس وی نو هغوئ لره په هرڅه کښې عبرت وی . یو عالم وفات کیدلو نو په کاغذ ئې دا لاندې شعرونه اولیکل چې دا به ماسره په کفن کښې کیږدئ نو هغهٔ د خپل مرګ د حالاتو نه هم توبه جوړه کړې ده .

الٰهی تیرے رحمت کا امیدوار آیا ہوں — کفن میں چہرا ڈھانپ کے شرمسار آیا

گناھوں کا بوجھ تھا اتنا کہ چل نہ سکا پیدل — اسلئے تو کندوں پہ سوار آیا ہوں

الله تعالی ته داسې عاجزی کوه او داسې معافی غواړه

اللّٰهُمَّ انی ظلمت نفسی ظلما کثیرا وانه لا یغفرالذنوب الّا انت فاغفرلی مغفرة من عندك انك انت الغفور الرحیم[1]

" اې ربه مې ! یقینی خبره ده چې زیاتې مې کړې دې په خپل ځان زیاتې ډیر زیات او یقینی خبره ده چې نهٔ بخښې ګناهونه بغیر ستانه هیڅوک نو بخښنه راته اوکړه داسې بخښنه چې ستا د طرفه وی (ستا فضل وی ځهٔ ئې مستحق او لائق نهٔ یم ) او مهربانی

(۱) صحیح البخاری ، باب الدعاء فی الصلوة ۷۲/۸

راباندی اوکړه (ائنده مې د ګناه نه اوساته ) یقینی خبره ده چې تۀ ئې بخښنه کونکې او مهربانه"

**اللّٰهُمَّ انت ربي لا اله الا انت خلقتني و انا عبدك وانا على عهدك ووعدك ما استطعت اوعوذبك من شرّ ما صنعت ابوء لك بنعمتك عليّ و ابوء بذنبي فاغفرلي فانه لا يغفر الذنوب الا انت[1] .**

"اې الله تعالی ! ستا نه علاوه بل د عبادت لائق نشته دې ، تا څۀ پیدا کړې یم او څۀ ستا بنده یم او ستا د بندګئ او د خدائتوب په اقرار او لوظ کلک یم تر څو چې مِ وس او طاقت وی . څۀ پناه نیوم او ځان ساتم په تاسره د شر د هغه عمل نه چې ما کړی دی او ماته خپل جرمونه او ګناهونه معاف کړه او یقینی خبره ده چې نه معاف کوی جرمونه بغیر ستا هیڅوک "

دې دعاء ته په حدیثونو کښې " سیدالاستغفار" وائی . او دا ئې فضیلت دې چې څوک دا دعاء سحر او ماښام وائی نو الله تعالی ئې ټول جرمونه معاف کوی .

**اللّٰهُمَّ اغفرلي وللمؤمنين والمؤمنات والمسلمين والمسلمات الاحياء منهم والاموات .**

## یویشتمه فائده د نیک عملونو موقع ملاویدل

اې قیدی روره ! الله تعالی درله موقع او وخت درکړو د نیک عمل

(۱) صحيح البخاری ، باب افضل الاستغفار ۸/۶۷

دپاره ئې فارغه کړی د ضروریاتونه درله زړۀ اوزګار د ډوډۍ غم دې په بل چا دې دغه شان د بسترې او د جامو ټول ضروریات دِ په پردو خلقو دی خپل ضرورت پوره کوه په فضولو سوچونو او خبرو باندې خپل وخت او مازغۀ مۀ خرابوه جناب رسول الله ﷺ فرمائی.

نعمتان فیه مغبون کثیر من الناس الصحة والفراغ[1]

''دوه نعمتونه دی چې په هغې کښې ډیر خلق تاوانی دی یو صحت یعنی ښۀ بدن دویم فارغیدل اوزګارتیا''

قیدی روره الله تعالی دربandې دواړه نعمتونه کړی دی الله تعالی درله صحت هم درکړې دې الحمد لله اوایه که بیمار ئې نو هم شکر اوباسه کیدیشی ستا نه سخت بیماران وی اوبل که بیمار ئې سخت نو مطالبه درنه نشته دې دویم فارغ ئې دا وخت ډیره قیمتی ملغلره ده پدې فارغیدلو پسې یوه ورځ به ارمان اوکړی دا ستا ډیر سخت امتحان دې که دا وخت دې دغه شان پریخودلو نو داسې به شی لکه تیز ګاډی موټر چې په چړهایۍ باندې مخ په ښکته روان وی او ډرائیور چلونکې پکښې نۀ وی نو هسې تۀ اووایه چې څۀ به کیږی او څه به ترې جوړیږی.

هر قیدی پدې انتظار باندې دې چې نن بس اوځم او نن خلاصی او رهائی راځی پدې سره ډیروخت ضائع شی نۀ نیک عمل اوکړی نه خپل وخت قیمتی کړی پدې انتظارونو سره جیلی رور سم لیونې شی داسې ندی کول پکار بلکه چې لږه موقع درته ملاؤ شوه هغه قیمتی

---

(۱) بخاری: باب لاعیش الاعیش الآخرة، ۸/ ۸۸

کړه.

چې څنګه درته موقع ملاؤ شوه نو وخت له دیکې مهٔ ورکوه چې صبا به شی صبا به شی دې سره شیطان ستا وخت ضائع کوی بس پاسه مونځ کوه تلاوت کوه ، تسبیحات کوه ، ذکر کوه ، مطالعه کوه لیکل کوه یا بل چاته څه ښایه اوزګار مهٔ کښینه . صبا به دِ خلق تعریف کوی دا کوم خلق چې غټ تیر شوی دی نو دا ځکه چې هغوئ خیل وخت ندې ضائع کړې

ځنې هغه اعمال چې د هغې موقع په جیل کښې خصوصی طریقې سره ملاویږی .

غافل تجھے دیتا ہے گھڑیال منادی
کہ تو کچھ نہ کرسکا عمر فضول گھٹا دی

## دوه ویشتمه فائده په مونځ سره مدد غوښتل

ګرانه قیدی روره ! چې کله هم درته په جیل کښې څهٔ پریشانی راغله ، غمونه دې زړهٔ ته راغلهٔ ، یره دربانډې راغله نو فورا مانځهٔ طرفته متوجه کیږه . الله تعالی به درته راحت نصیب کړی .

وَٱسۡتَعِينُواْ بِٱلصَّبۡرِ وَٱلصَّلَوٰةِۚ ﴿٤٥﴾ (۱)

" او مدد اوغواړئ د الله تعالی نه په کلکیدو او په مانځهٔ سره "

او الله به څنګه راحت او د زړهٔ سوړ والې نهٔ درکوی چې نبی علیه

---

(۱) البقرة: ٤٥

السلام ورته راحت او آرام وئیلی دی .

ارحنا بها یا بلال[۱]

" اې بلال مونږ له په مانځۀ باندې ارام راکړه "

وجعلت قرة عینی فی الصلوة[۲]

"او ګرځولې شوې دې ځما د سترګو سوړ والې په مانځه کښې "

دا هم حدیث کښې راځی چې په نبی علیه السلام به څۀ پریشانی راغله نو فورا به مانځۀ ته متوجه شو .

مونځ د غمونو او پریشانو آبادۍ نړونکې دې د ناکامۍ او د افسوسونو شړونکې دې ستا د ټولو مشکلاتو حل کونکې دې او په هر خیر کښې ستا مدد کونکې دې .او د هر شر نه دې لرې کونکې دې .

په شریعت کښې د یرې په وخت کښې هم د مونځ د پریخودلو اجازت نشته بلکه د مونځ طریقه ئې خودلې ده چې صلوة خوف ورته وئیلې شی دا ځکه چې د یرې په وخت کښې د زړۀ تسلی شی او په مونځ ګذار باندې د آرام او تسلۍ څادر راوړوی او د هرې یرې دپاره دوائی او دارو شی .

کوم وزیر او ګورنر چې دا کتل غواړی چې د بادشاه په نظر کښې څۀ څومره درونډ یم نو اودی ګوری چې بادشاه ورته کوم کار حواله کړې دې ؟ او په کوم یو کار ئې مصروفه کړې دې ځنې خلق د بادشاه د څاروو خدمت کوی څوک د پټی څوک د جامو څوک د بادشاه خاص خلق وی نو اوګوره چې الله تعالی ځان ته اودرولې په خپل

(۱) مشکل الاثار، باب بیان مشکل ما روی عن رسول الله صلی الله علیه سلم ۱۴/ ۱۶۷

(۲) سنن نسائي باب حب النساء ۷/۶۷

دربار كښې ئې كښېنولې مونځ لوئ مقام لرې.

## دريشتمه فائده تهجد

نو قيدى روره! خپل وخت په اهم عبادت چې مونځ دې په هغې كښې صرف كړه او وخت د ضائعه كيدلو نه بچ كړه.

چې يو بنده الله تعالى ته ځان نزدې كول غواړى نو په فرائضو باندې به ځان نزدې كوى د فرائضو نه بهتر څيز د الله د نزديكت نشته دې د فرائضونه روستو نوافل دى د هر څيز نفلونه بهتر دى كه د زكواة وى كه دحج كه د روزې خو نفل د مونځ د ټولو نه بهتر دى.

ٱلَّذِينَ هُمۡ عَلَىٰ صَلَاتِهِمۡ دَآئِمُونَ ﴿٢٣﴾ (١)

"اوهغه كسان چې هغوئ په خپلو مونځونو هميشوالې كوى"

عالمان ددې يوه معنى دا هم چې په مونځ كښې هميشه وى يعنى ډير مونځونه كوى لكه مولانا رومى وائې.

په نفلونو كښې د ټولو نه ډير د فضيلت والا هغه تهجد دى د قيدى رور سره د ټولو نوافلوفرصت شته دې د اشراق ، چاشت، ماښام د مانځه روستو دغه شان د مونځونو نه مخكښې روستو نوافل دا ټول د قيدى سره فرصت شته پكار ده ه پدې عبادتونو كښې خپل وخت صرف كړى. تش په خوبونو باندې دې خپل وخت نهٔ ضائع كوى.

تيقظ من منامك يا غفول　　فنومك بين رمسك قد يطول
تأهب للمنية حين تغدو　　عسى تمسى وقد نزل الرسول

---

(١) المعارج: ٢٣

”ویخ شه او بیدار شه د خوب نه اې غافله په قبر کښې به دې خوب اوړد شی ، چې سحر کړی نو مرګ له تیارې شروع کړه کیدیشی چې ماښام شی او د مرګ استاذې دِ راشی “

الله تعالی دربانديې فضل کړې دې او فرصت ئې درکړې دې نو دا فرصت او وخت غنیمت اوګڼړه او د شپې الله تعالی سره راز باز کوه د شپې مونځ خپل عادت اوګرځوه د شپې مونځ د نیکانو عادت اوخوئ دې .

وَٱلَّذِينَ يَبِيتُونَ لِرَبِّهِمۡ سُجَّدٗا وَقِيَٰمٗا ﴿٦٤﴾ (١)

”او هغه کسان چې شپه تیروی خپل رب ته سجده کونکی او اودریدونکی “

كَانُواْ قَلِيلٗا مِّنَ ٱلَّيۡلِ مَا يَهۡجَعُونَ ﴿١٧﴾ (٢)

”او دوئ په لږه حصه د شپه کښې ډېره لګوی “

تَتَجَافَىٰ جُنُوبُهُمۡ عَنِ ٱلۡمَضَاجِعِ يَدۡعُونَ رَبَّهُمۡ خَوۡفٗا وَطَمَعٗا ﴿١٦﴾ (٣)

”او لرې کيږی ډډې د دوئ د ځائ د اړخ لږولو نه رابلی خپل رب په یره او طمع “

نبی عليه السلام فرمائیلی دی

عليكم بقيام الليل فانه دأب الصالحين قبلكم وقربة الله تعالى ومنهاة عن الاثم وتكفير للسيئات(٤)

(١) المعارج: ٢٣

(٢) الذاريات: ١٧

(٣) السجدة: ١٦

(٤) سنن ترمذی ، باب ١٠٢ ، ٤٤٥/٥

"په تاسو د شپې د مونځ عادت نیول پکار دی دا د نیکانو عادت دې چې کوم ستاسو نه مخکښې وو ، الله تعالی ته د نزدې کیدلو ذریعه ده . او د ګناه نه بندونکې دي او ګناهونه ختمونکې او معاف کونکې دې ."

افش السلام واطعم الطعام وصل اللیل والناس نیام وادخل الجنة بسلام[1]

"سلام خور کړه او خوراک اوخروه او د شپې مونځ کوه چې خلق اودۀ وی او جنت ته دننه شه په سلامتیا سره"

د حسن بصریرح نه چا تپوس اوکړو چې دا څه وجه ده چې تهجد کونکې خلق په ټولو خلقو کښې ښائسته وی نو هغۀ ورله جواب ورکړو چې دا ځکه چې دوئ د شپې د مهربان بادشاه سره یواځې شوې وی نو هغۀ ورته نور اغوستولې وی .

سلیمان دارانی رحمه الله تعالی فرمائی

اهل اللیل فی اللیل الذّمن اهل اللهو فی لهوهم ولولا اللیل ما احببت البقاء[2]

" چې د شپې واله په شپه کښې ډیر خوند حاصلونکی دی د عبثو لولو والو نه په خپلو لوبو کښې او کچرته شپه نۀ وی نو ما به ژوندی پاتې کیدل نۀ وو خوښ کړی "

د نفس اصلاح دپاره د شپې پاسیدل ډیره قیمتی نسخه ده .

إِنَّ نَاشِئَةَ ٱلَّيۡلِ هِيَ أَشَدُّ وَطۡـٔٗا وَأَقۡوَمُ قِيلًا ۝٦ [3]

---

(۱) المستدرك علی الصحیحین للحاکم , واما حدیث عمر١٤٤/٤

(۲) المجالسة وجواهرالعلم ، باب الجزء الاول ٤٧٣/١

(۳) المزمل:٦

" یقینی خبره ده چې د شپې پاسیدل دا ډیر سخت دی د نفس په پائمال کولو کښې او ډیر درست دی په وینا کښې "

د شپې یو الله وی او بنده وی د زړهٔ او د خلې خبره هم یو وی او الله تعالی سره راز باز د روح ارتقاء لویو منازلو ته پدې کیږی . خپلو منازلو ته او مقاصد رسائی هغه په تهجدو کیږی .

نبی ﷺ فرمائی

من خاف ادلج ومن ادلج بلغ المنزل الا ان سلعة الله غالیه الا ان سلعة الله الجنة[1]

" څوک چې یریږی نو وختی پاسی په تیارهٔ کښې او څوک چې په تیارهٔ کښې پاسی نو هغه خپل منزل ته رسی یقینا د الله تعالی سودا ډیره قیمتی ده او یقینا د الله تعالی سودا جنت دې"

استعینوا بالغدوة والرّوحة وشئ من الدلجة ...[2]

" د الله تعالی نه مدد اوغواړئ د سحر او ماښام په عبادت سره او څه حصه د تیارهٔ کښې "

لقمان حکیم صاحب خپل ځوئ ته نصیحت کوی نو فرمائی

یابنیّ لا یکن الدیك اکیس منك ینادی بلیل وانت نائم

"اې بچیه ! بانګی دِ ستا نه هوښیار نشی چې هغه د شپې چغې وهی او تهٔ اودهٔ پروت ئې .

چلاسی بابا فرمائی

دلا بر خیز سامان سفر کن نه بینم وقت قصه مختصر کن

---

(۱) سنن ترمذی باب ۱۸ جزء ٤ صفحه ۲۱٤

(۲) کشف الخفاء حرف المیم ۲/۲۸۵

اگراز آفات راه خود بترسی    رفیق راه فریاد سحر کن

"اې زړګیه ! پاسه او د سفر سامان اوتړه . وخت نه وینم خبره لنډه وه . که د لارې د آفتونو نه یواځې یریږې نو د پښمنی ژړا د ځان سره ملګرې کړه"

نو اې قیدی روره ! دا فرصت مهٔ ضائع کوه دا وختونه او فرصتونه بیا بیا نهٔ راځی دا ستا د قید فائده دا عادت د ځان سره واخله او بهرئې هم خپل کړه د الله او د نبی ﷺ محبوب به شې.

ګــل ژړلــی وی پـه بـاغ کښــې ټوله شـپه بیـداروی
ســحر ئــې ځکــه ښــکلوی بوراګــان مــخ
کــه پــه مــخ بانــدې د یــار شــوندې پــیرزو وی
نــو د شــپې اووینځــه د اوښــکو پــه بــارن مــخ
نــو اې متینــه تــش وئیــل بــل تــه ښــهٔ نــدی
لــږ د عمــل شیشــه کښــې اوګــوره د ځــان مــخ

اقبال هم وئیلی دی .

عطار ہو رومی ہو رازی ہو غزالی ہو
کچھ ہاتھ نہیں آتا بے آہ سحرگاہی

## څلیرشتمه فائده ددعاء قبلیدل

اې د جیل په تیارو کښې بې یار ومددګاره بې اسرې روره ! کله ستا زړهٔ ته راشی چې هیڅوک مې نشته چې د چا هیڅوک نهٔ وی نو د هغهٔ الله تعالی وی نه ځان ته سوچ اوکړه چې تهٔ څوک ئې د الله تعالی

ددین د وجې نه قیدې شوې ئې ، ښکلې مسلمان ئې ، مظلوم ئې ، بې اسرې ئې هیڅ ظاهری اسره نۀ لرې دا ټولې علامې د قبلیدلو د دعاء دی الله تعالی دې دعا قبلوی .

یو فی سبیل الله ئې د الله تعالی په لاره کښې ئې "واوذوا فی سبیلی "د الله تعالی د لارې او ددین قیدی ئې او چې څوک فی سبیل الله وی نو د هغۀ دعاګانې قبلیږی . ددې په حدیثونو کښې بیان راغلې دې چې څوک فی سبیل الله دی نو د هغۀ دعاګانې قبلیږی .

دویم دا چې مسلمان ئې الله تعالی وئیلی دی

وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ ﴿١٨٦﴾ (١)

"چې څه وخت تپوس اوکړی ستا نه ځما بندیان ځما باره کښې نو ځۀ نزدې یم ، قبلوم بلنه د بلنه کونکې کله چې ځما نه اوغواړی"

وَيَسْتَجِيبُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ ﴿٢٦﴾ (٢)

"قبلوی الله تعالی هغه کسانو له چې هغوئ ایمان راوړې وی او عمل کوی نیک "

دریمه دا چې تۀ مضطر ئې یعنی بې اسرې ئې په زنځیرانو کښې تړلې شوې ئې . په دروازو کښې دننه ئې ، د مخلوق نه دِ امیدونه کټ دی هیڅوک تاته رسائی نشی کولې چې د ظاهری اسبابو په لحاظ سره ستا مدد اوکړی . نو اوس تۀ مضطَر او بې اسرې ئې نو هغه چاته لاس

(١) البقرة: ١٨٦

(٢) الشورى: ٢٦

اوچت کړه چې هغه د بې اسرو اسره ده او غمژن ورته لاس اوچتوی کائنات هغۀ ته محتاجه دی او هغه د حاجتونو دربار دې او ټول مخلوق ترې خپل حاجتونه غواړی .

أَمَّن يُجِيبُ ٱلۡمُضۡطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكۡشِفُ ٱلسُّوٓءَ ﴿٦٢﴾ (١)

"ای هغه څوک چې قبلوې بلنه د مجبوره او د بې اسرې او لرې کوی تکلیفونه "

چې کله ورته لاس اوچت کړی نو مدد به راځی ، تکلیفونه به لرې کیږی ، د غمونو نه به نجات راځی ، روک به پیدا شی ، بیمار به ښۀ شی او ګمراه ته به هدایت اوشی .

خلورمه دا چې تۀ مظلوم ئې او د مظلوم دعاء الله تعالی نۀ رد کوی

واتق دعوة المظلوم فانه ليس بينها وبين الله حجاب(٢)

"او ځان ستاته د خیرو او بد دعاء د مظلوم نه ددۀ او د الله تعالی تر مینځه پرده نشته دې "

قیدی روره ! سوچ اوکړه چې کله دربانديې مصیبتونه زیات شو فکرونه بیسیاره شو نو هغه ذات طرفته توجه اوکړه چې د هر چا تعلق به کټ شی خو د هغۀ تعلق نۀ کټ کیږی د هر چا ور به بند شی خو د هغۀ ور نه بندیږی ."اجیب دعوة الداع . ادعونی استجب لکم" هغه په غوختلو خوشحالیږی .

الله يغضـــــب ان تركـــــت ســـــؤاله

---

(١) النمل: ٦٢

(٢) مسلم .باب الدعاء لى الشهادتين وشرائع ٥٠/١

**وبـــــــنی آدم حـــــــین یســـــــئل یغضـــــــب**

”الله تعالی ناراضه کیږی چې د هغهٔ نه غوختل پریخودلې شی او انسان نه چې کله اوغوختلې شی نو نو ناراضه کیږی او غصه کیږی “

د خپل بابا آدم علی نبینا وعلیه السلام نه عبرت واخله څومره عزتمند دې چې د هغهٔ باره کښې اسجدوا وئیلی شوې دې او ” وعلّم آدم الاسماء“ وئیلې شوې دې او هغه خصوصیت د ”لما خلقت بیدیّ “ لری او دغه شان د ”ونفخت فیه من روحی“ خو چې کله ترې کمې او کوتاهې اوشو نو دغه څیزونو فائده اونکړه فائده ژړا او فریاد کړې ده . چې ” ربنا ظلمنا “ پدې فریاد الله تعالی نور هم غوره کړو ..

نو اې قیدی روره ! الله تعالی قبلونکې دې نو اوغواړه ترینه او خپل وخت مهٔ ضائع کوه . کله شیطان وسوسه غورځوی چې مونږ غواړو او قبلیږی نه . نو دا فکر مهٔ کوه غوختل ستا کار دې او قبلول د الله تعالی کار دې نو خپل کار کښې کمې مهٔ کوه او د الله کار کښې ګوتې مهٔ وهه . بیا هم جوابونه واوره . اول دا چې څمونږ غوختو کښې به فرق وی د الله وعدو کښې فرق نشته دې خو څمونږ غو ختل په شرطونو او په ادابو ندی فرق خو څمونږه دې . دویم دا چې څمونږ دا غوختل او دعاء د الله تعالی خوښه ده چې مونږ له راکړی نو مونږه بیا نهٔ غواړو نو دا چې مونږ د الله تعالی په دربار کښې ناست یو نو دا ناسته څمونږ د الله تعالی خوښه ده د څنې ماشوم ژړا د مور خوښه وی . دریمه دا چې دعاء خو افضل عبادت دې

الدعاء مخ العبادة[1]

"دعاء د عبادت مغز دې او د عبادت اصل دې "

لا شئ على الله اكرم من الدعاء[2]

"په الله تعالى د دعاء نه ګران او عزتمند څیز بل نشته دې "

نو ځمونږ خپل حاجت سره څه کار عبادت خو اوشوکنه د عبادت دپاره خو داسې نده چې راله راکوی نو کوم او که نۀ راکوی نو نۀ به کوم دا خو منافقت دې .

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَعۡبُدُ ٱللَّهَ عَلَىٰ حَرۡفٖۖ فَإِنۡ أَصَابَهُۥ خَيۡرٌ ٱطۡمَأَنَّ بِهِۦۖ وَإِنۡ أَصَابَتۡهُ فِتۡنَةٌ ٱنقَلَبَ عَلَىٰ وَجۡهِهِۦ خَسِرَ ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةَۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡخُسۡرَانُ ٱلۡمُبِينُ ﴿١١﴾ [3]

"او ځنې د خلقو نه هغه څوک دی چې عبادت کوی د الله تعالى په یو طرف (او په شک ) که اورسیږی دۀ ته فائده نو دې زړۀ سوړ کړی په عبادت او که اورسیږی دۀ ته تکلیف او مصیبت نو واوړی دې په مخ باندې ، تاواني ئې شو دنیا او آخرت ، هم دا دې تاوان ښکاره "

مسلمان د الله تعالى عبادت کوی په هرحال کښې اوغواړی د الله تعالى نه هرحال کښې که ورته ملاویږی که نه خو د الله نه یریږی .

نبی عليه السلام فرمائی

يستجاب لاحدكم مالم يعجل يقول دعوت فلم يستجب

---

(۱) سنن ترمذی ، جزء ۵ ، ۱. باب ماء جاء فی فضل الدعاء

(۲) اخرجه الترمذی ۳۳۷۰ ، وابن ماجه ۳۸۲۹

(۳) الحج: ۱۱

لی .... (۱) (بخاری ) وفی روایة الترمذی قالوا یا رسول الله
وکیف یستعجل ؟ قال یقول دعوت ربی فما استجاب لی(۲)
”چې الله تعالی د بنده دعاء قبلوی تر څو چې دې تلوار او تادی
اونکړی “” صحابو تپوس اوکړو څنګه تلوار نبی ﷺ ورته
اوفرمائیل چې تلوار داسې چې دې وائی چې بس ماله نۀ قبلوی “

یابم او را یا نه بم جستجوئ ے کنم
ے شنود یا نه شنود من طلبش ے کنم

”که هغه راته ملاویږی او که نه څه به ورپسې ګرځم او طلب به
ئې کوم . که څما منی او که نه خو څۀ به ئې ترینه غواړم “

نو دعاء عبادت دې نو که تانه خپل ضرورت ملاؤ نشو نو درخو دې صحیح نیولې دې عبادت خو اوشو کنه .

**څلورم جواب** دا دې چې مونږ فورا غواړو او په هغې کښې وخت وی الله تعالی څمونږ په حال ښۀ پوهیږی مونږ چې څه غواړو هغه مونږ له فی الحال او سمدستی مناسب نۀ وی لږ وخت پس مونږ د هغې جوګه او لائق شو نو بیا ئې راکړی لکه ماشوم د مور نه مرچ غواړی مور ئې نۀ ورکوی خو چې کله لوئې شی نو بیا مور په خپل راوړی او په ساګ باندې ورته مرچ دوړوي . نو الله تعالی ئې راکوی په هغه وخت کښې چې الله تعالی ته مناسب ښکاری ..

---

(۱) صحیح البخاری ، باب یستجاب للعبد مالم یعجل ۷٤/۸
(۲) سنن ترمذی ، باب ۱۳٦ ، ٤۷۷/۵

﴿وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ وَأَنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ٢١٦﴾ (١)

"الله تعالی پوهیږی او تاسو نه پوهیږئ"

**پنځم جواب** کله الله تعالی د هغې نه ښۀ څیز راکړی ځمونږ ورته فکر نۀ وی د هغه څیز نه ښۀ څیز راکړی مونږ غوختلې نۀ وی او رائې کړی لکه د قران علم او حفظ نصیب کړی مونږ رهائی غواړو هغه روحانی او دینی ترقی نصیب کړی.

**شپږم جواب** کله الله تعالی د هغې په ځائ مصیبت لرې کړی مونږ د پنځو روپو غواړو الله تعالی د لکهونو نقصان، بیمارۍ، تکلیف، ایکسیډنټ وغیره نه مونږ محفوظ کړی دا هم د هغه دعاء اثر وی. نو مونږ وایو قبوله نشوه پکښې نه هغه قبوله وی خو په بله طریقه.

**اووم جواب** دا دې چې په آخرت کښې به د هغې د دعاګانو اجر راکړی چې کومې نۀ وی قبولې شوی لکه حدیث کښې راځی چې د قیامت په ورځ کله الله تعالی د یو بنده تول کوی نو د نیکو چابرې به سپک شی بنده به پریشانه شی چې خراب شوم ناځاپئ کښې به د وریځو یو غوړوسکې راشی او دنیکو په تله کښې به کیښودلې شی نو د نیکو طرف به دروند شی دا بنده به وائی چې اې الله تعالی دا کومې نیکئ دی دا خو ماندی کړی. الله تعالی به ورته اووائی چې دا ستا هغه دعاګانې دی چې تا غوختلې وی او ما ددې بدله نۀ وه درکړی یعنی نا قبول شوی دعاګانې دی دغه وخت به دا بنده اووائی چې ارمان چې ځما یوه دعا هم نۀ وه قبوله شوې. نو دعاء د الله تعالی په دربار کښې

---

(١) البقرة: ٢١٦

بې ځايه نۀ ځی خو غوختل غواړی .

خو غوختل په ادب او احترام او په شرطونو سره پکار دی.

هر چیز سبب مسبب سے مانگ
ادب سے منت سے خوشامد سے مانگ

د دعاء په ادابو کتابونه ليکلی شوی دی خو لنډ دا چې د الله نه غواړی نو په ادب اوغواړه د الله تعالی صفتونه اوکړه په نبی علیه اسلام درود اول او آخر کښې اووایه خپل حاجت چې غواړی نو مخکښې ترې د الله تعالی نعمتونه ذکر کړه . او ژاړه که ژړا نۀ درځی نو شکل د ژړا جوړ کړه جائز سوال کوه نا جائز څيزونه او د ګناه څيزونه مۀ غواړه د الله تعالی در مۀ پريږده او وخت د قبولیت تلاش کوه .

تنگدستی کے عالم میں میں جو گھبراتا ہوں پردر غیر پہ جاتے ہوئے شرماتا ہوں
ہاتھ پھیلانے میں محتاج کو غیرت کیسی شرم اتنا ہے کہ بندہ تیرا کھلاتا ہوں

نو قيدی روره ! ځان له ددنيا او د اخرت حاجتونه اوغواړه خائسته موقع الله تعالی د قبولیت درکړې ده په فضولو خيرو وغيره ئې مۀ ضائع کوه .

## پنځويشتمه فائده مشغولتيا د علم نافع

د شريعت علم لوئ دولت دې الله تعالی په خپل پيغمبر باندې د علم احسان زبادلې دې .

وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُن تَعْلَمُ ... ﴿۱۱۳﴾ (۱)

"او پوهه درکړې ده تالره د هغه شریعت چې ته په هغې باندې نهٔ پوهیدلې"

علم نور دې د عقل او بصیرة دپاره او د روح دپاره ژوند دې او د درجاتو د اوچتیدلو ذریعه ده.

يَرْفَعِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مِنكُمْ وَٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ دَرَجَٰتٍ ﴿۱۱﴾ (۲)

"اوچتوی الله هغه کسان چې ایمان ئې راوړې دې او خاص کر هغه کسانو له چې ورکړې شوې دې ورله علم درجې"

العلـــــم یرفـــــع بیتـــــا لا عمـــــادله

والجهـــــل یهـــــدم بیـــــت العـــــز والشرـــــف

"علم اوچتوی او پورته کوی داسې کور چې د هغې ظاهری ستنې نهٔ وی. او جهل او ناپوهی نړوی کور د عزت او شرافت"

جناب رسول الله ﷺ ته الله تعالی د علم د زیاتیدلو د دعاء تلقین کړې دې چې

وَقُل رَّبِّ زِدْنِى عِلْمًا ﴿۱۱٤﴾ (۳)

"وایه تهٔ چې وه ربه مِ زیات کړې مالره علم"

موسی علیه السلام کلیم الله دې د علم دپاره سفر کوی او په هغې کښې سترې او تکلیف برداشت کوی اوږې شوې هم دې سترې شوې هم

(۱) النساء: ۱۱۳

(۲) المجادلة: ۱۱

(۳) طه: ۱۱٤

دې .

ءَاتِنَا غَدَآءَنَا لَقَدۡ لَقِينَا مِن سَفَرِنَا هَٰذَا نَصَبٗا ﴿٦٢﴾ (١)

"څمونږه د سحر هغه خوراک راوړه یعنی خبره ده چې پدې سفر څمونږه کښې مونږ د ستړی والی سره ملاؤ شو"

قُلۡ هَلۡ يَسۡتَوِي ٱلَّذِينَ يَعۡلَمُونَ وَٱلَّذِينَ لَا يَعۡلَمُونَۗ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ﴿٩﴾ (٢)

"اووایه چې آیا برابر دی هغه کسان چې هغوئ پوهیږی او هغه کسان چې هغوئ نهٔ پوهیږی"

یعدّ رفیع القوم من کان عالما وان لم یکن فی قومه بحسیب
وان حلّ ارضا عاش فیها وما عالم فی بلدة بغریب

"په قوم کښې چې کوم عالم وی نو هغه اوچت وی اګر که د نسب والا نهٔ وی . او کچرته بهر یو علاقې ته لاړ شی نو د خپل علم د وجې نه هلته وخت تیروی هیڅ یو عالم په هیڅ علاقه کښې مسافر نهٔ وی "

نو علم لوئ دولت دې قران او حدیث کښې د شرعی علم لوئ فضلیت راغلي دې دا خو هسې د نمونې په طور ذکر شو .

نو اې قیدی روره ! که د شریعت علم دِ نهٔ وی کړې نو جیل ښکلې فرصت دې د شریعت علم پکښې شروع کړه ددین طالب العلم به هم شی چې د هغهٔ فضیلت دومره دې چې فرشتې ورته وزرې

(١) الکهف: ٦٢

(٢) الزمر: ٩

غوړوی . نو که داسې کیدې شوه کتابونه ملاویدل او پابندۍ نۀ وې نو موقع غنیمت اوګنړه .

او که چرته قیدی روره تۀ عالم ئې نو دا غنیمت اوګنړه او خلقو ته علم اوښایه کیدیشی داسې شاګردان درته بهر ملاؤ نشی او که داسې نشوه کیدې نو مطالعه اوکړه د تفسیر تاریخ وغیره او هغه ځان سره یاده کړه چې مطالعه اوکړی نو سوچ پکښې اوکړه او خشیت ځان کښې پیدا کړه او که د لیکلو موقع ملاویدله او اجازت وو نو نور علی نور جیل کښې فرصت هم او موانع رکاوټونه هم نۀ وی او د الله تعالی سره تعلق هم زیات وی نو فیض هم زیات وی لږ د اسلافو تاریخ اوګوره چې عالمانو په جیل کښې څومره لیکل کړی دی .

حافظ ابن تیمیة رحمه الله تعالی په جیل کښې ۳۷ جلد فتوی لیکلې ده په مختلفو علومو کښې ده .

امام سرخسی رحمه الله تعالی جیل ته شو نو ۲۵ جلده کتاب المبسوط ئې د امت د فائدې دپاره اولیکلو.

ابن الاثیر نظر بند کړې شو نو جامع الاصول تقریبا ۱۲ جلده او النهابه فی غریب الحدیث ئې اولیکله .

امام احمد بن یحی المقلب بمهدی اووۀ کاله په جیل کښې تیر کړل نو کتاب ئې اولیکلو حدائق الازهار دغه وخت ئې عمر تقریبا یویشت کاله وو . نو دا جیل د مشقت په ځائې ډالۍ اوګنړه په خالص لیمبو کښې خوږه واچوه چې ښکلې شربت ترې جوړ شی .

خو هائۍ افسوس ، نن داسې حاکمان دې چې مسلمانان په

مسلمانانو دومره زیاتی کوی چې عالمانو ته کتابونه نهٔ پریږدی د لیک اجازت نهٔ ورکوی بلکه لیک لویٔ جرم حسابولې شی سبقونو باندې اکثر پابندیٔ وی بس والی الله المشتکی . خو ځه په قران اکثری جیلونو کښې پابندی نهٔ وی .

## شپږیشتمه فائده قرآن کریم

يُؤۡتِي ٱلۡحِكۡمَةَ مَن يَشَآءُۚ وَمَن يُؤۡتَ ٱلۡحِكۡمَةَ فَقَدۡ أُوتِيَ خَيۡرٗا كَثِيرٗاۗ ﴿٢٦٩﴾ (١)

"ورکوی پوهه د قرآن کریم هغه چا ته چې اراده اوکړی الله تعالی او چاله چې ورکړې شوه پوهه د قرآن کریم نو یقینا ورکړیشو دته خیر ډیر زیات "

قُلۡ بِفَضۡلِ ٱللَّهِ وَبِرَحۡمَتِهِۦ فَبِذَٰلِكَ فَلۡيَفۡرَحُواْ هُوَ خَيۡرٞ مِّمَّا يَجۡمَعُونَ ﴿٥٨﴾ (٢)

"اووایه ورته چې په فضل د الله تعالی (قران کریم ) او په مهربانیۍ د هغهٔ (چې تهٔ ئې د قران والا اوګرځولی) نو پدې باندې خوشحاله شیٔ دا قران غوره دې او بهتره دې د هغه څه نه چې دویٔ ئې راغوندوی ."

خیرکم من تعلم القرآن وعلمه(٣)

"تاسو کښې غوره هغه څوک دې چې قرآن کریم زده کوی او بل ته ئې ښائی "

---

(١) البقرة: ٢٦٩

(٢) یونس: ٥٨

(٣) بخاری ، باب خیرکم من تعلم القرآن وعلمه ١٩٢/٦

يا علي تعلّم القران و علّمه فانك ان مت وانت على هذا متّ شهيدا .... [۱]

''اې علی رضی الله عنه ! قرآن زده کوه او نوروته ئې ښايه که پداسې حالت کښې درله مرګ راغې نو شهيد به مړئې''

يا اباهريره تعلّم القران وعلمه فانك ان مت وانت على هذا زارت الملئكة قبرك[۲]

''ابی هريره ! قران کريم زده کوه او نورو ته ئې ښايه که پدې حالت کښې درله مرګ راغې نو فرشتې به ستا د قبر زيارت له راځی .''

جميع الكتب يدرك من قرأها ملال او فتور او سامة

سوى هذاالكتاب فان فيه بدائع لا تملّ الى القيامة

''ټول کتابونه خپل ويونکی ستړی کوی ، سستې پکښې راشی يا ستړې والې يا ستومانتيا، سوی د قران کريم نه چې پديکښې داسې ناشنا ملغلرې دی چې هغه تر قيامته وائی نو ستړی کول نهٔ کوی .''

لا يشبع منه العلماء ولا يخلق بكثرة الردّ[۳]

'' نه مړيږی ددې نه علمان او نه په اړولو را اړولو زړيږی ''

قيدی روره ! بس خپل قيمتی وخت په قيمتی کتاب قران کريم کښې اولګوه که ناظره دِ نهٔ وی وئيلی نو ناظره زده کړه که ناظره دِ وئيلی وی نو حفظ اوکړه ، تجويد اوکړه ،ترجمه زده کړه په قيد کښې بنده غريب

---

(۱) فردوس الاخبار للديلمی

(۲) الاربعون البلدانية لابی طاهر، ۱۵۶/۱

(۳) سنن ترمذی ، باب ماجاء فی فضل القران ۲۲/۵

ډیر هلکان اولیدل چې حافظان شو ډیر بوډها ګان مِ اولیدل چې هغوئ ناظرې زده کړی او ډیرو هلکانو د قران ترجمې اوکړې دا قران د وخت د تیریدلو زبردست کتاب دې مشغولتیا ئې څه ناشنا اجر ئې څه ناشنا دې . عالم له پکار دی چې د مشن ملګری په قران تیار کړی دعوت د عقیدې ورکړی ډیر خلق وی چې د هغوئ عقیدې بربادې وی په نصیحت او خیر خواهئ د هغوئ اصلاح اوکړه په طریقه ترجمه اوکړه چې په قید درته الله تعالی قران کریم نصیب کړو نو نور څه وائې ؟

دا د الله تعالی لوئ فضل دې چې د قران کریم په نسخه په اکثری جیلولونو کښې پابندې نشته دې نو دا بهترین ملګرې دې . نو قران کریم د خپل ژوند مشغل راه کړه او خپل قید پدې اولګوه او چې دې لګولې وی نو الحمد لله تعالی علی ذالك دا خو جیل نشو مدرسه شوه . هسې خو تاته موقع نه ملاویدله . او ددې نه دِ څوک نه بندوی نو سستی مه کوه .

## اویشتمه فائده ځان سپارل (توکل) په الله تعالی

وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ﴿١١﴾ (١)

" او په الله تعالی دِ ځان اوسپاری مومنان "

وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُتَوَكِّلُونَ ﴿١٢﴾ (٢)

"او په الله تعالی دِ ځان اوسپاری (ځان دِ ورته حواله کړی) ځان

---

(١) ابراهیم : ١١

(٢) إبراهیم: ١٢

سپارونکی ''

إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُتَوَكِّلِينَ ﴿١٥٩﴾ (١)

'' يقينی خبره ده چې الله تعالی مينه کوی د ځان سپارونکو سره''

وَتَوَكَّلْ عَلَى ٱلْحَيِّ ٱلَّذِى لَا يَمُوتُ .... ﴿٥٨﴾ (٢)

''اوځان حواله کړه (باور او بهروسه اوکړه ) په هغه ژوندی ذات چې مرګ پرې نه راځی ''

ای اتخذ من لا يموت وكيلا لا يكلك الي من يموت ذليلا(٣)

'' کار ساز جوړ کړه هغه ذات چې مرګ پرې نه راځی نو نه به حواله کوی تا هغه چاته چې په کمزورې حالت کښې پرې مرګ راځی ''

قيدی جانانه ! د قيد او بند په سختو کښې چې هيڅوک دې د مخلوق نه مددګار نه وی او مصيبت دربانديې ډير سخت وی نو دغه وخت ستا زړهٔ پکار ده چې صرف الله تعالی پورې تړلې شوې وی او ځان دهغهٔ مخې ته ارتاؤ کړه د مخلوق نه بالکل نااميدی او زړهٔ د الله تعالی پورې تړل هغه ته ځان غورځول ''دا توکل'' دې رجل مومن څه وائی

وَأُفَوِّضُ أَمْرِىٓ إِلَى ٱللَّهِ ۚ ﴿٤٤﴾ (٤)

''او ځهٔ خپله معامله الله تعالی حواله کوم ''

او خپله معامله الله تعالی ته حواله کول او د هغهٔ په فيصلو رضا

---

(١) آل عمران: ١٥٩

(٢) الفرقان: ٥٨

(٣) مدارك: ٢/٥٤٥

(٤) غافر: ٤٤

کیدل او د هغهٔ په وعدو یقین کول او نیک ګمان په هغهٔ کول او د هغهٔ نه د خوشحالۍ او آسانۍ امید ساتل پدې به دې جیل هم تیریږی او د لویو مقام ته به هم رسې اوګوره خلیل ؑ، حسبی الله وائي جناب رسول الله ﷺ ته تعلیم دې

فَإِن تَوَلَّوْا فَقُلْ حَسْبِيَ اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ ۖ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ ﴿١٢٩﴾ (١)

"نو که دوئ واوړیدل نو ورته اوویا چې (حسبی الله ) پوره دې ماله الله تعالی نشته بل کار جوړونکې (د عبادت لائق ) بې د هغهٔ نه په هغهٔ ځان سپارم او هغه دې مالک د عرش لوئ"

اوګوره یونس ؑ په تیارو کښې ګیر دې او چاته ځان حواله کوی.

وَذَا النُّونِ إِذ ذَّهَبَ مُغَاضِبًا فَظَنَّ أَن لَّن نَّقْدِرَ عَلَيْهِ فَنَادَىٰ فِي الظُّلُمَاتِ أَن لَّا إِلَٰهَ إِلَّا أَنتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنتُ مِنَ الظَّالِمِينَ ﴿٨٧﴾ (٢)

"او مهی والا په هغه وخت کښې لاړوغصه کونکې (د الله دپاره په خپل قوم) او ګمان ئې اوکړو چې مونږ به تنګی رانهٔ ولو په دهٔ باندې نو آواز ئې اوکړو په تیارو کښې چې نشته دې بل د مصیبت نه خلاصونکې بې ستا نه پاک ئې د هر قسم شریک او حصه دار نه او ځهٔ یمه د هغه چانه چې هغهٔ سره کمې وی د خلاصیدلو په اسبابو کښې "

اوګوره لږ صحابه کرام چې سخته پرې راغلې ده نو چاته آواز

---

(١) التوبة: ١٢٩

(٢) الأنبياء: ٨٧

كوى.

ٱلَّذِينَ قَالَ لَهُمُ ٱلنَّاسُ إِنَّ ٱلنَّاسَ قَدۡ جَمَعُواْ لَكُمۡ فَٱخۡشَوۡهُمۡ فَزَادَهُمۡ إِيمَٰنٗا وَقَالُواْ حَسۡبُنَا ٱللَّهُ وَنِعۡمَ ٱلۡوَكِيلُ ﴿١٧٣﴾ (۱)

"هغه بختور چې اووې دوئ ته خلقو چې يقينا خلق تاسو ته راغونډ شوى دى نو اويرېږئ د دوئ نه نو زيات ئې كړو دوئ لره ايمان اويقين او وې وئيل چې پوره دې مونږ لره الله تعالى او ښه ښكلې كار جوړونكې دې"

انـــت حســـبى انـــت كافى لـــيس غـــير
كـــن انـــيس القلـــب واخـــتم لى بخـــير

" ته راله پوره ئې ته كافى ئې بل څوک نه .ښه ملګرې د زړه ځما او خاتمه راله په خير اوكړه"

کیا پروا ہے اگر ساری خدائی ہو مخالف
کافی ہےاگر ایک خدا میرے لئے ہے

خپل احتياط كول او ظاهرى اسباب استعمالول دا د توكل سره منافى نۀ دى ظاهرى دنيا كښې ظاهرى اسباب استعمال كړه خو اصل اعتماد په الله تعالى اوكړه . نبى ﷺ صحابى ته اوفرمائيل چې

اعقلها ثم توكل على الله(۲)

"اول اوښې له خپه اوتړه او بيا اعتماد په الله تعالى اوكړه

---

(۱) آل عمران: ۱۷۳

(۲) سنن ترمذى ٤/۲٤۹

ځان بیا اوسپاره "

گفت پیغمبر با آوازے بلند
با توکل زانوئ اشتر ببند

" پیغمبر په اوچت آواز اووې چې په توکل سره د اوخ خپه اوتړه "

یعنی ظاهری اسباب استعمال کړه خو توکّل اعتماد په الله تعالی اوکړه.

چې دوائی خوره خو اعتماد او یقین په الله چې صحت ورکونکې الله تعالی دې په مخلوق اعتماد مۀ کوه چې ځما دپاره راپاسی یا به ځما دپاره دا کوی هیڅ طمع مۀ کوه.

دکـــــهِ طمـــــع د مخلــــوق د دره پریخــــوه
نـــو بادشـــاهی دِ مبـــارک شـــه کـــه گـدا ئـــې

شیخ القران مولانا افضل خان صاحب رحمه الله تعالی د شاه پور به وئیل.

کـــــه د طمـــــع د مخلــــوق د دره اوکـــــړه
نـــو گـدائی دِ مبـــارک شـــه کـــه بادشـــاه ئـــې

امام مالک رح له کوړې ورکړې شوې لاسونه ئې راخکلې شو تردې چې اوولی ئې اووتل او د مدینې په بازار کښې اوګرځولې شو خو د بازار خلق د هغۀ دپاره ندی اوچت شوی او نه ترې هغۀ ګیله کړې ده.

امام ابن تیمیه قید کښې وفات شو په قچره راوړې شو په لکهونو خلق جنازه کښې شریک شو خو چا او دا اونۀ وئیل چې دا ولې ؟ بس

فَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِۚ ﴿١٥٩﴾ (١)

"نو په الله اعتماد کوه"

په مخلوق اعتماد مهٔ کوه

إِنَّهُمْ لَن يُغْنُوا۟ عَنكَ مِنَ ٱللَّهِ شَيْـًٔاۚ ﴿١٩﴾ (٢)

"یقینا دوئ تا د الله تعالی نه معمولي هم نشی بچ کولې"

کار ساز ما بسازد کارما

فکر ما در کار ما آزار ما

## اتهٔ ویشتمه فائده په تقدیر ایمان

پښتانهٔ وائی " د پیخې نه تیښته نهٔ وی " د قسمت او تقدیر فیصله لیکلې شوې ده نو ځان له قیدی روره په سوچونو پریشانی مهٔ کوره .

قُل لَّن يُصِيبَنَآ إِلَّا مَا كَتَبَ ٱللَّهُ لَنَا هُوَ مَوْلَىٰنَاۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴿٥١﴾ (٣)

"اووایه چې بلکل نهٔ رسیږی مونږ ته مګر هغه چې الله تعالی لیکلې دی مونږ له هغه ځمونږه مدد ګار دې او پکار ده چې په هغهٔ ځان اوسپاری مومنان"

مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ فِى ٱلْأَرْضِ وَلَا فِىٓ أَنفُسِكُمْ إِلَّا فِى كِتَٰبٍ مِّن قَبْلِ أَن نَّبْرَأَهَآۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ

---

(١) آل عمران: ١٥٩

(٢) الجاثية: ١٩

(٣) التوبة: ٥١

يَسِيرٌ ﴿٢٢﴾ (١)

"نۀ رسيږی هيڅ يو مصيبت نه په زمکه کښې او نه په بدنونو ستاسو کښې مګر دا په ليک کښې دی مخکښې ددې نه چې مونږه ئې پيدا کړو، يقينا دا په الله تعالی آسان دی"

نبی عليه السلام فرمائيلی دی

واعلم ان الامة لو اجتمعت على ان ينفعوك لم ينفعوك الا بشئ قد كتبه الله لك ولواجتمعوا على ان يضرّوك لم يضروك الا بشئ قد كتبه الله عليك جفت الاقلام وطويت الصحف(٢)

" او پدې پوهه شه چې که امت ټول جمع شی او راغونډ شی پدې چې تاته څه فائده رسول اوغواړی نو د هغې فائدی نه علاوه نوره نشی درکولې کومه چې درله الله تعالی ليکلې ده . او که راغونډ شی پدې خبره چې تاته تکليف درکړی نو نشی درکولې بې د هغه تکليف نه چې کوم درله الله تعالی ليکلې دې قلمونه د تقدير د ليکلو اوچ شوی دی او صحيفی او پاڼې راغونډې کړې شوی دی (يعنی بدلی پکښې نۀ راځی"

چې کله دا عقيده په زړۀ کښې مضبوطه شی . نو اوس به په بنده کښې بزدلې هم نۀ راځی چې څه رسيدلی وی نو پريشانی به هم نۀ وی . الله تعالی دتقدير د ليک حکمت داسې ذکر کوی

لِّكَيْلَا تَأْسَوْا عَلَىٰ مَا فَاتَكُمْ وَلَا تَفْرَحُوا بِمَآ

(١) الحديد: ٢٢

(٢) الدعاء للطبرانی ، باب الحث على الدعاء فی الرخاء ٣٤/١

ءَاتَىٰكُمْ ﴿٢٣﴾ (١)

" ددې دپاره چې تاسو غمژن نۀ شئ په هغه څه پسې چې تاسو نه پاتې شو او مستې اونکړئ (خوشحاله نشئ) په هغه څه چې درکړی دی الله تعالی تاسو ته "

انسان ته تکلیف مصیبت رسیږی نو دې غمژن شی دومره چې کار ترې پاتې شی نو الله تعالی فیصله لیکلې ده چې تاسو هغې ته سوچ اوکړئ چې دا ئې خو ماله لیکلی وو ددې مصیبت نه ځۀ بچ کیدلې نۀ شوم نو پریشانی به دومره حد ته نۀ رسیږي . او کله انسان ته خوشحالي او نعمت رسیږی نو دې دومره مست شی چې تکبر پکښې راشی او ځان اوچت حساب کړی نو چې په تقدیر باندې ایمان وی او دا عقیده وی نو اوس به دې دا خپل حق نه ګڼړی بلکه د الله تعالی فضل به ئې ګڼړی چې دا ئې خو ماله لیکلې وو نو دې به مستیږی نه . نو په مصیبت به صابر شی او په خوشحالئ به شاکرشی .

نو اې قیدی روره ! ستا په وس کښې ندی چې دیوال د غورځیدلو نه بچ کړی او هوا د الوتلو نه نشی بندولې او شیشه د ماتولو نه نشی بچ کولې بس داسې اووایه چې (قدرالله ماشآء فعل )(٢)

## یوکم دیرشمه فائده د الله په فیصله رضا کیدل

لکه چې دا عقیده او یقین ضروری دې . چې هر څه په تقدیر کښې لیکلې شوې دې نو دویم دا هم ضروری ده چې بنده د الله تعالی په

(١) لحدید: ٢٣

(٢) مسلم، باب فی الأمر بالقوة وترك العجز ٤/٢٠٥٢

فيصله رضا شی د رضا مطلب څه دې ؟ دا مطلب د رضا ندې چې په مصيبت کښې ګډا شروع کړی او خنداګانی او اداګانی شروع کړی د رضا مطلب دا دې چې کوم راغلې مصيبت دې نو په هغې صبر اوکړی او دالله تعالی په فيصله کښې خير اوګڼړی چې د الله تعالی فيصله څمونږه د فيصلې نه بهتره ده او په خلې باندې ګيلې او شکوې شروع نۀ کړی لکه قران چې د مصيبت زده خلقو حال ذکر کوی نو داسې وائی

ٱلَّذِينَ إِذَآ أَصَٰبَتۡهُم مُّصِيبَةٞ قَالُوٓاْ إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّآ إِلَيۡهِ رَٰجِعُونَ ١٥٦ أُوْلَٰٓئِكَ عَلَيۡهِمۡ صَلَوَٰتٞ مِّن رَّبِّهِمۡ وَرَحۡمَةٞۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُهۡتَدُونَ ١٥٧ (١)

"هغه بختور چې کله اورسيږی دوئ ته مصيبت نو وائی دوئ چې مونږه د الله تعالی يو او يقينی خبره ده چې مونږه د هغه طرف ته واپس کيدونکی يو . دا خلق دوئ باندې شاباس او آفرين دې د طرفه د پالونکی د دوئ نه او مهربانی او دا خلق هم دوئ صحيح لار موندونکی دی"

چې مصيبت کښې ځان الله تعالی ته حواله کړو چې که مال کښې مصيبت وی او که په بدن کښې نو وائی چې دا خو د الله تعالی وو نو که څمونږ نه ئې واغستل نو څه خبره هر څه د هغۀ او مالک چې خپل مال کښې څرنګې تصرف کوی نو ورلره جائز دی او بيا چې مالک حکيم دې نو په دې کښې به خير وی نو ځکه ورلره اجرئې

(١) البقرة: ١٥٦ - ١٥٧

اووی .

قَالَ إِنَّمَآ أَشۡكُواْ بَثِّي وَحُزۡنِيٓ إِلَى ٱللَّهِ وَأَعۡلَمُ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ﴿٨٦﴾ (١)

" نو اووئیل (یعقوب علیه السلام ) څما فریاد درد او مصیبت څما الله تعالی ته دي او پوهیږم د الله تعالی د طرف نه په هغه څه چې تاسو پرې نۀ پوهیږئ "

وَأَيُّوبَ إِذۡ نَادَىٰ رَبَّهُۥٓ أَنِّي مَسَّنِيَ ٱلضُّرُّ وَأَنتَ أَرۡحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ ﴿٨٣﴾ (٢)

"او ایوب عَلَیْهِ السَّلَام په هغه وخت کښې چې فریاد ئې اوکړو یقینا رسیدلې دې ماته مصیبت او تۀ ئې کامل رحم کونکې "

د جناب رسول الله ﷺ د زړۀ ټکړه ابراهیم خوږ بچې وفات شوې دې نبی عَلَیْهِ السَّلَام اوفرمائیل .

ان العین تدمع والقلب یحزن ولانقول الا ما یرضی ربنا وانا بفراقك یا ابراهیم لمحزونون(٣)

"یقینا سترګې اوښکې تویوی او زړۀ غم کوې او نۀ وایو مونږه په خلۀ مګر هغه خبره چې څمونږ رب پرې رضا کیږی او یقینا مونږه ستا په جدایئ اې ابراهیمه غمژن یو "

نو دا د رضا مطلب دې چې د الله تعالی په فیصله باندې رضا شه ګیلې او شکوې او اعتراضونه مۀ کوه . یو څمونږه فیصله ده د خپل

---

(١) یوسف: ٨٦

(٢) الأنبیاء: ٨٣

(٣) صحیح البخاری ، باب قول النبی صلی الله علیه وسلم انا بفراقك ٨٣/٢

ځان باره کښې او دويمه د الله تعالی فيصله ده ځمونږ په باره کښې نو د الله تعالی فيصله ځمونږه به باره کښې ځمونږه د خپلې فيصلې نه ډيره بهتره ده اګر چې مونږ ظاهر کښې درديږو او په تکليف يو خو پدې کښې به ځمونږه خير وی او فائده به وی او لکه چې راوستلې الله تعالی دې نو ختمونکې ددې هم الله تعالی دې

ولرب نازلة يضيق بها الفتى ذرعا وعند الله منها مخرج
ضاقت فلما استحكمت فرجت وكان يظنها لا تفرج

" ډير ځله داسې مصيبت وی چې د بنده سينه پری تنګه شی او الله تعالی سره د هغې خلاصون وی . چې هر کله د هغې مصيبت کړئ مضبوطې شی او تنګې شی نو کهولاؤ شی او بند ه دا ګمان کوی چې نۀ به کهولا ويږی "

اللّٰهُمَّ انی اسألك الرضا بالقضاء وبردالعيش بعدالموت ولذّة النظر الى وجهك فى غير ضّراء مضرّة وفتنة مضلّة[۱]

"اې الله غوارم ستانه رضا په فيصله ستا باندې ، او يخ او د آرام ژوند پس د مرګ نه او خو ند د نظر ستا ذات ته بغير د تکليف او سختی نه او د فتنې ګمراه کونکې نه "

نو قيدی روره د الله تعالی په فيصله رضا شه د الله تعالی تقسيم دې چاله يو څه ورکړی او چاله بل څه که ستا نه پاتې شو نو څه پاتې شو صرف معمولی دنيا او د هغې مزې ددې بدل کښې به څه درکوی الله تعالی چاله د آخرت مزې ورکړی چاله ددنيا ورکړی جنت ددنيا په تکليفونو ملاويږی .

---

(۱) اخرجه النسائی ، ٥٤/۳

حفت الجنة بالمكاره وحفت النار بالشهوات[۱]

"پټ کړې شوې دې جنت په تکليفونو او پټ کړې شوې دې
اور د نفس په مزو باندې"

چاله الله تعالى علم ورکړى او چاله الله تعالى مال لکه على رضى الله تعالى عنه ته منسوب دى چې وائى

رضـينا قسـمة الجبـار فينـا     لنـا علـم وللجهـال مـال
فـانّ المـال يفـنى عـن قريـب     وان العلـم يـبقى لايـزال

"خوشحاله يو مونږه د الله تعالى په تقسيم چې څمونږ ترمينځه ئې
کړې دې مونږ له علم او جاهلانو له ئې مال ورکړې دې يقينى ده
چې مال زرتر زره فنا کيږى او يقينا علم پاتې دې نۀ ختميږى "

يو عالم ناست وو چې بادشاه په لار تيريدلو عالم اوکتل زړۀ کښې دومره راغلل چې دۀ له دِ هر څه ورکړى دى او مونږه له هيڅ نه غيبى آواز ورته اوشو چې بدل ئې کړم هغه عالم اوو ئيل چې نه نه څۀ رضا يم .

عطاء بن ابى رباح بد رنګه تور غټې غټې شونډې چيته پوزه چيت قد خو د علم غونډۍ وه او خلق به ئې سلامۍ له راتلل او استقبالونه به ئې کول .

نو اې قيدى روره ! د الله په فيصله او په تقدير رضا شه څه به دنيا وى او څه به ئې مزې وى .

وَمَا عِندَ ٱللَّهِ خَيۡرٌ وَأَبۡقَىٰ ﴿٣٦﴾ (۲)

---

(۱) سنن ترمذى ، باب ماجاء فى حفت الجنة بالمكاره ۲۷۴/۴

(۲) شورى : ۳۶

''هغه چې د الله تعالى سره دى غوره او پائيدار دى ''

چې څوک د الله تعالى په فيصله رضا شى نو ددې ميوه دا ده چې ددهٔ نه به الله تعالى رضا شى چې کله بنده په معمولى رزق رضا شى نو الله تعالى ددهٔ نه په معمولى عمل سره د اخلاص نه رضا کيږى نبى ﷺ فرمائيلى دى .

ان الله اذا احب قوما ابتلاهم فمن رضى فله الرضا ومن سخط فله السخط(١)

''چې کله الله تعالى يو قوم سره مينه اوکړى نو امتحان پرې راولې نو که دې په هغې رضا شى نو د هغهٔ دپاره رضا وى او که غصه شى نو الله ترې هم ناراضه شى ''

په تقديربانديې رضا کيدل زړهٔ د مالدارئ غناء ، امن قناعت نه ډکوى . د الله محبت توکل او انابت ته زړهٔ فارغه شى .

## ديرشمه فائده التزهيد من الدنيا

د جيل د وجې نه ستا څه پاتې شو لږ سوچ اوکړه ، عبادات کولې شې ، اذکار کولې شى تلاوت کولې شې د آخرت ثوابونه حاصلولې شى که پاتې شوي دي نو صرف ددنيا لږې مزې او خوندونه پاتې شو دا هم ستا يو تربيت چې بغير ددنيا د مزونه هم وخت تيريږي دا مهٔ وايه چې ځهٔ بد قسمته يم ، بد بخته يم تهٔ چې د زړهٔ نه دا دنيا لرې کړې او صرف الله تعالى ته متوجه شى نو ښهٔ مطمئن ئې په سکون او آرام ئې نو پوهه شه تسلى ، آرام او سکون په دنيا ندې بلکه په ذکر د الله تعالى

(١) ترمذى جزء:٤ ، صفحه ١٧٩ ، باب ما جاء فى الصبر على البلآء.

سره دي

ﭐلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَتَطۡمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكۡرِ ٱللَّهِۗ أَلَا بِذِكۡرِ ٱللَّهِ تَطۡمَئِنُّ ٱلۡقُلُوبُ ﴿٢٨﴾ (١)

"هغه کسان چې هغوی ایمان راوړي دي او سړیږي او مطمئن کیږي زړونه په یادولو د دوئ الله تعالی لره ، خبردار په یادولو د الله تعالی باندې سړیږي زړونه"

نہ دنیا سے نہ دولت سے نہ گھر آباد کرنے سے
تسلی دل کو ہوتی ہے خدا کو یاد کرنے سے

الله تعالی ستا په جیل کښې داسې تربیت کوی چې دنیا د زړۀ د لګولو ځائ او څیز ندې بغیر د دنیا د څیزونو او راحتونو نه هم دا وخت تیرې نو ددنیا محبت د زړۀ نه لرې کړه ځکه دا دنیا فاني ده پدې پورې زړۀ مۀ تړه .

وَمَا ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَآ إِلَّا مَتَٰعُ ٱلۡغُرُورِ ﴿١٨٥﴾ (٢)

"او ندې دا ژوند معمولی مګر سامان د دهوکه کولو"

لو كانت الدنيا تزن عند الله جناح بعوضة ماسقى منها كافرا شربة ماء(٣)

"کچرته دنیا د الله تعالی سره د ماشی د وزر برابر قدر او قیمت لرلې نو الله تعالی به په کافر باندې یو ګوټ د اوبو نۀ وې څکولې"

---

(١) الرعد: ٢٨

(٢) آل عمران: ١٨٥

(٣) ترمذی ، باب ماجاء فی هوان الدنیا علی الله ١٣٨/٤

حال دنیا پرسیدم من زیک فرزانۂ گفت یا خوابے ویا بادے ویا افسانۂ

باز گفتم حال آن کس گو کہ دردل دروے ببست گفت یا غولے ویا دیوے ویا دیوانۂ

"د یو هوښیار سړي نه مې د دنیا د حقیقت پوښتنه اوکړه نو راته ئې اووئیل چې یا خوب دې او یا سیلۍ ده او یا فرضي قصه ده . بیا مې ورته اووئیل چې د هغه کس څه حال دې چې پدې دنیا پورې زړۀ اوتړی . نو وې وئیل چې یا ګوډیرچ دې یا دیو دي یا لیونې دې مازغۀ ئې خراب دی"

مشهور بزرګ ابن سماک هارون الرشید بادشاه خواته لاړلو نو هارون الرشید بادشاه تږې شو نو اوبۀ ئې اوغوختلې نو ابن سماک ورته اووې چې که دا اوبۀ درنه بند شی نو نیمه بادشاهی به پرې قربان کړې هغۀ ورته اووې او چې قربانوم به چې کله هارون الرشید بادشاه اوبۀ اوڅکلې نوبیا ئې ورته اووې چې که اوس دې بول بند شی نو نیمه بادشاهی به ددې د یستلو دپاره قربان کړې نو هغۀ ورته اووې چې او ورکوم نو ابن سماک ورته اووئیل چې په هغه بادشاهۍ کښې هیڅ خیر نشته دی چې د یو څاڅکی د ابو برابر هم نده .

ان الله اذا احب قوما ابتلاهم فمن رضی فله الرضا ومن سخط فله السخط(۱) .

"نبی ؑ فرمائیلی دی چې څۀ په دنیا کښې نور څه نه یم خو بس داسې یم لکه یو سړې چې د یوې ونې د سوری د لاندې دمه کوی او بیا پاسی او هغې له پریږدی"

نو اې قیدی روره ! دا د دنیا حقیقت دې نو پدې پورې زړۀ مۀ تړه او

---

(۱) ابن ماجه ، باب بالصبر علی البلاء ۲/ ۱۳۳۸ ، ترمذی ، باب ما جاء فی الصبر علی البلآء ٤/ ۱۷۹

ددې د محبت او معمولی لذت د وجی نه د لوئ الله تعالی نافرمانی مهٔ کوه .

ددنیا مزې خیالی لوبې دی . د جاهل نظر صرف په ظاهری ښائست باندې وی او عقل مند د پردې نه اخوا حقیقت ته ګوری . د دنیا چې کومه تیره شوه نو هغه خوبونه وو او چې کوم راروانه ده نو هغه تش ارمانونه دی چې پدې باندې وخت لګوی نو برباد او ضائع شو .

ما الدنیا فی الاخرة الا کما یجعل احدکم اصبعه فی الیم فینظر بم یرجع[۱]

" دنیا د آخرت په مقابله کښې داسې ده لکه چې یو سړې خپل ګوته په دریاب کښې ښکته کړی نو اوډِ ګوری چې څه ورسره واپس کیږی "

نو اې قیدی روره ! ددنیا نه زړهٔ کټ کړه او پدې باندې مهٔ دهوکه کیږه دنیا داسې ده لکه قنجره ښځه چې د یو خاوند سره نهٔ ایساریږی.

ددنیا په طلب کښې سفرکول د د شرمخانو په زمکه کښې سفرکول دی . ددې پسې لامبو وهل دا د مګرمچانو په ډنډ کښې لامبو وهل دی پدې دنیا مست او خوشحاله هغه یقینی غمژن کیدل دی . دردونه ئې د خوندونو نه پیدا دی . غمونه ئې د خوشحالو نه جوړیږی . دا دنیا طمع دارو خلقوته ځان په شهوتونو ښائسته کوی چې کوم خلق په غیبو ایمان راوړی نو هغه ددې دنیا نه نظر ښکته ساتی او دې پسې لګیدونکی د افسوسونو په میدان کښې غورځیږی .

من احب دنیاه اضرّ باخرته ومن احبّ اخرته اضرّ بدنیاه

---

(۱) سنن ترمذی ، باب منه ۱۳۹/٤

فاثروا مايبقى على مايفنى(۱)

" نبي ﷺ فرمائيلي دى . چې څوک دنيا سره مينه کوى نو آخرت خپل له ئې نقصان ورکړو او چاچې آخرت سره مينه اوکړه نو دنيا ئې خپل نقصانى کړه نو چې کوم باقى پاتې کيږى نو هغه غوره کړئ په هغه څۀ چې فنا کيږى"

على رضي الله عنه فرمائيلي دى .

ارتحلت الدنيا مدبرة وارتحلت الآخرة مقبلة ولكلّ واحد منهما بنون ، فكونوا من ابناء الاخرة ولاتكونوا من ابناء الدنيا(۲) .

"دنيا سفر کوى خو شاه کونکې ده او آخرت مونږ ته مخ کړې دې او سفر کوى يعنى دنيا ختميږى او آخرت رانزدې کيږى . او د هر يو مئين شته دې نو په آخرت مئين شئ يعنى آخرت والا شئ دنيا والا مۀ جوړيږئ"

نو اې قيدى روره ! دا ستا څومره لوئ تربيت دې بې مزو مزې کوى ،بې د ظاهرى رنګينو نه رنګينه ئې ، بې د خائستؤ نه خائسته ئې . څومره نيک بخته ، خوش قسمته ئې چې دا ذهن دِ جوړ شو چې

وَمَا عِندَ ٱللَّهِ خَيۡرٞ وَأَبۡقَىٰٓ (۳)

---

(۱) المستدرك على الصحيحين للحاكم ، كتاب الرقاق ٣٤٣/٤

(۲) صحيح البخارى ، باب فى الأمل وطوله ٨٩/٨

(۳) سورة الاعلى :١٦

## یو دیرشمه فائده آخرت ته شوق او فکر

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَلۡتَنظُرۡ نَفۡسٞ مَّا قَدَّمَتۡ لِغَدٖۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ١٨ (١)

"اې هغه کسانو چې ایمان مو راوړې دې د الله تعالی نه اوویرېږئ اودِګوری هر بنده چې څه ئې لیږلې دی دپاره د صبا ا اوویرېږئ د الله تعالی نه ، یقینا الله تعالی خبردار دې په هغه څه چې تاسو ئې کوئ"

قیدی روره ! پدې باندې یقین اوکړه چې هر نن پسې صبا شته او په هریو نن کښې خلق د صبا تیارې کوی دا ټوله دنیا نن ده او پدې پسې صبا شته چې قیامت دې ، پدې نن کښې د صبا تیارې پکار دې ځان سره توخه جمع کول پکار دی . صبا به بیا ارمان کوو او وخت به تیر وی .

جناب سیدنا علی رضي الله عنه د مرګ په وخت کښې اوفرمائل چې

السفر طویل والزاد قلیل والحاکم رب جلیل

" سفر اوږد دې او توخه او خرچې کمه ده او فیصله کونکې عرتمند رب دې "

هارون الرشید بادشاه بیمار وو د مرګ په بستره باندې وو بهلول ئې تپوس له لاړو ډیر وخت مخکښې هارون الرشید یوه چاړه ورکړې وه بهلول له او ورته ئې وئیلی وو چې د ځان نه درته ځوک کم عقل

(١) الحشر: ١٨

ښکاره شی نو هغهٔ له ئې ورکړه په دغه وخت ترينه بهلول تپوس اوکړو بادشاه څنګه ئې هغهٔ ورته اووې چې ښهٔ یم سفر رانزدې دې بهلول ورته اووې چې څه توخه خرچې درسره شته دې نو هغهٔ ورته اووې چې نه خرچې نشته دې نو بهلول هغه چاړهٔ راواغسته او ورته ئې اووئيل دا واخله تاراته وئيلې وو چې د ځان نه کم عقل له ئې ورکړه نو ځما نه کم عقل تهٔ ئې چې په سفر ځې او توخه درسره نشته دې .

نو اې قيدی رورره ! د الله په دين قيد شوې ئې نو چې کله دربانديې سزا او تکليفونه سخت شی او د خوشحالئ نه نا اميده شې نو داسې يقين دې جوړ شو ګڼې نو مرم نو راياد کړه چې ددې نه روستو يوه ورځ ده داسې نده چې ګڼې نو په مرګ دنيا ختمه شوه

کون کہتا ہے کہ موت آجائے تو مر جاؤنگا
میں تو دریا ہوں سمندر میں گر جاؤنگا

په دغه ورځ کښې جنت دې چې د هغې پلنوالې د اسمانونو او زمکو هومره دې پدې کښې هغه نعمتونه دې چې نه سترګو ليدلی دی او نه غوږونو اوريدلی دی او نه د يو بنده په زړهٔ کښې تير شوی دی . نو پدې باندې صبر کوه او پدغه ذلتونو باندې خوشحاليږه دا به د جنت سبب شی جنتيان به نه خفه کيږی او نه به ناجوړه کيږی او نه به مری . نه به ئې ځوانی زړيږی او نه جامې . پداسې بنګلو کښې به وی چې د هغې ظاهر به د باطن نه ښکاری .

فَلَا تَعۡلَمُ نَفۡسٌ مَّآ أُخۡفِيَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعۡيُنٍ ﴿١٧﴾ (١)

(١) السجدة: ١٧

" ندی معلوم هیڅ بنده ته هغه څه چې پټ کړې شوی دی د
دوئ دپاره د سوړ والې د سترګو نه "

لَهُم مَّا يَشَآءُونَ فِيهَا وَلَدَيۡنَا مَزِيدٌ ۝٣٥ (۱)

" دوئ له به پدې کښې هغه څه وی چې دوئ غواړی او مونږه
سره زیاتی بدله ده چې (دیدار الهی دې)"

قصور وحورغلمان رنگ رنگ است تجلی هائی جانان رنگ رنگ است
خدا خود میزبان ماست آنجا غذا برخوان مهمان رنگ رنگ است

" بنګلې او حوری قسماقسم او غلمان به وی او هغه ځائ به د
محبوب او جانان د نور پړقا او ځلا قسماقسم وی . الله تعالی به
پدغه ځاې کښې ځمونږ کرُبه وی یعنی مونږه به د الله تعالی
میلمانهٔ یو . خوراکونه به د میلمه په درستخوان قسماقسم وی "

قناعت نہ کرعالم رنگ وبو پر چمن اور بھی آشیاں اور بھی ہیں
اس روز و شب میں الجھ کر نہ رہ جا کہ تیرے زمان اور مکان اور بھی ہے

په سخته کښې دغه نعمتونه یادوه او ورسره دا سوچ هم کوه چې ځما ګناه پټیدلې نشي او کیدیشي چې الله تعالی پدې سختو ځما ګناهونه معاف کړی الله تعالی دِ ځمونږ ګناهونه معاف کړی او ځمونږه سختی دی په راحت بدله کړی او ټول قیدیانو ته دِ الله تعالی د خپل دین د خدمت دپاره رهائی نصیب کړی .

نن ځما زړهٔ ډیر زیات خفه دې او منجمد او اوچ دې څه قید دې او بل ځما محبوب استاذ په ما انتهائی مئین شیخ الشیوخ استاذ العلماء شیخ الفقه والاصول مولانا خائسته رحمن صاحب د خال مهتتم

---

(۱) ق: ۳۵

صاحب وفات شوې دې . او څهٔ په جنازه کښې د شرکت نه عاجز یم بس الله تعالی ته دعاګو یم چې د هغه صدقات جاریه دې هغهٔ پسې ترقیامته روان کړی او الله تعالی دې درجات اوچت کړی او د هغهٔ اولاد دې د هغهٔ صحیح جانشین اوګرځوی امین یا راحم الرحمین ۲۹ جمادی الاولی ۱٤٤۰ هجری ۵ فروری ۲۰۱۹ یوم الثلثاء . وقت ۰۹:۱۲ صبح ، مسجون فی سجن غلنئ مهمند.

استاذ مـن چـون شـد جـدا فریــاد مــن پــیش خــدا

هــرگاه خــواهم ایــن دعا الله یجمــــع بیننــــا

## دوه دیرشمه فائده ځان سره حساب اوکړه

قیدې جانانه ! د قید هره لمحه نصیحت اموزده . پکار ده چې هوښیار سړې د هرې لمحې او هر ساعت نه عبرت واخلی .

فَٱعۡتَبِرُواْ يَٰٓأُوْلِي ٱلۡأَبۡصَٰرِ ۝ (۱)

"نو عبرت دِ واخلی د عقل خاوندان"

لږ سوچ اوکړه چې ستا نه څهٔ وخت تفتیش کیږی او سوال درنه کیږی او تاسره په سوال او جواب کښې سختی کیږی او وهلې کیږی او زړوندلې شې نو دغه وخت لږ سوچ اوکړه او ځان سره حساب اوکړه د قبر سوال جواب او سختې فرشتې رایادې کړه چې " غلاظ شداد " سخت خویه مضبوط بدن والا دی هیڅ قسمه نرمی نه کوی او

(۱) الحشر: ۲

هیڅ قسمه په تابعدارۍ کښې کمې نۀ کوی حساب کتاب دِ ځان ته مخې ته کړه . عمر رضي الله عنه فرمائیلی دي چې

موتوا قبل ان تموتوا و حاسبوا قبل ان تحاسبوا

"مړۀ شئ مخکښې ددې نه چې تاسو مړۀ شئ او حساب اوکړئ د ځان سره مخکښې ددې نه چې تاسره حساب اوکړې شی "

﴿إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا ١﴾ (١)

" یقینا الله تعالی په تاسو نګران دې "

﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَخۡفَىٰ عَلَيۡهِ شَيۡءٞ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِي ٱلسَّمَآءِ ٥﴾ (٢)

" یقینی خبره ده چې په الله تعالی هیڅ څه نۀ پټیږی نه په زمکه کښې او نه په اسمان کښې "

دلته خو تۀ خبره پټولې شې کیدیشې ګواه وغیره دربانديې نۀ وی او ستا کارونه پټ پاتې شې خو د قیامت په ورځ او د الله تعالی نه هیڅ نۀ پټیږی.

د الله تعالی ګواهی یاده کړه چې

﴿وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدٗا ٧٩﴾ (٣)

" او پوره دې الله ګواه "

د فرشتو ګواهی

﴿وَجَآءَتۡ كُلُّ نَفۡسٖ مَّعَهَا سَآئِقٞ وَشَهِيدٞ ٢١﴾ (١)

---

(١) النساء: ١

(٢) آل عمران: ٥

(٣) النساء: ٧٩

" او رابه شي هر بنده چې هغهٔ سره به وي يو راخكونكې او ګواه "

او زمكه به هم ګواهي كوي

يَوۡمَئِذٖ تُحَدِّثُ أَخۡبَارَهَا ﴿٤﴾ (٢)

"په دغه ورځ به زمكه وائي خپل حالونه "

اندامونه به هم ګواهي كوي

يَوۡمَ تَشۡهَدُ عَلَيۡهِمۡ أَلۡسِنَتُهُمۡ وَأَيۡدِيهِمۡ وَأَرۡجُلُهُم بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿٢٤﴾ (٣)

" او په دغه ورځ كښې چې ګواهي به كوي په دوئ ژبې د دوئ او لاسونه او خپې د دوئ په هغه چې دوئ كول"

دغه شان د اعمال نامو ګواهي

وَوُضِعَ ٱلۡكِتَٰبُ فَتَرَى ٱلۡمُجۡرِمِينَ مُشۡفِقِينَ مِمَّا فِيهِ وَيَقُولُونَ يَٰوَيۡلَتَنَا مَالِ هَٰذَا ٱلۡكِتَٰبِ لَا يُغَادِرُ صَغِيرَةٗ وَلَا كَبِيرَةً إِلَّآ أَحۡصَىٰهَاۚ ﴿٤٩﴾ (٤)

"او كيښخودلې شي عمل نامې نو وينې به مجرمان چې يريدونكې به وي د هغه څه نه چې پدې كښې وي او وائي به چې هئ روكاويه ځمونږه څه شوي دي دې عمل نامې لره چې نهٔ پرېږدي وړه او نه غټه خبره خو ګيره كړې ئې ده "

---

(١) ق: ٢١

(٢) الزلزلة: ٤

(٣) النور: ٢٤

(٤) الكهف: ٤٩

نو اې قیدی یاره ! خپل نفس سره حساب اوکړه او د هغې دپاره وخت مقرر کړه د ورځې هم حساب کوه د هفتې هم او د میاشت هم دا به فائده درکړي.

طاعـــت مـــې نشـــته امیـــد مـــې ډیـــر دې
ځـــۀ بـــا امیـــده د رحمـــان دربـــار له ځمـــه

## درې ډیر شمه فائده دمرګ یادول

نبی علیه السلام فرمائی

اکثروا ذکر هاذم اللذّات یعنی الموت[1]

" چې کوم څیز خوندونه ختموی نو هغه ډیر ډیر یادوئ یعنی مرګ "

دغه شان یو حدیث کښې داسې هم راځی

عن ابی سعید قال دخل رسول الله ﷺ مصلّاه فرأی ناساً کانّهم یکتشرون قال اما انکم لو اکثرتم ذکر هاذم اللذات لشغلکم عمّا اَری فاکثروا من ذکر هاذم اللذات الموت فانه لم یأت علی القبر یو الا تکلّم فیه فیقول انا بیت الغربة وانا بیت الوحدة وانا بیت التراب وانابیت الدود[2] ....

" نبی علیه السلام مصلّی ته لاړو نو خلق ئې اوکتل چې خاندل ئې نبی

(۱) سنن ترمذی ، باب ماجاء فی ذکر الموت ١٢٩/٤

(۲) ترمذی جزء ٤ ، باب ٢٦ ، صفحه ٢٢٠ حدیث نمبر٢٤٦٠

ﷺ اوفرمائیل چې که تاسو د خوندونو ختمونکې ډیر یادولې نو تاسو به ئې مشغوله کړي وئ د هغه څۀ نه چې څۀ ئې وینم نو ډیر یاد کړئ هغه چې خوندونه ختموې یعنی مرګ . قبر باندې هیڅ ورځ نۀ تیریږی مګر هغه دا آواز کوي چې څۀ د یواځې والي ناشناوالي او د خاورو او د چینجو کور یم "

تذکروا هاذم اللذات فانه ما ذکر فی ضیق الاوسعه ولا ذکر فی سعة الا ضیقها[1]

" د خوندونو ختمونکې ډیر یادوئ (مرګ) دا چې تنګئ کښې یاد کړې شی نو هغه پرې آسانه شې او آسانتیا کښې یاد شی نو هغه پرې سخته شی"

اگرملبوس در بس حریری دگر سلطان وقتے بر سریری
منت اندر کفن درگور بینم زسرکن دور این فکر امیری

" که چرته د ریښمو جامیې دِ اغوستلې وی او که د وخت بادشاه په تخت ناست ئې . خو څۀ تا په کفن کښې په قبر کښې وینم نو د سرنه دا سوچ فکرد مالداری لرې کړه "

نو اې قیدی روره ! چې کله درباندې د چکو دروازې بندې کړې شوې او ځان له کړې شوې زنځیرونه دې په لاسو او بیړئ دې په خپو دی نو د مخلوق نه ځان له کړې شوې د کور او د دوستانو نه نا خبره ناست ئې . نه د چا د کش نه خبر ئې او نه د چا د حال نه که خوا کښې ملګري دی نو صرف مظلومان جیلیان دی د هغوئ زیرګی او فریادونه اورې دغه وخت د مرګ او د قبر د یادولو دې دا اوله مرحله

(۱) شرح ریاض الصالحین حطیبه ، شرح حدیث اکثروا ذکر هازم اللذات ۵/۴۳

د قيامت ده .

من مات فقد قامت قيامته[١]

"چې څوک مړ شو نو په هغهٔ قيامت راغې او " ما بعده اشدّ منه "
روستنۍ مرحله ددې نه سخته ده .

نو خبردار د قبر او د آخرت تيارى ته متوجه شه او تادى کوه او دا مهٔ وايه چې صبا به شي توبې او نيک عمل ته راوړاندې شه .

وَسَارِعُوٓاْ إِلَىٰ مَغۡفِرَةٖ مِّن رَّبِّكُمۡ ﴿١٣٣﴾ [٢]

" او تادى اوکړئ بخښنې ته د طرفه د رب ستاسو "

خِتَٰمُهُۥ مِسۡكٞۚ وَفِي ذَٰلِكَ فَلۡيَتَنَافَسِ ٱلۡمُتَنَٰفِسُونَ ﴿٢٦﴾ [٣]

" او پديکښې دې شوق اوساتې شوق ساتونکي "

خرجنا من الدنيا ونحن من فلسنا من الاموات فيها
اذا دخل السجان يوما لحاجة عجبنا وقلنا جاء هذا من الدنيا

" مونږه (جليان) اووتو د دنيا نه او يو دنيا والا . مونږه نهٔ په دنيا کښې ژوندى يو او نه مړهٔ کله چې د جيل داروغه چرته څه ضرورت له دننه راشي نو مونږ وايو چې دا ددنيا نه راغلې دې "

نو مراقبه د مرګ ضرورى امر دې او دا ئې بهترين ځائې دې او د تيارئ هم .

هـر ذى روح له شـته پنـاه پـاتې بـه خـدائى وى
متـين وائى راغـلې تللـو له پيـدا دى

---

(١) حلية الاولياء ٢٦٧/٦

(٢) آل عمران: ١٣٣

(٣) المطففين: ٢٦

## څلوردیرشمه فائده انتظار د راحت

جناب رسول الله ﷺ فرمائی

افضل العبادة انتظار الفرج[۱]

"غوره عبادت هغه انتظار د ختمیدلو د مصیبت دې"

اوګوره د الله تعالی جلیل القدر پیغمبر د ابراهیم رضي الله عنه نوسي څومره موده د خپلې بچې انتظار کوی ، او خپلو بچوته داسې وائی

يَٰبَنِيَّ ٱذۡهَبُواْ فَتَحَسَّسُواْ مِن يُوسُفَ وَأَخِيهِ وَلَا تَاْيۡـَٔسُواْ مِن رَّوۡحِ ٱللَّهِۖ إِنَّهُۥ لَا يَاْيۡـَٔسُ مِن رَّوۡحِ ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡقَوۡمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ ﴿٨٧﴾ (۲)

" وې وئیل اې بچو ! لاړ شئ یوسف او د هغهٔ رور اوګورئ او مهٔ نا امیده کیږئ د الله تعالی د مهربانئ نه نو نهٔ نا امیده کیږی د الله د مهربانئ نه مګر کافران "

نو اې د الله تعالی د نوم قیدی جانانه ! سحر نزدې دې نو رنړا ته ګوره او فتاح ذات نه د مصیبت د ختمیدلو انتظار کوه .

وَكَانَ أَمۡرُ ٱللَّهِ قَدَرٗا مَّقۡدُورًا ﴿٣٨﴾ (۳)

" او ده فیصله د الله تعالی په اندازه مقرره "

وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يَجۡعَل لَّهُۥ مَخۡرَجٗا ﴿٢﴾ (٤)

---

(۱) سنن ترمذي ، باب فی انتظار الفرج وغیره ذلك ٤٥٧/٥

(۲) یوسف: ۸۷

(۳) الأحزاب: ۳۸

(٤) الطلاق: ۲

" او څوک چې ځان بچ کړي د مخالفت د الله تعالی نه نو اوبه
ګرځوی الله تعالی دۀ لره خلاصې د غم نه"

نو د الله تعالی نه اویرېږه د تقوی خیال اوساته او دا یقین اوساته چې راحت او آرام نزدې دې .

وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يَجْعَل لَّهُۥ مِنْ أَمْرِهِۦ يُسْرًا ﴿٤﴾ (١)

" او څوک چې اویرېږی د الله تعالی نه اوبه ګرځوی الله تعالی دۀ
لره د کار ددۀ نه آسانتیا "

نو اې قیدی جانانه ! دیته مۀ ګوره چې دربندې جرم او تهمت غټ اولګیدلو او کیس دربندې غټ جوړ شو او دا مۀ وایه چې خطرناک خطرناک اډرونه او حکمونه ستا باره کښې جاری شو ستا لاس چا ته اوړدۀ دی او ستا تعلق چاسره دې فعّال لما یرید دې ، یحکم ما یرید دې او هغه ذات چې د هغۀ "کن" ته انتظار دې نو په الله تعالی ځان اوسپاره د الله تعالی نه علاوه په بل چا اعتماد مۀ کوه او د الله تعالی نه علاوه د هرچا نه امیدونه ختم کړه د شپې په تیارۀ کښې الله تعالی ته لاس اوچت کړه اې ربه ای ذالجلال والاکرام چې د هر چانه امیدونه کټ شو خو ستانه ندې کټ شوي صرف ستا نه مِ امید دې د بل چانه نه ، او بیا په کلکه دعاء اوغواړه او په یقین چې بس راحت دادې راغې .

أَلَآ إِنَّ نَصْرَ ٱللَّهِ قَرِيبٌ ﴿٢١٤﴾ (٢)

(١) الطلاق: ٤

(٢) البقرة: ٢١٤

" خبردار! یقینا مدد د الله تعالی نزدې دې "

إِنَّ رَحۡمَتَ ٱللَّهِ قَرِيبٞ مِّنَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ۝٥٦ (١)

" یقینا مهربانی د الله تعالی نزدې دې د نیکانو ته ."

واعلم ان النصر مع الصبر وان الفرج مع الكرب وان مع العسر يسراً(٢)

"او پوهه شه چې یقینی خبره ده چې مدد د صبر سره دې او یقینی خبره ده چې راحت سره د غم او مصیبت نه دې او یقینا سره د ګرانتیا نه آسانتیا ده"

## پنځۀ دیرشمه فائده بعد عسر یسر

جیل کښې فکر اوکړه او سوچ اوکړه جیل سړی ته څه سبق ښائی جیل دا سبق ښائی چې د لوږې او تندې نه پس مړخ شته دې او شوګیرې نه پس خوب شته دې او د بیمارئ نه روستو صحت شته دې . زر ده چې غائب به رااورسی او روک به معلوم شی او تیرې به رنړا شی او جیلی به آزاد شی .

فَعَسَى ٱللَّهُ أَن يَأۡتِيَ بِٱلۡفَتۡحِ أَوۡ أَمۡرٖ مِّنۡ عِندِهِۦ ۝٥٢ (٣)

" نو کیدیشی چې الله تعالی راولی فتح او کامیابی او یا فیصله د خپل طرفنه "

سَيَجۡعَلُ ٱللَّهُ بَعۡدَ عُسۡرٖ يُسۡرٗا ۝٧ (٤)

(١) الأعراف: ٥٦

(٢) المستدرك على الصحيحين ، باب ذكر عبدالله بن عباس بن عبدالمطلب ٣/٦٢٤

(٣) المائدة: ٥٢

(٤) الطلاق: ٧

" زر ده چې اوبه ګرځوي الله تعالی پس د تکلیف او تنګسیا نه آسانتیا "

شپه د غرونو په سرونو او په کندو کنبې د صبا زیری ورکوي . دغه شان غمزده او غمژن ته په رپ د سترګه کنبې د راحت زیرې اوروي .

چې کله یو رسئ اووینې چې سخته او کلکیږی نو پوهه شه چې شلیدل ئې نزدې شوې دی .

جیلی روره ! د ژړا پسې خندا شته دې او یرې پسی امن شته دې نو صبر کوه ثواب ئې ګنړه او انتظار د راحت کوه او راحت نزدې دې (انشاء الله تعالی)

غم مهٔ کوه ! که اورته اوغورځولې شې نو ابراهیم ﵇ ئې ندې سیزلې د الله تعالی حفاظت په هغهٔ د بردا وسلاما کړکۍ پرانستلې وه .او که دریاب ته غورځولې شې نو موسی ﵇ ماشوم دې او مور دریاب ته غورځولې دې خو الله تعالی ساتلې دې . او پیغمبر کړې ئې دې . کچرته دشمنان درته اتفاق اوکړی او راجمع کیږی دربندې نو الله تعالی ترینه جناب رسول الله ﷺ بچ کړې دې ( لاتحزن ان الله معنا )

اوګوره لږ نوح ﵇ ته چې احد من القوم چې یوتن دې او داسې قوم سره خبرې کوی چې "عطاشا لدمه " چې د هغهٔ وینو ته تږی ناست دې خو هغه خبره ښکه کوی

يَٰقَوۡمِ إِن كَانَ كَبُرَ عَلَيۡكُم مَّقَامِي وَتَذۡكِيرِي بِـَٔايَٰتِ

اَللّٰهِ فَعَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلْتُ فَأَجْمِعُوٓا۟ أَمْرَكُمْ وَشُرَكَآءَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُنْ أَمْرُكُمْ عَلَيْكُمْ غُمَّةً ثُمَّ اقْضُوٓا۟ إِلَيَّ وَلَا تُنظِرُونِ ﴿٧١﴾ (١)

" اې ځما قومه که تاسو باندې دا خبره غمیزی چې ځهٔ اودریږم او د الله تعالی د آیاتونو یاد کوم او نصیحت ورکوم نو په الله تعالی باندې ځهٔ ځان حواله کوم نو یوه کړئ خپله مشوره او خپل حصه داران راجمع کړئ بیا دِ نهٔ وی مشوره ستاسو پټه او بوج په تاسو بیا فیصله اوکړئ ماته او مهلت راته مهٔ راکوئ"

## شپږ دیرشمه فائده ورځې اوړی رااوړی

الله تعالی غمزده زړونو له کله کله په عجیبه طریقه تسلی ورکوی نو وائی .

وَتِلْكَ الْأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ ﴿١٤٠﴾ (٢)

" او دا ورځې دی چې مونږ ئې اړو را اوړو په مینځ د خلقو کښې"

په احد کښې اویا صحابه کرام رضی الله تعالی عنهم اجمعین شهیدان شوې دی او دغه شان زخمیان شوی دی جناب رسول الله ﷺ زخمی شوې دې خو الله تعالی تسلی داسې ورکوی چې ورځې اوړی رااوړی کله ستاسو نمبر لکه بدر کښې او کله د هغوئ دا څهٔ خبره ده که نن

(١) یونس: ٧١

(٢) آل عمران: ١٤٠

په تا سخته نو صبا به انشاء الله راحت وی که نن دربانديږ دشمنان خوشحاله وی نو صبا به خفه وی او ستا خپو کښې به ناست وی .

که يوسف عليه السلام د خپلو رونړو د وجې نه کوهی ته او مصر ته او جيل ته لاړو نو يو ورځ يوسف عزيز مصر شو او رونړه ئې خپوله راغلل او ورته وائی چې

لَا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ ٱلْيَوْمَ يَغْفِرُ ٱللَّهُ لَكُمْ وَهُوَ أَرْحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ ﴿٩٢﴾ (١)

"نشته هيڅ ملامته په تاسو نن ، معاف دِ کړی الله تعالی تاسوله ، او هغه کامل مهربانه دې "

که سردار دوجهان جناب رسول الله ﷺ سره د ملګرونه د مکې مکرمې نه اوويستلې شو او په يره يره مدينې منورې ته لاړو نو داسې ورځ هم الله تعالی راوستله چې مکې مکرمې ته فاتح او بادشاه وردننه شو او د اذا جاء نصرالله آوازونه اوشو هغه پخپله دا آوازونه کوی

لا تثريب عليكم ا ليوم ، اليوم يوم المرحمة(٢)

"په تاسو نن هيح ملامته نشته . نن ورځ ورځ د مهربانۍ او نرمۍ ده "

او کچرته د کعب بن مالک رضي الله عنه او د هغهٔ باره کښې يوه ورځ دا آيتونه راځي چې " وآخرون مرجون لامرالله " (او هغه نور چې ورستو کړې شوو فيصلې د الله تعالی ته ) نو څو ورځی پس پرې اختر

---

(١) يوسف: ٩٢

(٢) بخاری

هم راغې چې "وعلى الثلثة الذين خلّفوا" چې د هغوئ توبه قبوله شوه (په هغه درې کسانو باندې هم چې ورستو کړې شوی وو فیصلې د الله تعالی ته )

کجرته یو امام د امامانو نه جیل ته تلې دې نو چې هغه د جیل نه راوتلې دې نو په میلونو ئې خلق استقبال ته ولاړ دي او کچرته جنازه ئې د جیل نه راوتلې ده نو په مرونې الله تعالی دومره عزت مند کړې دې چې هغه مقابل په خپل کار ستومانه شوې دې .

نو جیل روره تهٔ خفه کیږه مه که په بلال رضی الله تعالی عنه امیه ګټې ایخې دی نو یو ورځ د امیه په سینه بلال ناست شوې دې . او که ابوجهل د ابن مسعود نه سپیره ایستلې ده نو دا ورځ هم په بدر کښې راغلې ده چې ابن مسعود رضی الله عنه د ابوجهل په سینه ناست سر ترې کټ کوی تلك الایام نداولها بین الناس .

مولانا عبیدالله سندهی رحمه الله امیر امان الله خان د افغانستان بادشاه د روس د ایجنټ کیدلو په تهمت باندې دافغانستان نه اویستلو نو داسې ورځ هم راغله چې د امیر امان الله خان حکومت ختم کړې شو او په حرم کښې مولانا عبیدالله سندهی صاحب ته وائی چې افغانستان ته ورشه او څما دپاره کار اوکړه نو چې تهٔ څنګه وائی نو هغه شان حکومت به جوړ کړو مولانا ورته اووئیل چې" تلك الایام نداولها بین الناس " پرون دِ راشړلم او نن راته منت کوې .

نو اې قیدی روره دا عمر د جهان دې بس تیریږی کله څنګه او کله څنګه .

شام غم لیکن خبر دیتی صبح عید کی
ظلمت شب میں نظر آئی کرن امید کی
(اقبال)

## اووه دیرشمه فائده د هرخیز نیته ده

لِكُلِّ أَجَلٍ كِتَابٌ ﴿٣٨﴾ يَمْحُوا ٱللَّهُ مَا يَشَآءُ وَيُثْبِتُ وَعِندَهُۥٓ أُمُّ ٱلْكِتَٰبِ ﴿٣٩﴾ (١)

"دپاره د هر وخت لیک دې ورانوی الله تعالی هغه چې اراده کوي او پاتې کوی هغه چې اراده اوکړی او هغهٔ سره اصل د کتاب دې (لوح محفوظ)"

وَكَانَ أَمْرُ ٱللَّهِ قَدَرًا مَّقْدُورًا ﴿٣٨﴾ (٢)

" او فیصله د الله تعالی ده په اندازه مقررې"

قَدْ جَعَلَ ٱللَّهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْرًا ﴿٣﴾ (٣)

" یقینا ګرځولې ده الله تعالی د هر خیز دپاره اندازه "

إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَٰهُ بِقَدَرٍ ﴿٤٩﴾ (٤)

" یقینا هر خیز مونږ بیدا کړې دې په اندازه مقرره "

فَإِذَا جَآءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ

(١) الرعد: ٣٨ – ٣٩

(٢) الأحزاب: ٣٨

(٣) الطلاق: ٣

(٤) القمر: ٤٩

﴿٣٤﴾ (١)

"نو چې کله راشي نيته د دوئ نو نه به روستو کيږی يوه ګهړئ او نه به مخکښې کيږی"

**واعلم ان الامة لواجتمعوا على ان ينفعوك بشئ لم ينفعوك الا بشئ قد كتبه الله لك ولواجتمعوا على ان يضروك لم يضروك الا بشئ قد كتبه الله عليك جفت الاقلام وطويت الصحف**(٢)

" پوهه شه چې امت که راغونډ شی چې تاله فائده درکړي نو بې د هغې نه چې کومه درله الله ليکلې ده نشی درکولې او که راجمع شي چې نقصان درکړی نو بې د ليکلې شوی نه نشی درکولې قلمونه اوچ شوي دي او صحيفې راجمع شوې دی."

نو کوم بزدله چې د مرګه مخکښې په ځلونو ځلونو مری نو ديکښې د هغوئ دپاره ډاډګيرنه ده . مرګ ليکلې شوې دې بدليږی نه نو ديکښې سوچونه مهٔ کوه بلکه په هغه څه کښې مصروفه شه کوم دپاره چې الله تعالی پيدا کړې ئې . چې هغه عبادت دې . په هغه څيزونو کښې سوچونه مهٔ کوه چې کوم ستا دپاره پيدا شوی دی په هغه څيزونو کښې سوچونه مهٔ کوه چې کوم ستا دپاره پيدا شوی دی که دنيا ده اوکه ددنيا ساز او سامان دې .

دا د الله تعالی قانون دې چې څوک څه سره په دنيا کښې تعلق اولري نو هغې ته حواله کړې شي نو هم هغه د هغهٔ د بدبختۍ او د

(١) الأعراف: ٣٤

(٢) الدعاء للطبرانى ، باب الحث على الدعاء فى الرخاء ٣٤/١

عذاب او د سزا سبب اوګرځی . مثالونه فرعون منصب پورې ځان ترلې وو قارون په مال پورې هامان په وزارت پورې ابی بن خلف په تجارت پورې ولید په اولاد پورې ابوجهل په جاه او عزت پورې ،ابولهب په نسب پورې ،متنبی په شهرت پورې نو هم دغه څیزونه ئې سبب د هلاکت اوګرځیدل .

## اتۀ دیرشمه فائده ګلونه رنګ په رنګ

نو قیدی روره ! صرف د الله تعالی سره تعلق اولره نه که د بل څه پوری . زرده چې د وهلو لخته به ارتاؤ شی او زولنۍ به ماتي شی اوتیارې به رنړا شی ( انشاء الله تعالی )

قیدی روره ! دا دنیا په مختلفو رنګونو رنګ شوې ده دا د ضدونو جمع کونکې ده که په ظاهری دنیا کښې د رنړا او د تیارې کشمکش او ډغره ده او د تور او سپین او د شین او سور په باغونو کښې سورګلاب او او شنۀ ګلونه سرۀ ګلونه خوږ اوتریخ ،دغه شان په معنوی دنیا کښې عزت او ذلت صحت او بیماری مشقت او آرام ، خیر اوشر، آسانتیا او تنګسیا ، لکه یو عالم وائی .

ثمانینة حتم علی سـائر الـورٰی فــکل امــرئ تجــری علیــه

سرور و حزن واجتماع وفرقة وعسر ویسر ثمّ سـقم وعافیـه

"اتۀ څیزونه په ټول مخلوق کښې ضروری دی . نو هر بنده باندې دا اتۀ راځی خوشحالی او غم ، یو ځائیوالې جدا والې ، تنګسیا او آسانتیا بیا بیماری او صحت ، نو چې په کوم حالت کښې وی

وخت تیروه دا عوارض دی کله خنګه او کله خنګه"

چــې همــیش پــه یــو حــال وی نــو الله دې
او که نه انسان وی نو وی به کله خنګـه او کلـه خنګـه

دا دنیا د امتحان دنیا ده نو د حق او د باطل د مقابلې سره دا نورې مقابلې هم دی .

وَهُوَ ٱلَّذِی جَعَلَكُمۡ خَلَٰٓئِفَ ٱلۡأَرۡضِ وَرَفَعَ بَعۡضَكُمۡ فَوۡقَ بَعۡضٖ دَرَجَٰتٖ لِّيَبۡلُوَكُمۡ فِي مَآ ءَاتَىٰكُمۡ ﴿١٦٥﴾ (١)

" الله هغه ذات دې چې ګرځولي يئ تاسو مشران په زمکه کښې او اوچت کړي دي ځنې ستاسو له په ځنو درجې ددې دپاره چې امتحان اوکړي ستاسو په هغه څه کښې چې درکړی دی تاسو لره"

أَهُمۡ يَقۡسِمُونَ رَحۡمَتَ رَبِّكَۚ نَحۡنُ قَسَمۡنَا بَيۡنَهُم مَّعِيشَتَهُمۡ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۚ وَرَفَعۡنَا بَعۡضَهُمۡ فَوۡقَ بَعۡضٖ دَرَجَٰتٖ لِّيَتَّخِذَ بَعۡضُهُم بَعۡضٗا سُخۡرِيّٗاۗ ﴿٣٢﴾ (٢)

" مونږه ويش کړې دې د دوئ تر مينځه د اسبابو د ژوندون د دوئ پدې ژوند معمولي کښې او پورته کړي مِ دي ځنې د دوئ په ځنو په درجو کښې ددې دپاره چې اونيسی ځنې د دوئ ځنو لره په خدمت"

وَٱللَّهُ فَضَّلَ بَعۡضَكُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖ فِي ٱلرِّزۡقِۚ ﴿٧١﴾ (٣)

" او الله تعالی غوره کړی دی ځنې ستاسو په ځنو په مال او رزق

---

(١) الأنعام: ١٦٥

(٢) الزخرف: ٣٢

(٣) النحل: ٧١

کښې"
دا د وجود او د اوچتوالې او فرق د مال دغه شان نور فرقونه الله تعالی کړي دي دا ددې دنیا خائست دې او دیکښې د الله تعالی حکمتونه دی ځکه چې امتحان په مختلفو څیزونو کښې وی که صرف حق وې نو امتحان به نۀ وو دغه شان که د انسان یو حالت وې نو امتحان به نۀ کیدلو.

شیخ سعدی دا عکاسی داسې کوی.

یکے پاسبان و یکے پادشاہ — یکے داد خوا ویکے باج خواہ
یکے شادمان ویکے دردمند — یکے کامران ویکم مستمند
یکے باج دار ویکے تاجدار — یکے سرفراز ویکے خاکسار
یکے برحصیر ویکے برسریر — یکے درپلاس ویکے درحریر
یکے تندرست ویکے ناتوان — یکے سال خورد ویکے نوجوان
یکے درصواب ویکے درخطا — یکے در دعاء ویکے در دغا

یکے نیک کردار ونیک اعتقاد
یکے غرق در بحر فسق و فساد

"یو دربانچی دې نو یو بادشاه دی یو فریادی بل ترې ټیکس اخلی یو خوشحاله دې نویودردمند دې یوکامیاب دې نوبل حاجت مند دې نو ټیکس ورکولو والا دې او د بل په سرتاج دې. یو عزت مند سربلند دې بل عاجزه خوار دې. یوپه پوزی نوبل په تخت ناست دې یو ټاټ اغوستې او بل ریښم اغوستلی یو په صحت روغ نو بل عاجزه دې یو عمر خوړلې نوبل ځوان دې یوپه نیکۍ کښې

نو بل په ګناه کښې يو په لاس په دعاء دې نو بل دهوکه باز يو دصحيح عقيدى او نيک عمل والا او بل د نافرمانۍ او فساد درياب کښې ډوب دې "

حديث شريف کښې هم راغلى دى چې الله رب العزت کله آدم عليه السلام پيدا کړو او د هغۀ نه د هغۀ اولاد نو فرشتو ورته اووئيل چې اې الله تعالى پدې خپلو بنديانو کښې دې برابروالې ولې نۀ کولو نو الله تعالى ورته اوفرمائيل چې "احبّ ان اشکر" څما دا مينه ده چې څما شکريه ادا کړيشى "

دا ددې دنيا ښائست دې

*گلہائے رنگا رنگ زینت ہے چمن ک*

نو ددې مناسب کار کوه نا اميدى مۀ کوه نن يو شان صبا به بل شان ئې چې دربانديې کوم حالت وى نو د هغې مناسب د شريعت حکم ګوره او تابعدارى کوه ... او د الله تعالى نه عافيت غواړه

## يوکم څلويښتمه فائده بندګى پوره کيدل

په بنده باندې په هر حالت کښې د الله تعالى بندګى واجب ده نه به خوشحالى او راحت په دۀ کښې مستى راولي او نه به تکليف او مصيبت په دۀ کښې نااميدى راولى بلکه په هر حالت کښې به د الله تعالى بندګى کوى لکه د نيکانو نخښه الله داسې ذکر کوى .

ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ فِي ٱلسَّرَّآءِ وَٱلضَّرَّآءِ ﴿١٣٤﴾ (١)

" هغه بختور چې خرچ کوي په خوشحالو او تکلیفونو کښې "

الله تعالی د انبیاء کرام علیهم الصلوت والسلام حال ذکر کوی نو داسې وائي

إِنَّهُمْ كَانُوا۟ يُسَٰرِعُونَ فِي ٱلْخَيْرَٰتِ وَيَدْعُونَنَا رَغَبًا وَرَهَبًا ۖ وَكَانُوا۟ لَنَا خَٰشِعِينَ ﴿٩٠﴾ (٢)

" یقینا چې دوئ به تلوار کوله د نیکو په کارونو کښې او رابللم به ئې ځۀ په وخت د شوق او رغبت کښې او په وخت د یره کښې او دوئ به مونږ ته عاجزی کونکی وو"

په هر حالت کښې به الله تعالی طرف ته توجه کوی . د ناقدرو او ناشکرو حال قران داسې ذکر کوی

وَلَئِنْ أَذَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ مِنَّا رَحْمَةً ثُمَّ نَزَعْنَٰهَا مِنْهُ إِنَّهُۥ لَيَـُٔوسٌ كَفُورٌ ﴿٩﴾ وَلَئِنْ أَذَقْنَٰهُ نَعْمَآءَ بَعْدَ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُ لَيَقُولَنَّ ذَهَبَ ٱلسَّيِّـَٔاتُ عَنِّىٓ ۚ إِنَّهُۥ لَفَرِحٌ فَخُورٌ ﴿١٠﴾ إِلَّا ٱلَّذِينَ صَبَرُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أُو۟لَٰٓئِكَ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ كَبِيرٌ ﴿١١﴾ (٣)

" او کچرته کښې اوڅکوم انسان ته د خپل طرفنه مهرباني او بیا

---

(١) آل عمران: ١٣٤

(٢) الأنبياء: ٩٠

(٣) هود: ٩ – ١١

لرې کرم دي لره ددۀ نه نو دې وی نا اميده او ناشکره او کچرته اوځکوم دۀ ته خوشحالی پس د تکليف نه چې رسيدلي وی دۀ ته نو خامخواه وائی دې چې ختم شو تکليفونه څما نه او يقينا دې وي مستی کونکي لوئی مار مګر هغه کسان چې صبر اوکړي او کوی نيک عملونه دا خلق چې دی دوی له بخښنه ده اواجر لوئ او غټ "

نو اي قيدی روره! لږ فکر اوکړه د جيل نه مخکښې راحت وو نو شکر دِ عبادت وو. او اوس درباندې تکليف راغې نو عبادت د صبر دې نو په هر حالت کښې د الله عبادت او بندګی دِ تام شوه او پوره شوه. بدن يخنی او ګرمی دواړه غواړی.

عجبا لامر المؤمن ان امره کله له خير وليس ذالك لاحد الا للمؤمن ان اصابته سراء شکر فکان خيراله وان اصابته ضراء صبر فکان خيرالّه[1]

" د مسلمان معامله څۀ عجيبه او ناشنا ده ددۀ ټول کار او معامله ددۀ دپاره د خير ده دا صرف د مسلمان دپاره ده د بل چا دپاره نده. که دۀ ته خوشحالی اورسی نو شکر کوی نو دا ددۀ دپاره د خير شوه او که اورسيږی دۀ ته تکليف نو صبر کوی نو دا ددۀ دپاره دفائدی او د خير ده "

امتحانونه او مصيبتونه د انسان انسانيت پوره کوی او انسان سيدها کوی

ظفر ادمی اسکو نہ جانیے گا خواہ ھو کتنا صاحب فھم و ذکا

(۱) مسلم شريف، باب المومن امر کله خير ٤/٢٢٩٥

جیسے عیش میں یاد خدا نہ رہی جسے طیش میں خوف خدا نہ رہا

## څلويښتمه فائده نيک

قيدي روره چې کله ناست وي او فکرونه او سوچونه کوي نو شيطان درله ذهن ته خيالونه غورځوي کله کله دې ځان سره لګيا وي او خبرې کوي نو وائې چې ځۀ څه بد قسمته يم او دا څمونږ خراب قسمت دې او کله وائې چې بدبخته يم . نو ګلابه لږ سوچ اوکړه جيل ته تلل بدبختي نده او بهر ګرځيدل آزادي نيک بختي او سعادت ندې لږ سوچ اوکړه نو يوسف ﷷ په کوهى کښې دي خو نيک بخته دې په جيل کښې دې خو نيک بخته دې دغه شان نور امامان نيکان په تکليفونو او سختو کښې وو خونيک بخته وو .

نيک بختي او سعادت څه جال ندې چې اوغورځولې شي اونه څۀ موټر دې چې سورلى پرې اوشى او نه بنګله ده چې بنده پکښې استوګن شى او نه غنم دې چې پيمانه کړې شي او نه ګلاب دى چې بوئ کړيشى .

سعادت او نيک بختي اصل د ايمان او د تابعدارئ د الله تعالى نوم دې او د الله تعالى به فيصله رضا کيدل دى سعادت دا دې چې د الله تعالى په ربوبيت د نبى عليه السلام په نبوت او د اسلام په قانونيت رضا شى.

ولســـــت ارى الســــعادة جمـــــع مــــــال
ولكــــن التــــــقى هـــــو الســــــعيد

"څۀ نيک بختى د مال جمع کيدل نه ګڼړم خو اصل نيک بخته هغه متقى دې"

نو اې قيدى روره ! نيک بخته هغه تابعدار ته وائى که په جيل کښې وى که په غر کښې وى او که اوبو کښې وى .

حافظ ابن قيم فرمائيلى دى چې چرته د الله تعالى د لارې نه لرې کيږى پدې لاره کښې آدم ستړې شوې دې او نوح ددۍ د وجې ژړلى دى او خليل ﷺ اور ته غورځيدلې دې اسماعيل د ذبح دپاره سملولې شوې دې يوسف ﷺ په بازار کښې خرڅ کړې شوې دې او په جيل کښې ئې کلونه تير کړى دى او زکريا ﷺ اره شوې دې او يحى ﷺ ذبحه شوې دې ايوب ﷺ تکليفونه برداشت کړى دي داود ﷺ ژړا د حده زياته شوې ده عيسى ﷺ په يواځو خوشو لارو کښې ګرځيدلې دې او قسماقسم تکليفونه او لوږې نبى ﷺ برداشت کړي دي .

ولې دا نيک بخته نۀ وو ؟ نه بلکه دا د نيک بختو سرداران وو .سره د تکليفونو سعيدان دى ....

نو قيدى روره په اخلاص سره د الله تعالى عبادت اوکړه هغۀ سره رشته او تعلق جوړ کړه د مخلوق نه ئې کټ کړه او هغۀ ته ورغوى لاسونه د عاجزۍ اوږدۀ کړه دا سعادت او نيک بختى ده .

**فائده**: روره ! چې نيک بختى غواړې په دنيا او آخرت کښې نو دا د نيک بختۍ په کارونو او علامو باندې مومې هسې نشې موندلې . ځنې نخښې د نيک بختۍ دا دى.

(۱) د بنده چې کله عمل زیات شی نوعاجزی اوتواضع ئې زیاته شی نو دا بنده داسې دې لکه قیمتی ملغلره چې کله ئې وزن او قیمت زیاتیږی نو د سمندر ویخ ته غوپه کیږی . بنده پدې یقین وی چې الهی او خدائی ډالۍ ده او د بنده پرې الله تعالی امتحان کوی که ددې شکر اوکړې نو درجې به اوچتې شی .

يَرْفَعِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مِنكُمْ وَٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ دَرَجَٰتٍ ۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿١١﴾ [١]

" اوچتوی الله تعالی هغه کسان چې ایمان ئې راوړې دې ستاسو نه خاص کر هغه کسانو له نچې ورکړې شوې دې ورله علم درجې"

(۲) چې کله د بنده علم زیات شي نو د هغهٔ یره زیاته شی او احتیاط ئې زیات شی . بنده چرې هم د خپې د خوئیدلو او ژبې د غلطۍ نه او د زړهٔ د اوړیدو را اوړیدو نه نهٔ محفوظ کیږی نو بنده هر وخت په محافظه او مراقبه او څوکیدارۍ کښې وی داسې وی لکه یریدونکې مرغۍ چې احتیاط کوی چې کله یو ځانګه باندې کښینی نو زر بلې ته والوزی د دام او د ښکاری نه یریږی .

(۳) بله نخښه د سعادت داده چې کله ئې عمر زیاتیږی نو حرص به ئې کمیږی ځکه چې ددهٔ یقین مضبوطیږی چې مرګ ته نزدې شوم او هغه یقینی څیز رانزدې شو او پرواونه ئې کمیږی .

(٤) او دا هم د نیک بختیا نخښه ده چې څومره ئې مال زیاتیږی نو

---

[١] المجادلة: ١١

دومره ئې سخاوت او خرچ کول سیوا کیږی ځکه مال بنده ته سوالی ملاویږی او ورکونکې امتحان کونکې دې او مهلتونه ئې ورکړی دی او مرګ په انتظار دې نو ځکه دې خرچ کوی .

(٥) او دا د سعادت مندۍ او نیک بختیا دلیل دې چې کله د بنده عزت قدر او شهرت زیات شی دومره دې د خلقوسره ډیر نزدې شی او د هغوئ ضروریات پوره کوی او هغوئ سره د عاجزۍ معامله کوی ځکه مخلوق د الله تعالی عیال پیداوښ دې او پدوئ کښې محبوب الله تعالی ته هغه دی چې مخلوق ته فائده رسوی .

نو اې قیدی روره ! صبر کوه د صبر تلقین کوه او الله ته ژړا او فریاد کوه . زر ده چې خوشحالی به راشی او نیک بختی او کامیابی به دِ قدمونه خکلوی .

وکـــــم مـــــن فـــــتی ســـــدت علیـــــه وجوهـــــه
اصـــــاب لهـــــا فی دعـــــوة الله مخرجـــــا

”څومره کرته یو ځوان وی چې په هغه د ظاهری اسبابو لارې بندې شوې وی خو چې کله الله تعالی رابلی نو د هغې مخلص او لار د خلاصیدو ملاؤ شی.“

نو دغه اسبابو ته سوچ کوه او عمل په شریعت کوه نو نیک بخته به ئې او د بدبختۍ نه به بچ ئې . الله تعالی دِ مونږه ټول ازلی نیک بخته کړی او د ازلی شقاوت نه دِ الله تعالی مونږ اوساتی امین .

## یو څلویښتمه فائده د ځان نه ښکته ته ګوره

د الله په لاره کښې قیدی ګله ! ستا د تسلۍ یوه لویه ذریعه دا هم ده

چې کوم خلق ستا نه په سخت مصیبت کښې دی د هغۍ ته اوګوره بې اختیاره به الحمد لله اووائې . چې کله دربانديې سزا سخته شوه ، زمکه دربانديې سره د فراخوالې نه تنګه شوه نو لږ اخوا دیخوا اوګوره نو هر طرفته به مصیبت زړه غمژن ، دردیدلې په نظر راځی او د هر طرفنه به د ژړا انګولا آواز اورې او په هره سترګی کښې به اوخکه او هر اننګی به د اوخکو لوند وي .

اې روره ! ستا دا جیل او مصیبت هم د الله تعالی د طرفنه نعمت دې څومره مریضان د مودو داسې په کټ پراته دی ، څومره قیدیان ستانه مخکښې قید شوی دی لا په قید کښې دی د یوسف عليه السلام غوندې هستې اووۀ کاله په جیل کښې ده پلار د هغۀ ځما او ستا د پلار نه خکلې دې او مور ئې ځمونږ د میندو نه خکلې رونړه او خویندې ځمونږ د هغې نه خائسته د ښلویښتو کالو پورې روک دې هیڅ رابطه نۀ کیږی هغه دومره خائسته چې د ننۍ دنیا ټول خائست ورته لوګې شه هغه د فرعون په قید کښې صبر کوی او تۀ ګیلې او فریادونه کوي .

څومره پلاران دی چې د هغوئ نه د زړۀ ټکړې جدا دي څومره میندي بورۍ شوې څومره بچی یتیمانان شو چې تۀ کله سوچ اوکړې نو پته به درته اولږی چې تۀ خو په غټو نعمتونو کښی ئې .

ستا دپاره نمونه د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم ژوند دې د هغه په مبارَک سر باندې لرې واچولې شو د هغۀ خپې د وینو ډکې شوې مخ مبارک ئې زخمی شو دوه نیم کاله ئې په شعب ابی طالب کښې نظر بند وو دا

ئې جيل د ټول خاندان وو تردې چې دۀ ونو پانړې ئې خوړلې غاښونه مبارک ئې مات شو به بی بی باندې ئې تهمت اولګولې شو په يوه معرکه د احد کښې د هغه اويا ملګری شهيدان شو بچی د هغه او اکثرې لورګانې د هغۀ د هغۀ په ژوند وفات شوی او د لوګې نه ئې ګټې په ګيډه پورې اوتړلې او د جادوګر او کاهن تهمت پرې اولګولې شو . داسې نور امتحانات ګوره نو دا ستا زړۀ ته تسلّی ده چې لږ په جيل کښې د خپلو ملګرو نه تپوس اوکړې نو ځان به درته شهزاده ښکاره شی . نو

انظرالی من اسفل عنکم [۱]

د خان نه ښکته ته ګوره نو د شکر ماده به درکښې پيدا شې او چې د مصيبت په وخت کښې دې هم په موجود نعمت شکر اوويستلو نو دا د معافئ د ګناهونو ذريعه ده . چې کوم نعمت فوت شوې دې او مصيبت رسيدلې دې نو په هغې صبر کوه او چې کوم موجود دی نو په هغې شکر کوه . دا دواړه د نجات ذرائع دی

الشکر صيد المفقود وقيد الموجود

"شکر داسې څيز دې چې غيرموجود نعمتونو دپاره خکار دې او د موجودو نعمتونو تړون او ايسارول دی "

شکر نعمت نعمتت افزون کند

کفر نعمت ازکفت بيرون کند

" ستا شکر کول د نعمتونو دا نعمتونه ستا دپاره نعمتونه زياتوی

(۱) مسنداحمد ، باب مسند ابی هريرة رضي الله عنه ۱۷۶/۱۶

او ناقدری د نعمت دا ئې د لاس نه بهر کوی"

نو الحمد الله علی کل حال واعوذ بالله من حال اهل النار.

## دوه څلویښتمه فائده فکر د دین او د آخرت

وئیلې کیږی چې یوسف عليه السلام نه تپوس اوکړیشو چې جیل څه څیز دې نو هغهٔ ورته اووئیل چې "دار الهموم" د غمونو سوچونو فکرونو کور. نو کله فکرونه ډیر زیات وی کله د اهل وعیال فکر کله د خلاصی فکر کله نور فکرونه نو قیدې روره دا فکرونه تا ددینی او د آخرت د فکر نه غافله نکړی کچرته تا د ټولو فکرونو نه یو فکر ددین او د آخرت فکر جوړ کړوو نو نور ټول فکرونه به درله الله تعالی ختم کړی او هغه ټولو له به الله تعالی کافی شي الله تعالی د منافقانو نخښه د سختئ په حالت کښې دا ذکر کوی چې دوی سره صرف د ځان غم وی .

وَطَآئِفَةٌ قَدْ أَهَمَّتْهُمْ أَنفُسُهُمْ ﴿١٥٤﴾ (١)

"او یوه ډله چې فکر مند کړی دوئ لره غم د خپلو ځانونو"

یعنی نه د پیغمبر عليه السلام غم او فکر چې د احد په معرکه کښې څهٔ شوي دي او نه غم د الله تعالی ددین صرف د ځان فکر ئې کولو چې ځمونږ سرته دِ خیر وی نور به ګورو سره . د مومن مخلص نخښه به دا نهٔ وی د هغهٔ همت د الله دین د هغهٔ فکر د الله تعالی ددین فکر او د آخرت فکر هیڅ یو فکر ئې ددې فکر نه غافله کولې نشی .

---

(١) آل عمران: ١٥٤

نه شادی داد سامانے نه غم آورد نقصانے
به پیش همت ما هر چه بود بود مهمانے

''نه د خوشحالۍ د وجې مستيېږم نه غم ما د خپل مقصد نه پاتې
کوي ځما د همت مخې ته چې څه دي نو هغه ميلمانۀ دي ''

لږ امام السجناء يوسف على نبينا وعليه السلام ته اوګوره د جيل په دننه څنګه د توحيد دعوت ورکوي او د خلقو د عقيدې اصلاح کوي

يَٰصَٰحِبَيِ ٱلسِّجۡنِ ءَأَرۡبَابٞ مُّتَفَرِّقُونَ خَيۡرٌ أَمِ ٱللَّهُ ٱلۡوَٰحِدُ ٱلۡقَهَّارُ ﴿٣٩﴾ (١)

'' اې ځما د جيل ملګرو ګنړ ذمه واران چنګ ونګ غوره دي او که نه الله يک يو زوراور''

او بيا روستو څنګه په شرک رد کوي او ددين حقيقت بيانوي .

اوګوره ! سيدنا عمر رضي الله عنه چې په نيزه او خنجر وهلې شوې دې په دغه وخت کښې د خپلو ملګرو سره د نيکۀ د ميراث خبره کوي . او چې وخت هغۀ په خپل روح سخا کول آخري حالت دې چې يو هلک راغې ځوان چې لنګ ئې ښکته وو نو عمر رضي الله عنه ورته اووئيل .

ارفع ثوبك فانه اتقى لربك وانقى لثوبك(٢)

'' دا جامه دِ اوچته کړه دا ستا دپاره د الله دپاره ډير د يرې او د پرهيزګارۍ نخښه ده او د جامې د پاک ساتلو کښې ډيره فائده منده ده ''

(١) يوسف: ٣٩

(٢) تاريخ المدينه لابن شيبه باب مقتل عمربن الخطاب رضي الله عنه جزء ٣ صفحه: ٩٣٤

سعدبن الربیع رضی الله عنه د احد په ورځ په وینو کښې لت پت پروت دې په آخر سلګۍ کښې خپلو ملګرو ته وائی .

لاعذر لکم عند الله ان قتل رسول الله ﷺ و واحد منکم حی[١]

" د الله تعالی په دربار کښې ستاسو هیڅ عذر نشته که چرته نبی علیه السلام وژلې شوې وی او په تاسو کښې یو تن هم ژوندې پاتې وی"

ابو ریحان البیرونی د مرګ په وخت په آخری سلګو کښې د علم طلب کوی او د جد فاسد د میراث تپوس ئې د فقیه ابوالحسن علی بن عیسی رحمه الله نه تپوس اوکړو .

نو اې قیدی روره ! دا فضول فکرونه تا د اصل مقصد نه غافله نه کړی چې هغه ستا د پیدائش مقصد دې

وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴿٥٦﴾ (٢)

" نهٔ مِ دی پیدا کړی پیریان او انسان مګر صرف دې له مِ پیدا کړی دي چې څما عبادت اوکړي"

لام تعلیل لیعبدون را داد

و یاکلون را قطعا نه کرد یاد

"مقصد د " لام" هغه ئې یعبدون له ورکړې دی د خوراک خبره او مقصد ئې هډو یاد کړې ندې "

---

(١) الموطا مالك ، باب الترغیب فی الجهاد ٣/٦٦٣

(٢) الذاریات: ٥٦

کچرته د اصل مقصد نه غافله شوې نو دغه ستا
شکست وو چې شکست خوړل جیل ته کیدل او قید
کیدل ندی بلکه شکست خپل مشن پریښودل دی .

وَلَا تَهِنُوا۟ وَلَا تَحْزَنُوا۟ وَأَنتُمُ ٱلْأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٣٩﴾ (١)

" او تاسو يئ اوچت او غالب که تاسو يئ ایمان لرونکي "

که ایمان درنه پاتې شو نو شکست دي اوخوړو او د دشمنانو مقصد دِ هم پوره کړو دهغوئ هم دا مقصد دې چې تا ددین نه واړوی او غافله دِ کړي .

اسجن وقید واغتراب وعسرة وفقد حبیب ان ذالعظیم
وان امرء تبقی مواثیق عهده علی کل هذا انه لکریم

" آیا جیل او تړل او سفر او تنګسیا او سره ددې نه د محبوب جدائی دا غټ غم کچرته یو سړې سره ددې ټولو مصیبتونو په خپلو وعدو (د الله په عبادت ) کلک وو نو دا شریف او عزتمند سړې دې "

د عبادت او د آخرت د تیارئ خو دا شرط ندې چې د جیل نه بهر قبول دي او دننه ندې قبول بلکه په هرځائ کښې قبول دې .

د هغه چا غوندې مهٔ کیږه چې د هغهٔ فکر او همت صرف ګیډه موټر بنګله او شهوتونه پوره کول وی دا څیزونه د آخرت بازار کښې کوټه

(١) آل عمران: ١٣٩

دی او بې کاره دی ددې فکرونو والا اوچت مقصد والا نشي جوړیدلې.

لږ سوچ اوکړه چې کوم څیز تهٔ فکر مند کړې او غمژن کړې ئې . آیا دغه څیزونه د دومره فکر او توجه قابل دی او د دومره کوشش چې دا تهٔ څه کوې د دنیا څیزونه ډیر بې کاره ذلیله دي نو خپل فکر سوچ ټول د آخرت طرفته متوجه کړه .

من جعل الهموم همّا واحداً همّ المعاد كفاه الله هموم دنياه ، ومن تشتبعت به الهموم في احوال الدنيا لم يبال الله فى ایّ اوديته هلك(۱)

"چا چې د ټولو غمونو نه یو غم جوړ کړو غم د آخرت نو د غمونو ددنیا نه به ورله الله تعالی کافي شي نو هغه به ورله الله تعالی سرته اورسوی او په چا چې ددنیا په حالاتو کښې ګډوډ غمونه راغلل نو الله تعالی هیڅ باک نهٔ کوی چې په کومه کنده ددنیا کښې هلاکیږی نو هلاک دِ شی .

نو قیدی روره خپله ټوله توجه دین و آخرت ته کړه نو د خلاصون او نور دکور فکرونه الله تعالی ته حواله کړه بهترین حامی او ناصر دې "

## درې څلویښتمه فائده لوئ همت

د انسان قدر وقیمت او عزت د هغهٔ د همت طلب او ارادې نه معلومیږی چې همت څومره اوچت وی نو دومره د هغه سړی قدر و عزت وی او چې څومره ښکته وی نو دومره هغه بنده هم ښکته وي .

(۱) سنن ابن ماجه ، باب الهم بالدنيا ۲ /۱۳۷۵

نو همت لوړ ساتل غواړي . همت او طلب د انسان د انسانیت ترجماني کوی .

قیدی روره ! دا خبره صحیح ده چې تهٔ په زولنو تړلې شوې په نظر راځی خو ستا همت تا ثریّا ته رسولې شي .

د اسلام د خویونو او لویو خصلتونو نه یو غټ والې د همت او دمقصود هم دې د انسان په هستۍ مثبت او منفی اثرات لرونکې څیز هغه لوړ همت دې په انسان کښې پټ جوهر او پروت قوت او استعداد دغه شان چې انسان عالی مقام ته رسوي او د ستائنو په ډګر او بام ئې اودروی هغه د انسان لوړ همت دې .

د همت لوړوالې هغه ذریعه د خیر کثیر ده او د ترقۍ ده درجو دکمال ته . چې کله همت لوړوی نو ستا په رګونو کښې د بیدارۍ وینه منډې وهي او د علم او عمل په میدان کښې به ستا اس منډې وهي نو چې تهٔ لیدلې کیږی نو په دروازه د عزت او فضیلت به ئې . او تهٔ چې لاس اوږدوی نو اهم کار ته به اوږدوې په معمولی کار به نه خوشحالیږی او چرته به د خیر په کار کښې په روستني صف کښې نهٔ ئې .

نو راشه اوچت والي ته کمزوري کارونه او ارادې پریږده د ذلت کمزورۍ د چاپلوسۍ او د مداهنت او سستوالی ونه د ویځه اوباسه نو د لوړ همت خاوند مضبوط بهادر دې او د پست همت والا هغه بزدله وی او رپیدونکې وی .

غټوالې د همت د اصیل او شریف سړی په سر تاج دې پدې عزت ته قدم اخلی . غټوالې او لوړ والې د همت دا یو کالې دې چې د انبیاء

کرامو میراث دي د نبی علیه السلام روایت دی .

ان الله یحبّ مکارم الاخلاق ویکره سفاسفها[۱]

"یقینا الله تعالی خوښوی عزتمند اخلاق او بد ګڼړی لاندې او بې کاره اخلاق "

دغه شان روایت دې

ان الله یحب معالی الامور و اشرافها[۲]

"د الله تعالی غټ غټ کارونه او د عزت والا کارونه خوښ وی "

حسان رضی الله عنه د جناب رسول الله ﷺباره کښې فرمائیلی دی .

له همـــــــم لامنـــــــــتهی لکبارهــــــا
وهمتـــــه الصـــــغری اجـــلّ مـــــن الدهـــــر

"د هغه دپاره همتونه دی چې دهٔ غټو څه انتهاء نشته او د هغهٔ وړوکې همت هم د ټولې زمانی او د اهل زمانې نه غټ وو"

لږ د اسلافو مشرانو تاریخ اوګوره چې تهٔ لږ د همت لوړ والې اوګورې او پته درته اولګی چې هغوئ څه کړی وو نو په لوړ همت ئې کړي وو د بنده خو صرف همت او ارداه ده نور کار خو الله کوی نو چې اراده کوې نو غټه اوکړه کنه د اسلافو د ارادو باره کښې وئیلې شوی دی.

همـــــم کـــــأن الشـــــمس تخطـــــب ودّهـــــا
والبـــــدر یرســـــم فی ســـــناها احرفـــــا

---

(۱) السابع فوائد ابی عثمان البحیری ، باب ان الله عزوجل یحب مکارم الاخلاق ۱۰۶/۱
(۲) المعجم الکبیر لطبرانی ، ۱۳۱/۳

"داسې همتونه دی چې نمر ددې دمينې سره کوېژدن کول غواړی
او سپوږمۍ د هغې په رنړا کښې او ړرق کښې تکی ليکی . يعنی
نمر او سپوږمی ددې لوئ همتونو ته سلامی کوی "

نو اې قيدی روره ! بس حوصله او همت مهٔ بائيله که تهٔ ماتيږی نو مات شه خو چې همت مات نشی .

څوانئ بـه مـاتې مـاتې حوصـلې بــه مــاتې نشــې
څمـــونږ د تکبيرونـــو انګــازې بـــه مـــاتې نشـــې

اقبال د شاهين او د بانګی فرضی مکالمه د لوړهمت او دکم همت مثال ذکر کړې دې

*اک مرغ سرانے کہا اک مرغ ہوا سے پر دار اگر تو ہے ، تو کیا میں نہیں پر دار*
*گر تو ہے ھواگیر تو ھوں میں بھی ھواگیر آزاد اگر تو ہے، نہیں میں بھی گرفتار*
*پرواز خصوصیت ہر صاحب پر ہے کیوں رہتے ہیں مرغان ہو مائل پندار*
*مجروح حمیت جو ہوئی مرغ ہواکی یوں کہنے لگا سن کہ یہ گفتار دل آزار*
*کچھ شک نہیں پرواز میں آزاد ہے تو بھی حد ہے تیری پرواز کی لیکن سر دیوار*
*واقف نہیں تو ہمت مرغان ھوا سے توخاک نشین انہیں گردوں سے سروکار*

*تو مرغ سرائی ، خورش از خاک بجوئ*
*مادرصد د دانہ بہ انجم زدہ منقاد*

د په دينی خلقو کښې د همت او فرق او مخکښې د دين او دنيا والو دواړو فرق حافظ ابن قيم هم دا فرق داسې ذکر کوی چې د ځنو خلقو همت د دنيا حيزونه او د ځنو جنت وی نو هغه وائی

ورأت عقول النـاس دائـرة على جمع الحطام وخدمة السلطان
وعلى المليـح والملـيح وعشرـة الاحباب والاصحاب والخلان
فاستو عزت ترك الجميـع ولـم تجدعوضا تلذ به من الاحسـان
يـا سـلعة الـرحمن لـولا انهـا حجبت بكل مكاره الانسان
وما كان عنها قط من متخلف و تعطلـت دارالجـزاء الثـانی
لكنها حجبـت بكـل كريهـة ليصدّ عنهـا العـاجز المتـوانی
وتنالهـا الهمـم الـتى تسـموا الى باب العلى بمشئة الـرحمن
وصـلاحه وفلاحـه ونعيمـه تجريـد هـذاالحب للـرحمن

" او د خلقو عقلونه ئې اوليدل چې هغه ددنيا په راجمع کولو او د بادشاه په خدمتونو د مالګينو صورتونو او شکلونو په مينه او د يارانو او ملګرو په صحبت کښې اخته دی خو دا ټول پرېښودل ورته ګران شو او بيا ئې نه موندلو څه بدله او عوض چې خوند پرې واخلی د احسان نه . نو اې د الله تعالی سودا (جنت) يعنی اې جنته ! که تهٔ پداسې څيزونو چې د انسان بدې شی پټ نه وې نو ددې نه هيڅوک نوې روستو شوې او د بدلې دويم کور به بيکاره پاتې شوې وې . خو تهٔ په هر قسمه په نا خوښه څيزونو چې د پټ ئې دا حکمت پکښې دې چې ستا نه عاجزه او سست سړئ روستو پاتې شی او دا سودا به هغه همتونه حاصل کړي چې د هغوئ همتونه د الله تعالی رضا ته اوچت شوې دې او بل حکمت دا دې چې ددې صلاحيت او کاميابی او نعمت د مهربانه بادشاه دپاره ځانله شی "

حدیث کښې هم راغلی دی چې په خلقو باندې داسې زمانه به راشي چې د دوئ همت به خیټې وی او شرافت به ئې سامان وی ښځه به ئې قبله وی او دین به ئې دا روپۍ او اشرفۍ وی دا ډیر ناکاره خلق دی . د الله په نیز هیڅ برخه نه لری . کنزالعمال جلد ۱۱ صفحه ۱۹۲

نو د بعضو خلقو همت صرف خیټه او ښځه وی دا خو د حیواناتو پشان دی د ځنو همت داسې مسئلې دی چې هغې کښې څه فائده نهٔ وی کله متشابهاتو کښې ګوتې وهی کله په اولی غیر اولی کښې اهمې مسئلې توحید وسنت تزکیه نفس د الله محبت او معرفت د نبی ﷺ محبت د الله د قانون مسئله د جهاد دا مسئلې ترینه پاتې وی د اسلام او د وخت په تقاضا نهٔ پوهیږی . حنظله رضی الله عنه وائی منافق شوم . یو عالم وائی چې

ولـــــو خطـــــرت لی فی ســـــواك ارادة
لحكمـــــت عنـــــد ذالـــــك بـــــردتی

" که ځما زړهٔ کښې ستا نه علاوه د بل چا اراده قدرې هم تیره شی نو دا ځهٔ خبل مرتدوالې حسابوم "

نو اې قیدی روره خپل همت عالی او اوچت کړه چې اوچت شې .

## څلور څلویښتمه فائده مضبوط عزم

لوړ همت سره مضبوط عزم داسې دې لکه بوده او تنسته که همت لوړوی او عزم نهٔ وی نو دا صرف ارمان او آرزو ده چې هیڅ فائده نهٔ

کوي . چې کله ورسره مضبوط عزم ملګرې شی نو بلب روښن شي او نتیجه ترې رااوځی.

فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُتَوَكِّلِينَ ﴿١٥٩﴾ (١)

"کله چې تهٔ مضبوطه اراده اوکړې نو ځان حواله کړه الله تعالی ته یقینا الله تعالی مینه کوی د ځان سپارونکو سره "

د انبیاء کرامو علیهم الصلوات والتسلیمات صفت او تعریف چې کوی په اولوالعزم سره کوی چې پوخ همت او عزم والا وو .
جناب رسول الله ﷺ دومره مضبوط عزم دې چې یک یواځی د الله تعالی په اعتماد ټولې دنیا ته اعلان کوی چې "ایهاالناس قولوا......." ټول انسانیت ته آواز کوی او دا هم وائی چې خپل کار او مشن پرېږودلو ته تیار نهٔ یم داسي وائی

والله لو وضعواالشمس علی یمینی والقمر علی یساری علی ان ادعَ هذاالامر والله لا ادعه حتّی اهلك فی طلبه او لینفذنَ الله هذاالامر(٢)

" قسم په الله تعالی چې کچرته نمر راله په خې لاس کښې کیږدی او سپوږمۍ په ګس لاس کښې او شرط راته دا اولګوي چې دا خپل مشن پرېږده نو قسم په الله تعالی چې نهٔ ئې پرېږدم تردې چې ځهٔ د خپل مشن په پوره کولو مړ شم او یا ځما کار الله تعالی سر ته اورسوي "

---

(١) آل عمران: ١٥٩

(٢) السیرة النبوی لابن هشام ٢٦٦/١

د صلح حديبيه په موقع په خاص حالت کښې ئې هم دا اووئيل چې

والله لاقاتلنهم وحدى حتى تنفرد هذه السالفة

" قسم په الله تعالى چې څۀ به ورسره يواځې جنګيږم تردې چې

څما څټ د بدن نه جدا شى"

دا وو لوړ همت سره مضبوط عزم چې هيڅ يو رکاوټ رکاوټ نۀ ګڼړى نه څه پرواه کوى خو بس خپل مشن سرته رسوى.

ارادے جنکے پختہ ھو یقین جنکا خدا پر ہو

تلاطم خیز موجوں سے وہ گھبرایا نہیں کرتے

د جناب رسول الله ﷺ خليفه او جانشين جناب ابوبکرصديق رضي الله عنه چې کله د جيش اسامة رضي الله عنه د رخصتولو خبره راغله هغه په خپل مشن کلک او پرعزم وو نو په شاتورى اَس کښيناستلو او روان شو جه تاسو لښکر نۀ ليږئ خو څۀ د نبى عليه السلام مقرر شوې مشن نۀ پريږدم اووې وئيل چې

لاجاهدنّهم وحدى حتّى تنفرد هذه السالفة

"څامخواه څۀ به د دوئ سره يواځې جنګيږم تردې چې دا څټ

څما د بدن نه جدا شى"

د امت لوئ قائد سلطان صلاح الدين يوسف ايوبى عزم راغستلې وو چې "القدس" مشن به سرته رسوم د هيڅ ديوال پروا ئې نده کړې عزم مضبوط کړه .اسلاف څنګه وو.

ثابت قدم وہ رہتے تھے ہر حق کی بات پر

سجدہ خدا کا کرتے تھے خنجر کی دھار پر

د احد په موقع چې نبی ﷺ زغره واغستله بیا ورته اصحابو اووئیل چې ستاسو څنګه مشوره وی هغه شان به کوو نبی ﷺ ورته اوفرمائیل.

**ما كان لنبي لبس لامة الحرب ان ينزعها حتى يقضى الله بينه وبين عدوه**[۱]

"ندي مناسب هیڅ پیغمبر له چې هغه دجنګ زغره واغوندی او بیا ئې اوباسي هله به اوباسي او لرې کوي به ئې چې ددۀ او دشمن باره کښې الله تعالی فیصله اوکړی"

**اذا كنت ذا رأى فكن ذا عزيمة**
**فان فساد الرأى ان تترددا**

" چې کله دِ رأی او خیال خاوند ئې نو دعزم والا شه د رأی او ارادې فساد هغه شک او تردد دې "

نو ترکومې به تردونه او شکونه کوې او زړۀ به دِ درزیږی دا درزیدل پریږده.

**اطرح ليتا وسوفا ولعلّ**
**وامض كالسيف فى كف البطل.**

" د لیت سوف لعلّ دا خبرې پریږده یعنی اوبه شی او ارمان دې ، صبر کوه دا خبرې دِ پریږده داسې چلیږه لکه توره د ځوان په لاس کښې "

عزم سره توکل کوه نو الله به دِ مقصد سرته اورسوي.

---

(۱) البیهقی

قيدي روره ! مضبوط عزم ستا زيور او کالي دي.

د همـــت پـــه غـــرۀ کښـــې اونـــه د نختر يـــم
پـــه اوچ زور د اوچـــو کانـــړو نـــه نـــم اخلـــم

## پنځه څلويښتمه فائده التفکر فی آيات الله

قيدي روره ! د فارغ وقت استعمالولو په طريقه هغه يو اهم عبادت چې د الله تعالى په آيتونو کښې سوچ کول دي . د عقلمندو نخښه قران کريم وئيلې ده .

إِنَّ فِي خَلْقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱخْتِلَٰفِ ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ لَءَايَٰتٍ لِّأُوْلِي ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿١٩٠﴾ (١)

" يقينا په پيدائش د آسمانونو او زمکه کښې او په ادلون بدلون د شپې او ورځې کښې خامخواه نخښې دی دپاره د عقلمندو "

أَفَلَا يَنظُرُونَ إِلَى ٱلْإِبِلِ كَيْفَ خُلِقَتْ ﴿١٧﴾ وَإِلَى ٱلسَّمَآءِ كَيْفَ رُفِعَتْ ﴿١٨﴾ وَإِلَى ٱلْجِبَالِ كَيْفَ نُصِبَتْ ﴿١٩﴾ وَإِلَى ٱلْأَرْضِ كَيْفَ سُطِحَتْ ﴿٢٠﴾ (٢)

" آيا نۀ ګورى دوئ اوښ ته چې څرنګه پيدا کړې شوې دې او آسمان ته چې څرنګې اوچت کړې شوې دې او غرونو ته چې څرنګې خخ کړېشوى دی . او زمکې ته چې څرنګې خوره کړې شوې ده "

---

(١) آل عمران: ١٩٠

(٢) الغاشية: ١٧ – ٢٠

هر طرفته د نخښو جال خور دې لږ فکر اوکړه.

وَفِي ٱلْأَرْضِ ءَايَٰتٌ لِّلْمُوقِنِينَ ﴿٢٠﴾ وَفِيٓ أَنفُسِكُمْۚ أَفَلَا تُبْصِرُونَ ﴿٢١﴾ وَفِي ٱلسَّمَآءِ رِزْقُكُمْ وَمَا تُوعَدُونَ ﴿٢٢﴾ (١)

"او په زمکې کښې نخښې دى دپاره د يقين کونکو او ستاسو په نفسونو کښې نو آيا تاسو ګورئ نه. او په آسمان کښې روزى ستاسو ده او هغه چې تاسو سره ئې لوظ کولې شي"

حديث کښې راځى چې

تفكروا فى الاء الله ولا تتفكّروا فى ذات الله(٢)

"سوچ او فکر کوئ د الله تعالى په نعمتونو او قدرتونو کښې او سوچ مۀ کوئ په ذات د الله تعالى کښې"

داهم په حديث کښې راغلى دى چې

فكرة ساعة خير من عبادة ستين سنة(٣)

"يوساعت فکر کول دا ډير غوره دې د عبادت د يوکال نه"

تأمل في ريـاض الارض وانظـر الى اثـار مـا صـنع المليـك
على قضـب الزبرجـد شـاهدات بـأن الله لـيس له شريـك
عيـون مـن لجـين شاخصـات باحـداق هى الذهـب السـبيك

"سوچ کوه په باغونو د زمکه کښې اوګوره هغه نخښو ته چې الله تعالى جوړې کړى دي. د زمرود په کانړو داسې ګواهي کونکې شته دې چې الله تعالى لره شريک او حصه دار نشته دې. د سپينو

---

(١) الذاريات:٢٠-٢٢

(٢) الطبرانى فى المعجم الاوسط ٢٥٠/٦

(٣) العظمه لأبى الشيخ الاصبهانى، باب ما ذكر من الفضل فى التفكر فى ذالك ٢٩٩/١

زرو چینې چې هغوئ سترګی رایستونکې دی داسې لکه سرۀ زر ویلې شوي دي"

نو قیدی روره ! سوچ کوه او فکر کوه دا اهم عبادت دې خو فکر داسې چې نتیجه ئې دا رااوځی چې الله تعالی طرف نزدې کیږی لکه د نیکانو خلقو چې د فکر نه روستو څه وائی.

ٱلَّذِينَ يَذۡكُرُونَ ٱللَّهَ قِيَٰمٗا وَقُعُودٗا وَعَلَىٰ جُنُوبِهِمۡ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلۡقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ رَبَّنَا مَا خَلَقۡتَ هَٰذَا بَٰطِلٗا سُبۡحَٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ ١٩١ (١)

" او سوچ کوی په پیدائش د آسمانونو او زمکو کښې اووائی چې ای ربه ځما ندې پیدا کړي تا دې لره عبث او بې کاره"

تامــل ســطورالكائنات فانهــا من الملاء الاعلى اليك رسـائل
الا كلّ شئ مـا خـلا الله باطـل وكل نعــيم لامحالــة زائــل

" سوچ کوه په نخښو د کائناتو کښې یقینی خبره دا ده چې دا د اوچت دفتر نه تاته خطونه راغلي دی خبردار هر یو څیز د الله تعالی نه علاوه فناکیدونکې دی او هر نعمت خامخواه ختمیدونکې دې"

نو داسې سوچ اوکړه چې د هغې نتیجه الله طرف ته تګ وی.

فکر آنباشد که بکشائید رهے
راه آنباشد که پیش آید شهے

"فکر هغه دې چې سړی ته لار پرانځی او لار هغه لار ده چې په

---

(١) آل عمران: ١٩١

هغې باندې بنده ته الله تعالی مخې ته راشی "

اقبال د فکر دعوت او نتیجه داسې ښائی .

کون دریاوں کی موجوں سے اٹھاتا ہے سحاب    کون پالتا ہے بیج کو مٹی کی تاریکی میں کون

خاک یہ کس کی ہے کس کا ہے یہ نور آفتاب    کون لایا کھینچ کر پچھم سے باد سازگار

موسموں کو کس نے سکھلائی ہے خوئے انقلاب    کس نے بھر دی موتیوں سے خوشہ گندم کی جیب

ده خدایا ! یہ زمین تیری نہیں میری نہیں
تیرے آبا کی نہیں، تیری نہیں تیری نہیں

روره واوره

کله چې څوکیدار ته پته اولږی چې بادشاه ځما اوری نو په هغه شپه رونړول او شوکیره کول اسان شی .

چا ته چې د آخرت حال ظاهر اوښکاره دې نو په هغۀ ددنیا جدائی برداشت کول آسان شی .

کله چې خکاری ته خکار ښکاره شی نو دلاس او د ورغوی مجبوب څیز هیر کړي

نو لږ د صبر قدمونو اوچت کړۀ بوج وقت لږ پاتې دې او د وصال د الله تعالی او د محبوب خوند رایاد کړۀ نو دمجاهدې تریخوالې به درته آسان شی . دا خو درته پته ده چې منزل چرته دې نو حد ورله مقرر کړه نو خوشحاله به شې . دا سوچ او فکر به درته هر څه آسان کړې نو قیدې جانانه فتفكّر وتشكّر ولا تتهكّر.

## شپږ.ځلویښتمه فائده ښائسته اخلاق

قیدی روره ! په قید کښې به د مختلفو خلقو سره مخ شوې ئې او په مختلف طریقو سره به دِ تربیت شوې وي داسې خلق به هم وو چې هیڅ وس به دِ پرې نه رسیدلو مختلف خبرې به دِ اوریدلې دغه شان ځنې خلق به مشران او ځنې کشران ، سخت خویه او بد خویه هر قسمه به درسره ملاؤ شوې وی دا به دِ زړه کړې وی چې کومو خلقو سره کومه معامله کول پکار دي د خلقو سره یو ځائ کیدل او په دین مضبوط پاتې کیدل دا د شریعت مطلوب دی نبی ﷺ فرمائیلی دی .

سدّدوا وقاربوا[1]

" په دین باندې نیغ شئ او یو بل سره نزدې شئ "

عمر رضی الله عنه لږ داسې وضاحت کوی چې

خالطواالناس ولكن انظروا الا تكلموا دينكم

" خلقو سره ګډوډ شئ (یعنی جدا کیږئ مه) خو اوګورئ چې خپل دین زخمی نهٔ کړئ "

یعنی خلقو سره یو ځائ شئ پدیکښې یوه فائده دا ده چې دینی خدمت به اوشی چا نه به څه زده کړئ او چاته به څهٔ اوښایئ او دویمه فائده دا ده پټ جوهر د اخلاقو به معلوم شی پته به اولږی ځکه چې ستا د مزاج خلاف خبره اوشي نو پته به اولږی ستا د جوابی

---

(۱) سنن دارمي باب ما جاء الطهور ، ۵۲۰/۱ مسنداحمد : باب مسند عمروبن العاص رضی الله عنه جزء ۱۱ صفحة:۱۲۲

کاروايئ چې غصه کيږی او که نه صبر کوې که نه او هغۀ سره واپس ښۀ کوې او که بد ، بدل څنګه ورکوې د بدو جواب کښې بد کوې او که ښۀ کوى نو ستا د اخلاقو تکميل به اوشي . نبی ﷺ د اخلاقو اهميت داسې بيانوى .

اکملکم ايمانا احسنکم اخلاقا[1]

"ستاسو کښې دکامل ايمان والا هغه دى چې د هغۀ اخلاق په ټولو کښې ښائسته وې"

بعثت لاتمم مکارم الاخلاق[2]

"ځۀ راليږلې شوې يم چې د خکلو او عزتمندو اخلاقو پوره والې اوکړم "

جيل هم د تربيت يو لويه درسګاه ده ځنې هغه قيمتى اخلاق چې جيل کښې د هغې زده کړه کيږی د هغې تذکره به اوکړو .

## اووۀ څلويښتمه فائده العدل

اې قيدى روره ! چې کله په زياتې او ظلم سره قيد کړې شوى او هر وخت درسره دا احساس وى چې ما څۀ کړي دي چې ځۀ دوئ اونيسلم او بيا ورپسى دا هم ده چې صرف قيد کيدل ندي بلکه تۀ د مختلفو خپلو بشرى او انسانى حقوقو نه محروم کړې شوى . سهوليات او آسانئ خو پريږدوه بلکه چې کوم ضروريات د انسان دى بلکه د

(۱) مکارم الأخلاق للخرائطى ، باب حث على الاخلاق الصالحة والترغيب فيها ۳۷/۱

(۲) الادب المفرد للبخارى ۲۱۳

عام حیواناتو چې کومو حقوق دی او هغوئ ئې په آزادئ سره پوره کوی او تا به څوک په آزادۍ باندې دې ته هم نۀ پرېږدي لکه د خوراک څښاک د خوب و آرام او د قضائ حاجت وغیره نور ضروریات چې په هغې کښې تۀ غلام ئې او آذاد نۀ ئې . چې داسې پابندئ په تاباندې لګي او ستا بدن له په مختلف ځایونو او وختونو کښې اذیتونه او تکلیفونه ورکولې شي . دغه وخت به ستا جذبات ډیر را اوچتیږی او انتقامی لمبې په زړۀ کښې رااوچتیږی خو دغه وخت د عدل اهمیت هیر نۀ کړې.

ٱعۡدِلُواْ هُوَ أَقۡرَبُ لِلتَّقۡوَىٰۖ ﴿٨﴾ (١)

"انصاف کوئ او دا انصاف ډیر نزدې دې پرهیزګارۍ ته "

وَلَا يَجۡرِمَنَّكُمۡ شَنَـَٔانُ قَوۡمٍ عَلَىٰٓ أَلَّا تَعۡدِلُواْۚ ﴿٨﴾ (٢)

"او راتیز دِ نۀ کړی تاسوله بغض او دشمنی د یو قوم پدې خبره چې انصاف اونکړئ تاسو"

وَلَا يَجۡرِمَنَّكُمۡ شَنَـَٔانُ قَوۡمٍ أَن صَدُّوكُمۡ عَنِ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ أَن تَعۡتَدُواْۘ ﴿٢﴾ (٣)

"او راتیز دی نۀ کړی تاسو له دشمنی د یو قوم ددې وجې نه چې بند کړې یئ تاسو د جماعت عزتمند نه پدې خبره چې زیاتې اوکړئ تاسو"

انصاف او د بل د شرعی حق خیال ساتل یعنی د هر چا د شریعت

---

(١) المائدة: ٨

(٢) المائدة: ٨

(٣) المائدة: ٢

مطابق حق ورکول که هغه د خپل نفس او بدن حق وی که هغه د ښځې حق وی که د میلمه حق وی که د دوست او د دشمن حق وی د هغې ټولو د شریعت په رڼړا کښې خیال ساتل د خپلو جذباتو خواهشاتو زندګی نۀ کول نه ډیر افراط کول او نه ډیر تفریط نه کمې نه زیاتې بلکه د شریعت په لار برابریدل دا عدل دې.

إِنَّ ٱللَّهَ يَأۡمُرُ بِٱلۡعَدۡلِ ﴿٩٠﴾ [١]

"الله تعالی حکم کوی د انصاف"

نبی عليه السلام فرمائیلی دي.

ان لنفسك عليك حق ولاهلك عليك حقا ولزوجك عليك حقا فاعط كل ذى حق حقه[٢]

" یقینی خبره ده چې ستا د بدن په تا باندې حق دې او ستا د بال بچ په تا باندې حق دې او ستا د بی بی په تا باندې حق دې نو ورکړه تۀ هر حق دار ته د هغۀ حق "

نو څوک چې اراده د نیک بختئ لری نو هغه دې په هیڅ حالت کښې د عدل او انصاف لمن نۀ پریږدی که دې رضا وی او که غصه که خفه وی او که خوشحاله هر حالت کښې برابری انصاف په کار دې ځکه د یو بل سره په شریکه ژوند کښې او معاملاتو کښې زیاتې کول تیزی کول ظلم دې.

لايؤمن احدكم حتى يكون هواه تبعا لما جئت به[٣]

---

(١) النحل: ٩٠

(٢) سنن ترمذی ٤/٦٠٨

(٣) السنة لابن أبي عاصم باب ما يجب ان يكون هوى المرء تبعا لماجاء ١/١٢

"او تاسو کښې يو تن ايماندار کيدلې نشی تردې چې شی
خواهش او خيال ددهٔ تابع د هغه دين چې ما راوړې دې .

نو په هر حال کښې د بل د حق خيال اوساته که بل د حق لمن پريږدي نو تهٔ هغهٔ سره د هغهٔ پشان مهٔ کيږه دا نه چې يو ليونې شو بل دې ورسره هم ليونې شي .

حقه خبره ده چې زمکه او آسمان لړزيږي آسمان تيارهٔ کيږی او په اوچې او لونده کښې د ظلم د ظالمانو او نافرمانو نه فساد خور شي .

برکتونه لاړل ، خيرونه کم شو ، درنده ګان خوارهٔ شو د وجې د نافرمانۍ د ظالمانو نه ژوندونه خړ شول .

د ورځې رنړا او د شپې تيارهٔ ژاړې او کرام کاتبين هم رب ته شکايت کوی د ډير والی د ګناهونو او منکراتو . په هغې ټولو کښې غټ په عالمانو او داعيانو پابندی او قيد کول دی . الله مونږه يروی او وخت په وخت خبردارئ راکوی چې بس کړئ او اله تعالی ته توبه اوباسئ .

## اتهٔ څلوښتمه فائده الحلم ناکام او زغم

قيدی روره ! جيل په بنده کښې ډير بدلون راولي خو چې چاله سترګی او بصيرت وی ، ډير کرته به تا داسې خبره اوريدلې وی چې ستا غوږونه به د هغې د برداشت طاقت نهٔ لرې او تهٔ به وائې چې مړ وې خو چې داسې خبره راته چا نهٔ وې کړې خو د رد کولو وس ئې نهٔ لرې او جوابی او انتقامی کاروائی نشې کولې ډيرکرته به درسره داسې معامله وي چې تهٔ به د هغې نه مرګ غوره او بهتره ګڼړې ډير سارهٔ اسويلی او سوچونه به د ځان سره اوکړې خو څه هم کولې نشی . نو

دغه ځائ به زغم کوی او برداشت اګر که د مجبورۍ د وجې نه دې خو دا دعوت درکوی چې کله داسې نورو ځایونو کښې هم بهرنی او آزاد ژوند کښې داسې حالات راغلل نو ناکام او زغم کوه عزت به دې دوبالا شی او محبوب د خلقو به اوګرځې

اذا كنت بين الحلم والجهل قاعـدا وخيرت انى شئت فـالحلم افضـل

ولكن اذا انصفت من ليس منصـفا اولم يرض منك الحلم فالجهل افضل

"چې کله تهٔ د زغم ناکام او جهل مینځ کښې شوی او اختیار درکړې شوچې کوم دې خوښ وی نو زغم او ناکام ډیر غوره دې خو چې کله انصاف کوې د هغه چا سره چې هغه خپله انصافی نهٔ وی او ناکام او زغم نهٔ خوښوی نو بیا جهل او ناپوهی غوره ده"

د کوفې په جامع مسجد کښې د دوو قبیلو سخته جهګړه جوړه شوه تورې د تیکو نه بهر کړې شوې او نزدې وه چې سرونه غورځیدلې وې یو سړې د احنف بن قیس پسې لاړو چې ددې خبرې نه ئې خبره کړی نو احنف بن قیس بیزې لشلې او یو څادر ئې په ځان اچولې وو چې د لسو روپو هم نهٔ وو نو هغه له ئې خبر ورکړو نو احنف ورته اووئیل چې خیر به شی ان شآء الله تعالی دیکښې د احنف روژه وه نو روژه ماتې راوړې شو چې د اوچې ډوډۍ یو ټکره او څه د زیتون تیل او مالګه او اوبهٔ وی نو بسم الله ئې اووې او ډوډۍ ئې اوخوړله او الحمدلله ئې اووې بیا ئې اووئیل غنم د عراق او تیل د شام او مالګه د مرو مقام او اوبهٔ د دجلې څه غټ نعمتونه د الله تعالی دی بیا ئې خپل څادر راواغستلو او همسا ئې لاس ته کړه او مسجد ته لاړو چې څنګه هغه خلقو ته ورغې د خلقو سترګې

ښکته شو آوازونه غلي شو دۀ سمدست د صلح او جوړې خبره اوکړه نو جوړه اوشوه بیا ئې د خلقو نه مطالبه د خوریدلو اوکړه نو ټول خلق کورونو ته لاړل جنګ سوړ شو او جوړه راغله .

اذا شئت یوما ان تسود عشیرة فبالحلم سد ، لابالتسرع والشتم
وللحلم خیر فاعلمن مغبة من الجهل ، الا ان تشمس الظلم

''چې کله دې خوښه وی چې په څه خلقو مشری اوکړې نو په ناکام باندې مشری اوکړه نه که په تیزئ او کنزلو نو حلم او ناکام ښۀ دی پدې ځان پوهه کړه د جهل نه ، که چرته ځان د ظلم نه خلاصوې نو ځانله خبره ده''

عظمت ، بزرګی او لوئی په ډول ډال او په ظاهری نمائش نده نو قیدی روره ناکام او زغم او برداشت خپل اخلاق اوګرځوه بهرهم د ډیر ناکام نه کار واخله .

## یوکم پنځوستمه فائده غصه کیږه مه

اې ځما خدائی روره ! غصه شیطانې حرکت دې او په غصه کښې د انسان نه شیطان داسې خبرې او حرکتونه صادروی او لوبې ورپورې کوی چې شیطان ورپورې خاندی نو د خپل قیدیانو رونړو هم ډیر احترام او عزت کوه او په څنو خبرو او کارونو د هغوئ غصه کیږه مۀ او دغه خوئی لږ ځان سره رابهر کړه دا د نیکانو خوئی او عمل ځان کښې پیدا کړه .

وَٱلۡكَٰظِمِينَ ٱلۡغَيۡظَ وَٱلۡعَافِينَ عَنِ ٱلنَّاسِۗ ﴿١٣٤﴾ (١)

" دا نیکان متقیان هغه بختور دی چې څښتونکي د غصې دي او معاف کونکي د خلقو دی "

"ابوهریره رضي الله عنه فرمائی چې یو سړی نبی عليه السلام ته اوفرمائیل چې ماته څه وصیت اوکړه نو نبی عليه السلام ورته اووئیل چې غصه کیږه مهٔ بیا ئې ورته اووئیل نو نبی عليه السلام په بیا بیا سوال کولو هغهٔ له بیا بیا جواب ورکړو چې مهٔ غصه کیږه "

وَإِذَا مَا غَضِبُواْ هُمۡ يَغۡفِرُونَ ﴿٣٧﴾ (٢)

" او کله هم چې دوئ غصه شی نو معافی کوی "

نو چې څوک دِ غصه کوی هغهٔ ته معافی کوه او غصه تیروه او برداشت کوه ئې . نبی عليه السلام فرمائیلی دی .

لیس الشدید بالصرعه انما الشدید الذی یملك نفسه عندالغضب(٣)

"ندې زوراور او پهلوان هغه کس چې راغورځول کوی پهلوان هغه دې چې د غصې په وخت خپل ځان قابو کړي"

ابن عون رح به نهٔ غصه کیدلو چې به کله هم چا غصه کړو نو اوبه ئې وئیل چې "بارك الله فيك" الله تعالی دې په تا کښې برکت واچوي .

عون بن عبدالله بن عتبه چې به کله خپل غلام ته غصه شو نو ورته به ئې اووئیل چې د خپل مالک پشانتې ئې تهٔ څما نافرماني

---

(١) ال عمران:١٣٤

(٢) الشوری: ٣٧

(٣) بخاری ، باب الحذر من الغضب ٢٨/٨

کوي او ځۀ د الله تعالی نافرمانی کوم چې کله به ئې غصه ډېره سخته شوه نو اوبه ئې وئيل چې تۀ د الله تعالی دپاره آزاد ئې .

که چرته غصه ناک د خپلو بدرنګ والی د مخ د سور والی د رګونو د پړسيدلو او د تريخوالی نه خبر شې نو دې به چرې هم نه وې غصه شوې . غصه شيطانی حرکت دې ددۀ د بدرنګۍ دپاره دا خبره ډېره ده چې ددۀ ملګرې دۀ ته داسې خبره کوې چې دې ئې نۀ خوښوی او کوي هغه چې دې اراده نۀ کوی لکه د ليونی ددې وجې نه دۀ ته حکم د اعوذ بالله د وئيلو شوې دي چې غصه شې نو اعوذ بالله دِ وائی .

ولـم أر فضـلا تـم الا بشـيمة ولـم ار عقـلا ضـح الا علی الادب

ولم أر فی الاعداء حين اختـبرهم عدو العقل المرء أعدی من الغضب

” فضليت او غوره والې مې بغير د اخلاقو نه پوره ندې ليدلې او
عقل مې بغير د ادب نه صحيح ندې ليدلې . دشمنان مې چې
اوکتل نو د عقل د بنده دپاره مې د غصې نه دشمن او نۀ ليدلو“

نو د الله تعالی د رضا دپاره او د شيطان د ذليله کولو دپاره خپل جذبات پريږده او خپل حق هم پريږده چې د الله دپاره دِ پريخودلو نو الله تعالی به درله د هغې ډېره خه بدله درکړي.

## پنځوستمه فائده قناعت

قيدی جانانه ! لږ سوچ دِ کړې دې چې کله په چکۍ او قيد خانه

کښې ځان له شوي نو خپل ځان ته اوګوره د مخلو ق نه جدا ئې مخې ته دِ معمولی خوراک پروت دې د طبیعت نه خلاف هم دې او بسترې ته دِ ګورې څومره معمولي ده او جامې او پوشاک ته دِ ګوره د عاجزۍ په جامه باندې څنګه قناعت او ګزاره کوې او الله تعالی ته عاجزي کوی د مخلوق نه بې پرواه او یو الله تعالی ته محتاج او متازه ئې . دا دِ نیک بختې او سعادت دې . څنګه د زړهٔ بادشاه ئې ټول حاجتونه دِ هم پوره او مخلوق ته محتاجه هم نهٔ ئې .

تقنّع بالكفاف تعش رخيا ولاتبغ الفضول من الكفاف

ففي خبز القفار بغير ادم وفي ماء الفرات غنى وكاف

وفي الثوب المرقع ما يعطي به من كل عرى وانكشاف

" د ګذارې په ژوند چې سهولیات پوره کیږی نو په دې صبر او ګذاره کوه په ضروریاتو پوره کیدلو کښې د فضولو نه ځان اوساته خالی اوچې ډوډۍ د ترکارۍ نه بغیر او اوبهٔ د فرات نهر دا د مخلوق نه بې پرواهی ده او ضرورت پوره کیدل دی زړې د ټکرو والا جامې چې بربنډتوب پرې ختم شی او پرده پرې راشی دا پوره ده[1]

نبی ﷺ فرمائیلی دی

لیس الغنى عن كثرة العرض ولكن الغنى غنى النفس[2]

"مالداری د سامانونو په ډیریدو نده بلکه مالداری (بې پرواهی) هغه د زړهٔ ده او د نفس ده"

---

(۱) قشیریه صفحه ۸۱

(۲) بخاری ، باب الغنی عنی النفس ۹۵/۸

تو انگری به دل ست نه به مال
بزرگی به عقل ست نه به سال

"مالدار کیدل د زړهٔ دی د مال نه دی او مشرت او بزرگی په عقل ده نه که په کلونو باندې"

پښتانهٔ وائی چې اوبړې ګېډه مړیږی خو اوګې سترګې نهٔ مړیږی نو جیل کښې د سترګو مړیدل زده کړه او قناعت او ګذاره زبردسته خزانه ده په دنیا کښې چې کوم بال بچ ، سورلی و جامه ، خوراک ، مزدورې وغیره الله تعالی درکړې ده او درکوې نو په هغې باندې خوشحاله شه نو مطمئن به ئې زړهٔ به دې سوړ وی او نیک بخته به ئې.

تقنع بما يكفيك والتمس بـالرضي فانـك لاتـدري أتصـبح ام تمسيـ
فليس الغـنى كـثرة المـال انمـا يكون الغنى والفقر من قبل النفس

" ګذاره کوه په هغه څه چې تالره کافی کیږی او خوشحالی او رضا پرې طلب کوه تاته پته نشته چې صبا کوې او یا ماښام کوې .
مالداری د ډیر والی د مال نوم ندې بلکه مالداری او غریبی دا د زړهٔ شې دې "

چا چې د قناعت او ګذارې لمن پریخودله او جامه ئې د ځان نه لرې کړه نو اوس لږ ددهٔ حال ته ګوره د حاکمانو افسرانو مالدارو او غټانو دنیادارو خلقو چاپلوسئ به شروع کړی داسې مثال به ئې وی لکه خوری او مړیږی نه ." فمثله كمثل القلب"

لاتضرعنّ لمخلوق على طمـع فان ذٰلك وهـن منـك بـالدين
واسترزق الله رزقا من خزائنـه فانما هـو بـين الـكاف والنـون

"مخلوق نه دِ طمع او امید عاجزی مۀ کوه .داسې کول ستا ددین کمزور تیا ده . د الله تعالی د خزانو نه رزق اوغواړه دا ستا زرق د کاف او نون ترمینځه دې (یعنی بس دکن وئیلو انتظار دې)

کــــه دِ طمـــــع د مخلـــــوق د دره پریخـــــوه
بادشــــاهي دِ مبــــارک شــــه کــــه ګـــدا ئـــې

څما محترم مرشد محبوب استاذ شیخ القران مولانا افضل خان صاحب شاه پوری رح به ورسره د لطیفې په طور وئیل

کــــه دِ طمـــــع د مخلـــــوق د دره اوکــــــړه
نـــو ګـــدائی دِ مبــــارک شــــه کــــه بادشـــاه ئـــې

## یوپنځوستمه فائده الله تعالی ته راګرځیدل

چې نه د جامې غم شته او نه د خوراک نه د پوشاک نو بس ټول په ټوله همه تن الله تعالی ته رااوګرځه او هغۀ ته متوجې شه دغه انابت دې چې زړۀ نه ټول څیزونه فکرونه سوچونه لرې کول او صرف الله تعالی طرفته زړۀ اړول .

هیچ نداریم و غم هیچ نداریم
دستار نداریم و غم پیچ نداریم

"هیڅ نۀ لرم او د هیڅ غم نۀ لرم پټکې نه لرم نو د تاویدلو غم به ځنګه اولرم "

پس زړۀ د الله تعالی کړه الله تعالی طرفته ئې راواړوه دغه شان ژبه الله طرفته راوړه دغه شان اندامونه هم الله تعالی طرفته راواړوه چې د الله

تعالی خلاف پرې مهٔ کوه. دا انابت دې او راګرځيدل دی.

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَأَخۡبَتُوٓاْ إِلَىٰ رَبِّهِمۡ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٢٣﴾ (١)

"يقينا هغه کسان چې ايمان ئې راوړې دې اوعمل کوی نيک او عاجزی کوی خپل رب ته دا خلق جنتيان دی دوئ به وی په ديکښې هميشه"

زړهٔ د الله تعالی په مينه راټيټ کړه او بند ئې کړه لکه اعتکاف کونکې چې په جماعت کښې ناست وی بل طرفته ترې نهٔ ځی. او الله تعالی په مينه او عظمت يادوه. او د بدن انابت او رجوع هغه داده چې ټول اندامونه په اخلاص سره د الله تعالی په تابعدارۍ او د جناب ﷺ به تابعدارۍ بند کړه..

چا چې خپل زړهٔ صرف په الله تعالی باندې بند نهٔ کړو نو مختلف قسمه شکلونو باندې به پروت او زړهٔ ته به ئې تماثيل راځی. لکه امام الحنفاء ابراهيم عليه السلام فرمائيلی دی.

مَا هَٰذِهِ ٱلتَّمَاثِيلُ ٱلَّتِيٓ أَنتُمۡ لَهَا عَٰكِفُونَ ﴿٥٢﴾ (٢)

"دا څهٔ فوټوان او تصويران دی شکلونه دی چې تاسو هغې ته پراتهٔ يئ او عبادت ئې کوئ"

تماثيل د تمثال جمع ده جوړ شوو تصويرانو او فوټوانو ته وائی نو د الله

(١) هود: ٢٣

(٢) الأنبياء: ٥٢

تعالی نه علاوه زړۀ به بل پورې انخلول په هغې مشغوله کیدل او مائله کیدل دا هم په تماثیلو او غیرالله پورې زړۀ تړل دي او هغې په نظیر دی . ددې وجې نه نبي ﷺ فرمائیلی دی چې

تعس عبدالدینار وتعس عبدالدرهم تعس وانتكس واذا شيك فلا انتقش[1]

"هلاک دې شی د روپۍ او د اشرفو غلام او بنده تباه دِ شي او نسکور دِ شي او چې کله ئې ازغې مات شي نو هغه دِ د خپې نه اونۀ څی"

ای الله تعالی ته راګرځیدونکیه روره ! انابت یعنی الله تعالی ته راګرځیدل لوئ دولت دې په دې الله تعالی د هدایت وعده کړې ده

ٱللَّهُ يَجۡتَبِيٓ إِلَيۡهِ مَن يَشَآءُ وَيَهۡدِيٓ إِلَيۡهِ مَن يُنِيبُ ۝١٣ [2]

"الله تعالی خوښوی ځان طرفته هغه څوک چې اراده ئې اوکړی لار ښائي او رسوی الله تعالی ځان ته هغه چاله چې راګرځي"

زاجتباء گشتند محبوبان مصیب

آن دگر هاء یهدی من ینیب

" د اجتباء یعنی د خوښولو نه محبوبانو برخه یوړله . او نور چې دی یعنی عام خلق نو هغوئ په انابت هدایت مومی"

نو ای قیدی روره ! ټول خلق دنیا کښې د سفر په اس سوارۀ دي هر

(۱) مسند بزار، باب مسند ابی حمزة انس بن مالك ۳۸۱/۱۵

(۲) الشوری: ۱۳

مسافر خپل مقصد ته ځان رسول غواړی او هغوئ هغه ځائ دمه کوی چې چرته ورته مقصد اسانیږی . او د آخرت طلب کونکي هغه هم اللّٰه ته سفر کوي . او اللّٰه تعالی طرفته روان او مقصد د هغهٔ نه حاصلوي

اذشـتملت على اليـاس القلـوب وضـاق بهـا الصـدر الرحيـب
و اوطنـت المـكاره واطمأنـت وارسـت فی اماکنهـا الخطـوب
ولم تر لانكشـاف الضرّ وجهـا ولا اغـنى بحيلـة الاريـب
اتـاك على قنـوط منـك عـون يمـنّ بـه القريـب المستجيب
وكل الحادثـات وان تناهـت فموصـل بهـا فـرج قريـب

"کله چې په زړونو نااميدی ډيره شي . او تنګه شی فراخه سينه او مصيبتونه درباندې ځائ جوړ کړی او يا ښهٔ شر او مصبتونو غټ غټ پاخهٔ په خپلو ځايونو مضبوط شو . او د تکليف د ختميدلو څهٔ طريقه درنه نهٔ وي معلومه او يو هوښيار له د هغې چل نهٔ ورځی . سره د نا اميدئ نه به درته فرياد قبلونکې را اورسی او هغه نزدې او قبلونکې ذات هغه به درباندې احسان اوکړي . ټول مصيبتونه اګر په غټ والې کښې انتهاء ته اورسي نو ورسره نزدې خوشحالي رارسيدونکې ده"

## دوه پنځوستمه فائده د حسد ګر پروا مهٔ کوه

قيدی روره ! کله چې تهٔ قيد کښې شوی نو خلق په دوه قسمه وی يو

په تا دردیدونکې دویم قسم تاسره کینه کونکي دحسد کونکو کینه ګرو همتونه ډیر کمزوری او بیکاره او زړونه ئې ډیر مریضان دی نو هغوئ به دا موقع غنیمت ګنړی او راپورته به شی او په تا به اعتراضونه کوی او ستا باره کښې به قسما قسم پروپیګنډې کوی نو دا پروپیګنډې چې کینه ګر کوی او حسد کوی نو پدې هیڅ پروا مه کوه برداشت سره غمونه دفع کیږی او زغم او برداشت عزت دې او پداسې خبرو غلې کیدل دشمنان غصه کوی او چې معافی کوې نو ستا عزت دې . ستا کنځل او بدې ردې چې څوک ګوری نو نیمو خلقو هغه هیر کړی دی نیمو نورو لوستلې ندی او نور خلق چې دي نو هغوئ هډو خبره ندی چې قصه څه ده او وجه څۀ ده ؟ ددې د رد او دفع کولو څۀ فکر مۀ کوه .

کینه او حسد د هر چاسره نۀ کیږی دا د لوئ او عظیمو خلقو سره دا کینه کیږی .

اذاجـــــاءت مـــذمتـــــی مـــــــن نـاقــــص
فـــــهی شــــهادةلــــــی بـانــــی کامــــــل

"چې کله درته د یو ناقص او کم عقل د طرفنه ځما بدی را اورسیږی نو دا ځما د کامل او پوره کیدلو ګواهی ورکوي"

ان یحسـدونی فـانی غـیر لائمهـم     قبلی من الناس اهل الفضل قد
فـدام لی ولـم مـــا بـی ویهـم     ومـات اکثـر نـا غیـظا بمـا

"که دوئ ماسره حسد کوی نو څه دوئ نۀ ملامته کوم ځما نه

مخکښې عزتمندو خلقو سره حسد شوې دې . نو ځما او د حسدګرو معامله هغه د هغه پخوانو حسدګرو او عزتمندو ده په عزت او ذلت کښې په مونږ کښې ډېر ددې حسد د غصې د وجې نه مړۀ شي "

نو ای قیدی روره ! ته دا وس نۀ لرې چې د خلقو ژبې بند کړې خو تۀ د هغوئ د خبرو نه ځان بچ کړه او نیکی او کړه .

ٱدۡفَعۡ بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُ فَإِذَا ٱلَّذِي بَيۡنَكَ وَبَيۡنَهُۥ عَدَٰوَةٞ كَأَنَّهُۥ وَلِيٌّ حَمِيمٞ ۝٣٤ (١)

" لرې کړه بدئ لره په هغه طریقه چې هغه ښائسته وی نو ناڅاپه به هغه کس چې ستا او د هغۀ په مینځ کښې دشمنی ده لکه چې وی هغه دوست ګرم جوش "

یو بزرګ ته یو سړي کنځل اوکړل نو هغه بزرګ ورله ډیرې ډالۍ راجمع کړې او ورئې کړې نو هغۀ ورته اووې چې دا ولې ؟ نو هغه بزرګ ورته اووې ځکه چې ستا سره قیمتی دولت وو او تۀ د هغې مالک ئې نو تا ماته هغه راکړل چې هغه ستا نیکئ دی او ما درله معمولې پنګه د دنیا درکړه .

او دویمه دا چې د دوئ تصدیق هم مۀ کوه په هغه څۀ کښې چې د بل نه ئې درته راوړې ځکه چې دا به تا په بدګمانۍ کښې اوغورځوي او بدګمانی غټه ګناه ده ." إِنَّ بَعۡضَ ٱلظَّنِّ إِثۡمٞۖ " پدې به الله تعالی ستا فضیلت ښکاره کول غواړې .

---

(١) فصلت: ٣٤

واذا اراد الله نشـــــــــــــر فضـــلـــــــــــه
طـــــويت اتـــــاح لـــــها لســـــان حســـــود

”چي کله الله تعالى د داسې فضيلت چې هغه پټ وی د هغې د خوروللو اراده اوکړی نو هغې ته دحسد ګرو ژبې را اوړدې کړی “

## درې پنځوستمه فائده د مدح او صفت شوق مۀ کوه

اې ځما بندی روره ! لکه چې څنګه د حسدګرو کينه ګرو په بدو خبرو خفه کيدل ندی پکار نو دغه شان د صفت کونکو او ستا د ښۀ ويونکو په ښۀ وئيلو او شاباسي درکولو دهوکه کيدل ندي پکار او هسې نه چې تکبر درکښې راشی شوق لرل د مدحو او نظمونو خو لويه خبره ده چې دا شوق څوک لري نو د هغۀ عبادت به څۀ قبول شی هغه خو صرف د مدح او د صفت دپاره يو کار کوی .

نو قيدی روره هسې نه چې چرته دا شوق دِ زړۀ کښې راشی چې خلق دِ ځما تعريف اوکړی او په ما دِ نظمونه اووائی دا شوق د زړۀ نه لرې کړه .

حافظ ابن قيم رح فرمائی چې اخلاص او د تعريف او صفت شوق او د مخلوق نه طمع په يو زړۀ کښې جمع کيدلې نشی . دا داسې ده لکه چې څوک اور او اوبۀ جمع کوی او دغه شان سمسره او مهې جمع کوی . د نفس نه اول طمع لرې کړه بيا به اخلاص راځی طمع به په څه لرې کيږی نو طمع په چاړۀ د نا اميدۍ د مخلوق ذبح کړه .دويم نفس په مدح او ثناء او تعريفونو وړاندې کړه . نو ددې شوق ترې لرې

کړه داسې ئې د زړهٔ نه لرې کړه لکه چې د دنیادارو د زړهٔ نه آخرت لرې شو نو اوس به ورته اخلاص حاصلول آسان شي .

اوس طمع او د صفتونو او تعریف شوق به څنګه لرې کیږی نو طمع به دِ ختمیږی چې دا یقین زړهٔ کښې راولې د هر څه خزانې د الله تعالی په لاس کښې دی چې دکوم څیز طمع د مخلوق نه کوې . نو د هغې مالک بغیر د الله تعالی نه بل څوک نشته دې مخلوق د هغې نه څه هم ورکولې نشي . او د تعریف او صفت شوق به د زړهٔ نه داسې اوځي چې دایقین پوخ کړي او دا علم مضبوط کړي چې د چا مدح او صفت هيڅ فائده نهٔ کوی او د چا عیب لګول بد وئیل هيڅ نقصان نهٔ کوي .صرف الله تعالی دې چې د هغهٔ صفت صفت دې اوچت هغه دې چې د الله تعالی په نیز اوچت وی او بد هغه دې چې د الله تعالی په نیز بد وی . نو د هغهٔ مدح حاصلول غواړي او د هغهٔ د بدونه ځان بچ کول غواړی .

څه باندہچیان راغلل او نبی ﷺ ته ئې اووئیل چې "یا محمد اخرج الینا ان مدحنا زین و ذمنا شین" چې مونږ ته راوځه ځمونږ صفت ښائسته کول کوی او ځمونږ بد وئیل بد رنګه کول کوی " نبی ﷺ ورته جواب ورکړو چې "ذاك هو الله " چې چا صفت او ښهٔ وئیل ښائسته کول کوی او بد وئیل ئې بدرنګه کول کوي نو هغه الله تعالی دې " نو د خلقو په ښهٔ وئیلو پرواه مهٔ کوه . چې د قیامت په ورځ ورته الله تعالی اووائی چې تهٔ داسې وی .نو څهٔ به ورته وائی چې ستا په مخ څوک ستا صفت کوی نو جواب ورکړه چې ځهٔ داسې نهٔ یم او ځان

سره استغفار وايه او په طريقی سره د هغۀ اصلاح اوکړه.

نبی ﷺ فرمائيلی دی چې د صفت کونکو په خلو کښې خاورې واچوئ .څنو ظاهر حمل کړې دې او څنې عالمان وائی چې هغۀ ته اووايئ چې داسې مۀ وايه څۀ داسې نۀ يم دروغ دِ اووې نو دا به د هغه جواب او رد شي نو خاورې غورځول شو.

څما محبوب استاذ شيخ الاسلام علامه ولی الله کابلګرامی؈ (احسبه کاسمه ولا ازکّی على الله احداً) يو ځل په پروګرام کښې ناست وو چې يو د ستېج ناظم هغۀ له دعوت ورکړو نو هغۀ تعريفونه اوکړل نو شيخ صاحب؈ چې ستېج ته راغې نو اول ئې اووئيل الله تعالی دِ ما او تاسو او د ستېج ناظم ته معافی اوکړي چې دۀ دروغ اووئيل او ما او تاسو اوريدل او رد مو پرې او نۀ کړو. نو دغه شان رد اوکړه.

نو پدې پرواه مۀ کوه چې چا به اووئيل ستا درجه کمولې نشي او چا چې ښۀ اووئيل نو ستا درجه اوچتولې نشی.

فلاتکـــــترث بالنـــــاس فی المـــــدح والثنـــــاء
ولا تخـــــش غـــــير الله والله اکـــــبر

”د خلقو په تعريفونو او صفتونو پرواه مۀ کوه او د الله تعالی نه علاوه د بل چا نه مۀ يريږه الله تعالی د هر څه نه لوئ دې“

دا هر څه په صبر او يقين باندې آسانيږی که صبر او يقين درنه پاتې شو نو داسې لکه چې درياب کښې بغير د کشتۍ سفر کوې . بس ستا کار دې دپاره د الله تعالی د مخلوق نه د صفت او تعريف او دشکر هيڅ طمع او اراده مۀ کوه.

﴿إِنَّمَا نُطۡعِمُكُمۡ لِوَجۡهِ ٱللَّهِ لَا نُرِيدُ مِنكُمۡ جَزَآءٗ وَلَا شُكُورًا ۝٩﴾ (١)

"یقینی خبره ده چې مونږ خوراک درکوو تاسو ته د الله تعالی درضا دپاره مونږه اراده نۀ کوو ستاسو نه د بدلې او نه د قدر او شکر"

## څلورپنځوستمه فائده لږ مسکې شه

قیدی ، بندی جانانه ! که تۀ ناراضه ناست ئې او تندې دې تریو او بُتې نیولې وی او اوربوز دِ پړسولې وی چا سره خبری نۀ کوی او طبیعت دِ بور وی نو هم به وخت تیریږی خو لږ په سخته ورځ به دربانديې هفته وی هفته به دربانديې میاشت وی میاشت به دربانديې کال وی . او که لږ تندې فراخه کړی اوربوز هموار کړي . او په شونډو لږه مسکا راولې غمونه لږ د ډېې لاندې کړې نو وخت به ډیر په خکلی انداز سره تیر شي جیل تیرول به آسان شی په غمونو به پټېږ اولږی او روح ته به دِ عجیبه طاقت ملاؤ شی او زړۀ به دې مضبوط شی ابو درداء رضي الله عنه فرمائی چې

انی لاضحك حتی یکون اجماعا لقلبی

"چې څۀ خاندم تردې چې څما زړۀ راغونډ شی غمونه مِ ختم شی"

په خلقو کښې عزتمند او متقی جناب رسول الله ﷺ به هم مسکې کیدلو تردې چې نواجذ غاښونه به ئې ښکاره شو چې کوم د جامې

(١) الإنسان: ٩

ړومبی غاښونه دي . او ګوره سليمان عليه السلام هم خاندلې دې .

فَتَبَسَّمَ ضَاحِكًا مِّن قَوْلِهَا ﴿١٩﴾ (١)

" نو مسکې شو خنديدونکې د وجې د خبرې د هغې نه "

د جنتيانو په نعمتونو کښې هم يو نعمت هغه د خندا دې .

فَٱلْيَوْمَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مِنَ ٱلْكُفَّارِ يَضْحَكُونَ ﴿٣٤﴾ (٢)

"نو نن به هغه کسان چې ايمان ئې راوړې دې په کافرانو پورې خاندي "

عرب د هغه سړی صفت کوی چې د هغهٔ په خلهٔ او غاښونو باندې خندا وی او دا د هغهٔ د زړهٔ د فراخۍ او د لاس د سخا او د شريفو خويونو ترجمان بولي . بلکه نبی ﷺ ديته يو نيکی او صدقه وئيلی ده

وتبسمك فی وجه اخيك صدقة(٣)

" او ستا مسکا د يو مسلمان رور مخې ته دا هم صدقه ده "

خو هر څه کښې د اعتدال درميانه روئ لمن نيول پکار دی خندا هم دومره نه چې د شرعی حد نه بهر شی او زړهٔ مړ کړی .

لاتکثرواالضحك فان کثرة الضحك تميت القلب(٤)

"ډير مهٔ خاندئ يقينی خبره ده چې ډيره خندا زړهٔ مړ کوی "

او بله دا چې خندا به د ټوقو د مسلمان پورې نهٔ وی چې خندنې کوې مسلمان پورې او خاندې دا د بل مسلمان زړهٔ دردول دی . نو د

(١) النمل: ١٩

(٢) المطففين: ٣٤

(٣) مکارم الاخلاق للطبرانی , باب فضل تبسم الرجل في وجه اخيه المسلم ٣١٩/١

(٤) سنن ترمذی ، باب من اتقی المحارم فهو اعبدالناس ١٢٧/٤

خندا د شرعی حدودو خیال اوساته .

بُتِ او ترش تندي دا د زړهٔ د خرابوالي او د جوش علامه ده او د خو خلقو کار ندي نو ددې نه ځان اوساته .

اسلام په هر څیز کښې د درمیانه روئ تعلیم ورکوی که عبادات دی که عقائد که اخلاق نه دومره تریو تندی والا چې خلق یروې او نه د بړقا او خندا والا فضول عبث خو بس هم سکینه او وقار درونډ والې او مسکار د روح ازادیدونکې .

## پینځه پنځوستمه فائده لږ اوژاړه

قیدی او زندانی جانانه ! لږ ځان تا سوچ اوکړه او بیا د مهربان ذات مهربانو ته سوچ اوکړه نو غریبو به اونیسی او بې اختیاره به درله ژړا درشی چې ما څهٔ کړی دی او الله تعالی راسره څومره مهربانی کوي بې اختیاره به درله ژړا درشی زړهٔ به درله دا یادونه اودوړوی چې بهر په دنیا کښې او په جیل کښې د الله تعالی څومره مهربانی ده او څومره خکلا ئې درته نصیب کړی ده ژړا لوئ نعمت دې چې د الله تعالی د یرې او محبت د وجې نه نو په مجلس کښې خانده او په تنهایئ کښې الله تعالی ته ژاړه . الله تعالی د خپلو نیکانو بندیګانو صفت په خشیت او په ژړا سره کوی . د الله تعالی د یرې او د تقوی په آیتونو او حدیثونو کښې دیر زیات فضائل راغلی دی .

ځما قیدی جانانه ! جیل ډیره خکلې مدرسه د تقوی دپاره او د الله تعالی د یرې دپاره ده چې د انتړیو سوال جواب سره د قبر سوال او

جواب یاد کړه ددې حساب کتاب سره د قیامت حساب کتاب یاد کړه ددې هتکړو او زولنو سره د آخرت سختې یادې کړه ددې وهلو سره د فرشتو وهل رایاد کړه نو د ژړا دولت او تقوی جوهر به درته نصیب شی او که د الله تعالی د یرې دِ اوخکه توی شوه نو بیا خو څه چې ځې ځکه چې د الله د یری ژړا او د دوزخ اور جمع کیدلې نشی نو لږ عبرت واخله نو ډیره فائده به اوکړې.

وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلۡمُتَّقِينَ ﴿١٩٤﴾ (١)

"پدې یقین پوخ کړه چې الله تعالی ملګرې د متقیانو دې"

يَتَّقِ ٱللَّهَ يَجۡعَل لَّهُۥ مَخۡرَجٗا ﴿٢﴾ وَيَرۡزُقۡهُ مِنۡ حَيۡثُ لَا يَحۡتَسِبُۚ ﴿٣﴾ (٢)

"او څوک چې اویریږی د الله تعالی نه اوبه ګرځوی هغۀ له غمونو نه خلاصی لار او روزی به ورکړی الله تعالی هغۀ لره د هغه طرفنه چې ددۀ به ګمان هم نۀ وی"

نبی ﷺ فرمائی چې دوه قطرې الله تعالی ته ډیرې محبوب دی یو د الله د یرې نه د اوخکې څاڅکې او بل د الله تعالی د وجې په جهاد کښې د وینی څاڅکې.

نو لږ غونته اوژاړه چې محبوبانو کښې راشی الله تعالی دِ مونږ ته په خپلو ګناهونو د ژړا توفیق کړی امین.

## شپږ پنځوستمه فائده د فقهی مسئلو فکر

قیدی روره! که عالم او که امی وی نو داسې خبرې په جیل کښې

(١) البقرة: ١٩٤

(٢) الطلاق: ٢ – ٣

مخې ته راشی چې بهر به دې ورته هډو سوچ نۀ وو چې کله په انسان حوادث راځی نو د هرې حادثې او نازلې یو حل وی نو چې قیدی ورور امی دې نو ورسره فکر سیوا شی چې پدې مسئله کښې چې د شریعت حکم څه دې نو د هر سوال سره به ئې علم سیوا کیږی . او که قیدی رور عالم وی نو د هرې حادثې او د جزئیاتو فکر به ورسره پیدا شي او د کتاب کتلو فکر به ورسره پیدا شي تردې چې د یو کتاب شکل به اونیسی چې ځان سره ټول جزئیات جمع کړي چې دا اصل علم دې چې په هره حادثه کښې د شریعت حکم معلوم کړې شی نو زیادت د علم به راشی او الله تعالی خپل خوږ نبی ﷺ ته وائی

وَقُل رَّبِّ زِدۡنِي عِلۡمٗا ﴿١١٤﴾ (١)

" اووایه چې اې ربه مِ زیات کړې مالره علم "

منهومان لایشبعان منهوم فی العلم او منهو فی المال(٢) .

" دوه حرصناک نه مړیږی یو حرصناک د علم او بل حرصناک د مال "

بنده عاجز هم ډیره جزئیات د جیل راجمع کړی دی ان شآء الله چې د الله توفیق شامل حال وی نو د احکام السجن په نوم به چهاپ شی الله تعالی دِ اوکړی .

## اووۀ پنځوستمه فائده تجربة الاصدقاء

(١) طه: ١١٤

(٢) سنن دارمی ، باب فضل العلم والعالم ٣٥٥/١

قیدی روره ! چرته به دې د پښتنو د عبدالرحمٰن بابا شعر اوریدلې وی چې وائی

خپـــل پـــردې پکښـــې معلـــوم عبدالرحمانـــه
کلـــه کلـــه د غمونـــو بـــاران خـــه وی

تاریخ والا لیکی چې کله یوسف علیه السلام د جیل نه بهر شو نو د جیل په دیوال ئې اولیکل چې "تجربة الاصدقاء" چې جیل د یارانو د ازمیښت ځائ دې .

په راحت او په خوشحالۍ کښې به دې دوستان ډیر وی او لافې د یارئ به وهی او د هرچا ماما ، خورئ او ترۀ ، ورارۀ به ئې خو چې سخته درباندې راشي نو کیدیشی چې خپل قریبی یاران او دوستان دې پریږدی یو عالم وائی .

اخوانـــا اخـــذتهم دروعا فكانوهـــا ولكـــن لـــلاعادی
وخلتهمـــو ســـهاما صـــائبات فكانوهـــا ولكـــن فی فـــوادی
فقـــالوا قـــد صـــفت منّـــا قلـــوبٌ فلقد صدقوا ولكن مـــن ودادی

"داسې رونړه وو چې ما وې چې دا زما زغرې دی نو وې زغزې خو ځما د دشمنانو دپاره او ما پرې ګمان کولو چې د هدف غشي دی نو داسې وو خو ځما په زړۀ کښې او وې وئیل چې ځما زړۀ درته صفا شو نو رښتیا ئې وئیل وو خو ځما د محبت نه خالی شوی وو"

د امتحان او د ازمیښت سره د پیو او د وینې د مجنون پته لږی .

جـــــزی الله الشـــــدائده کل خـــــیر

## عرفـــت بهـــا عـــدوی مـــن صـــديقی

" الله تعالی دې مصيبتونو له ډير اجر ورکړی ما پرې دوست دشمن اوپيژندل "

ستا به عقل په جيل کښې سيوا شی چې يقين به دې اوشی چې هر خوشامند کونکې دوست نۀ وی .

تم تکلف کو بھی اخلاص سمجھتے ہو فراز
دوست ہوتا نہیں ہر ہاتھ ملانے والا

شيخ سعدی وائی

دوست آن باشد کہ گیرد دست دوست
در پریشان حال و در ماندگی

"دوست هغه وی چې مصيبت کښې د دوست لاس او نيسی "

عقل په ټکرو زده کيږی ډير ياران به دِ نوم هم نۀ اخلی او دير به درباندې ځان قربانوی ځما خوږ داجی هم وئيلی وو .

شرط د وينـــې کيـــږده چـــې د پيـــو يـــاران اوتخـــتی
غلـــۀ پـــه دې د دره خـــاص پـــه دغـــه اعـــلان اوتخـــتی

## اتۀ پنځوستمه فائده احساس د نعمتونو

الله تعالی دعوت ورکوی

﴿يَٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتِيَ ٱلَّتِيٓ أَنۡعَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ ۝٤٠﴾ (۱)

---

(۱) البقرة: ٤٠

"یاد کړئ څما نعمتونه چې مې په تاسو باندې کړی وو"

فَٱذۡكُرُوٓاْ ءَالَآءَ ٱللَّهِ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ﴿٦٩﴾ (۱)

"نو یاد کړئ د الله تعالی نعمتونه کیدیشی چې تاسو کامیاب شئ"

يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡإِنسَٰنُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ ٱلۡكَرِيمِ ﴿٦﴾ ٱلَّذِي خَلَقَكَ فَسَوَّىٰكَ فَعَدَلَكَ ﴿٧﴾ (۲)

"اې انسانه تۀ څۀ دهوکه کړی (غافله کړی) د رب خپل نه هغه ذات چې تۀ ئې پیدا کړې ئې نو برابر کړې ئې او توله کړې ئې"

انسان چې کله کله د نعمتونو په جال کښې ګیر شی نو ددۀ نه منعم یعنی احسان کونکې ذات هیر شی او په هغه نعمتونو خوشحاله شی او خپل استحقاق ئې ګڼړی نو دۀ سره د الله تعالی او د محسن ذات احساس هله پیدا شی چې ددۀ نه دا نعمت واغستلې شی نو ورسره د نعمت احساسا هم پیدا شی . اول دۀ سره د هغه احساناتو قدر وقیمت نۀ وی ځکه چې ډیر زیات وی او هیڅ فکر ئې دغې ته نۀ وی او نه ئې ورسره وزن وی نو ددې وجې نه پکښې د شکر ماده هم نۀ وی .

نو اې بندی روره ! تا خپل ژوند ته سوچ کړې دې چې تۀ مخکښې په څومره نعمتونو کښې وې اوس درنه څنې نعمتونه واغستلې شو او څنې لږ په کنټرول او په اندازه شو . نو ددې شتو شکریه هم اوکه او د را روانو په شوق شه چې بیا درنه ناقدری اونۀ شی .

(۱) الاعراف:٦٩

(۲) الانفطار:٦،

لږ خپلو جامو خوراک ، ازادۍ ، خوب وغیره ته سوچ اوکړه مځکښې څنګه وو اوس څنګه دي . دغه شان کیدیشی د مور پلار ، ښځه بچو ، رونړو خویندو ، استاذانو شاګردانو ، د نورو لویو لویو نعمتونو احساس اوکړه کیدیشی څه ناقدری شوی وی خو آئنده وخت کښې د هغې د ناقدرۍ نه ځان اوساته . دا به ستا د جیل تحفه وی چې چرته د الله تعالی د نعمت ناقدری اونشی او دا هم ده چې تهٔ یو ځان له یو نعمت وی کیدیشی ځنو خلقو ستا قدر نهٔ وی کړې . نو د جیل سره به د هغوئ سره ستا قدر پیدا شی . او ستا په قیمت به پوهه شی ځکه چې نیشوالې د نعمت سړی سره د نعمت قدر زیاتوی . نو دا جیل ستا دپاره هم استاذ دې او ستا د متعلقینو دپاره هم چې ټولو سره د الله تعالی د نعمتونو احساس پیدا شی .

اللّٰهُمَّ اجعلنا من الشاکرین لنعمك .

## یوکم شپیتمه فائده د بل دغم احساس کول

قیدی روره ! چې کله د خپله غم او درد ، مصیبت او تکلیف ، قید وبند اولیدلو نو اوس به درسره د بل د مصیبت احساس هم اوشی چې کله دې د خپلو سترګو نه اوخکې توئ شوې نو د بل د اوخکو احساس به درته اوشي ، چې کله دِ خپل زړهٔ ته سوې او درد اورسیدلو نو د بل د درد او سوي به درسره احساس اوشي .

دســـپرلـــی د مـــازیـــګر قـــــدر د هــــغو ســــــره وی
چـــې ســــیزلـــې چـالــــه بـــاد وي د خـــــزان مــــخ

د رنړا قدر هغه چاسره وی چې چا تیارۀ لیدلي وي . د یخنۍ قدر د هغه چاسره وي چې چاګرمی لیدلې وی . چې چا عمر کښې غم نۀ وی لیدلې نو هغۀ سره د بل د غم څۀ احساس اوشي ، چا چې چرته ژړلی نۀ وی نو هغۀ سره به د بل د اوښکو څه احساس اوشي اوس به د بل مسلمان په درد دردیږی او په غم به غمژن کیږی .

المؤمنون كرجل واحد ان اشتكى رأسه اشتكى كله ان اشتكى عينه اشتكى كلّه(۱) .

"مسلمانان د یوتن پشان دی که ددۀ سره فریاد کوی نو ټول بدن ئې فریاد کوی او که ددۀ سترګه فریاد کوی نو ټول بدن ئې فریاد کوي "

مسلمان هغه دې چې د بل په درد دردمند شي ځکه چې مومنان رونړه رونړه دی رورر له د رورر احساس پکار وی نو چې کله درسره د بل د درد احساس اوشو نو اوس د بل نه درد لرې هم کړه کوشش اوکړه چې څومره درنه کیږی چې د بل درد ختم کړې .

نبی عَلَیْہِ السَّلَامُ فرمائیلی دی .

من نفس عن مؤمن كربة من كرب الدنيا نفس الله عنه كربة من كرب يوم القيامة(۲)

" چا چې د بل رورر مسلمان نه د دنیا د غمونو نه یو غم لرې کړو نو الله تعالی به ددۀ د قیامت د ورځې د غمونو نه یو غم لرې کړي"

(۱) صحيح المسلم ، باب تراحم المؤمنين وتعاطفهم وتعاضدهم ٤/۲۰۰۰

(۲) مسلم ، باب فضل اجتماع على تلاوت القرآن ٤/۲۰۷٤

چې کله دِ د بل رور مسلمان نه غم لرې کړو او د هغهٔ مصیبت کښې دې د هغهٔ مدد اوکړو نو د خپل غم مصیبت په لرې کیدلو به د هغې اثر لکه د معجزې اووینې .

که چرته درباندې یو غم او مصیبت راشی نو تهٔ د بل سره احسان اوکړه الله تعالی به ستا مصیبت ختم کړی او پریشانۍ به درله ختم کړی . دغه شان د بل سره احسان اوکړه مسکا ، په رونړ تندی ملاویدل ، نیکی کول ، د بیمار تپوس کول ، ښیګړه کول ، مدد کول ، خدمت کول ، دا ټولې نیکۍ دي .

والله فی عون العبد ما کان العبد فی عون اخیه[1]

"الله تعالی د بنده په مدد کښې وی ترڅو پورې چې بنده د رور مسلمان په مدد کښې وی"

د امام بخاری استاذ عبدان رح فرمائی مانه چا هم څه خپل ضرورت غوختلې دې نو ما د هغهٔ د مدد کړې دې او ځهٔ د هغهٔ مدد له پاسیدلې یم که ځما نه پوره شی نو خه ګنی نو هغهٔ له مال ورکړم که بیا هم نهٔ کیږی نو د خپلو رونړو ملګرو نه ورله مدد اوغواړم که پوره شی نو خه ګنی نو د بادشاه نه ورله مدد غواړم .

نو د بل په غم غمژن شه او د بل د غم او درد دفع کولو او ختمولو کوشش اوکړه .

وان امرألم یرتـج الـناس نفعــــه ولــم یؤمنــوا منــه الاذی للئــیم

(۱) مسلم ، باب فضل اجتماع علی تلاوت القرآن ۲۰۷٤/٤

وان امـرأ لـم يجعـل الـبرّ كـنزه　　ولـو كانـت الدنيـا له لعـديم

"که چرته د يو سړي د فائدې څوک اميد نۀ کوی او د هغۀ د تکليف نه په امن نۀ وی نو دا رذيل بې عزته دې. او که يو سړې داسې وی چې نيکي ئې خپله خزانه نۀ وی ګرځولې نو که ټوله دنيا ددۀ شی نو غريب دې او فقير دې."

## شپيتمه فائده خپل درد مۀ ښکاره کوه

اې بندې جانانه ! په تا څۀ تير شو څۀ تيريږی او د چا دپاره تيريږی نو که د مخلوق دپاره تيريږی نو بيا هغوئ نۀ دي خبر نو ورته ئې اوخايه او بيان ئې کړه او که څه تيريږی او د الله تعالی دپاره تيريږی نو هغه د هر څۀ نه خبردار دې بيا ئې وئيلو ته هيڅ ضرورت نشته لږ د جيليانو امام جناب سيدنا يوسف عليه السلام ته اوګوره څومره پرې څه تير شوي دي خو چې رونړه سره مخامخ شو نو لنډه خبره کوی هغه دا چې

إِنَّهُۥ مَن يَتَّقِ وَيَصۡبِرۡ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجۡرَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿٩٠﴾ (١)

"يقينی خبره ده چې چا ځان بچ کړو دګناه نه او صبر ئې اوکړو نو يقينی خبره ده چې الله تعالی نۀ بربادوی اجر دنيکانو"

چې کله د خپل بابا سره ملاؤ شو نو هډو تکليف يادوی نه او داسې خبره کوي .

---

(١) يوسف: ٩٠

وَقَدۡ أَحۡسَنَ بِيٓ إِذۡ أَخۡرَجَنِي مِنَ ٱلسِّجۡنِ وَجَآءَ بِكُم مِّنَ ٱلۡبَدۡوِ ﴿١٠٠﴾ (١)

"او تحقیق دادې چې ماسره رب احسان اوکړو چې د جیل نه ئې را اویستلم او تاسو ئې را اوستلئ د بانډو نه"

نو یوسف علیه السلام احسان چې د جیل نه راوتل دی هغه یادوي او دننه کیدل نهٔ یادوي . نو خپل تکلیف او مصیبت مهٔ ښکاره کوه . هوښیاران وائی چې کله تهٔ تکلیف ښکاره کړي نو سوچ اوکړه ناست خلق به دوه قسمه وی یو دوستان په تا خفه کیدونکي دویم ستا دشمنان چې درباندې خوشحالیږی نو د تکلیف ښکاره کیدلو سره به دوستان خفه او دشمنان خوشحاله شی نو دوستان مهٔ خفه کوه او دشمنان مهٔ خوشحالوه . بزرګان وائی چې

من البر کتما ن المصائب

"چې د مصبتونو پټول هم یوه نیکی ده"

شیخ القران مولانا غلام الله خان رح بیمار وو په هسپتال کښې وو یو بریلي ملا ئې تپوس له راغې نو شیخ صاحب رانیغ شو او ورته ئې اووئیل چې الحمد للہ ٹھیک ہوں ان شاءاللہ آئندہ جمعہ پڑھاونگا اپنی مسجد پر پرانا قلعہ میں

چاروں طرف سے کانٹوں میں گرا ہے پھول
پھر بھی ہنستا ہے عجب خوش مزاج ہے

## یوشپیتمه فائده د فکر پخیدل

(١) یوسف: ١٠٠

پښتانهٔ وائی "عقل په ټکرو زده کیږی" چې کله دِ په ژوند کښې څومره ټکرې اوخوړی او تکلیفونه دربانديِ راغلل نو اوس به یو کار ته سوچ کوې او په خپله ځنو امورو کښې به الله تعالی تاته قوت او طاقت د فکر او اجتهاد درکړي چې تهٔ پخپله یو طرفته فیصله کولې شې چې د نقصان او فائدې طرف به غوره ګڼړلې شی تکلیف او مصیبت نه مخکښې تهٔ "لکیر کا فقیر" د کرښې او د نخښې غلام وی چې چا څه وئیل بس تهٔ به په هغې پسې روان وې اوس به لږ سوچ سره قدم کیږدې او د خپل شرعي فائدې او نقصان سوچ به هم پخپله کولې شې او یو طرفته به فیصله هم کولې شې .

ځنې خلق داسې وی چې په هغوئ کښې د سره سوچ او فکر نهٔ وی بس د بل د وئیلو غلام وی . ځنې داسې وی چې هغوئ کښې سوچ وی خو سوچ ئې کچه وی نو هغه فیصله په یو طرف باندې نشي کولې . چې کله په انسان داسې حالات راشی لکه چې په تا راغلل نو اوس به دِ فکر پوخ شي یو طرفته به فیصله هم کولې شې نو جیل سره به ستا قوت د فکر او اجتهاد کامل او پوخ شي په ډیرو خبرو به پوهه شې .

## دوه شپیتمه فائده د راحت امتحان

بندي اشنا ! په انسان دوه قسمه امتحان راځی یو امتحان د مصیبت او د تکلیف وي دویم امتحان د راحت او خوشحالۍ وي . د مصیبت امتحان چې دې نو دا په درې قسمه دې په خواصو راځی لکه په

انبياء كرامو نو دا د اوچتولو د درجې دپاره وى دويم په عامو مؤمنانو راځى نو دا د ګناهونو د معافۍ دپاره وى دريم په كافرانو مصيبت وي نو دا د شرمولو او عذابولو دپاره وى . نو مونږه له په مصيبت كښې صبر پكار دې او خپلو ګناهونو ته توجه پكار ده چې الله تعالى راله ګناهونه معاف كړي او په مصيبت كښې د الله تعالى په فيصله رضا كيدل پكار دى . كوم خلق چې مصيبت كښې الله تعالى طرفته توجه اوكړي و د دوئ مصيبت راحت اوګرځى او د اجر ذريعه اوګرځى لكه الله تعالى فرمائى .

ٱلَّذِينَ إِذَآ أَصَٰبَتۡهُم مُّصِيبَةٞ قَالُوٓاْ إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّآ إِلَيۡهِ رَٰجِعُونَ ﴿١٥٦﴾ أُوْلَٰٓئِكَ عَلَيۡهِمۡ صَلَوَٰتٞ مِّن رَّبِّهِمۡ وَرَحۡمَةٞۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُهۡتَدُونَ ﴿١٥٧﴾ (١)

"(صبركونكى) هغه بختور دى چې كله اورسيږى دوئ ته مصيبت نو دوئ وائي چې مونږه د الله تعالى دپاره يو او مونږه الله تعالى طرفته ګرځيدونكى يو دا خلق چې دى دوئ باندې آفرين او شاباسي دى د طرفه د رب د دوئ نه او مهرباني او دا خلق چې دى نو دا دى لار موندونكې"

او ځنې خلق داسې وى چې په مصيبت كښې بلكل ړاندۀ كاڼۀ هډو وائى نه چې دا مصيبت څنګه راغلې وو او څنګه لاړو د هغې نه هډو څه فائده وانخلى .

فَلَوۡلَآ إِذۡ جَآءَهُم بَأۡسُنَا تَضَرَّعُواْ وَلَٰكِن قَسَتۡ قُلُوبُهُمۡ

(١) البقرة:١٥٦-١٥٧

وَزَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيْطَٰنُ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿٤٣﴾ (١)

" نو ولې نۀ وه په هغه وخت كښې چې راغې دوئ ته زمونږ عذاب چې دوئ عاجزى كړې وې خو سخت شو زړونه د دوئ او ښائسته كړي وو دوئ ته شيطان هغه چې دوئ كول "

وَمَآ أَرْسَلْنَا فِى قَرْيَةٍ مِّن نَّبِىٍّ إِلَّآ أَخَذْنَآ أَهْلَهَا بِٱلْبَأْسَآءِ وَٱلضَّرَّآءِ لَعَلَّهُمْ يَضَّرَّعُونَ ﴿٩٤﴾ ثُمَّ بَدَّلْنَا مَكَانَ ٱلسَّيِّئَةِ ٱلْحَسَنَةَ حَتَّىٰ عَفَوا۟ وَّقَالُوا۟ قَدْ مَسَّ ءَابَآءَنَا ٱلضَّرَّآءُ وَٱلسَّرَّآءُ فَأَخَذْنَٰهُم بَغْتَةً وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٩٥﴾ (٢)

"اونۀ مِ دې رالیږلې په هیڅ یو کلي کښې پیغمبر مګر نیولی مې وو د هغې اوسیدونکي په تاوانونو او تکلیفونو کیدیشی چې عاجزی اوکړي . بیا مې بدل کړو د تکلیف په ځائ خوشحالي تردې چې دوئ ډیر شو او دوئ وئیل چې یقینا رسیدلي وو ځمونږ مشرانو ته تکلیفونه او خوشحالئ نو اوم نیول دوئ له ناڅاپه او دوئ نۀ پوهیدل "

يعنى دا حالات بس د ورځو الټ پهير او تاريخى كشمكش اوګنړو چې بس دا په مخكښينو هم راغلې وو او په مونږ هم راغلل نو څۀ فائدۀ ئې ترې نه وانغستله . لكه ابن مسعود رضي الله عنه فرمائى

ان المؤمن يرى ذنوبه كانه قاعد تحت جبل يخاف ان يقع

---

(١) الأنعام: ٤٣

(٢) الأعراف: ٩٤ – ٩٥

عليه وان الفاجر يرى ذنوبه كذباب مرّ على انفه فقال به هكذا[1]

" چې يقينا مومن خپل گناهونه داسې وينی لکه چې دې د هغې د لاندې وی يريږی چې به پرې ارتاؤ شی او نافرمانه خپل گناه داسې وينی لکه مچ ددۀ په پوزه تير شی او دې ورته داسې کړی يعنی په لاس ئې اووهی"

نو د تکليف نه فائده اغستل پکار وو

دويم امتحان هغه د راحت او د خوشحالۍ امتحان دې چې کله تکليف ختم شو نو دغه وخت کښې دا هم يو راحت شو چې تکليف ختم شو او نور راحتونه هم ملاؤ شی لکه قيدی جانان د قيد نه اووتلو نو يو خو آزادی شو دويم دۀ ته الله تعالی قسماقسم نعمتونه ورکړی ځکه چې دۀ د الله تعالی ډير څيزونه پريخودلي وو نو د هغې بهتر عوض الله تعالی په دنيا آخرت کښې ورکوی .

من ترك شيئا لله عوضه الله خيرا منه

" چا چې کوم څيز د الله تعالی دپاره پريخودلو نو د هغې بدل کښې به ورله الله تعالی د هغې نه غوره او بهتر ورکړی "

اذاابتليت عبدی بحبيبته فصبر عوضته منهما الجنة[2]

"چې کله ازميښت اوکړم په بنده خپل او دوه سترگی ترې واخلم او هغه پرې صبر اوکړی نو د هغې بدل کښې ورله جنت ورکړم "

نو چې کله درله الله تعالی د هغې نه بهتر درکړل نو اوس دا بل امتحان دې چې دا د راحت امتحان دې . پدې کښې تاله څۀ کول

---

(۱) بخاری ، باب التوبه ۶۷/۸

(۲) صحيح البخاری ، باب فضل من ذهب بصره ۱۱۶/۷

پکار دی اوس تاله د الله تعالی تابعداری او شکر پکار دې دا نده چې کله الله تعالی دربانديې احسان اوکړو او سخته درنه ختم شوه نو د ناشکره انسان پشان بل شان شی چې په سخته کښې الله تعالی طرفته راځي او چې سختي ختمه شی نو بیا نافرمانه شي لکه الله تعالی فرمائي

لَّا يَسْـَٔمُ ٱلْإِنسَـٰنُ مِن دُعَآءِ ٱلْخَيْرِ وَإِن مَّسَّهُ ٱلشَّرُّ فَيَـُٔوسٌ قَنُوطٌ ﴿٤٩﴾ وَلَئِنْ أَذَقْنَـٰهُ رَحْمَةً مِّنَّا مِنۢ بَعْدِ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُ لَيَقُولَنَّ هَـٰذَا لِى وَمَآ أَظُنُّ ٱلسَّاعَةَ قَآئِمَةً وَلَئِن رُّجِعْتُ إِلَىٰ رَبِّىٓ إِنَّ لِى عِندَهُۥ لَلْحُسْنَىٰ ۚ فَلَنُنَبِّئَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِمَا عَمِلُوا۟ وَلَنُذِيقَنَّهُم مِّنْ عَذَابٍ غَلِيظٍ ﴿٥٠﴾ وَإِذَآ أَنْعَمْنَا عَلَى ٱلْإِنسَـٰنِ أَعْرَضَ وَنَـَٔا بِجَانِبِهِۦ وَإِذَا مَسَّهُ ٱلشَّرُّ فَذُو دُعَآءٍ عَرِيضٍ ﴿٥١﴾ (١)

"نهٔ ستړې کيږی انسان د غوختلو د خير نه او که اورسيږی دته تکليف نو دې وي ستومانه او نا اميده (د هرچانه) او که اوڅکوم دته مهربانی د خپل طرفنه پس د تکليف نه چې رسيدلي وی دته نو خامخواه وائی دې چې دا ځما حق و او ځهٔ ګمان نهٔ کوم په قيامت د اودريدو او کچرته ځهٔ واپس کړې شم خپل رب ته نو يقينا وی به ماله د هغهٔ سره خائسته ځائ نو خامخواه خبره به کړم هغه کسان چې انکار ئې کړې دې په هغه څهٔ چې دوئ کړی

---

(١) بنی اسرائيل : ٥١

دی او خامخواه اوبه څکوم دوئ ته عذاب سخت . او په هغه وخت
چې احسان اوکړم په انسان نو مخ واړوی او لرې شي په طرف او
په ډه ډه خپله او په هغه وخت کښې اورسیږی دۀ ته تکلیف نو
وی دې خاوند د ءاګانو پلنو پلنو "

او هغه تیر تکلیف هیر کړی دا نۀ وائی چې ما هم څوک رامدد کړی
وو او یو ذات ځما نه دا تکلیف لرې کړې وو بلکه هغه راحت او
خوشحالی خپل کمال ګنړی او خپل قابلیت ته ئې نسبت کوی نو هغه
نافرمانه شی .

دویم قسم خلق هغه دی چې هغه شکر ګزار دی چې کله وربانديې
خوشحالی راشی نو دا د الله تعالی فضل ګنړی او هغه تیر تکلیف
رایاد کړی چې الله تعالی رباندې فضل او مهربانی اوکړه او ځمانه ئې
تکلیف لرې کړو ځۀ ددې اهل نۀ وم او د احسان شکر سره عاجزی
شروع کړی لږ اوګوره سردار دوجهان جناب رسول ﷺ ته چې هغۀ د
فاتح اعظم په صورت کښې مکې مکرمې ته دننه شو نو تکلیف
ختم شو لوئ سالار دې لاس کښې ئې طاقت دې په دشمن ئې لاس
بر شو خو چې مکې ته دننه کیږی نو "لاتثریب" وائې او په اَس سور
دې نو سر ئې د زین سره لګی دومره ئې ښکته کړې دې رب العزت ته
عاجزی کوی او په خلې دا وائی .

لا اله الاالله وحده لاشريك له صدق وعده و نصر عبده
وهزم الاحزاب وحده[۱] ...

(۱) مسند احمد ٦٢/٧ و صحیح البخاری ، باب مایقول اذا رجع من العزو؟ ٧٦/٤

" نشته د عبادت لائق بې د الله تعالی نه هیڅوک ، یک یواځې دې
شریک او حصه دار ورله نشته دې ، رشتیا ئې کړه وعده خپله او
مدد ئې اوکړو د بنده خپل او مات ئې کړلې لښکرې یک یواځې"

نو عاجزی لوئ دولت دې عاجزی اوکړه د تکبر نه ځان اوساته ذلت دې .

من تواضع لله رفعه الله ومن تكبّر وضعه الله[1]

"او چا چې عاجزی اوکړه نو الله تعالی به هغهٔ لره اوچت کړی او
څوک چې خان اوچت اوګنړی نو راښکته کړی الله دلره "

عالمان وائی چې یو امتحان د مصیبت دې او بل د راحت دې نو د مصیبت امتحان ډیر سخت ندې ځکه هغه بنده ته الله تعالی یادوی نو هغه مصیبت راحت شی او سبب د اجر شی نو دا څهٔ مصیبت ندې ځکه توجه الله تعالی ته شوه او د راحت امتحان ډیر سخت دې ځکه چې دیکښې ډیر خلق د الله تعالی نه غافله شي او بیا ورستو د تکلیف نه خلاف شروع کړی .

وَإِذَا مَسَّ ٱلْإِنسَٰنَ ٱلضُّرُّ دَعَانَا لِجَنۢبِهِۦٓ أَوْ قَاعِدًا أَوْ
قَآئِمًا فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُ ضُرَّهُۥ مَرَّ كَأَن لَّمْ يَدْعُنَآ
إِلَىٰ ضُرٍّ مَّسَّهُۥ ۚ كَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِلْمُسْرِفِينَ مَا كَانُوا۟
يَعْمَلُونَ ﴿١٢﴾ [2]

"او هرکله چې اورسیږی انسان ته تکلیف نو راغواړی مونږ له په
ډډه یا په ناسته یا په اولاړه نو هر کله چې لرې کړم ددهٔ نه ددهٔ

---

(۱) مشكوٰة المصابيح :٥٠٤٦

(۲) یونس: ۱۲

تکلیف نو کلک پاتې شی په خپله ګمراهۍ لکه چې دهٔ هډو څهٔ رامدد کړې نه یم یو تکلیف ته چې دهٔ ته رسیدلې وي . دغه شان ښائسته کړې شوې دې دپاره د زیاتی کونکو هغه چې دوئ ئې کوی "

نو قیدی روره ! لږ خپل تکلیف ته سوچ اوکړه چې په تکلیف ښنګه دعاګانې ، ذکر وتلاوت ، مونځ وعبادت او څنې وعدې دې د الله تعالی سره کولې چې څهٔ به دا کوم ، دا به کوم ، نو اوس چې راحت راغې په جیل کښې هم کله سختته او کله راحته ا د جیل نه ورستو هم راحت نو هسې نه چې ناقدرې راشی کوم ذات چې درباندې راحت راوستلو نو د هغه ذات ناقدری مهٔ کوه تابعداری خپلې کړې وعدې پوره کړه او د خپلو معمولاتو خیال ساته ټول د جیل معمولات که بهر نهٔ کیږی نو خیر دې نیم کوه خو پریږده مه او د وعدو د پوره کولو کوشش کوه . هسې نه چې د راحت امتحان کښې فیل شی سوال کوه او په هر حال کښې د شریعت او د نبی ﷺ د سنتو خیال ساته .

## درې شپیتمه فائده خاتمه خه کیدل

مسلمانه روره او قیدی جانه ! که بنده هر څومره زبرګ او نیک عمله شي خو اعتبار آخري خاتمې له دې چې آخری خاتمه مزیداره شي نو هر څهٔ سم شی او چې آخری خاتمه خرابه شي نو هر څهٔ خراب شی.

## انما الاعمال بالخواتيم[١]

"يقينا د عملونو اعتبار په آخرى خاتمه باندې دې"

ان الرجل ليعمل بعمل اهل الجنة حتى ما يكون بينه وبينها الا ذراع فيسبق عليه الكتاب فيعمل بعمل اهل النار فيدخلها[٢]

"يقينا يو سړې عمل د جنتيانو كوى تردې چې ددۀ او دجنت په مينځ كښې يو ګز فاصله پاتې شي . نو ازلى ليک د تقدير رامخکښې شي نو د دوزخيانو عمل شروع كړي نو اورته دننه شى"

د عمر په اعتبار په خاتمه او د عمل اعتبار په خاتمه دې . ندې دِ كتلي چې د سلام نه مخكښې سړې بې اودسه شى نو مونځ ئې باطل شى او چې د ماښام نه مخكښې روژه ماته شي نو روژه ضائع او برباده شى .نو اوس سوچ كوه هسې نه چې داسې عمل درنه اوشى چې هغې سره خاتمه بربادېږى .

نو روره د ګناه نه ځان ساته ابليس يو سجده اونكړه نو الله تعالى لعنتى كړو او د عزت د مقام نه ئې ارتاؤ كړو . ګناه څومره بد رنګه څيز دې ، محصن زانى څومره په بدرنګه قتل قتلولې شى ، قاتل ته قصاص او جهنم او غضب سزا وئيلى شوى ده . د يوې پيشو د وجې ښځه دوزخ ته تلې ده نو ګناه تباهى ده نو كچرته تا په يو ګناه په دوزخ كښې بند كړي نو څۀ به وى .

---

(١) صحيح البخارى ، باب العمل بالخواتيم ٨ /١٢٤

(٢) اخرجه احمد ٤٨٨/٣٧ وطبرانى فى ا لكبير ١٤٣/٦

وَلَا يَخَافُ عُقْبَٰهَا ﴿١٥﴾ [١]

" الله تعالی د هغې د انجام نه نۀ یریږی "

قیدی روره ځنې اسباب د حسن خاتمې دی او ځنې د سوء خاتمې دی د بدو نه ځان اوساته او چې کوم د ښکلې خاتمې اسباب دی هغه اوکړه چې الله تعالی دِ خاتمه مزیداره کړی .

دلته د فائدې په طور ځنې اسباب د حسن خاتمې لیکلې کیږی د ترغیب دپاره او د تفاءل دپاره چې الله تعالی ځمونږه خاتمه مزیداره کړي .

د حسن خاتمې مطلب دادې چې خاتمه خائسته شي او په ایمان باندې شي یعنی د مرګ په وخت کښې په هوش او په خپل اختیار داسې کلمات وئیل چې هغه په توحید او ذکر د الله تعالی دلالت کوی د جنت شوق وی دعاء وغیره وی یا داسې عمل کول چې هغه د دین بهتر عمل وی لکه د قران تلاوت سجده ، رکوع , درس ، اذان وغیره خنې اعمال نصیب کیدل دا هرڅۀ په استقامت کیږی چې په دین همیشه پاتې شی. دا ښائسته خاتمه ده او چې نعوذ بالله داسې نۀ وی چې په آخر کښې څۀ بده خبره یا کفري کلمات خُلې له راشی یا په آخر وخت کښې په خپل اختیار سره داسې کار اوکړې چې هغه د ګمراهۍ او د کفر وی . چې په خپل اختیار نۀ وی نو هغې له اعتبار نشته دې .

مونږه دلته د حسن خاتمې تذکره کوو د بدې خاتمې هغه به ترې په

---

(١) الشمس: ١٥

خپله معلوم شی . د الله تعالی د ربوبیت اقرار او په هغې همیشه پاتې کیدلو سره خاتمه خه کیږی ځکه چې کوم کار سړې په ژوند همیشه کوی نو هغه دمرګ په وخت کښې هم کوی او که اختیار نهٔ وي نو بې اختیار هم دغه عمل ترې نه الله تعالی صادروي .نو اصل سبب هغه استقامت دې چې په دین همیشه عمل اوکړی پ هر حالت کښې که خوشحالي ی که خفګان ، که مالداري وی که غریبی ، که بادشاهي وی که ګدائی وی په هر حالت کښې د الله تعالی په تربیت باندې عمل کول .

إِنَّ ٱلَّذِينَ قَالُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُ ثُمَّ ٱسۡتَقَٰمُواْ تَتَنَزَّلُ عَلَيۡهِمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ أَلَّا تَخَافُواْ وَلَا تَحۡزَنُواْ وَأَبۡشِرُواْ بِٱلۡجَنَّةِ ٱلَّتِي كُنتُمۡ تُوعَدُونَ ﴿٣٠﴾ (١)

"یقینا هغه کسان چې وائی دوئ چې رب څمونږه الله تعالی دې او بیا کلک شو دوئ نو راکوزیږی په دوئ فرشتې چې مهٔ یریږئ او مهٔ غم کوئ او خوشحالی واخلئ زیری واخلئ په جنت هغه چا تاسو سره ئې لوظ کولې کیږی "

جناب رسول الله ﷺ له یو صحابی راغې چې ماته په دین کښې یوه جامعه خبره اوکړه نو نبی ﷺ ورته اووئیل

قل امنت بالله ثم استقم(٢)

" اووایه چې ایمان مِ راوړې دې په الله تعالی باندې نو بیا نیغ شه

---

(١) فصلت: ٣٠

(٢) مسند احمد . باب حدیث سفیان بن عبدالله الثقفی ٢٤ /١٤١

او کلک شه "

استقامت لوئ دولت دې او الله تعالی خپل خوږ نبی ﷺ ته حکم د استقامت کړې دې.

فَٱسۡتَقِمۡ كَمَآ أُمِرۡتَ وَمَن تَابَ مَعَكَ ﴿١١٢﴾ (١)

" او نیغ شه کلک شه لکه چې درته حکم کړې شوې دې او هغه څوک دِ هم کلک شي کومو چې توبه کړې ده (راګرځیدلی دی) تاسره "

جناب رسول الله ﷺ په ږیره کښې سپین ویختهٔ وو نو صحابی ورته اووئیل چې اې د خدائې رسوله سپین ږیرې شوې نبی ﷺ ورته اوفرمائیل چې ځهٔ سورة هود او د هغې غوندې نورو سورتونو بوډها کړم.

ابو علی الشبوی وائی چې ما نبی ﷺ خوب کښې اولیدلو نو تپوس مې ترینه اوکړو چې تهٔ سورة هود بوډها کړې نو په هغې کښې چې د انبیاء واقعات دي او د امتونو هلاکت دې نو هغې سپین ږیرې کړې نو نبی ﷺ اوفرمائیل چې نه بلکه دې خبرې چې الله تعالی فرمائی چې "فاستقم کما امرت"

استقامت کښې سین د طلب دې نو مطلب دا دې چې

طلبوا من الحق ان یقیمهم علی توحیدهم ثم علی استدامة عهودهم و حفظ حدودهم(٢)

"د الله تعالی په توحید اودریدل او د هغې نه روستو په خپلو

---

(١) هود :١١٢

(٢) قشیریة صفحه ١٠٣

وعدو همیشه والې او د احکامو پابندئ طلب کوي "
ثم استقاموا ... ثم لم یشرکوا ....
عن الصدیق ﷺ استقاموا فعلا کما استقاموا قولا .....
وعن عمر ﷺ لم یروغوا روغان الثعالب ای لم ینافقوا
وعن عثمان ﷺ اخلصواالعمل وعن ﷺ ادّواالفرائض
وعن الفضیل زهدوا فی الفانیة ورغبوا فی الباقیة وقیل
حقیقة الاستقامة القرار بعد الاقرار لا الفرار بعد
الاقرار[١]

د خلفاء راشدینو رضوان الله تعالی علیهم اجمعین د عباراتو مطلب مختصر دا چې زړۀ او عمل د شریعت مطابق برابرول نو خالص د الله تعالی د رضا دپاره دورنګی نۀ کول او په هغې کلکیدل ....
په دین کښې مقصود چې دې نو هغه استقامت دې امام ابو علی الجوزانی فرمائی .

کن صاحب الا ستقامة لا طالب الکرامة فان نفسك متحرکة فی طلب الکرامة وربك عز وجلّ یطالبك بالاستقامة[٢]

" د استقامت والا شه نه که د کرامت غوختونکې . یقینا ستا نفس په کرامت غوختلو کښې ډیر کوشش کوي خو ستا پروردګار ستا د استقامت غوختنه کوې "

د استقامت دپاره څۀ ارکان دي په هغې د استقامت بنیاد ولاړ دې

(١) مدارك : ٣/ ٢٣٥
(٢) قشیریة صفحه ١٠٣

چې هغې کښې یو هم خراب شي نو بنیاد خراب شو.
(۱) سموالې نیغوالې (۲) د سنتو او د جماعت تابعداري (۳) میانه روی (٤) خکلې اخلاق (٥) نیک ملګري.
(۱) د سموالي مطلب دا دې چې خپل باطن او ظاهری خبرې اترې، کارونه د شریعت برابرول ظاهری عبادات چې کوم شریعت مقرر کړی دی هغه نۀ پریښودل او حرامو نه ځان بچ کول یعنی کوم کار چې د شریعت خلاف وی هغه پریښودل. رشتینې ایمان او د هغې میوې نیک اعمال دا روغیدل دی.
(۲) د سنتو او د جماعت د تابعدارۍ مطلب دا دې د ژوند په تولو کارونو کښې په هر موړ کښې په هره ډډه او څنګه د ژوند کښې د نبی ﷺ تابعداري کول د هغه دسنت خپل امام جوړول، او سلف صالحینو صحابه کرامو رضی الله عنهم او د تابعینو رحمهم الله په فهم باندې په نصوصو عمل کول او سنت عملی کول.
(۳) میانه روی مطلب دا دې چې په هر کار کښې اعتدال نه نرمي ډیره او نه ګرمي ډیره نه جوش ډیر او نه بزدلي نه افراط او نه تفریط نه د خوارجو غوندې سختی او ګرمي او نه مرجئو او کرامیو پشان نرمي او بې کاري. هر کار کښې درمیانه روي د شریعت مطلوب ده. د مغضوب علیهم او د ضالینو ترمینځه لار د انعمت علیهم په لار روانیدل.

لا تشدَدوا فیشدّدالله علیکم[1]

---

(۱) سنن ابی داؤد کتاب الادب : باب فی الحسد ٤/٢٧٦

”بې ځایه سختي مه کوئ الله تعالی به تاسو سره سختي اوکړي “

(٤) ښائسته اخلاق ... په مومنانو کښې بهترين او کامل هغه دې چې د هغهٔ اخلاق ښائسته وي . د مومن په تله کښې د خو اخلاقو نه د قيامة په ورځ بل هيڅ شې زيات دروند ندې ... د شريعت تابعداري کول د نبی ﷺ په عادتونو کښې هم تابعداری کول دا ښهٔ اخلاق دي . د اخلاقو تفصيل ډير دې کتابونه پرې ليکلې شوي دي .

(٥) نيک ملګري . د نيک ملګري په استقامت کښې لوئ اثر دې

المرء على دين خليله فلينظر مع من يخالل[1]

”سړې د خپل ملګری په دين دې نو بنده دِ اوګوري چې دې د چاسره دوستي کوی “

دنيکانو ملګرتيا ددين ترقي ده او د بدو ملګرتيا د دين تباهي ده .

صحبت صالح ترا صالح کند
صحبت طالح ترا طالح کند

”د نيکانو صحبت د بنده نه نيک جوړوی او د بدانو صحبت د بنده نه بد جوړوی “

چې بنده د چاسره کښيني او پاسی او ملګرتيا کوی نو هغه څيز ورته ملاويږی نو ه د الله والو سره کښيني نو الله تعالی به درته ملاؤ شی .

نہ تخت و تاج میں نہ لشکر وسپاہ میں ہے
جو بات مرد قلندر کی بارگاہ میں ہے

نو استقامت په دين باندې دا د خاتمې خه کيدلو ذريعه ده او اصل

(١) شعب الايمان للبيهقي ٣١٠٧/٧

څيز استقامت او دا جامع کلمه ده .نور ډيرې دعاګانې او مسنون اعمالو خيال ساتلو سره الله تعالی بنده د ښائسته خاتمه نصيب کوی هغه اعمال چې قران کريم پرې د فلاح کاميابۍ او جنت وعده کوي نو بس هغه د حسن خاتمې ذريعه ده څلور غټ اعمال يو ايت کريمه کښې ذکر دي .

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَن يَرْتَدَّ مِنكُمْ عَن دِينِهِۦ فَسَوْفَ يَأْتِى ٱللَّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُۥٓ أَذِلَّةٍ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى ٱلْكَـٰفِرِينَ يُجَـٰهِدُونَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَا يَخَافُونَ لَوْمَةَ لَآئِمٍ ۚ ذَٰلِكَ فَضْلُ ٱللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَآءُ ۚ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٥٤﴾ (١)

"اې هغه کسانو چې ايمان ئې راوړې دې څوک چې واوړي ستاسو نه د دين خپل نه نو زرده چې رابه ولي الله تعالی داسې يو قوم چې مينه به کوي الله تعالی د دوئ سره او دوئ به مينه کوی د الله تعالی سره کمزورى به وى (نرمي کونکي) په مومنانو او زوراور (سختی کونکي) په کافرانو جهاد به کوی په لاره د الله تعالی کښې او نۀ به يريږي د ملامتيا د ملامت کونکي نه . دا فضل د الله تعالی دې چې ورکوی دې لره هغه چاله چې اراده ئې اوکړي او الله تعالی فراخی راوستونکې او پوهه ذات دې "

دې ايت کريمه کښې څلور عملونه ذکر شوی دی چې هغه سبب د محبت د الله تعالی دې او هغه د الله تعالی خصوصی فضل دې چې په

(١) المائدة: ٥٤

چا باندې ئې کوي چې په چا د الله تعالى فضل اوشی نو د هغوئ خاتمه خائسته وي .هغه څلورعملونه په لنډو ټکو کښې دادي .

(۱) د الله تعالى سره محبت کول او د الله تعالى د محبت علامه دا ده چې د الله تعالى حکمونه اومنلې شي او په هغې خپله زندګی تیره کړې شی د الله تعالى محبت لوئ دولت دې چې چاته نصیب شی او دډیرو روحانی بیمارو علاج دې

شادباش ای عشق خوش سودائ ما
ای طبیب جمله علتهائ ما
ای دوائ نخوت وناموس ما
ای تو افلاطون وجالینوس ما

(۲) د مومنانو سره د نرمۍ سلوک او برتاؤ کول د ایمان قدر دې چې د ایمان سره د نرمۍ سلوک اوکړې شی او کافر سره دشمنی کول دا هم د ایمان نخښه ده او د الله تعالى دمحبت علامه ده چې د الله تعالى د دشمن سره دشمنی اوکړې شی . او هغۀ سره سختی اوکړې شي .

(۳)د الله تعالى ددین دپاره اخری کوشش استعمالول د هغې د ترقۍ کوشش کول په هغې باندې ځان قربانول .

(٤) د الله تعالى د دین په عملي کولو او خورولو کښې د ملامت کونکي د ملامتیانه نۀ یریږی یعنی د ملامتې د وجې نه د الله تعالى دین نۀ پریږدې .

اجبّـــــــه واحـــــــبّ فيـــــــه ملامـــــــة
فـــــان الملامـــــة فيـــــه مـــــن اعـــــدائی

”ځۀ د هغۀ سره مينه کوم او مينه کوم د ملامتې سره د هغۀ باره کښې ځکه چې ددۀ (الله تعالی) باره کښې ملامته دا د دشمنانو د طرفه ده “

قيدې او بندي جانانه ! د جيل فائدو کښې اولنۍ هم هغه د الله تعالی قيدی کيدل دی او آخر کښې خاتمه ښۀ کيدل او په هغې کښې د الله تعالی د محبت تذکره راغلله شروع په الله او خاتمه هم د الله په مينه هوالاول والاخر، ددې دپاره دا اوکړې شو چې د الله تعالی نه سوال دې چې ځمونږ خاتمه په ايمان کړي او الله تعالی دِ اوکړي امين يا ارحم الرحمين ....

## خاتمه

پديکښې شک نشته چې قيدول سخت او پريشان کن ازميښت دې خکه چې انسان الله تعالی طبعی طور باندې آزاد پيدا کړې دې نو دې بې ځايه پابندۍ نشې برداشت کولې د غم د وجې نه ددۀ زړۀ چوی او چقيږي. انسان اشرف المخلوقات دې يو ميږې هم دا نۀ برداشت کوي چې په زبردستۍ سره څوک ددۀ لار بندکړی نو دې بيا هم په هغه لاره د تلو کوشش کوي .بيا پدې زمانه کښې د ظالمانه ترقۍ په وجه قيد زيات مشکل شوې دې د عقوبت خانو او جيل خانو زندانونو مشران ضرر پسند او اذيت پسند دي ، د خپل خواهش او ترقۍ دپاره قسماقسم ظلمونه کولې کيږي هغه اذيتونه قيديانو له ورکولې شی

چې د هغې تصور هم بنده کولې نشي او نه خولهٔ باندې راځی او ګران دي . دغه شان ځنی داروغه او ملازمان هم داسې دي . البته ځنې خلق پکښې ښهٔ هم شته دې .

لنډه دا چې قید واقعي خوفناک یرونکې مصیبت دې خو ځنې مسلمانان رونړه قیدیان او د قیدیانو رونړو خویندي مور پلار رشته داران پدې مصیبت کښې توره ډهال اوغورځوي او همتونه بائیلي او د مصیبت د لرې کولو دپاره خپل ایمانونه برباد کړي کله نجومیانو پسې ګرځي ، ستورو سره قسمت معلومول ، شرکی دمونه او تعویذونه او ټوټکې کول وغیره حرام کارونو سره خپل ایمانونه بربادوي . د اللّٰه تعالی دپاره د داسې کارونو نه ځان بچ کړئ او د خپل دین حفاظت اوکړئ . خپل آخرت د بربادیدلو نه ځان اوساتئ .

دنیا د امتحان ځائ دې دلته چې څوک خوشحاله ښکاري نو هغه هم پټ غمژن وي دلته د هرې خندا نه پس ژړا او د هرې خوشحالۍ نه پس غم دې نو بیا ولي ددې ځائ د عارضی پریشانو په وجه د ایمان او شریعت لمن پریښودې شي . او ولې د اللّٰه تعالی نه مخ واړولې شي . ایمان د ټولو نه لوئ نعمت دې کامیاب سړې هغه دې چې هغه خپل ایمان بچ اوساتي . اګر که پدیکښې ددهٔ بدن هم کټ شی حقیقي مسلمان هغه دې چې خپل وطن کور او آرام قربان کړی خپل بند ټکړې تکړې کړي خو خپل ایمان ته نقصان رانولي او دایمان اصل امتحان د ازمائش په وخت کښې کیږی نو قید هم یو امتحان دې نو څوک چې پدې امتحان کښې ثابت قدم پاتې شې نو هغه کامیاب دې

. خو په شرعی حدودو کښې دننه د قید نه د خلاصیدلو دعاء کول او وظیفې کول ذکر کول دا بد نهٔ دی .ځکه چې مونږ په عافیت غوختلو باندې مأمور یو . او د الله تعالی نه د عافیت او سلامتیا سوال کولو باندې الله تعالی خوشحالیږی .بلکه د مصیبت په وخت کښې زیاته ژړا او زاري کول د ایمان والو صفت دې . دعاء لوئ عبادت دې او د عبادت مغز دې او نلې دې . ددې وجې قید او بند کښې د دعاء ګانو ډیر اهتمام پکار دې . ددې نه مخکښې چې مونږ ځنې عملونه اولیکو نو یو څو د کار خبرې عرض کولې شې د فائدې په طور باندې.

## د دعاء مقام

دعاء د حاجت کنجی ده ، د متاژو حاجتمندو د راحت ځائ دې د مجبورو د پناه ځائ دې د مقصد لرونکی دپاره د مقصدونو پوره کول دي دبادشاه په درکښې ملنګی ده د خپل محبوب سره خبرې اترې او جرګه ده . خپله مینه او خپل حاجت وړاندې کول دي د زړهٔ اطمینان او سکون دې چې د چا نه غواړې نو زړهٔ به دې بې قراره وي خو چې د مَولیٰ نه غواړې نو زړهٔ به دِ سوړ وي .

أَلَا بِذِكْرِ ٱللَّهِ تَطْمَئِنُّ ٱلْقُلُوبُ ﴿٢٨﴾ (۱)

"خبردار د الله تعالی په یادولو باندې سړیږي زړونه "

سهل بن عبدالله فرمائی چې

(۱ ) الرعد: ۲۸

خلق الله الخلق وقال ناجونی فان لم تفعلوا فانظروا الیّ
فان لم تفعلوا فاسعوا منّی فان لم تفعلوا فکونوا ببابی فان
لم تفعلوا فانزلوا حاجاتکم بی[1]

"الله تعالی مخلوق پیدا کړو نو وې وئیل چې جرګه اوکړئ ځما سره نو که دا نشئ کولې نو ماته اوګورئ که دانشئ کولې نو ځما خبره واورئ که دا هم نشئ کولې نو خپل حاجتونه ماته پیش کړئ"

الله تعالی جه د انبیاء کرامو شان ذکر کړې دې نو دعاء ئې ذکر کړې ده.

كَانُوا۟ يُسَٰرِعُونَ فِى ٱلْخَيْرَٰتِ وَيَدْعُونَنَا رَغَبًا وَرَهَبًا ۖ وَكَانُوا۟ لَنَا خَٰشِعِينَ ﴿٩٠﴾ [2]

"یقینا دوئ تیزی او تلوار کوله د نیکو په کارونو کښې او مدد به ئې غوختلو ځمونږ نه په خوشحالئ او په یره کښې او دوئ مونږ ته عاجزي کونکي وو"

جنتیان چې جنت ته لاړ شی خپله د جنت ته د تلو وجه ذکر کوی نو هغه هم صرف د الله تعالی نه غوختل وائی.

إِنَّا كُنَّا مِن قَبْلُ نَدْعُوهُ ۖ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْبَرُّ ٱلرَّحِيمُ ﴿٢٨﴾ [3]

"یقینی خبره ده چې مخکښې په دنیا کښې الله تعالی رامدد کوو یقینا هغه الله تعالی دې د احسان خاوند او مهربان"

---

(۱) قشیریة صفحه ۱۳۰

(۲) الأنبیاء: ۹۰

(۳) الطور: ۲۸

جناب رسول الله ﷺ فرمائی چې دعاء د عبادت مغز دې او د عبادت نلې دې . او دا ئې هم فرمائیلی دې چې

لاشئ علی الله اکرم من الدعاء(۱) .

" په الله تعالی باندې دعاء ډیره ګرانه او عزتمنده ده "

دا هم په روایتونو کښې راغلی دي چې الله تعالی فرمائی چې بنده ماته لاس اوچت کړي نو څۀ حیاء کوم (لکه چې د الله د شان سره مناسب وی ) چې څۀ هغې لره خالی واپس کړم . نو دعاء الله تعالی قبلوې الله تعالی د دعاء حکم سره دا هم فرمائیلی دی .

وَقَالَ رَبُّكُمُ ٱدۡعُونِيٓ أَسۡتَجِبۡ لَكُمۡۚ ﴿٦٠﴾ (۲)

"او وئیلی دی رب ستاسو چې اوغواړئ ځمانه چې څه قبلوالې کوم تاسو له "

وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌۖ أُجِيبُ دَعۡوَةَ ٱلدَّاعِ إِذَا دَعَانِۖ ﴿١٨٦﴾ (۳)

"او په هغه وخت کښې چې تپوس اوکړي ځما بندیان ستا نه ځما په باره کښې نو څۀ نزدې یم قبلوم بلنه د بلنه کونکي په هغه وخت کښې چې ځما نه اوغواړی "

نو الله تعالی دعاګانې قبلوي خو کیدیشی د قبلولو په طریقه مونږ نۀ پوهیږو یا پکښې وخت وی یا به راله اجر په آخرت کښې راکړي . خو دعاء د الله تعالی په دربار کښې بې کاره او ضائع نۀ ځي . خو دعاء

(۱ ) الترمذی باب ماجاء في فضل الدعاء ۳۱۵/۵

(۲ ) غافر: ٦٠

(۳ ) البقرة: ١٨٦

د دعاء په شرطونو او په ادابو پکاره ده روحاني اسباب د روحاني اسبابو په شرطونو او ادابو سره کول غواړی نو په هغې کښې بیا روح وي او د قبولیت دربار ته اورسیږی . دغه شان نور ذکرونه شو نو د هغې هم د ادابو خیال ساتل پکار دی دلته څه مختصر لیکلی کیږی.

## د دعاء شرطونه

چې کله په روحاني وظیفو کښې شرطونه نهٔ وی نو تش په تیندکونو باندې کار نهٔ کیږی یو د یو څیز حقیقت وی بل ئې صورت وی لکه د مار یو حقیقت بل ئې صورت او فوټو دې نو خوړل او ټک ورکول دا د حقیقت کار دې صورت د مار د لرګی او د ربړ مار خوړل نهٔ کوی .
د زمری د حقیقت نه خلق یریږی د صورت ، فوټو او تصویر نه څوک نهٔ یریږی . دغه شان د روحاني وظائفو دعاء ګانو یو حقیقت او بل ئې صورت او شکل دې . نو چې کومې وعدې شوې دی نو دا په حقیقت سره شوي دي د صورت سره ندي شوي نو د حقیقت د حاصلولو کوشش پکار دې .

الناس قشوروا بالقشور قواهم
فاللبّ حظّ خلاصة الانسان

" خلق ټول پوستکي او پړچونه دی او په پوستکو او پړچونو ګزاره کوی . او اصل مغز عقل دانسان برخه او قسمت دې "

نو د حقیقت د حاصلولو کوشش پکار دې او صورت پریخودل نهٔ دې پکار خو دې صورت باندې دهوکه کیدل نهٔ دې پکار چې دې ته حقیقت اووئیلي شی . او الله تعالی ته دعاء ګانو کښې اووئیلې شی

چې اې الله تعالی ستا فضل چې اوشې نو ګناهونو په نیکو بدلوې .

﴿فَأُوْلَٰٓئِكَ يُبَدِّلُ ٱللَّهُ سَيِّـَٔاتِهِمۡ حَسَنَٰتٖۗ ۝٧٠﴾ (۱)

"نو دا بختور بدلوی الله تعالی ګناهونه د دوئ په نیکو باندې"

نو اې الله څمونږ دا دعاء توبه ذکر تلاوت عبادت نیکی نده خو شکل ئې د نیکۍ دې نو ای الله تعالی دا صورت په حقیقت بدل کړه او قبول ئې کړه . نو کوشش د حقیقت پکار دې دلته د حقیقت څنې شرطونه لیکلې کیږی .

(۱) صرف او صرف د الله تعالی نه غوختل ، په غوختلو کښې د الله سره شریک او حصه دار نۀ ګرځول ، دا نه چې د الله سره د الله تعالی نه علاوه نور په مشکل کښې رامدد کړې شی اولیاء یا انبیاء علیهم السلام یا ملائک وغیره څکه دا شرک دې دا دعاء بې کاره ده او ګمراهی ده څنې خلق په مصیبتونو کښې ګیر شی نو هغه زیارتونه درګاهونه رامدد کوی یا د یارسول الله مدد او د یا علی مدد وغیره چغې وهې دې سره ایمان هم بربادیږی او دعاء هم بربادیږی .

﴿فَلَا تَدۡعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ ۝٢١٣﴾ (۲)

"نو مۀ راغواړه د الله تعالی سره حاجت سرکونکې بل "

﴿وَلَا تَدۡعُ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَۖ فَإِن فَعَلۡتَ فَإِنَّكَ إِذٗا مِّنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ۝١٠٦﴾ (۳)

"نو مۀ راغواړه د الله تعالی نه علاوه هغه څۀ چې فائده نۀ درکوی

---

(۱) الفرقان: ۷۰

(۲) الشعراء: ۲۱۳

(۳) الشعراء: ۲۱۳

تاته او نه ضرر درکولې شي (که ته ئې بلنه پريږدی) که دِ داسې اوکړل نو يقينی خبره ده چې شې به د ظالمانو نه "

لَهُۥ دَعْوَةُ ٱلْحَقِّ ۖ وَٱلَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِهِۦ لَا يَسْتَجِيبُونَ لَهُم بِشَىْءٍ إِلَّا كَبَٰسِطِ كَفَّيْهِ إِلَى ٱلْمَآءِ لِيَبْلُغَ فَاهُ وَمَا هُوَ بِبَٰلِغِهِۦ ۚ وَمَا دُعَآءُ ٱلْكَٰفِرِينَ إِلَّا فِى ضَلَٰلٍ ﴿١٤﴾ (١)

"صرف هغه الله تعالی له بلنه د رشتياؤ ده او هغه کسان چې راغواړې او رامدد کوی د الله تعالی نه علاوه نور نو نشي قبلولې دوئ له معمولي هم مګر مثال ئې داسې دې لکه يو کس چې اوږدونکې وی د لاسونو خپلو اوبو ته (چې وائی وه اوبو راشئ وه اوبو راشئ) ددې دپاره چې دا اوبهٔ ددهٔ خلې ته رااورسي نو ندی دا اوبهٔ رارسيدونکې خلهٔ ددهٔ ته او نده بلنه د کافرانو مګر په ګمراهۍ او بربادۍ تباهۍ کښې"

فـــــلا تـــــدعو بـــــامر قـــــط غـــــيره
علی بـــــاب الاله لکـــــم نصـــــيب

"نو مهٔ راغواړه په يو خبره او کار کښې د الله تعالی نه علاوه بل څوک د الله تعالی په در کښې ستاسو برخه موجود ده "

تـو انـدر رنـح يـا بابـا بګـوئی — وذالـــك عنـــدنا امرعجيـــب
خدا ګفتاد من جو من قـريبم — وبابـــا لـــم يقـــل انی قريـــب

" تهٔ په تکليف کښې د " يا بابا " چغې وهې دا خو څمونږ په شريعت کښې يو ناشنا کار دې الله تعالی وئيلی دی چې څما نه

(١) الرعد: ١٤

غواړئ څهٔ نزدې يم او بابا خو ندی وئيلی چې څهٔ نزدې يم "

**نبي ﷺ خپل رور ( د ترهٔ ځوئ) عبدالله ابن عباس رضي الله عنه ته نصيحت کوی نو وائی چې**

**اذاستعنت فاستعن بالله**[۱]

"چې کله تهٔ مدد غواړې نو مدد غواړه صرف او صرف د الله تعالی نه "

**(۲) د دعاء او د ذکر په وخت د مخلوق طمع د زړهٔ نه لرې کول . په ظاهرې اسبابو کښې مخلوق ته درخواست وغيره کول جائز دی . خو دا ظاهرې اسباب دي پدې کښې اثر اچول د الله تعالی کار دې نو ديته تمام تر توجه نده پکار اصل کار کونکې الله تعالی دې نو چې څه وخت دعاء کوې نو تمام تر توجه الله تعالی ته ساته چې الله تعالی کونکې تهٔ ئې مخلوق نه څهٔ کولې شې او نه څه اختيار لري خو صرف ظاهري سبب په ظاهري دنيا کښې استعمالوم نو د زړهٔ نه نور تصويران فوټوان او بتان ختم کړه .**

**اترک کل شئ ثم تعال**

" هر څهٔ پريږده او بيا د الله تعالی دربار ته راشه " اووهه لنګ شه ملنګ په درکښې د سبحان

**دا نه چې لاس دِ الله تعالی ته اوچت کړي دي او زړهٔ کښې دِ بل څوک دي ځان مضطر او مجبوره کړه چې ځما بې ستا نه هيڅوک نشته صرف تهٔ مِ اسره ئې مخلوق ستا د حکم نه بغير څهٔ هم کولې نشی تاته فرياد کوم .**

---

(۱) اخرجه الترمذی ، باب ما جاء فی وصية رسول الله صلی الله عليه وسلم ١٦٢/٤

ځـــــائۍ مِ تـــــۀ ئـــــېِ د ژړا او دفريـــــاد
ســـتا پـــه سر ځــــۀ فريــــادی لاړ شـــمه چـــاله

(۳) هر عمل په يقين سره کول دعاء ، وظيفه په يقين سره کول چې ځما دعاء قبليږی او قبوله شوه او وظيفه باندې يقين وی په شک سره عمل بربادېږی او د منافق عمل دې .

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَعۡبُدُ ٱللَّهَ عَلَىٰ حَرۡفٖۖ ﴿١١﴾ [۱]

" او ځنې د خلقو نه عبادت کوي د الله تعالی په شک باندې "

ماالاحسان يا رسول الله قال ان تعبدالله كانك تراه فان لم تكن تراه فانه يراك[۲]

"جبريل تپوس اوکړو چې اې د الله تعالی رسوله احسان څۀ ته وائی نو نبی علیه السلام اوفرمائيل چې احسان دادې چې تۀ عبادت د الله تعالی داسې اوکړې چې لکه چې تۀ ئې وينې اوکه تۀ ئې نۀ وينی نو هغه خو تا وينی دا يقين راواله"

دغه شان جناب رسول الله ﷺ فرمائی.

اذا دعااحدكم فلا يقل اللّٰهُمَّ اغفرلى ان شئت اللّٰهُمَّ ارحمنى ان شئت وليعزم مسألتَه انه يفعل ما يشآء ولا مكره له[۳]

" کله چې په تاسو کښې يو تن دعاء کوي نو داسې دِ نۀ وائی چې اې الله تعالی که ستا خوښه وی نو ماته بخښنه اوکړه او که ستا

(۱) الحج: ۱۱

(۲) صحيح البخاري ، باب سوأل الجبريل النبی صلی الله عليه وسلم ۱۹/۱

(۳) صحيح البخاری ، باب في المشية والارادة ۱٤۰/۹

خوښه وی نو په ما مهربانی اوکړه او که ستا خوښه وي نو ماله رزق راکړه . په پوخ یقین سره دِ خپل حاجت اوغواړي ځکه چې الله تعالی څه اوغواړی نو هغه کوي او په هغه څوک زورکونکې نشته دې "

دغه شان جناب رسول الله ﷺ فرمائی چې

ادعوالله وانتم موقنون بالاجابة(۱)

" اوغواړئ د الله تعالی نه چې تاسو یقین کونکی یئ په قبلولو باندې "

نو چې د الله تعالی نه غواړئ په یقین او په اعتماد سره غوختل په شک او تردد سره غوختل ندی پکار ...

(٤) د زړهٔ مکمله توجه په طرف د الله تعالی باندې ساتل دا نه چې زړهٔ بل ځائ کښې وی او په خلهٔ دِ الله الله وی . د خلهٔ او زړهٔ دواړو برابري او یوالې ضروری دی بې توجهی د غافلانو خلقو علامه او نخښه ده .

واعلمو ان الله تعالی لا یستجیب دعاء من قلب غافلٍ لاهٍ(۲)

" او یقین اوکړئ چې یقینا الله تعالی د غافله او بې پرواه زړهٔ دعاء نهٔ قبلوی "

یوه ورځ موشی عليه السلام په یو سړی تیریدلو چې هغهٔ دعاء کوله او عاجزي ئې کوله نو موسی عليه السلام الله تعالی ته اوفرمائیل چې که ددهٔ

---

(۱) سنن ترمذی ٥/۳۹٤

(۲) سنن ترمذی ٥/۳۹٤

حاجت ځما په لاس کښې وې نو ما به پوره کړې وې نو الله تعالی موسی علیه السلام ته وحی اوکړه چې ځۀ په دۀ باندې ستانه زیات مهربانه یم خو دې ځما نه غواړي او په زړۀ کښې ددۀ بیزې او ګډې دي نو ځۀ د داسې بنده دعاء نۀ قبلوم چې غواړې ځما نه او زړۀ ئې د غیر سره وی نو موسی علیه السلام هغه سړي ته اووئیل نو هغه سړې مکمل په زړۀ سره الله تعالی متوجه شو نو د هغۀ حاجت پوره شو.

برزبان تسبیح و دردل گاو وخر
اینچنین تسبیح کے دارد اثر

" په ژبه باندې تسبیح او ذکر او په زړۀ کښې غواګانې او خرۀ نو داسې تسبیح او ذکر به څه اثر اولري "

خو د خلې د عبادت هم قدر پکار دې یو اندام خو په ذکر او دعا کښې مشغول دې کنه. خو زړۀ ته د کوزولو انتهائې محنت او کوشش پکار دې الله تعالی دِ مونږه ټولو ته د زړۀ یقین او د زړۀ توجه نصیب کړي.

(٥) د غلطو غیر شرعی وسیلو نه ځان ساتل په دعاء کښې شرکې وسیله چې د غیر نه اوغواړې بغیر د اسبابو یا بغیر د اسبابو مړو ته آواز اوکړی جه اې فلانیه ماله د الله تعالی نه دا اوغواړه هغه مړ دې او لرې دې نو ستا آواز اوریدلې نشی او الله تعالی ته پیش کولې نشی یا د بدعی وسیلې نه ساتل لکه د فقهې ټول کتابونه دا لیکي چې

ویکره فی الدعاء ان یقول بحق فلان[1]

" چې دا حرام دي چې اووائې په دعاء کښې چې "بحق فلان " د فلانکې په حق او فلانکې په روئ درنه غواړم"

دغه شان نور الفاظ چې شریعت کښې او مسنون دعاګانو کښې دهغې نقل نۀ وی لکه جاه ، حرمت ، مخ ، روئ ، طفیل ، وغیره الفاظ چې ددې په شریعت کښې ثبوت نشته دې نو د داسې الفاظو نه ځان ساتل پکار دي .

(٦) د حرام خوراک نه ځان ساتل ، اللّٰه تعالی په خپل کتاب کښې خپلو انبیاء کرامو ته وئیلی دی .

يَٰٓأَيُّهَا ٱلرُّسُلُ كُلُواْ مِنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَٱعْمَلُواْ صَٰلِحًا ﴿٥١﴾ [2]

"اې پیغمبرانو خورئ د پاکیزو حلالو نه و عمل کوئ نیک .. "

د نیک عمل د قبلیدلو شرط حلال خوراک دې ځکه ئې خوراک د عمل نه مخکښې ذکر کړې دې .

جناب رسول اللّٰه ﷺ سعد رضي الله عنه ته فرمائیلی وو چې

اطب کسبك تستجب دعوتك[3]

"خپل کسب حلال کړه چې ستا دعاګانې قبولې شي "

دا هم بزرګانو او نیکانو خلقو وئیلی دی چې

الدعاء مفتاح الحاجة واسنانها لقم الحلال[4]

---

(١) بدائع الصنائع ، کتاب الاستحسان ١٢٦/٥

(٢) المؤمنون: ٥١

(٣) رساله قشیریة ، باب الفتوة ٤٢٤/٢

(٤) رساله قشیریة ، باب الفتوة ٤٢٤/٢

"دعاء د حاجت کنجی ده او غاښونه د هغې حلالې نوړۍ دی"

(٧) د فرائضو خیال ساتل . الله تعالی ته خپل فرائض ډیر خواګه دی نو کوم بنده چې د الله تعالی د مقرر شوو حکمونو فرضونو خیال ساتي نو هغه هم الله تعالی ته محبوب وی نو د هغهٔ دعاء قبلیږی چې څوک د فرضو خیال ساتی نو تعلق ئې جوړ وي او چې د فرضو خیال نهٔ ساتی نو د هغهٔ د الله تعالی سره تعلق خراب دې نو څهٔ به ئې دعاء قبوله شی.

(٨) د حرامو نه ځان ساتل ، کوم کارونه او کومې خبرې چې الله تعالی حرام کړي وي نو د هغې نه ځان بچ کولو سره روحانیت ترقي کوي او د چا روحانیت څومره مضبوط وي نو دومره د هغهٔ په اعمالو کښې دعاګانو وظائفو کښې اثر زیات وی . د حرامو ارتکاب سره روحانیت کمیږی او په عمل کښې زور ختمیږی چې روح په عمل کښې نهٔ وی او زور پکښې نهٔ وی نو د قبولیت مقام ته به څهٔ اورسې .

(٩) د ګناه او قطعۍ رحمۍ غوختلو نه ځان ساتل یعنی هغه دعاء قبلیږی چې په هغې کښې د شریعت نه خلاف څیزونه اونهٔ غواړی خصوصا داسې څیزونه اونهٔ غواړي چې په هغې سره قطع رحمی راځي او رشته داریٔ او خپلولۍ پرې ختمیږی .

(١٠) ممتنع یعنی غیر ممکن څیزونه او هغه چې ددهٔ د شان سره مناسب نوی نو هغه نهٔ غوختل . لکه یا الله ما فرشته کړه ، یا ما ښځه کړه ما پیغمبر کړه وغیره داسې سوالونه چې مناسب نهٔ وی نو د هغې نه ځان ساتل ....

## اداب د دعاء

ادب نه مراد هغه څیزونه او عملونه نه چې هغې سره ذکر او دعاء ښائسته کیږی او مزیدار کیږی او د قبولیت مقام ته ډیر په خکلی انداز سره رسیږی .

هر چیز سبب مسبب سے مانگ
ادب سے منت سے خوشامد سے مانگ

مولانا رومی رحمه الله هم فرمائیلی دی

از خدا خوایئم توفیق ادب
که بے ادب محروم ماند از فضل رب

" د الله تعالی نه غواړم د ادب توفیق ځکه چې بې ادبه د خبل پروردګار د فضل نه محروم پاتې کیږي "

من حُرم الادب فقد حرم الخير الكثير[1]

"څوک چې د ادب نه محروم کړې شی نو هغه د ډیر زیات خیر نه محروم شو"

د ذکر او دعاء ګنړ اداب دی دلته ځنې ذکر کولې شی .

(١) **د طهارت اهتمام کول ...** کله کله ظاهری پاکي د باطنی پاکۍ سبب ګرځي . نو جامې پاکې ساتل ، اودس کول چې مقام او ځائ کښې دعاء غواړې د هغې د پاکۍ اهتمام کول چې وس وې نو خوشبوئ هم لګول ځکه دا د فرشتو ډیر خوښ وي .

---

(١) مفید الطالبین

(۲) **لاس اوچتول او د دعاء نه ورستو په مخ راخکل** ... ډير احاديث پدې راغلی دی چې نبی ﷺ به لاس په دعاء کښې اوچتول ، لاس د سينې نه زيات نۀ پورته کول او د لاس نه لپه جوړول او آسمان طرفته د لاس مخ کول ، او خپل نظر په لاسو کول چې پدې کښې رحمت راوريږي او لاسونه يو بل سره جختول دا اهم ادب دې . خو يو هغه دعاء ده چې بنده خپل حاجت غواړي دويمې هغه دعاء ګانې دي چې هغه د وخت يا د يو کار سره وارد دعاء وی لکه د ډوډئ نه روستو دعاء د اودۀ کيدلو او پاڅيدلو دعاء ، د سحر ماښام دعاګانې وغيره نو پدې کښې لاس اوچتول نشته دې .

(۳) **د ټکوروغ والې** .... حتی الوسع کوشش کول پکار دې چې د دعاء ټکی او الفاظ سم اووئيلې شی مات ګډ او غلط الفاظ ندې وئيل پکار . کله د لفظ په غلطۍ سره معنی بدليږی .

(٤) دعاء په عربۍ کښې غوختل ..... چې به معنی باندې پوهيږی نو بهتره داده چې هغه الفاظ اووئيلې شی چې کوم په قران او په حديث کښې ماثور وی او نقل وی ځکه يو خو هغه ټکی قبول دی او قبولې دعاګانې دی دويم د هغې په ټکو کښې هم ثواب دې نو که ضرورت درته ملاؤ نشې نو ثواب خو اوشو اوشو .

(٥) شرعی وسيله استعمالول ، په دعاء کښې د شريعت مطابق وسيله استعمالول مستحب دي د ټولو نه لويه وسيله د اسمآء حسنی دي .

وَلِلَّهِ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰ فَٱدۡعُوهُ بِهَاۖ ﴿١٨٠﴾ (١)

---

(١) الأعراف: ١٨٠

” د الله تعالی دپاره نومونه دي ښائسته ښائسته نو رامدد کړئ
هغهٔ لره پدې باندې “

(۱) **د الله تعالی د صفتونو** او اسماء حسنی وسیله استعمالول .

(۲) **درود شریف وئیل د دعاء دپاره ضروري دی** مخکښې او روستو درود شریف وئیل نو په درود شریف سره دعاء د قبولیت مقام ته رسي .

(۳) **خپل عاجزی او وفاداری** چې اې الله تعالی ستا بنده یم ستا د در ملنګ یم او ستا در مې نهٔ پریښودې دې او نه ئې پریږدم .

گدا خود را ترا سلطان چون دیدم
بدرگاه تو اے رحمان دویدم

”ځان مې ملنګ او تهٔ مې بادشاه اولیدلې نو ستا درته مې منډه کړه “

(٤) **وسیله د رب نسبت انبیاء** ، فرشتو ، نیکانو مجاهدینو او مسکینانو عاجزانو ته کول چې یارب الملائکة والروح ، یارب ابراهیم علیه السلام ، یا رب محمد ﷺ ، یا رب المساکین یا رب المسجونین وغیره ددې اضافت نسبت نقل راغلې دې .

(٥) **وسیله د نیکانو بندیانو د محبت** وسیله چې اې الله جناب رسول الله ﷺ ستا محبوب بنده دې ځما د هغهٔ سره محبت دې دا مینه درته وسیله کوم اولیاؤ سره ، علماؤ طلباء کرامو ، مجاهدینو سره مې مینه ده هیڅ نه یم خو ستا ددین د خادمانو سره مینه لرم دا مینه درته وسیله کوم ، یا خپل یو بل نیک عمل وسیله کول دا شرعي وسیلې دي نو دا د دعاء د ادابو نه ده .

(٦) **په دعاء کښې ژړل**: د دعاء په ادابو کښې یوه ژړا ده . نبي علیه السلام

فرمائيلي دی چې

باکوا والا فتباکوا[1]

"اوژاړئ او که ژړا درله نۀ درځي نو په زور اوژاړئ "

نو عاجزی زاری او ژړا کول ، طريقه ئې داده چې د الله تعالی احسانات يادول د پيدائش نه او بيا خپل ګناهونه يادول چې څه مې ندې کړي د ژړا ډير فضيلت په حديثو کښې راغلې دې .

(۷) **د غائب دپاره دعاء غوختل** ، چې کله يو بنده د غائب رور مسلمان دپاره دعاء غواړی نو فرشتې د هغۀ دپاره دعاء غواړی نو د فرشتو دعاء ځان ته راړول دي . نو ځومره لويه خبره ده ستا دعاء به د غائب دپاره يا قبليږی او يا نه خو ستا دپاره د فرشتو دعاء قبوله شوه .

(۸) **په دعاء کښې عموم پيدا کول** ، دعاء کښې شومتيا يعنی بخل مۀ کوه د لوئ الله تعالی نه غواړې نو د ټولو مسلمانانو ، عالمانو ، مجاهدينو ، مدارسو او قيديانو ، مريضانو ، قرضدارو دپاره اوغواړه دعاء کښې عموم ډير خوندور دې دې سره ددين احساس پيداکيږی او د مسلمانانو درد نصيب کيږی .

(۹) **د ګناهونو معافی مخکښې غوختل** ، په انسان چې کوم مصيبت دې نو دهغې وجه د بنده خپل ګناهونه وی نو ددې وجې نه اول د خپلو ګناهونو معافی غوختل ډير ضروری دی او دا ځمونږ د ټولونه غټ ضرورت دې . پس د هغې نه بيا نور ضروريات غوختل او په بخښنه کښې هم عموم د ټول امت محمديه دپاره دعاء غوختل ضروری

[1] سنن ابن ماجه ، باب الحزن والبکاء ۱۴۰۳/۲

دى داسې وئيل

اللّٰهُمَّ اغفرلى وللمؤمنين والمؤمنات والمسلمين والمسلما.

(۱۰) **تلوار نه کول**: د دعاء د ادابو نه اهم ادب دادې چې تهٔ کوم ضرورت غواړې نو د هغې په غوختلو کښې تلوار مهٔ کوه چې مازيګر له راکړه يا مِ اختر او روژ ى له خلاص کړه خپل ضرورت غواړه الله تعالى ته وختونه او قيدونه مهٔ مقرروه . ځکه چې پدې کښې بنده د نا اميدۍ خکار شى او بيا دعاګانې پريږدې چې بس يره هسې هم نه راکوې او نهٔ ئې قبلوي . د داسې کولو نه نبى عليه السلام منع فرمائيلې ده .

يستجاب لاحدكم مالم يعجل يقول دعوت فلم يستجب لى(۱)

"په تاسو کښې د يو تن دعاء تر هغې پورې قبليږى چې تلوار او تادي اونکړى هغه تلوار ئې داده چې وائى ما دعاګانې اوکړې او ځما نهٔ قبليږى "

د الله تعالى په فيصله يقين کول چې د الله تعالى فيصله ځمونږ دخپلې فيصلې نه غوره ده . ځمونږ په خيرو شر الله تعالى پوهيږى مونږ په خپل خير وشر باندې نهٔ پوهيږو . نو چې کوم وخت الله تعالى مقرر کړې وى نو هغه بهتر دې او په هغې کښې خيرونه او برکتونه دى .

(۱۱) **د قبوليت وختونه او حالات لټول** ځنې اوقات او حالات داسې دي چې هغې کښې دعا خه قبليږى لکه د فرض مونځ نه ورستو او د شپې

---

(۱) بخارى ، باب يستجاب للعبد مالم يعجل ۷٤/۸

وغیره اوقات طلب کول .

## یوقیمتی خبره

د ډیر خلقو خصوصا د مصیبت زدو او قیدیانو زړۀ ته دا سوال راځي چې دعاء ته څه ضرورت دې چې ځمونږ د هر څه وخت لیکلې شوې دې او تقدیر لیکلې شوې دې نو بیا دعاء ته څه ضرورت دې .

ددې خبرې څه علمي جوابونه دی خو مونږه یو ساده خبره دلته ذکر کوو چې پدې ځمونږ ایمان دې چې ځمونږ رزق لیکلې شوې دې خو بیا هم ظاهری اسباب استعمالوو چې څوک راته اووائی چې مړه رزق خو لیکلې شوې دې او الله تعالی ئې وعده کړې ده نو څله دومره ځان وژنې نو مونږ ورته وایو چې دا خبره صحیح ده خو څه لاس خپه به خوزول غواړې او محنت خو به کوې نو ددنیا دپاره مونږ دا جواب کوو خو چې د دعاء او ددین خبره راشی نو دغه ځائ کښې بیا اووایو چې بس څه لیکلې دی نو به رسیږی دغه ځائ هم دا اووایه چې لاس خپه به خوزول غواړی . نو دنیا دار الاسباب دې پدې کښې به ظاهری جائز اسباب استعمالوې نو دعاء هم په ظاهري اسبابو کښې یو سبب دې ځمونږ د تقدیر بدلولو سره کار نشته دې ځمونږ د خپل ضرورت پوره کولو سره کار دې او په دعاء باندې الله تعالی ضرورتونه پوره کوې . دا خو هم په روایتونو کښې راغلی دی چې په دعاء سره تقدیر بدلیږی کوم تقدیر بدلیږی کوم نۀ بدلیږی دا علمي خبره ده خو دومره مونږ ته معلومه شوه چې په دعاء سره ضرورتونه پوره کیږی . نو دالله

تعالی نه په صدق دل ، په اخلاص ، محبت ادب سره خپل ضرورتونه غوختل پکار دی . که فرض کړه ضرورت دِ پوره نشی نو اهم کار چې عبادت دې هغه خو اوشو او په آخرت کښې به درته اجر ملاؤ شي . ( انشاء الله تعالی ) .

## د ذکر او دعاء ګانو قسمونه

ذکر او دعاء اهم عبادت دې او عبادت په طریقه د شریعت کول پکار دي .

وَٱذۡكُرُوهُ كَمَا هَدَىٰكُمۡ ﴿١٩٨﴾ (١)

"او یاد کړئ الله تعالی لره په هغه طریقه چې تاسو ته ئې ښودلې ده "

نو د الفاظو هم خیال ساتل پکار دی چې الفاظ غیر شرعی نهٔ وی او دطریقې هم خیال ساتل پکار دی چې طریقه هم غیر شرعي نهٔ وي .

نو ذکرونه او دعاءګانې څلور قسمه دي او ل درې قسمه شرعي دي او روستنی آخري قسم غیر شرعي دې د هغې نه ځان ساتل پکار دي.

(١) **مأثورات**: یعنی هغه ذکرونه او هغه دعاء ګانې چې هغه په قران کریم کښې او په حدیثو کښې نقل کړې شوي وي دیته منقولات او مأثورات وائی .

(٢)**منتزعات**: یعنی د قران او د سنت نه اغستلی شوی دعاء ګانې لکه دا ایت شو

(١) البقرة: ١٩٨

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ أَنتُمُ ٱلۡفُقَرَآءُ إِلَى ٱللَّهِۖ وَٱللَّهُ هُوَ ٱلۡغَنِيُّ ۝١٥﴾ (١)

ددې نه دعاء جوړه شي چې

اللّٰهُمَّ اجعلنى فقيرا الى الغنى ولاتجعلنى فقيراً الى الفقراء

اللّٰهُمَّ لاتجعلنى غنيا عن الغنى واجعلنى غنيا عن الفقراء.

دغه شان ددې ايت نه چې

﴿وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِن وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ ۝١٠٧﴾ (٢)

واجعلنى من لدنك وليا واجعل لى من لدونك نصيرا ،

دغه شان نور آيتونه او حديثونه چې د هغې نه دعاء واغستلې شى نو ديته منتزعات وائى يعنى اغستلې شوې دعاګانې.

(٣) ملهمات : هغه ذکرونه او هغه دعاګانې چې د نيک بنده په زړۀ کښې الله تعالى اوغورځوي په هغې حديث نۀ وى راغلې خو د حديث نه خلاف هم نۀ وى په هغې نص نۀ وى راغلې خو د نص نه خلاف نۀ وى . لکه ځنې اسماء حسنى چاله الله تعالى زړۀ کښې اوغورځوي چې د فلانکى ضرورت دپاره دا فلانکې نوم دومره ځله وئيل غواړى نو ملهمات هم شرعي دعاګانې دې د شريعت نه خلاف ندي . ذکر دې خو سنت به ورته نۀ وائى .

(٤) **مخترعات** : د ځان نه د شريعت خلاف جوړکړې شوى دمونه ذکرونه تعويذونه . کله وائى يا شيخ عبدالقادر جيلانى شيئا لله

(١) فاطر: ١٥

(٢) البقرة: ١٠٧

دارنګې دورخې وغيره چې وائى د سنسکرت ګيتونه ، د غيرشرعى ذکرونو دعاء ګانو نه ځان ساتل دې .

**فائده** : د ذکرونو او دعاءګانو شمير دوه قسمه دې يو شمير هغه دې چې په هغې نقل راغلې وى او په حديثو کښې د هغې تعداد راغلې وى نو په هغه خصوصى تعداد کښې برکت وى . د هغې خيال ساتل او په هغه شمير لوستل مسنون دى په هغې زيادت کول ښنګه دى دا علمى مسئله ده خو قاضى شمس الدين صاحب رح په شرح د مشکوة کښې فرمائيلى دى چې جائز دى او ثواب ئې شته دى .

وَيُؤْتِ كُلَّ ذِى فَضْلٍ فَضْلَهُۥ ۝٣ (١)

" او وربه کړى اله تعالى هر فضيلت والا ته د هغۀ غوره والې "

دويم قسم شمير هغه تجرباتى دې چې په يو ذکر او دعاء باندې يو نيک بنده او يا يو مصيبت زده تجربه کړي وى نو په دغه عدد وئيل څۀ بدعت ندې البته عقيده به پرې د سنتيت نۀ لري نور وئيل ئې جائز دى ځکه عدد څه مقصود اصلى ندې مقصود اصلى ذکر دې .

ځنې خلق ددې قسمونو د دعاګانو نه خبر نوى نو په نۀ څه خبره د بدعت فتوى لګوي او ځنې بيا په مخترعاتو او په بدعاتو کښې اخته شى . ميانه روي په هر کار کښې مطلوب شرعي دې .

## د جيل نه د خلاصيدو ځنې عملونه

دلته ځنې اعمال ليکلې کيږى چې ځنې د هغې نه مسنون دى او ځنې

(١) هود: ٣

د هغې نه تجرباتي دي .

## (۱) دعاء

د ټولو نه لوئ عمل دعاء ده دعاء الله تعالى ته خپل حاجت ليکل دی يعنى الله تعالى ته چيټۍ کول دی ترڅوچې خط ليکل او چيټۍ کول باقى وى نو خبره به مزيداره وى چې کله ګناهګار الله تعالى ته اوژاړى نو دۀ ورته خپله چيټۍ اوکړه .

دمـــــوع الفـــــتى عمــــا يجــــنّ تــــترجم
وانفاســـــه يبــــدين ماالقلـــــب يكـــــتم

"د ځوان اوخکې د پټ حاجت ترجماني کوي او ددۀ سـلګۍ هغـه څه ښکاره کوی چې کوم زړۀ پټوي"

دعاء کشې د مينې او شوق ژبه ده محبوب ته . دعاء د الله تعالى په دربار کشې حاضرى ده او د حاجت ورکول او ملاويدل د الله د دربار نه اوړيدل دي نو اوس اووايه چې حاضرى ښه ده او که اوړيدل ښۀ دى دا مۀ وايه چې قبلوى ئې ولې نه چې حاجت درکړي نو بيا خو تۀ غير حاصر کيږى .

وفى الخبر المروى ان العبد ليدعوالله وهو يحبّه فيقـول يـا جبريل اخّرحاجة عبدى فانى احبّ ان اسـمع صـوته وان العبد يدعوالله وهو يبغضه فيقول يا جبريل اقض حاجته فانى اكره اسمع صوته(۱)

"په يو روايت کښې راغلى دى چې يقينا يو بنده خامخواه رابلى الله

---

(۱) قشيريه صفحه ۱۳۱

تعالی او د الله تعالی هغه بنده خوښ وی (مینه ورسره کوی ) نو
الله تعالی اوفرمائی چې اې جبریل ددې بنده ضرورت روستو کړه
یقینی خبره ده چې ځما دا خوښه ده چې ځهٔ ددهٔ آواز اورم او یقینا
یو بنده د الله تعالی نه حاجت غواړي الله تعالی رابلی او د الله
تعالی خوښ نهٔ وي نو الله تعالی وائی چې اې جبریلَ ددې بنده
ضرورت پوره کړه ځما بدې شی چې ددهٔ آواز واورم "

یحی بن سعد القطان رح فرمائی چې ما الله تعالی په خوب کښې اولیدلو نو ورته مې اووئیل چې ځما مولی څومره ډیر مې راوبللې او جواب نهٔ راکوی یعنی قبلوې نه وې الله تعالی راته اووئیل چې ځما دا خوښه ده چې ستا آواز واورم .....

نو قیدی روره ! دا مهٔ وایه چې نهٔ قبلیږی تا نه دی اوریدلی چې اصل مجنون سره لیلی څنګه سلوک کړې وو چې مجنونانو ته ئې اووئیل چې شودو له لوښي راوړئ نو ټولو له ئې ورکړل او چې د اصلی مجنون لوښې راغې نو مات ئې کړو . مجنونانو ورپورې خندل نو مجنون ورته اووې چې تاسو له ئې هم شودهٔ درکړې وې او ماله هم نو بیا ځما او ستاسو فرق څه وو . هغې خوښوله چې بیا راشی نو بیا بیا د الله تعالی دربار له ورشه ځکه ځمونږه بل در نشته .

په دعاء کښې اول د الله تعالی حمدونه اووایه چې څنګه حمد او صفت د الله تعالی کولې شې سورة الفاتحه اووایه او بیا درورد شریف د مونځ والا اووایه پس د هغې نه اسماء حسنی وسیله کړه ځنې کلمات داسې دی او اسماء حسنی چې هغه په دعاء کښې په اول سر کښې اووئیلې شی نو دعاء ډیره خه قبلیږی ځنې د هغې نه دا دي .

(۱) یا الله یا رحمن یا رحیم یا ذالجلال والاکرام.

(۲) یا علی عظیم یا علیم یا حلیم یا کریم.

(۳) یا کاسیا العظام لحما و منشرَها بعد الموت یا سامع کل صوت وسابق کل فوت اسألك باسماء ك العظام واسئلك باسمك الاعظم.

(٤) یا اول الاولین ویا آخرالاخرین ویا ذالقوة المتین ویا راحم المساکین یا ارحم الرحمین[۱].

(٥) یا رحیم یا ودود یا قریب یا مجیب.

(٦) یا احد الصمد الذی لم یلد ولم یولد ولم یكن له کفوااحد.

(۷) اللّٰهُمَّ انی اسئلك بانّی اشهد انك انت الله لا اله الا انت الاحد الصمد الذی لم یلد ولم یولد ولم یكن له کفواً احد[۲].

(۸) اللّٰهُمَّ انی اسئلك بان لك الحمد لا اله الا انت وحدك لاشریك لك الحنان المنان بدیع السمٰوٰت والارض یا ذالجلال والاکرام یاحی یاقیوم[۳].

(۹) یاربّ یاربّ یاربّ

(۱۰) اللّٰهُمَّ انی اسئلك بلااله الانت رب العرش الکریم، اسئلك بلااله الانت رب العرش الکریم، اسئلك بلا اله الانت رب السمٰوٰت والارض ومن فیهن وانت علی کل شیئ قدیر.

---

(۱) الدعاء للطبرانی ،باب الدعاء للفقر والسقم ۳۱۹/۱

(۲) سنن ترمذی، باب جامع الدعوات عن النبی صلی الله علیه وسلم ۳۹۲/٥

(۳) صحیح ابن حبان، باب ذکر اسم الله العظیم الذی اذا سأل المرء ۱۷٥/۳

## (۲) یوه نبوی نسخه

مالک اشجعی رضي الله عنه د نبی رضي الله عنه په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو چې ځما ځوئ عوف بن مالک قید شوې دې . خضور اکرم ﷺ اوفرمائيل چې دهٔ ته دا پيغام اورسوه چې نبی ﷺ فرمائيلی دی چې "لاحول ولا قوة الا بالله" ډير ډير وايئ نو قاصد لاړو او عوف رضي الله عنه ته ئې د نبی عليه السلام پيغام اورسولو نو هغهٔ دا ډير ډير وئيل شروع کړل کافرو عوف رضي الله عنه په سوتلو تړلې وو يوه ورځ هغه سوتلی اوشليدله او پريوته عوف رضي الله عنه د قيد نه بهر شو نو د کافرو اوښه بهر اولاړه وه چې وراندې لاړو نو نور خاروې ولاړ وو هغهٔ هغه ځناورو ته آواز اوکړو نو دهٔ پسې روان شو . بيا دې ناڅاپه په دروازه د کور وردننه شو مور او پلار ئې اوليدل پلار ئې وئيل چې قسم دې چې دا عوف رضي الله عنه دې مور ئې نهٔ منله پلار او خادم ئې ورغې نو وې کتل چې واقعی عوف رضي الله عنه وو او ټول ميدان د اوښانو نه ډک وو پلار ئې نبی عليه السلام ته قصه واوروله نبی عليه السلام اوفرمائيل چې اوښان ستاسو دی چې څهٔ ورسره کوئ بيا دا آيت نازل شو .

وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يَجۡعَل لَّهُۥ مَخۡرَجٗا ۝٢ وَيَرۡزُقۡهُ مِنۡ حَيۡثُ لَا يَحۡتَسِبُۚ وَمَن يَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِ فَهُوَ حَسۡبُهُۥٓۚ ۝٣ (١)

"څوک چې صرف د الله تعالی نه يريږی نو اوبه کرځوې الله

(١) الطلاق: ٢ – ٣

تعالی ددۀ دپاره د خلاصي یوه لار او روزی به ورکړي دلره د هغه
ځایٔ نه چې ددۀ به ګمان هم نۀ وی او څوک چې په الله تعالی
ځان اوسپاری نو الله تعالی د هغۀ دپاره پوره دې"

د ډیر وئیلو مطلب دا دې چې څنې عالمان وائی چې پنځۀ سوه ځله دِ وائی او څنې وائی چې دوه سوه ځله دِ وائی نو د فرصت مطابق دې په توجه سره دا ذکر کوی .

لا حول ولا قوة الا بالله [1]

"نشته بچ کیدل ( د ګناه نه او د هرقسمه ضرر او تکلیف نه) او
نشته دې طاقت او توفیق (د نیکۍ او د خیر) مګر په مدد او
توفیق د الله تعالی باندې"

معنی او مطلب باندې دِ ځان پوهه کړي او په شوق او په محبت دِ دا ذکر کوي نو نور هم ډیر مفید دې .

(۱) صحیح البخاري ، باب التهجد باللیل وقوله عزوجل ۴۸/۲

## (۳) دعاءالکرب

لا اله الا الله العظیم الحلیم ، لااله الا الله ربّ العرش العظیم ، لا اله الا الله ربّ السموات والارض وربّ العرش الکریم[۱] .

"نشته دې د عبادت لائق او حاجت پوره کونکې بې د الله تعالی نه ډیر عزتمند او صبرناک . نشته د عبادت لائق او حاجت پوره کونکې بې د الله تعالی نه مالک او اختیار مند د لوئ عرش نشته دې د عبادت لائق او د حاجت پوره کونکې بې د الله تعالی نه مالک او تربیت کونکې د آسمانونو او د زمکې او مالک د عرش عزتمند"

په هر مصیبت کښې ددې دعاء ورد کول او ډیره وئیل ډیر مفید دی ، افضل ذکر هم دې او افضله دعاء هم ده . هر مصیبت پرې دفع کیږی خصوصا قید .

بنده عاجز (مجتبی عامر) یوه ورځ د خپل ډیر محبوب استاذ سلطان المحدثین مولانا محمد یار بادشاه صاحب رح ملاقات له تلې ووم چې په دغه ورځو کښې ځما محبوب استاذ شیخ الاسلام علامه ولی الله کابلګرامی رح قید وو ما بادشاه صاحب ته اووئیل چې د شیخ صاحب رح سره خبرې کوې چې موبائل ملاؤ کړم نو هغهٔ اووئیل چې ولې نه ؟ چې خبرې کیږی نو ولې نهٔ کوم چې هغوئ د شیخ صاحب سره خبرې کولې نو ورته ئې اووئیل چې شاه انور شاه کاشمیری رح په

(۱) صحیح البخاری ، باب الدعاء عندالکرب ۷۵/۸

فیض الباری کښې لیکلې دی چې امام ابو بکر رازی رح په جیل کښې وو نو نبی علیه السلام ئې په خوب کښې اولیدلو نو نبی علیه السلام هغهٔ ته اووئیل چې رازی دعاء الکرب ډیره ډیره وایه چې هغهٔ شروع کړه نو شپږ میاشتې پس ابوبکر رازی د جیله اووتلو . د الله تعالی کارونه وو ګوره چې څه لږې ورځې روستو دغه واقعې پسی شیخ د کابلګرام رح هم خلاص شو او کور ته راغې . دوباره ګرفتاری پسی ئې شهادت په قسمت وو . دعاء کرب ډیره ډیره وئیل چې هیڅ نهٔ وی نو د شپې په آخره کښې سل ځلې وئیل هم ډیر مفید دي .

## (٤) دعاء یونس علیه السلام

وَذَا ٱلنُّونِ إِذ ذَّهَبَ مُغَٰضِبًا فَظَنَّ أَن لَّن نَّقۡدِرَ عَلَيۡهِ فَنَادَىٰ فِي ٱلظُّلُمَٰتِ أَن لَّآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنتَ سُبۡحَٰنَكَ إِنِّي كُنتُ مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٨٧﴾ فَٱسۡتَجَبۡنَا لَهُۥ وَنَجَّيۡنَٰهُ مِنَ ٱلۡغَمِّۚ وَكَذَٰلِكَ نُـۨجِي ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٨٨﴾ (١)

" او خاوند د مهی (یونس علیه السلام ) په هغه وخت کښې چې لاړو غصه کونکې ( په خپل قام د وجې د الله تعالی نه ) نو ګمان ئې اوکړو چې مونږ به تنګی رانولو په دهٔ باندې نو آواز ئې اوکړو په تیرو کښې چې نشته دې بل څوک د حاجت پوره

(١) الأنبیاء: ٨٧ – ٨٨

کونکې د مشکل نه خلاصونکې بې ستانه ، پاک ئې تهٔ د هر قسم نقصان نه او ځهٔ یم د هغو نه چې هغوئ سره کمې وی . نو قبولتیا مِ اوکړه د هغهٔ دپاره او خلاص مِ کړو دلره د غم نه او دغه شان خلاصې ورکوم مومنانو ته "

جناب رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چې چا ځما د رور یو نس علیه السلام په دعاء دعاء اوکړه نو د هغهٔ دعاء قبلیږی .

ددې حدیث مطلب ځما استاذان دا ذکر کوی چې نبی علیه السلام فرمائیلی دی چې زما رور یو نس په دعاء ئې دعاء اوکړله نو د یونس علیه السلام په دعاء کښې درې څیزونه او درې غټې خبرې دی . اوله خبره چې ځان مکمل الله تعالی ته حواله کول چې ځما د الله تعالی نه علاوه بل هیڅوک نشته نه بل څوک څه کولې شی . دا تفویض دې " افوّض امر الی الله " دویمه دا چې الله تعالی د هر قسم شریک او د هرقسم عیب او نقصان نه پاک دې د بخل نه هم پاک دې نو ځما حاجت پوره کولې هم شي او راکوي ئې هم . دیته سبحنك کښې اشاره ده دریمه خبره دا چې ځه عاجز یم محتاج یم غوختلو کښې مِ کمې دې او د خپل حاجت د پوره کولو اسباب راسره هم نشته دې کمې ځما د طرفنه دې . نو چې کله دا دعاء وائی نو ورسره دا خبرې د نظر د لاندې ساته .

ددې دعاء نه روستو الله تعالی یو قبولیت وئیلې دې بل نجات او خلاصون د مصیبت او غم نه نو چې کله تهٔ هم دا دعاء په دغه طریقه اوائی نو یو قبولتیا بل د غم او مصیبت نه نجات به الله تعالی درکړي .

نو چې الله تعالی پرې بغیر د هیڅ ظاهری سبب نه یونس علی نبینا وعلیه السلام د مهي د خیټې نه خلاصولو نو تا پرې د جیل د تیارو نه نشی خلاصولې خو وئیل په یقین او حاضر زړۀ سره غواړي .

ځنې عالمان وائی چې زر ځله او ځنې وائی چې پنځه سوه ځله دِ اووائی که نور وظائف او معمولات زیات وي نو خیر دې دوه سوه ځله دِ اووائی خو قضاء کوی دِ نه تر خلاصي پورې دې دا وظیفه کړي .

ځنې عالمان دا ذکر کوی چې د قید او د هر حاجت دپاره دِ پداسې طریقه اووائی چې د شپې په تیارۀ کمره کښې دِ په ځان رومیال یا کپړه په سر راواچوی نو درې تیارې به جوړې شي یونس عليه السلام هم په تیارو کښې آواز کړې وو او بیا دِ مخکښې یوولس ځله درود شریف اووائی بیا زرځله دِ لااله الا انت سبحنك انی کنت من الظلمین اووائی او بیا دې درود شریف یوولس ځله اووائی . او دعاء دې اوکړی ان شاء الله تعالی حاجت به پوره شی .

## (۵) دعاء حسب وکفایت

ٱلَّذِينَ قَالَ لَهُمُ ٱلنَّاسُ إِنَّ ٱلنَّاسَ قَدۡ جَمَعُواْ لَكُمۡ فَٱخۡشَوۡهُمۡ فَزَادَهُمۡ إِيمَٰنٗا وَقَالُواْ حَسۡبُنَا ٱللَّهُ وَنِعۡمَ ٱلۡوَكِيلُ ١٧٣ فَٱنقَلَبُواْ بِنِعۡمَةٖ مِّنَ ٱللَّهِ وَفَضۡلٖ لَّمۡ يَمۡسَسۡهُمۡ سُوٓءٞ وَٱتَّبَعُواْ رِضۡوَٰنَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ ذُو فَضۡلٍ

عَظِيمٍ ﴿١٧٤﴾ (۱)

"هغه بزرګان چې دوئ ته خلقو (جاسوسانو) اووئيل چې يقيني خبره ده چې ټولو خلقو (کافرانو) درته اتفاق کړې دې نو د دوئ نه اويرېږئ نو د دوئ ايمان نور هم سيوا شو او ئې وئيل چې ځمونږ دپاره الله تعالى پوره دې او هغه څۀ ښائسته کار جوړنکې دې . نو دوئ واپس شو د نعمت دالله تعالى او د فضل سره چې بلکل نۀ وو رسيدلې دوئ ته څۀ تکيف او دوئ د الله تعالى د درضامنتيا پسې روان وو او الله تعالى د لوئ فضل والا دې "

اوګوره " حَسْبُنَا ٱللَّهُ وَنِعْمَ ٱلْوَكِيلُ " چې صحابه کرامو په سخت وخت کښې اووئيلو چې د دنيا د کافرو ورته اتفاق کړې وو خو د هغې اعتماد او نظر صرف په الله تعالى باندې وو .

*نظر اللہ پہ رکھتا ہے غیور مسلمان*

نو الله تعالى هغوئ له درې خوشحالئ ورکړې . يو نعمت او احسان چې هغه په کافر برې او فتح وه . چې کافر مقابلې ته هم حاضر نشو . دويم فضل د الله چې هغه د مال نصيب کيدل چې تجارتونه ئې په هغه ځائ کښې اوکړل او ډيره ګټه ئې اوکړله . دريم چې هيڅ قسم تکليف ورته نۀ وو رسيدلې ..

قيدى روره ! دا کلمه ابراهيم عليه السلام وئيلى وه چې کله اورته ارتاؤ شو ددې ډير فضائل دى د هر ضرورت دپاره ئې وظيفه کړه پنځۀ سوه ځله يا دوه سوه ځله ئې وايه الله تعالى به دِ رها هم کړى او خيرونه ددنيا او

---

(۱) آل عمران: ۱۷۳ – ۱۷۴

آخرت به ورکړي خو بس کوه هم مه او اعتماد په الله تعالی باندې ساته چې هیڅوک مِ هیڅ نشی کولې چې الله راسره وی .

کیا پروا اگر ساری خدائی ہو مخالف
کافی ایک خدا میرے لئے ہے

د سورة التوبه آخری آیت هم په دعاء کفایت کښې شمیرلې شوې دې حدیث کښې راځی چې نبی علیه السلام فرمائی چې څوک دا آیت سحر او ماښام اووۀ اووۀ ځله وائی نو د هغۀ مقصد به پوره شی خو جه پریږدي ئې نه .

حَسْبِيَ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ ۖ وَهُوَ رَبُّ ٱلْعَرْشِ ٱلْعَظِيمِ ﴿١٢٩﴾ (١)

''پوره دې ماله الله تعالی نشته دې بل لائق د بندګئ ئې د هغۀ نه په هغۀ ځان سپارم او هغه مالک د عرش لوئ دې ''

انــت حســبی انــت کافی لــیس غــیر
کــن انــیس القلــب واخــتم لی بخــیر

" تۀ راله پوره ئې بل څوک نه . ځما د زړۀ ملګرې شه او خاتمه راله په خیر اوکړه.

(١) آل عمران: ١٧٣ – ١٧٤

## (٦) نسخۀ یوسفی

امام السجناء یوسف ﷺ چې کله رونړو کوهی ته اوغورځولو نو یوسف ﷺ دغه وخت عمر هم کم وو او هیڅ د خلاصی څه ذریعه نۀ وه نو دغه وخت یوسف ﷺ الله تعالی ته یو فریاد کړې وو هغه فریاد پداسې الفاظو باندې وو. د الله تعالی ښائسته نومونه ئې الله تعالی ته وسیله کړي دي.

یا غیاث المستغیثین یا صریخ المستصرخین یا مفرج کرب المکروبین یا مجیب دعوات المضطرّین یا فارج الهم ویا کاشف الغم تری مکانی وتعلم حالی[١]

" اې د فریاد کونکو فریاد قبلونکیه ! اې د چغه یستونکو چغه منونکیه ، اې د غمژنو غم لرې کونکیه ، اې د مجبورو بې وسو دعاګانې قبلونکیه ، اې د فکرونو ختمولو والا ، اې ځما د غمونو لرې کولو والا ، تۀ ځما ځائ او ځما په حال باندې خبردار ئې"

لږ ددې ټکو په معنی باندې هم سوچ اوکړه او ډیر په غور او فکر سره دا دعاء وایه بیا د یوسف ﷺ حال ته هم سوچ اوکړه چې د کوهی په ویخ کښې ماشوم بې وسه دا آواز کوی او لږ خپل ځان ته سوچ اوکړه چې د زندان په دننه د تورو تنبو شاته په تنهایۍ کښې الله تعالی ته آواز کوی .

---

(١) ذاد المسیر ٢/٤١٩

## (۷)تلاوت

قران کريم د الله تعالی کتاب دې الله تعالی ته ډير محبوب دې په سوز او په يقين سره چې اووئيلې شی نو ډير تاثير لري ، د مشکلاتو د رفع دپاره ټول قران کريم تلاوت کول ، يا څۀ حصه يا ځنې سورتونو باندې ځنې بزرګانو تجربې کړې وي . د جيل نه د خلاصون دپاره سورة يسين ، سورة الانفال ، سورة الحشر ، سورة يوسف ، سورة الطارق ، سورة الطور ، باندې ځنې عالمانو تجربې کړی دی . دغه شان ځنې آيتونه لکه

فَسُبْحَٰنَ ٱللَّهِ حِينَ تُمْسُونَ وَحِينَ تُصْبِحُونَ ﴿١٧﴾ وَلَهُ ٱلْحَمْدُ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَعَشِيًّا وَحِينَ تُظْهِرُونَ ﴿١٨﴾ يُخْرِجُ ٱلْحَىَّ مِنَ ٱلْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ ٱلْمَيِّتَ مِنَ ٱلْحَىِّ وَيُحْىِ ٱلْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۚ وَكَذَٰلِكَ تُخْرَجُونَ ﴿١٩﴾ (١)

باندې ځنې عالمانو تجربه ده . د سورة المزمل تلاوت پداسې طريقه چې کله دې آيت ته اورسي چې فاتخذه وکيلا نو يا وکيل يو نيم سل ځله وئيل . د ورځې دِ يو ځلې دا هم وائی .

قران کريم د تلاوت سره زړۀ ته تسلی هم زياته کيږی او ثواب هم زيات دې او مشکلات پرې هم دفع کيږی نو ددې ډير والې انتهائی مفيد دې .

(١) سورة الروم :١٧- ١٩

## (۸)اسمآء حسنى

د الله تعالى په نومونو کښې خصوصى برکت دې او خصوصى فوائده دى ددې وجې نه ځنې عالمان وائى چې د ورځې يو ځل اسماء حسنى ټول وئيل انتهائى مفيد دي ، د ځنو مقصدونو او ضرورتونو دپاره ځنو اسمآء حسنى باندې تجربه شوې ده . لکه يا لطيف (اې باريک او پټ تدبير کونکيه)(ځما د خلاصون تدبير اوکړه) يا وکيل (اې کارونه سمونکيه (ځما کار سم کړه ) يا جامع (اې راجمع کونکيه ( ما د خپلو ملګرو سره يو ځائ کړه ) يا حفيظ (اې ساتونکيه ( ما د هر شر او تکليف نه اوساته )

داسې ځنې نور اسماء حسنى چې د ډير برکت دي نو که ددې ورد او ذکر اوکړې شى نو ډيره فائده پکښې ده ، د ډير وئيلو مطلب ځنې عالمان پنځه سوه ځله ذکر کوي . نو دا خو مختصر دى او وخت وخت د فراغ او اوزګارتيا دې نو د الله تعالى د نوم د يادولو ثواب خو شته دې " نو خۀ ديدن او خۀ شفتالو" نو هم به دِ ثواب اوشي او هم به دِ ان شآء الله تعالى حاجت پوره شي .

## (۹)درود شريف

حديث کښې راځى جناب رسول الله ﷺ فرمائى

من صلّ علىّ واحدا صلّى الله تعالى عليه عشرا[۱]

(۱) صحيح مسلم ، باب الصلاة على النبى صلى الله عليه وسلم ۳۰٦/۱

" څوک چې په ماباندې يو ځل رحمت اوليږی نو الله تعالی په هغهٔ باندې لس رحمتونه ليږی"

نو د مصيبت وخت کښې د درود شريف ډير والې ډير زيات مفيد دې ځکه چې څومره درود شريف ډير والې وی دومره رحمتونه ډير وی نو تهٔ سوچ اوکړه چې پدې دومره رحمتونو کښې مشکل او تکليف څنګه پاتې کيديشی .

خو درود شريف ډير په محبت سره وئيل پکار دی . چې کله لفظ د محمد ﷺ وائی نو ميم کښې ډير د مينې اظهار کول پکار دي دويم ددې خبرې سوچ او استحضار او مراقبه چې تصور اوکړي چې يو ښائسته صورت والا په ښائسته مکان کښې ناست دې او څهٔ چې درود وائم نو په هغهٔ د رحمتونو باران کيږي پدې تصور سره درود شريف وئيل ډير اثر لري .

په درودونو کښې د مونځ درود شريف درود ابراهيمی ډير افضل دې مختصر درود شريف هم وئيلې شی . چې کلمه د درود شريف د حديثو نه خلاف نهٔ وی د مصيبت په وخت کښې ځنې عالمان دا درود شريف وئيل مجرّب دي .

اللّٰهُمَّ صلّ علی سيدنا محمّدٍ النبیّ الامیّ الطاهر الزکیّ صلوة تُحَلُّ بها العُقد وتُفك بها الکُرَب

" اې الله تعالی تهٔ رحمتونه اوليږې په سردار ځمونږه محمّد پيغمبر ، نالوستې ، پاک باز ، پاکيزه داسې رحمتونه چې پرانستې کيږی په هغې غوټې او لرې کولې شی په هغې غمونه"

د ورځې دوه سوه ځله درود شريف کم ازکم . او د جمعی په ورځ ډير

زیات خصوصا د جمعی د مازیګر نه روستو د نیکانو خلقو معمول پاتې شوې دې .

## (۱۰) استغفار

مونږ د مصیبت د لرې کولو دپاره د بهر نه ظاهری تدبیرونه کوو اسباب لټوو خو چې کوم د مصیبت سبب دې او د هغې د لرې کیدلو سبب دې چې هغه مونږ سره دې نو هغه مو هیر دې د مصیبت سبب ځمونږ ګناه دې او د لرې کیدلو سبب ئې استغفار دې . ځمونږ دنفس مثال د فرعون دې چې د فرعون اصل دشمن هغه د فرعون د کور په دننه د فرعون دشمن وو او هغهٔ د بهر نه تدبیرونه کول .

حیلـــــه فرعـــــون ذی فســـــانه بـــــود

در بـــه بســـته دشـــمن انـــدر خانـــه بـــود

"د فرعون تدبیرونه هسې افسانې وی چې دشمن ئې د کور په دننه وو او ورئې بند وو"

نو د مصیبت علاج هغه ځمونږ سره دې مصیبت راځی د الله تعالی د ناراضتیا د وجې نه چې مونږ د ضلع بادشاه ناراضه کړو نو څنګه به وخت تیر کړو نو چې احکم الحاکمین ناراضه شی نو څه به ځمونږ حال برابر شی نو فورا هغه ذات ته توجه پکار ده مولانا رومی فرمائی .

ہر چہ بر تو آید از ظلمات غم

آں زبیبا کی وگستاخی است ہم

غم چوں بنی زوردال استغفار کن
غم بامر خالق آید کار کن

”چې په تا تکلیفونه او مصیبتونه راځی نو دا ستا د بې باکۍ او نافرمانۍ د وجې نه دي . نو نچې کله مصیبت اووینی نو استغفار کوه ځکه چې غم په حکم د الله تعالى راځی نو هغۀ ته توجو اوکړه“

قـــال الجــــدار للوتـــــد لِـــــمَ تشــــفنی
قـــال الوتـــــد انظـــــر لمـــــن يـــــدُقنی

” ديوال ميخ ته اووې چې تۀ ما ولې سورې کوی نو ميخ ورته اووئ چې هغه چاته اوګوره چې هغه ما ټکوی ځۀ خو بې حسه يم “

نو اسباب بې بسه دی او مسبِّب حقيقی الله تعالى دی هر څۀ د هغۀ په قبضه قدرت کښې دي نو استغفار په کثرت سره وئيل پکار دي د استغفار کلمات ډير دي يو څو دلته ليکلې کيږی .

(۱) استغفرالله العظيم ، لااله الا هوالحی القيوم واتوب اليه[۱] .

” معافی او بخښنه غواړم د لوئ الله تعالى نه نشته دې د عبادت لائق بغير د هغۀ نه هغه ژوندې او ساتونکې دې او راګرځم هغۀ ته “

(۲) اللّٰهُمَّ اغفرلی وتب علیّ انك انت التواب الغفور.

” اې الله ما اوبخښه او مهربانی راباندې اوکړه بې شکه تۀ خو ئې

---

(۱) مستدرك على الصحيحين للحاكم ، كتاب الدعاء والتكبير والتهليل ۶۹۲/۱

توبه قبلونکې او بخښنه کونکې "

(۳) استغفرالله ربّي من کل ذنب واتوب اليه.

" بخښنه غواړم د الله تعالی نه چې رب څما دې د هر ګناه نه او راګرځم هغۀ ته "

(٤) استغفرالله الذی الا اله الا هوالحیّ القیوم واتوب اليه[1].

"بخښنه غواړم د الله تعالی هغه ذات نه چې نشته دې د عبادت لائق بغیر د هغۀ نه ژوندې دې او سمونکې دې او راګرځم هغۀ ته"

(٥) اللّٰهُمَّ لااله الا انت خلقتنی وانا عبدك وانا علی عهدك ووعدك مااستطعت اعوذبك من شرّ ما صنعت ابوء لك بنعمتك عليّ وابوء لك بذنبی اللّٰهُمَّ اغفرلی فانّه لا يغفروالذنوب الا انت[2].

" اې الله تعالی چې نشته دې د بندګۍ لائق بغیر ستانه تا څۀ پیدا کړې یم او څۀ بنده ستا یم او څه ستا په اقرار او لوظ یم تر څو چې مې وس وي پناه غواړم د شر د هغه نه چې ما کړی دی اقرار کوم څۀ ستا په نعمتونو او اقرار کوم په خپلو جرمونو نو اې الله تعالی ما معاف کړه نو یقینا نۀ معاف کوي جرمونه بې ستا نه هیڅوک "

نو د مصیبت په وخت کښې استغفار په کثرت سره ډیر ډیر وئیل پکار دي او توبې يستل پکار دي.

---

(۱) سنن ابی داؤد، باب فی الاستغفار ۲/۸۵

(۲) صحیح البخاری باب افضل الاستغفار ۸/٦٧

په آخره کښې استغفار ددې دپاره اولیکلې شو چې د مجلس په آخر کښې استغفار کفاره د مجلس ده الله تعالی دِ ځما ګناهونه او ځما د مور وپلار رونړو خویندو رشته دارانو استاذانو ملګرو او دوستانو د ټولو مؤمنانو ټول ګناهونه معاف کړی .

الله تعالی دی او ځما ټول ملګری او ټول قیدیان په خپل فضل کرم سره د قید نه د خپل د دین د خدمت دپاره خلاص کړی . د مسلمانانو او مجاهدینو دِ الله تعالی مرسته او مدد اوکړی .

امین ویرحم الله عبداً قال امینا .

سبحنك اللّٰهُمَّ وبحمدك اشهد ان لا اله الاانت استغفرك واتوب اليك .

انـــــــت حســـــــبی انـــــــت کافی لـــــــيس غـــــــير

كـــــــن انـــــــيس القلـــــــب واخـــــــتم لی بخـــــــير

احقر مجتبی عامر بن عبدالمتين كان الله له سليم خان صوابی حالاً جيل غلنئ مهمند .

تاریخ : ۲۵ جمادی الثانی ۱٤٤۰ هج

۲مارچ ۲۰۱۹ يوم السبت

## نظم

**جواهر القران ته د عقیدت ګلونه له قلمه د محمد ادریس مجروح (عرف کاکا)**

**کبل سوات**

ګوره طالبان پکښې رنګ په رنګ ګلونه
ښکلي استاذان پکښې کانړي دي لعلونه
خوند به درکوي درله ښکلي سبقونه
درس ابوالحماس کوي سحر کښې د قرآن
ډلې ډلې ګوره راروان وي په کوڅو کښې
څوک د لر او بر نه څوک په ګاډو او ټنګو کښې
څوک د خوړ په غاړه څوک رادرومي په پټو کښې
پړق وهي رونق کوي فضاء د سلیم خان
دا د موحد اخلاص ښائي الفتِ اسلام
وروڼي وینه دا د محبت مقام
رد د غیر الله کوي وائي خلافت نظام
حق وائي تل حق ځکه بند دې په زندان
حال د مدرسې راته پکه پکه ښکاریږي
نن چې ابوصارم عامر جیل کښې اوسیګي
واړه طالبان ارمان کړي پسې کړیږي
هم ورته دعا کوي ټول ښکلي شیخان
دا جواهر القرآن زړۀ د اشاعت دې

باغ د جنتونو نه دا هم یو جنت دې

دا دې مجتبیٰ غلام د زب کړې خدمت دې
ستائم مجروحی ځکه دې مې ګلستان

❀ ❀ ❀